جامع خطبې

د اسلامي خطبو غوره ټولگه

د دين اسلام د اصولو، فضايلو، ځانگړونو او نواقضو
اړوند د ارزښتناکو خطبو يوه ښکلی ټولگه

تأليف:

فضيلة الشيخ ماجد بن سليمان الرسي

ژباړن:

سعيدالرحمن گل احمد

الكوكب الساطع من الخطب الجوامع

مجموع خطب في أصول الدين

ومحاسنه وفضائله ومزاياه ونواقضه

(مترجم إلى اللغة البشتو)

تأليف:

فضيلة الشيخ ماجد بن سليمان الرسي

لنډه پېژندنه

==========

کتاب	:	د اسلامي خطبو غوره ټولگه
تالیف	:	فضيلة الشيخ ماجد بن سليمان الرسِّی
ژباړن	:	سعيدالرحمن گل احمد
معاونين	:	قاري ياسر/ قاري عمـــار
سن اشاعت	:	١٤٤٧هـ-٢٠٢٦ء
ايميل	:	saeedurrahman٦٤@gmail.com
خطبات چينل	:	https://t.me/kutbatjumahpashto

د دې کتاب د چاپ او خپرولو حق ټولو مسلمانانو ته حاصل دی

موضوع: د الله په وجود ایمان لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو، د الله څخه وویریږئ، د هغه څارنه او اطاعت وکړئ، او نافرماني یې مه کوئ، په دې خبره ځان پوهه کړئ چې په الله باندې ایمان لرل څلور خبرو ته شامل دی، د الله په شتون او موجودیت باندې ایمان لرل، دویم: د الله په ربوبیت ایمان لرل، دریم: د الله په الوهیت ایمان

لرل، او څلورم بیا د الله په نومونو او صفتونو باندې ایمان لرل، دا خطبه موږ دالله په شتون او موجودیت باندې خبرو ته ځانگړې کړې ده.

د الله شتون او موجودیت په فطرت، عقل، شرع او حواسو ثابت دی.

د فطرت دلیل د الله په شتون دا دی چې ټول مخلوقات پرته له دې چې مخکې فکر وکړي او یا ورته د الله په اړه تعلیم وکړل شي، د الله شتون مني، دلیل په دې خبره دا آیت دی:

﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ مِن ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْۖ قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدْنَآۚ﴾

او کله چې ستا رب د ادم له اولاد نه د هغوی له شاګانو نه د هغوی اولاد راواخیست او دوی یې په خپلو ځانونو باندې ګواه جوړ کړل، او ورته ویې ویل: ایا زه ستاسو رب نه یم؟ دوی وویل: ولې نه! مونږ ګواهي وکړه چې ته زمونږ رب یې.

دا آیت د دې خبرې دلیل دی چې انسان د الله د وجود په فطري ډول منونکی دی، او له دې فطرت څخه به یوازې هغه کس مخ اړوي چې زړه یې کوږ او بدل شوی وي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دی: هر ماشوم په روغ فطرت پیدا کیږي، بیا یې مور او پلار یهودي یا نصراني او یا مجوسي کوي[1].

له دې امله موږ ګورو چې انسان په خپل طبیعت او فطرت کې چې کله هم ورته ضرر ورسیږي، وایي (اې الله)، د نبي ﷺ په زمانه کې مشرکانو هم د الله په وجود اعتراف کړی و، لکه څرنګه چې الله د هغوی په اړه فرمایلي دی:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ﴾

او که ته له دوی پوښتنه وکړې چې دوی چا پیدا کړي دي؛ نو دوی به هرومرو ووایي چې الله پیدا کړي یو.

په دې اړه نور هم ډېر آیتونه شته.

اې د الله بندګانو، د الله په شتون د عقلي دلیل بیان داسې دی، دا مخلوقات کوم چې مخکې تیر شوی او یا راتلونکي دي، هرومرو به ددې لپاره خالق یعنې پیدا کوونکی وي، دا نه شي کیدی چې دوی دې خپل ځانونه پخپله پیدا کړي، ځکه چې عدم مخکې له پیدا کیدو موجود نه وي؛ نو څنګه کولی شي چې نور موجودات پیدا کړي؟!

همدارنګه که ووایو چې دا مخلوقات ناڅاپه پیدا شول؛ نو دا فکر د دوه اسبابو له امله ناسم دی:

لومړی: د هر کار او حادثې د واقع کیدو لپاره محدث یعنې واقع کوونکی پکار وي، څنګه چې عقل او شرع هم دا قبلوی، الله فرمایلي دي:

﴿أَمْ خُلِقُواْ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ﴾

(١) بخاري، دحدیث شمیره ده (١٣٥٩)، د حدیث راوي ابو هریره رضي الله عنه دی.

ایا دوی پیدا کړی شوي دي،او که دوی پخپله پیدا کوونکي دي؟

دویم: د دې مخلوقاتو شتون په دې ناشنا نظم او ترتیب، همداشان د اسبابو او مسبباتو ترمینځ د قوي تړاو وجود بغیر له کومې ګډوډۍ او ټکر څخه، دا ټول په کلکه منع کوي چې دا مخلوقات دې یوناڅاپه بغیر د پیدا کوونکي څخه پیدا شوي وي، دا ځکه چې موجود یعنې پیدا شوی په اصل پیدایښت کې په یو نظم نه وي؛ نو بیا څنګه کیدای شي چې په باقي پاتې کیدو او پرمختګ کې دې منظم او په ترتیب سره وي؟!

د الله پاک دا وینا واورئ:

﴿لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ﴾ (١)

لمر لره ممکن نه دي چې سپوږمۍ رالاندې کړي او نه شپه په ورځ ړومبۍ کېدونکې ده او هر یو په خپل مدار کې لامبو وهي

یو باندې هچې ته وویل شول: تا خپل رب څنګه وپېژندو؟ هغه وویل: د اوښ پچه د اوښ موجودیت راښایي، د خر خاشنه [خواشایان] د خرو موجودیت راښایي، او نښانونه په لار د تللو د تګ موجودیت راښایي؛ نو اسمان چې برجونه لري، ځمکه چې لارې لري او سمندرونه چې څپې لري، آیا دا د لېدونکي او اوریدونکي ذات الله موجودیت نه راښایي؟

اې د الله بندګانو، د الله د ناشنا مخلوقاتو څخه یو مچ دی، الله په دې کوچني مخلوق کې ډېر حکمتونه ایښې دي، الله دې ته د حافظې او فکر ځواک ورکړی، د لمس، لید او بوی حسونه یې ورکړي دي، د غذا لپاره لار، کیډه، رګونه ورکړي، همدارنګه یې دماغ او هډوکي یې ورکړي دي؛ نو پاکې الله لره ده چې اندازه یې وټاکله او لارښوونه یې وکړه، او هیڅ شی یې بې ځایه نه دی پریښی.

یو شاعر په دعا کې وایي:

يا من يرى مد البعوض جناحها	في ظلمة الليل البهيم(٢) الأليلِ(٣)
ويرى مناط(٤) عروقِها في نَحرِها	والمخُّ من تلك العظامِ النُّـــــحَّلِ(٥)
ويرى خرير الدم في أوداجها(٦)	متنقّلا من مفصلٍ في مفصلِ

(١) په دې باب کې کتاب "إبداع الخالق في نظم خلقه دليل على وحدانيته" وګوره، چې د الشيخ عبدالعزيز بن عبدالله الزهراني دی، خپرندوی: دار التوحيد - رياض.

(٢) البهيم خالص تور ته وایي چې بل رنګ ورسره ګډون ونه لري. «اللسان» کې ماده: بهم وګوره.

(٣) أليل تکې تورې تیارې ته وایي. «اللسان» کې ماده: ليل وګوره.

(٤) المناط د ناط څخه اخېستل شوی چې د نښتي او اویزان معنی لري، ناط سلاحه بالشجرة، خپله اسلحه یې ونې پورې اویزانه کړه، مناط بیا هغه څیز چې یو څه ترې اویزان شي، مناط العروق چې په پورته بیت کې ذکر شوی هغه ځای چې د هر لورې څخه رګونه ورکې رایوځای شویدي، ګویا چې دا ورپورې اویزان دي.

(٥) النحل د نحيل جمع ده، چې د ډېر کوچني او باریک معنی لري. «اللسان» کې ماده: نحل وګوره.

(٦) الودْج رګ ته وایي چې وینه ورکې حرکت کوي. «اللسان» کې ماده: ودج وګوره.

ويرى وصول غِذى الجنين ببطنِها ... في ظلمةِ الأحشا بغير تمَقُّلِ[١]
ويرى مكان الوطء من أقدامِها ... في سيرها وحثيثها المستعجل
ويرى ويسمعُ حِسّ ماهو دونها ... في قاع بحرٍ مظلمٍ متهوّلِ[٢]
امنُن علي بتوبة تمحو بها ... ما كان مني في الزمان الأول[٣]

اې هغه ذاته چې تکه توره شپه کې د ماشې د وزر حرکت او په مری کې يې رايوځای شوي رگونه وينې، د په سر په کوچنيو او باريکو هډوکو کې يې دماغ وينې، په رگونو کې يې د وينې اواز گورې چې د يو اندام څخه بل ته نقل کيږي، په گيډه کې يې د کولمو په تيارو کې بغير د تکليف څخه حمل ته د خوراک رسيدل وينې، بلکې د چټک مزل پر وخت يې د قدم ځايونه وينې او د بحر په تل کې د ويرونکو تيارو په مينځ کې د دې اواز ته اورې او وينې، پرما د داسې توبې احسان وکړه چې مخکې ټول ګناهونه مې پرې پاک شي.

خلاصه دا چې که دا مخلوقات خپل ځان پخپله نشي پيدا کولی، او نه هم يو ناڅاپه يعنې صدفه پيدا کيدای شي؛ نو لازمي ده چې يو پيدا کوونکی ولري، او هغه الله رب العالمين دی.

اې د الله بندګانو، **الله په سورت طور کې دا عقلي او قاطع دليل ذکر کړی دی، چې فرمايلي يې دي:**

﴿أَمْ خُلِقُواْ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ﴾

ايا دوی پيدا کړی شوي دي،او يا که دوی پخپله پيدا کوونکي دي ؟

نو لازمي ده چې يو خالق دې ولري، او هغه الله رب العالمين دی.

له دې امله چې کله جبير بن مطعم رضي الله عنه د رسول الله ﷺ څه واوريدل چې سورت طور يې تلاوت کاوه او دې آيت ته ورسيد:

﴿أَمْ خُلِقُواْ مِنْ غَيْرِ شَيْءٍ أَمْ هُمُ ٱلْخَٰلِقُونَ ﴿٣٥﴾ أَمْ خَلَقُواْ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَۚ بَل لَّا يُوقِنُونَ ﴿٣٦﴾ أَمْ عِندَهُمْ خَزَآئِنُ رَبِّكَ أَمْ هُمُ ٱلْمُصَيْطِرُونَ﴾

ايا دوی پيدا کړی شوي دي، او يا که دوی پخپله پيدا کوونکي دي؟ ايا دوی اسمانونه او ځمکه پيدا کړي دي؟ بلکې دوی يقين نه کوي، ايا له دوی سره ستا د رب خزانې دي، او يا که هم دوی واکدران دي.

---

(١) المقلة د سترګو سپين او تور ته وايي، تمقل يو شي ته نظر اړول او سترګې برګولو ته وايي، يو چا ويلي (تمقل فی البضاعة) معنې سترګې يې ورته راواړولې، په دې بيت کې د ناظم موخه دا ده هغه څه چې د ماشې په کولو کې وي، الله يې بې تکليفه وينې.

(٢) سختې ويرې.

(٣) دا شعر شهاب الدين احمد ابشيهي پخپل کتاب «المستطرف في كل فن متستظرف» پاڼه (٣٧٤)، خپروندوی: دار الكتب العلمية - بيروت، چاپ ١، کال ١٤١٣ هـ کې ذکر کړی دی.

جبير رضى الله عنه هغه وخت مشرک و، هغه وويل: زما زړه نږدې وو چې والوځي، او دا د ايمان لومړۍ نښه وه چې زما په زړه کې يې ځای نيولی و[١].

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

د الله بندگانو د الله څخه وويريږئ، پوهه شې چې شريعت او ټول آسماني كتابونه د الله په وجود دلالت كوي، همدارنگه هغه احكام چې د مخلوقاتو گټې پكې نغښتې دي هم دليل دی چې دا له حكيم او عليم رب څخه دي چې د خپلو مخلوقاتو په گټو پوه دی، همدارنگه هغه كوني خبرونه چې واقعيت يې په صداقت گواهي وركوي، دا هم د دې خبرې دليل دی چې دا له قادر رب څه دي چې هغه څه پيدا كولی شي چې په اړه يې خبر وركړی دی.

همدارنگه د قرآن توافق، د نقصان نه شتون او يو برخه د بلې برخې تصديق كول؛ دا هم قاطع دليل دی چې دا قرآن د هغه حكيم او عليم رب له لورې راغلی دی، الله فرمايلي دی:

﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا﴾

ايا دوی په قرآن كې غور نه كوي، كه چېرې دا قرآن د غيرالله له خوا وَی، دوی به په ده كې خامخا ډېر زيات اختلاف موندلی و.

دا پدې هم دليل دی چې قرآن د الله كلام دی.

اې د الله بندگانو، **حس د الله په شتون د دوه وجو څخه دليل دی: يو دا چې موږ اورو او گورو چې د دعاگانو قبوليدل او د اړمنو يعنې محتاجو مرسته كول، موږ ته د الله شتون او وجود راښايي، ځكه چې د دعا قبلول ښې چې يو څوک شته چې دعا يې واورېده او قبوله يې كړه، الله فرمايلی دي:**

﴿وَنُوحًا إِذْ نَادَىٰ مِن قَبْلُ فَٱسْتَجَبْنَا لَهُۥ﴾

او ياد كړه نوح، كله چې هغه له دې نه مخكې اواز وكړ، نو مونږ د هغه سوال قبول كړ.

او الله فرمايلي دي:

﴿إِذْ تَسْتَغِيثُونَ رَبَّكُمْ فَٱسْتَجَابَ لَكُمْ﴾

كله چې تاسو له خپل رب نه مدد غوښتلو، نو هغه ستاسو دعا قبوله كړه.

---

(١) دا حديث بخاری په مختلفو ځايونو كې په (٤٨٥٣) او (٤٠٢٣) شميرو سره ذكر كړی دی.

د انس بن مالک رضی الله عنه څخه روایت دی چې یو سړی د جمعې په ورځ جومات ته داخل شو په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ په منبر ولاړ و، او خطبه یې ورکوله. هغه سړی رسول الله ﷺ ته مخامخ ودریدو او ورته یې وویل: اې د الله رسوله! مالونه مو له منځه تللي او لارې مو بندې شوې دي؛ نو الله ته دعا وکړه چې په موږ باران وکړي، نبي کریم ﷺ خپل لاسونه پورته کړل او ویې ویل: اې الله، په موږ باران وکړي، اې الله په موږ باران وکړې، اې الله په موږ باران وکړې.
انس رضي الله عنه وایي: په الله قسم چې موږ دغه وخت په اسمان کې نه وریځ او نه کومه ټوټه د وریځ لیدله، حال دا چې زموږ او د سلع[1] ترمینځ کوم کور او یا بل څه هم نه وو، وایي: بیا د شا له لورې د ډال په څیر یوه وریځ راپورته شوه، کله چې د اسمان مینځ ته راورسیده خپره شو، او بیا باران شروع شو، په الله قسم چې موږ یوه اونۍ لمر ونه لید.
بیا په راتلونکي جمعه یو سړی د هماغه دروازې څخه داخل شو، او رسول الله ﷺ په خطبه ولاړ وو؛ نو مخامخ ورته ودرید او ویې ویل: اې د الله رسوله! مالونه مو له منځه لاړل، او لارې مو بندې شوې دي؛ نو الله ته دعا وکړه چې باران ودروي.
نبی کریم ﷺ خپل لاسونه پورته کړل او ویې ویل:
اللهم حوالينا ولا علينا، اللهم على الآكام[2] والجبال والظراب[3] والأودية ومنابت الشجر. قال: فانقطعت، وخرجنا نمشي في الشمس.
اې الله دا باران په زموږ نه، بلکې زموږ په شاوخوا کې یې راښکته کړې، اې الله په غونډیو، غرونو، ډبره کو، درو او د ونو د راټوکیدو په ځایونو یې راښکته کړې.
انس رضي الله عنه وایي: باران ودرید، موږ راووتو او په لمر کې روان شو[4].
څوک چې په ریښتنې ډول الله ته رجوع وکړي او د دعا د قبلیدو اسباب پکار راولي؛ نو د دعا قبلیدل هم د الله په وجود یو څرګند حقیقت دی.

اې د الله بندګانو، د حسي دلیل دویمه وجه د الله په وجود د انبیاؤ معجزات دي یعنې هغه نښې چې خلک یې ګوري یا یې اوري، دا د دویو د رالیږونکي په وجود باندې قاطع دلیل دی، چې هغه الله دی، ځکه چې دا داسې کارونه دي چې د انسان له توان څخه بهر دی، الله د دوی لپاره دا کارونه کوي ترڅو د خپلو رسولانو تایید او مرسته وکړي.

---

(١) په مدینه کې د یو غر نوم دی.
(٢) آکام د آکمه جمع ده چې ډیرکیو ته وایي «دامعنی النهایه کړې ده، او یا لوړ ځای چې ربوه هم ورته وایي.
(٣) ظراب د ظرب جمع ده، کوچني غر ته وایي «دا معنی النهایه کړې ده».
(٤) دا حدیث بخاری په (١٠١٩) شمیره او مسلم په (٨٩٧) شمیره روایت کړی دی.

ددې مثال: د موسی علیه السلام نښه ده کله چې الله هغه ته امر وکړ چې په خپل امسا سمندر ووهي، نو هغه وواهه او په سمندر کې دولس لارې خلاصې شوې، اوبه د غرونو په شان ودریدې، الله تعالی فرمایي:

﴿فَأَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنِ ٱضۡرِب بِّعَصَاكَ ٱلۡبَحۡرَۖ فَٱنفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرۡقٖ كَٱلطَّوۡدِ ٱلۡعَظِيمِ﴾

نو مونږ موسی ته وحي وکړه چې ته په خپلې امسا سره سمندر ووهه؛ نو هغه څيرې شو، هره برخه د ډبر اوچت غر په شان شوله.

اې مسلمانانو، څرنگه چې د الله په وجود باندې اقرار کول فطري خبره ده چې فطرت او حس دواړه پرې دلالت کوي؛ نو رسولانو به هم خپلو قومونو ته ویل:

﴿أَفِي ٱللَّهِ شَكّٞ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ﴾

ایا د الله په باره کې شک کوئ چې د اسمانونو او ځمکو پیدا کوونکی دی؟

ددې ټول حاصل دا دی چې الله باندې ایمان په فطرت، عقل، حس او شریعت سره ثابت دی، ددې څخه یوازې ملحدان انکار کوي، چې د هغوی زړونه بې لارې شوي دي، او د الله په فضل سره دا خلک په انسانانو کې کم دي.

الله دې په تاسو رحم وکړي ځانونه پوهه کړئ چې الله تاسو ته په یوه لویه خبره امر کړی دی، چې فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي، ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! تاسو په دغه نبي باندې درود او ډېر سلام ووایئ.

اې الله! پرخپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام ووایه، او د هغه له خلفاؤ صحابه کرامو څخه راضي شه، له تابعینو او هغه کسانو څخه هم راضي شه چې تر قیامته به راځي او په نیکیو کې به د دویو تابعداري کوي، اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین د ښمنان تباه کړه، ستا مؤمن بنده ګانو ته بریا ورکړه، اې الله! مونږ په خپلو هیوادونو کې په امن کړه، زمونږ امامان او واکداران اصلاح کړه، او هغوی لارښوونکي او هدایت شوي وګرځوه، اې الله! ټول مسلمان واکداران ستا د کتاب د حاکم ګرځولو، او ستا د دین په لوړولو کې موفق ولره، په خپل رعیت یې رحمت وګرځوه.

اې الله! څوک چې اسلام او مسلمانانو ته بده اراده لري؛ نو په خپل ځان یې مشغوله کړه، د هغه چل او فریب د هغه په غاړه کې واچوه، اې الله! له مونږ څخه ګراني، وبا، سود، زنا، زلزلې، مصیبتونه، ښکاره او پټې بدې فتنې په ځانګړي ډول زمونږ د دې هیواد څخه لرې کړه، او په عمومې توګه له ټولو اسلامی هیوادونو څخه لرې کړه، اې د ټولو مخلوقاتو ربه.

اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا او اخرت کې ښې بدلې راکړې او د اور له عذابه مو وساتې. پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو ښه پالوونکی دی.

د الله په ربوبیت ایمان لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دي، او تر ټولو ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! د الله څخه وویریږئ، اطاعت یې وکړئ، او نافرماني یې مه کوئ، په دې خبره ځان پوهه کړئ چې په الله باندې ایمان لرل څلور مهمې برخې لري؛ لومړی: د الله په شتون او موجودیت باندې ایمان لرل، دویم: د الله په ربوبیت ایمان لرل، دریم: د الله په الوهیت ایمان لرل، او څلورم بیا د الله په نومونو او صفتونو باندې ایمان لرل، دا خطبه د الله په ربوبیت ایمان لرلو ته ځانګړې شوې ده.

***

اې د الله بندگانو! د الله په ربوبیت ایمان لرل دا معنا لري چې یوازینی رب الله دی، شریک او مرسته کوونکی نه لري، رب: هغه ذات ته وایي چې د مخلوقاتو پیدا کوونکی، د هغوی مالک او د ټولو دنیوي کارونو ترتیب په لاس کې لري، له الله پرته هېڅ پیدا کوونکی، مالک او امر کوونکی نشته. الله موږ ته څرگنده کړې چې هغه د مخلوقاتو پیدا کوونکی دی:

﴿أَلَا لَهُ ٱلْخَلْقُ وَٱلْأَمْرُ﴾

اگاه شئ! خاص هغه لره دي پیدا کول او حکم کول.

همدارنگه یې فرمایلي دي:

﴿بَدِيعُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾

هغه د اسمانونو او ځمکې بې جوړې پیدا کوونکی دی.

او په بل ځای کې یې فرمایلي دي:

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ﴾

ستاینه هغه الله لره ده چې د اسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی دی.

ای مؤمنانو! الله په مخلوقاتو کې دیارلس ستر مخلوقات پیدا کړي دي، چې هغه: اسمانونه، ځمکه، لمر، سپوږمۍ، ستوري، شپه، ورځ، انسانان، څاروي، باران، بادونه، سمندرونه او سیندونه دي، الله په قران کې په ځانگړي ډول د دې مخلوقاتو د عظمت ذکر کړی دی، په ځانگړې توگه د ځینو سورتونو په سر کې، لکه د جاثیې په سورت کې، الله فرمایلي دي:

﴿حمٓ ۝١ تَنزِيلُ ٱلْكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلْعَزِيزِ ٱلْحَكِيمِ ۝٢ إِنَّ فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ لَءَايَٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ۝٣ وَفِى خَلْقِكُمْ وَمَا يَبُثُّ مِن دَآبَّةٍ ءَايَٰتٌ لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ۝٤ وَٱخْتِلَٰفِ ٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ وَمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مِن رِّزْقٍ فَأَحْيَا بِهِ ٱلْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَتَصْرِيفِ ٱلرِّيَٰحِ ءَايَٰتٌ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ﴾.

حا، میم، د کتاب نازلول د الله له جانبه دي چې ډېر غالب، ښه حکمت والا دی، بېشکه په اسمانونو او ځمکه کې د مومنانو لپاره یقینًا ډېرې نښې دي، او ستاسو په پیدا کولو کې او په هغه څه کې چې ده هر قسمه خوځنده خواره کړي دي؛ د هغه قوم لپاره نښې دي چې یقین کوي، او د شپې او ورځې په اختلاف کې او په هغه کې چې الله له اسمان (بره) نه رزق (باران) نازل کړی دی، بیا یې په هغه سره ځمکه د هغې له مرگ نه پس راژوندۍ کړې ده او د هواگانو په بدلولو رابدلولو کې د هغو خلقو لپاره نښې دي چې له عقل نه کار اخلي.

الله موږ په دې ایت کې څرگنده کړې چې هغه د مخلوقاتو مالک او واکدار دی:

﴿وَقُلِ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِى لَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ وَلِىٌّ مِّنَ ٱلذُّلِّ وَكَبِّرْهُ تَكْبِيرًا﴾.

او ته ووايه: ټوله ثنا هغه الله لپاره خاص ده چې نه يې څوك اولاد نيولی دی او نه د هغه لپاره به بادشاهۍ كې څوك شريك شته او نه د هغه لپاره د عاجزۍ په وجه څوك دوست شته او ته د هغه لويي بيانوه، لويي كامله.

او همدارنگه يې فرمايلي دي:

﴿ذَٰلِكُمُ ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ﴾.

دغه الله ستاسو رب دی، خاص د ده لپاره بادشاهي ده ـ او هغه (معبودان) چې تاسو يې له دغه (الله) نه غير بولئ، دوی د كجورې د زړي د پردې هم مالكان نه دي.

الله په يوازې توگه د امر كولو حقدار دی، څنگه يې چې فرمايلي دي:

﴿أَلَا لَهُ ٱلۡخَلۡقُ وَٱلۡأَمۡرُۗ﴾.

اگاه شئ! خاص هغه لره دي پيدا كول او حكم كول.

او همدارنگه يې فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا قَوۡلُنَا لِشَيۡءٍ إِذَآ أَرَدۡنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾.

همدا خبره ده چې زمونږ وينا يو شي ته چې كله يې مونږ اراده وكړو؛ دا ده چې مونږ هغه ته وايو: وشه نو هغه وشي.

او بل ځای يې فرمايلي دي:

﴿وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ﴾

او خاص هم ده ته بېرته گرځولی شي (د بنده گانو) كار ټول.

اې مسلمانانو! امر په دوه ډوله دی چې يو شرعي امر او بل كوني امر دی، **شرعي امر** هغه دی چې شريعتونو او پيغمبرانو پورې اړه لري، بېشكه الله يواځې هغه ذات دی چې د خپلې خوښې په شريعتونه امر كوي او د خپل حمت سره سم بيا چې وغواړي ځينې يې منسوخوي، الله د انسانانو لپاره هغه څه شريعت گرځوي، چې هغوی ته مناسب او د هغوی د حالتونو اصلاح كوي، او هغه عبادات او اعمال شريعت گرځوي چې د الله ته قبول وي، ځكه الله د انسانانو په حالتونو پوه دی، او د هغه شيانو علم لري چې هغوی ته گټه رسوي، او په انسانانو ډېر مهربانه دی.

***

دويم ډول بيا كوني امر دی چې د دنيوي كارونو د تنظيم او تدبير پورې اړه لري، الله يوازې هغه ذات دی چې د وربڅو د حركت امر كوي، باران راښكته كوي، چا ته ژوند وركوي او څوك مړوي، روزي وركوي، پيدائش كوي، زلزلې راولي، مشكلات ليرې كوي او دنيا ختموي، او داسې نور كارونه چې په دنيا كې واقع كيږي، كله چې الله يو شي ته امر كوي، هغه هرومرو واقع كيږي، څوك پرې غالبه نشته، او نه د هغه د امر باطل كوونكی شته، څنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّمَا قَوْلُنَا لِشَيْءٍ إِذَآ أَرَدْنَٰهُ أَن نَّقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾

همدا خبره ده چې زمونږ وينا يو شي ته چې کله يې مونږ اراده وکړو؛ دا ده چې مونږ هغه ته وايو: وشه نو هغه وشي.

او الله فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَمْرُنَآ إِلَّا وَٰحِدَةٌ كَلَمْحٍۭ بِٱلْبَصَرِ﴾

او زمونږ امر نه دی مگر يو ځل دی، لکه د سترگو رپول.

يعنې، زمونږ امر چې کله د يو شي پيښيدل وغواړو، يوازې يوه خبره ده، ورته وايو "شه" هغه د سترگو په پرک کې پيښيږي، هيڅ شی يې ځنډولای نشي.

لنډه دا چې د الله امر په دوه ډوله دی: يو کوني امر، او بل ديني شرعي امر دی، چې د قيامت په ورځ به ددې پر اساس د جزا احکام ترسره کيږي.

الله دې ما او تاسې په دې لوی قرآن برکتي کړي، په قرآن کې د شته آياتونو او د حکمت ډک ذکر سره دې له الله ما ته او تاسې ته گټه راپه برخه کړي، زه دا خبره کوم او د الله څخه د خپل ځان او ستاسې لپاره مغفرت غواړم، نو تاسې هم د هغه څخه مغفرت وغواړئ، بېشکه هغه ډېر ښښنه کوونکی او رحيم دی.

دويمه خطبه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد:

اې د الله بندگانو! له الله څخه وويريږئ، او پوه شئ چې په مخلوقاتو کې داسې هېڅوک نشته چې د الله د ربوبيت څه يې انکار کړی وي، مگر يوازې هغه څوک به وي چې لويي کوي، او په خپلې خبره هم بې باوره وي، لکه څرنگه چې د فرعون سره وشول، کله يې چې خپل قوم ته وويل:

﴿أَنَا۠ رَبُّكُمُ ٱلْأَعْلَىٰ﴾

زه ستاسو رب يم، تر ټولو اوچت (رب).

بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلْمَلَأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرِى﴾

او فرعون وويل: ای سردارانو! زه تاسو لپاره له خپل ځان نه غير بل هېڅ معبود نه پېژنم.

مگر فرعون په خپله خبره هيڅ باوري نه وو، بلکې دا خبره يې د سرکشۍ او تکبر له امله کوله، الله فرمايلي دي:

﴿وَجَحَدُوا۟ بِهَا وَٱسْتَيْقَنَتْهَآ أَنفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا﴾

او دوی له دغو (معجزو) نه انکار وکړ، د ظلم او سرکشۍ په وجه، حال دا چې د دوی نفسونو په دغو يقين کړی و.

***

پوه شئ، الله دې په تاسو رحم وکړي، د رسول الله ﷺ په وخت کې مشرکانو د الله په ربوبیت باندې اقرار کاوه، سره له دې چې په عبادت کې یې ورسره نور هم شریک ګڼل، دوی باور درلود چې الله یوازینی خالق، روزي ورکونکی، او د دې کایناتو تدبیر کوونکی دی، خو بیا یې هم له هغه سره په عبادت کې بتان او نور مخلوقات شریک ګڼل، د بتانو ته به یې ډول ډول عبادتونه کول، لکه دعا کول، قرباني کول، نذر ایښودل، سجده کول او نور اعمال. د همدې له امله کافران وګرځیدل، کوم ایمان یې چې د الله په ربوبیت درلود هغې هیڅ ګټه ورته ورنه کړه، ځکه دوی د توحید ربوبیت د لوازماتو څخه انکار کړی وو، چې هغه توحید الوهیت دی.

دا څرګنده خبره ده چې یوازې د الله په ربوبیت اقرار کول د اسلام منلو لپاره بسنه نه کوي، تر هغې پورې چې له دې سره یوازې د الله د عبادت کولو ځانګړتیا اضافه نشي. الله په خپل مبارک کتاب کې وضاحت کړی دی چې مشرکانو اقرار کاوه چې الله د مخلوقاتو رب دی، الله فرمایلي دي:

﴿قُل لِّمَنِ ٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهَآ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٤ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٨٥ قُلۡ مَن رَّبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ ٱلسَّبۡعِ وَرَبُّ ٱلۡعَرۡشِ ٱلۡعَظِيمِ ٨٦ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ أَفَلَا تَتَّقُونَ ٨٧ قُلۡ مَنۢ بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيۡءٖ وَهُوَ يُجِيرُ وَلَا يُجَارُ عَلَيۡهِ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ ٨٨ سَيَقُولُونَ لِلَّهِۚ قُلۡ فَأَنَّىٰ تُسۡحَرُونَ﴾.

ته (دوی ته) ووایه: دا ځمکه او څوک چې په دې کې دي، د چا دي؟ که چېرې تاسو پوهېږئ، دوی به یقینًا ووایي: خاص د الله لپاره دي، (نو ورته) ووایه: ایا نو تاسو نصیحت نه اخلئ! ته (دوی ته) ووایه: د اوو اسمانونو او د ډېر لوی عرش رب څوک دی؟ دوی به ضرور ووایي: د الله لپاره دي، ته (ورته) ووایه: ایا نو تاسو نه وېرېږئ! ته (دوی ته) ووایه: څوک دی هغه ذات چې د هغه په لاس کې د هر شي بادشاهي ده او هغه پناه ورکوي او د هغه په خلاف پناه نشي ورکول کېدی که چېرې تاسو پوهېږئ، خامخا به دوی ووایي: خاص د الله لپاره دي. ته (ورته) ووایه: نو څنګه په تاسو جادو کولی شي؟

***

پوه شئ، الله دې په تاسو رحم وکړي، الله پاک تاسو ته د یو ستر کار امر کړی دی، لکه څنګه یې چې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې درود او سلام ووایه، او د هغه صحابو، خلفاوو، تابیعنو او د له هغه کسانو چې د قیامت ورځې پورې په نیکیو کې د دویو پیروي کوي، راضي شې.
اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیل کړه، د خپل دښمنان او د دین دښمنان تباه کړه، او خپل موحدو بندګانو ته کامیابي ورکړه.
اې الله! موږ په خپلو هېوادونو کې په امن وساته، زموږ مشران او حکمرانان اصلاح کړه، او هغوی په سمه لار پوه او د دغې لارې لارښودان وګرځوه.
اې الله! د ټولو مسلمانانو حکمرانانو ته توفیق ورکړه چې ستا کتاب حاکم وګرځوي، ستا دین ته عزت ورکړي، او د خپلو خلکو لپاره یې رحمت وګرځوه.
اې الله! هر څوک چې زموږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر رسولو بد نیت لري، په خپل ځان یې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه واچوه.
اې الله! زموږ څخه ګرانۍ، وبا، سود، زنا، زلزلې، فتنې، او بدبختۍ ښکاره دي او که پټې؛ لیرې یې کړه، په ځانګړې توګه زموږ له دې هېواد څخه او په عموم کې د ټولو اسلامي هېوادونو څخه یې لیرې کړه، اې د مخلوقاتو ربه!
اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې ښه رزق راکړه او په آخرت کې ښه اجر راکړه، او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.
پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د مخلوقاتو ښه پالوونکی دی.

د الله په یوازې والي ایمان لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلامضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

***

اې مسلمانانو! د الله څخه وویریږئ او له هغه څخه ډار ولرئ، اطاعت یې وکړئ او سرغړونه یې مه کوئ، پوه شئ چې تر ټولو لوی څیز چې الله پرې امر کړی، توحید دی، یعنې عبادت یوازې او یوازې د الله د پاره کول، چې عبادت یوازې د الله لپاره وکړئ او له هغه سره هیڅوک شریک نه کړئ، د دې موخې او هدف لپاره الله پېریان او انسانان پیدا کړي دي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَمَا خَلَقْتُ ٱلْجِنَّ وَٱلْإِنسَ إِلَّا لِيَعْبُدُونِ﴾

(ما پېريان او انسانان يوازې د دې لپاره پيدا کړي چې زما عبادت وکړي).

***

د الله بندګانو! عبادت ټولو هغه څه ته شامل دی چې الله پرې خوښ او راضي کيږي، که هغه ښکاره او پټې خبرې او عملونه وي.

ابن تيميه رحمه الله فرمايلي دي: لکه لمانځ، زکات، روژه، حج، رښتيا خبرې، د امانت ادا کول، د مور او پلار سره نيکي، د خپلوانو سره اړيکې ساتل، په ژمنو وفا کول، په ښو امر او له بدو منع کول، د کافرانو او منافقانو سره جهاد کول، ګاونډي، يتيم، مسکين، مسافر او مملوک سره احسان کول، د حيواناتو سره نرمي، دعا، ذکر، قرائت او د دې په څېر نور عملونه دا ټول له عباداتو څخه دي.

همدارنګه د الله او د هغه د رسول سره محبت، له الله څخه وېره، الله ته رجوع کول، دين يوازې د هغه لپاره خالص کول، د هغه په حکم صبر کول، د هغه د نعمتونو شکر ادا کول، د هغه په قضا رضا کېدل، پر هغه توکل کول، د هغه د رحم اميد لرل، او د هغه له عذابه وېره درلودل، دا د الله د عبادات څخه دي[1]. د ابن تيميه رحمه الله خبرې پای ته ورسيدې.

***

اې د الله بندګانو! د ټولو پيغمبرانو - عليهم الصلاة والسلام - بلنه په دې ډول توحيد متمرکزه وه، يعنې د الوهيت توحيد کې. الله فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ﴾

او مونږ له تا څخه مخکې کوم رسول نه و استولی مګر دا چې مونږ ورته وحی کړې وه چې له ما پرته بل معبود نشته، نو يوازې زما عبادت وکړئ.

ټول پيغمبران خپلو قومونو ته دا خبره کوله:

﴿ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥ﴾

(د الله عبادت وکړئ، ستاسو لپاره بل معبود نشته).

***

اې مؤمنانو! تر ټولو لوی دليل چې يوازې الله د عبادت کولو وړ او مستحق دی، او بل هيڅوک د هغه سره شريک نشته، هغه دا چې الله يوازې د دې کائناتو رب دی، هيڅوک شريک او مرسته کوونکی نه لري، ربوبيت بيا پيدايښت، مالکيت، رزق، او تدبير ته شامل دی، د الله پرته بل هيڅوک د مخلوقاتو پيدا کوونکی نشته، همدا الله يې مالک او اختيار مند دی له دې پرته بل څوک د دويو مالک نشته، دالله څخه پرته بل څوک زرق ورکوونکی هم نشته، او د الله پرته بل څوک تدبير کوونکی نشته.

---

(١) دا وينا د ابن تيمه رحمه الله د کتاب «مجموع الفتاوى» څخه په لږ اندازه تغيير کولو، سره رانقل شوې(١٠/١٤٩-١٥٠)

الله په قران کې روښانه کړې چې یوازې هغه د مخلوقاتو پیدا کوونکی دی:

﴿ٱللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَيۡءٖۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٞ﴾

الله د هر شي خالق دی او هغه پر هر شي نگهبان دی

الله په قرآن کې څرگنده کړې چې یوازې هغه د مخلوقاتو مالک او اختیار مند دی:

﴿ٱللَّهُ رَبُّكُمۡ لَهُ ٱلۡمُلۡكُۚ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ مَا يَمۡلِكُونَ مِن قِطۡمِيرٍ﴾

دا الله ستاسو رب دی، یوازې د هغه لپاره ملکیت دی او هغه چې تاسې له الله پرته یې بلئ، د یو نري پوست څښتنان هم نه دي.

قطمیر هغه نرۍ سپین پوښ دی چې د خورما په زړي باندې وي.

الله یوازې مخلوقاتو ته رزق ورکوونکی دی چې فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلرَّزَّاقُ ذُو ٱلۡقُوَّةِ ٱلۡمَتِينُ﴾

بېشکه چې الله رزق ورکونکی دی، د ځواک څښتن او قوي دی.

او د امر او تدبیر په اړه، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ﴾

او ټول امور د هغه لورې ته راګرځي.

نو د دې کائناتو ټول تدبیر لکه ژوند او مرگ، باران او وچکالي، شتمني او بېوزلي، روغتیا او ناروغي، امنیت او وېره، او نور ټول هغه څه چې په دې کائناتو کې رامنځته کیږي، د الله تعالی په امر سره ترسره کیږي.

***

اې مسلمانانو! دالله سره به عبادت کولو کې شریک نیول د الوهیت توحید ضد کار دی، چې یو څوک دالله پر ځای بل چا ته عبادت کوي، لکه د الله څخه پرته بنده لپاره داسې عبادت کوي، د بنده څخه داسې ویره او ډار ولرې څرنگه چې الله څخه لرل پکار وي، بنده ته خپل ځان په داسې عباداتو کولو نږدې کوي چې هغه عبادت کولو د الله لپاره پکار وي، د بیلگې په توگه د قبرونو عبادت کول، قربانۍ او نذرونه کول، د قبرونو څه طوافونه کول او د مزارونو دروازې په لاسونو مسح کول، او او د هغې څخه برکت ترلاسه کول، په دې باور باندې دا کول چې دا به ورته زرق ورکړي، ګټه به ورته ورسوي، او د زیان څخه به یې وژغورې، او یا داسې نور کارونه.

دا شرکي کړنې دي چې د بنده ایمان ته زیان رسوي، ځکه یوازې الله د عبادت مستحق دی چې عبادت یې وشي او بل هیڅوک د هغه په عبادت کې شریک نشي کړی.

***

اې د الله بنده گانو! شرک هغه لويه گناه ده چې الله تر منع کړې، الله خپل پيغمبر ته فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾

او يقينًا يقينًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرک وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو ځنې شې.

الله د شرک لپاره لويه سزا ټاکلې ده، لکه څنگه يې چې فرمايلي دي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ﴾

بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شريک نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوک مدد کوونکي نشته.

***

اې مؤمنانو! الله د شرک بطلان د شرعي او عقلي دلايلو په واسطه څرګند کړی دی. د شرعي دليلونو څخه يې قول دی:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ﴾

بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شريک نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوک مدد کوونکي نشته.

د شرک په بطلان عقلی دليلونه ډير دي، ليکن دوه مهم عقلي دلايل يې دا دي:

لومړی: دا مشرکان چې د کومو معبودانو عبادت کوي په دوی هيڅ يو يې الهي صفات نه لري، بلکې دوی خپله پيدا کړی شوي دي، بل څه نشي پيدا کولی، خپلو عبادت کوونکو ته نه ګټه رسولی شي او نه ترې ضرر دفع کولای شي، او نه د دوی د ژوند او مرګ واک نه لري، نه د آسمانونو او ځمکې په ملکيت کې څه برخه لري، او نه د الله په ملکيت کې برخه دار دي. الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ﴾

بېشکه خبره دا ده چې څوک له الله سره شريک نيسي، نو يقينًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هيڅوک مدد کوونکي نشته.

او فرمايلي دي:

﴿قُلِ ٱدۡعُواْ ٱلَّذِينَ زَعَمۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ لَا يَمۡلِكُونَ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَلَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا لَهُمۡ فِيهِمَا مِن شِرۡكٖ وَمَا لَهُۥ مِنۡهُم مِّن ظَهِيرٖ ٢٢ وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ حَتَّىٰٓ إِذَا فُزِّعَ عَن قُلُوبِهِمۡ قَالُواْ مَاذَا قَالَ رَبُّكُمۡۖ قَالُواْ ٱلۡحَقَّۖ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ﴾.

ته (دې مشرکانو ته) ووایه: تاسو هغه (معبودان) وبولئ چې تاسو (هغه) له الله نه غیر (معبودان) ګڼلي دي، دوی د یوې ذرې اندازه اختیار (او مِلك) نه لري په اسمانونو کې او نه په ځمکه کې او د دوی لپاره په دغو دواړو کې هېڅ برخه (شرکت) نشته، او نشته دغه (الله) ته له دوی نه هېڅ مددګار، او د هغه (الله) په نیز شفاعت نفع نه رسوي مګر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي ـ تر هغه پورې چې کله د دوی د زړونو نه وېرهېبت) لرې کړی شي (نو) دوی وایي: ستاسو رب څه وفرمایل؟ هغوی به ووایي چې حق (یې وفرمایه) او هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی.

کله چې د دویو د الهو دا حال وي؛ نو هغوی په الوهیت سره نیول تر ټولو ستر بې عقلي، او ناروا ده.

د الله بندګانو! دویم دلیل د شرک په بطلان دا دی، چې مشرکان په دې اقرار کوي چې د مخلوقاتو رب یوازې الله دي، چې هغه پیدا کوونکي دی، چې د هر څه واک د هغه سره دی، الله هغه ذات دی چې خلک ژغوري او پناه ورکوي، او هیڅوک نشې کولی چې د هغه د عذاب څخه یو تن وژغوري او یا پناه ورکړي؛ نو کارونه دا خبره لازموي چې دوی باید الله په الوهیت کې هم یو وګڼي، لکه څنګه یې چې په ربوبیت کې یو ګڼي. الله فرمایلي دي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱعۡبُدُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ ٢١ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فِرَٰشٗا وَٱلسَّمَآءَ بِنَآءٗ وَأَنزَلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ مَآءٗ فَأَخۡرَجَ بِهِۦ مِنَ ٱلثَّمَرَٰتِ رِزۡقٗا لَّكُمۡۖ فَلَا تَجۡعَلُواْ لِلَّهِ أَندَادٗا وَأَنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾.

ای خلقو! د خپل رب عبادت کوئ، هغه (رب) چې تاسو یې پیدا کړي یئ او هغه کسان چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو پرهېزګاره شئ، هغه (رب) چې ستاسو لپاره یې ځمکه فرش او اسمان چت جوړکړی دی او له بره نه یې اوبه نازلې کړي دي، بیا یې په دغو سره له مېوو نه ستاسو لپاره رزق راوېستلی دی، نو له الله سره هېڅ قسمه شریکان مه جوړوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ.

په دې بنا هر هغه څه چې د الله پرته یا د الله سره په عبادت کې شریک وګڼل شي؛ نو د هغوی عبادت باطل دی، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِۦ هُوَ ٱلۡبَٰطِلُ وَأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡكَبِيرُ﴾

دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی او دا چې بېشکه الله، هم دی ډېر اوچت، ډېر لوی دی.

***

الله دې ما او تاسې په دې لوی قرآن برکتي کړي، په قرآن کې د شته آیاتونو او د حکمت ډک ذکر سره دې له الله ما ته او تاسې ته ګټه راپه برخه کړي، زه دا خبره کوم او د الله څخه د خپل ځان او ستاسې لپاره مغفرت غواړم، نو تاسې هم د هغه څخه مغفرت وغواړئ، بېشکه هغه ډېر بښنه کوونکی او رحیم دی.

دویمه خطبه

الحمدلله وکفی، وسلام علی عباده الذین اصطفی، أما بعد: **اې د الله بنده گانو له الله څخه وډار شئ، او پوه شئ چې ډېر هغه عبادتونه چې خلک پکې الله او مخلوق شریک گرځوي، هغه د دعا عبادت دی، په قران او سنت د الله څخه په اخلاص سره د دعا په غوښتلو ډېر تاکید شوی، او همدا شان سخته منع شوي چې دعا دې د الله څخه پرته له بل چا څخه وغوښتل شی، الله فرمایلي دي:**

﴿ٱدۡعُواْ رَبَّكُمۡ تَضَرُّعٗا وَخُفۡيَةًۚ﴾

تاسو خپل رب وبلئ په عاجزۍ سره او په پټه سره.

او:

﴿أَمَّن يُجِيبُ ٱلۡمُضۡطَرَّ إِذَا دَعَاهُ وَيَكۡشِفُ ٱلسُّوٓءَ وَيَجۡعَلُكُمۡ خُلَفَآءَ ٱلۡأَرۡضِۗ﴾

بلکې هغه ذات (غوره دی) چې د مجبور (او عاجز) سوال قبلوي، کله چې دغه (الله) وبلي او هغه تکلیف (او سختي) لرې کوي او تاسو د ځمکې خلیفه ګان جوړوي.

او

﴿وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌۖ أُجِيبُ دَعۡوَةَ ٱلدَّاعِ إِذَا دَعَانِۖ﴾

او کله چې زما په باره کې له تا نه زما بنده ګان تپوس وکړي، نو یقینًا زه قریب یم، د دعا کوونکي دعا قبلوم کله چې له ما نه دعا غواړي، پس دوی دې زما حکم ومني، او په ما دې ایمان راوړي، د دې لپاره چې دوی سمه لار ومومي.

﴿وَسۡـَٔلُواْ ٱللَّهَ مِن فَضۡلِهِۦٓ﴾

له الله نه د هغه د فضل سوال کوئ.

په قرآن کې په شاوخوا درې سوه ځایونو کې په مختلفو صیغو سره دا خبره بیان شوي چې دعا یوازې د الله څخه وغواړئ، نو اې د الله بنده ګانو، په دعا کې اخلاص ولرئ [یوازې یې د الله څخه وغواړئ] چې کامیاب شئ.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "هر څوک چې داسې حالت کې ومري چې له الله پرته بل چا څخه دعا غواړي؛ نو دوزخ ته به ننوځي"[1].

په صحیحینو کې روایت دي چې له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وشوه: د الله په نزد کومه لویه ګناه ده؟ هغه وفرمایل: "هغه دا چې ته د الله سره شریک جوړ کړې، او حال دا چې الله ته پیدا کړی یې"[2]. ند مشابه او هم مثل ته وایي.

---

(۱) بخاری (۴۴۹۷) د حدیث راوي ابن مسعود رضي الله عنه دی.

(۲) بخاری (۴۷٦۱) مسلم (۸٦)، دا الفاظ د مسلم دي، د حدیث راوي ابن مسعود رضي الله عنه دی.

هغه څوک چې له الله پرته د بل چا څخه دعا غواړي، مدد ترې غواړي، نذر ورته ورکوي، یا د هغه لپاره قرباني کوي؛ نو هغه یې د الله سره شریک جوړ کړی دی، برابره خبره ده که دغه تن نبي، ولي، پادشاه، پېرۍ، بوت، یا بل کوم مخلوق وي، دا ټول شرک ګڼل کېږي.

اې مسلمانانو! الله په قرآن کې په دوه ځایونو کې د غیر الله څخه دعا غوښتل باطل ګرځولي دي:

لومړی په سورة الحج کې، چې الله فرمایلي دي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ ﴾.

دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی.

دویم په سورة لقمان کې، چې الله فرمایلي دي:

﴿ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلۡحَقُّ وَأَنَّ مَا يَدۡعُونَ مِن دُونِهِ ٱلۡبَٰطِلُ ﴾.

دغه په دې سبب چې بېشکه الله، هم دی حق دی او دا چې بېشکه هغه چې دوی یې له هغه (الله) نه غیر بولي، همغه باطل دی.

***

اې مؤمنانو! په دعا کې شرک په پخوانو او اوسني خلکو کې شته، برابره خبره ده که هغه اصلی مشرکان وي، لکه نصارا چې مسیح رابلي، یا د هند مذهبونو پیروان چې غواګانو او خپلو بوتانو ته رابلي، او یا داسې نور ډېر.

***

په رابلنه کې شرک په هغو ډلو کې هم شته چې ځانونه اسلام ته منسوبوي، لکه سخت دریځه صوفیان چې خپلو شیخان رابلي او له هغوی څخه برکت غواړي، او رافضیان چې اهل بیت رابلي، او قبر پرستان چې د قبرونو خاوندانو څخه بلنه غواړي، دوی د دې شرک سره سره ادعا کوي چې مسلمانان دي او د رسول الله ﷺ مینه وال دي، حال دا چې اسلام د دوی له شرک څخه بیزاره دی، موږ له الله څخه د ړوند بصیرت نه پناه غواړو، او له الله څخه غواړو چې په موږ د توحید او سنت نعمتونه تل پاتې وساتي.

***

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: "له تاسو څخه په نېکو ورځو کې یوه ورځ د جمعې ورځ ده، پدې ورځ آدم پیدا شو، په همدې ورځ وفات شو، او په همدې ورځ به نفخه او صعقه وشي، نو په دې ورځ په ما ډېر درود ووایئ، ځکه ستاسو درودونه ماته وړاندې کېږي."

پوه شئ، الله دې په تاسو رحم وکړي، الله تاسو ته د یو ستر کار امر کړی دی، لکه څنګه یې چې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایکې په نبي باندې درود وایي، اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، پر هغه درود او سلام ووایاست.

او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (إن من أفضل أيامكم يوم الجمعة، فيه خلق آدم عليه السلام، وفيه قُبض، وفيه النفخة[١]، وفيه الصعقة[٢]، فأكثروا عليّ من الصلاة، فإن صلاتكم معروضة علي) [٣].

بېشکه ستاسو لپاره د جمعې ورځ غوره ورځ ده، په دې ورځ ادم علیه السلام پیدا شوی دی، او په دې ورځ کې وفات شوی دی، او په دې ورځ مخلوقات د قبرونو څخه راپورته کیږي، او په دې ورځ به ټول ژوندي مخلوقات وفات شي؛ نو تاسې په دې ورځ په ما باندې ډېر درود ووایئ، ځکه ستاسې درود ما ته پیش کیږي.

اې الله! په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې درود او سلام ووایه، او د هغه صحابو، خلفاوو، تابیعنو او د له هغه کسانو چې د قیامت ورځې پورې په نیکیو کې د دویو پیروي کوي، راضي شې.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیل کړه، د خپل دښمنان او د دین دښمنان تباه کړه، او خپل موحدو بندګانو ته کامیابي ورکړه.

اې الله! مورږ په خپلو هېوادونو کې په امن وساته، زمورږ مشران او حکمرانان اصلاح کړه، او هغوی په سمه لار پوه او د دغې لارې لارښودان وګرځوه.

اې الله! د ټولو مسلمانانو حکمرانانو ته توفیق ورکړه چې ستا کتاب حاکم وګرځوي، ستا دین ته عزت ورکړي، او د خپلو خلکو لپاره یې رحمت وګرځوه.

اې الله! هر څوک چې زمورږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر رسولو بد نیت لري، په خپل ځان یې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه واچوه.

اې الله! زمورږ څخه ګرانۍ، وبا، سود، زنا، زلزلې، فتنې، او بدبختۍ ښکاره دي او که پټې؛ لیرې یې کړه، په ځانګړې توګه زمورږ له دې هېواد څخه او په عموم کې د ټولو اسلامي هېوادونو څخه یې لیرې کړه، اې د مخلوقاتو ربه!

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنیا کې ښه رزق راکړه او په آخرت کې ښه اجر راکړه، او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.

پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د مخلوقاتو ښه پالوونکی دی.

---

(١) مراد تري دویمه شپیلۍ ده، دا یو ښکر دی چې اسرافیل به په هغې کې پوکۍ ورکړي، دا ملایک په شپلۍ پو کولو باندې مقرر دی، چې په دې سره ټول مخلوقات د قبرونو څخه راپورته شي.

(٢) د دنیا په پای کې به ټول ژوندي خلک د دې شپلۍ په پو کیدو سره بې هوشه شي، او مړه به شي، چې د دې دواړو شپیلو ترمینځ وخت به څلویښت کاله وي.

(٣) احمد (٨/٤) او نورو هم دا حدیث روایت کړی دی، البانې ورته په صحیح أبي داود کې صحیح ویلي دي، او همدا شان ورته د مسند محققینو په (١٦١٦٢) شمیره حدیث کې صحیح ویلي دي.

د الله په نومونو او صفتونو ایمان لرل

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دي، او تر ټولو ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

- اې مسلمانانو، له الله څخه وډار شئ، اطاعت یې وکړئ، او له گناهونو څخه ځان وساتئ، پوه شئ چې د الله په نومونو او صفتونو ایمان لرل په اسلامي عقیده کې یو لوی مقام لري. الله په خپل مبارک کتاب کې ډېر ځله په خپلو نومونو او صفتونو ځان ستایلی دی، لکه څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَكَانَ ٱللَّهُ سَمِيعًۢا بَصِيرًا﴾

د الله پاک بله وینا ده

﴿وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا﴾

او داسې نور ډېر دلیلونه چې شمار یې نشي کیدی.

- همدارنگه پیغمبر ﷺ هم په احادیثو کې په ډېرو ځایونو کې خپل رب د لوي او د کمال په ښکلو صفاتو سره یاد کړی دي.

- د الله په نومونو او صفتونو ایمان لرل په کې وېره او عاجزي راولي، چې بیا په هغه ډول عبادت کوي چې الله پرې راضي شي، لکه څرنگه چې یو چا ویلي دي: څوک چې الله ډېر پیژني، هغه ډېر د الله څخه ویریږي[1].

همدا لامل دی چې د الله په نومونو او صفتونو پوه عالمان تر ټولو ډېر له الله څخه وېره لري، لکه څرنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّمَا يَخْشَى ٱللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ ٱلْعُلَمَٰٓؤُا۟﴾

بېشکه هم دا خبره ده چې له الله نه د هغه په بنده گانو کې یواځې عالمان وېرېږي.

- کله چې د الله په نومونو او صفتونو د ایمان دغه مرتبه وي، نو په مؤمن واجب دي چې د الله په نومونو او صفتونو هغه ډول ایمان وساتي چې شرعاً له موږ څخه غوښتل شوي دي، هغه داسې چې

(١) محمد بن نصر المروزي په "تعظيم قدر الصلاة" کې په (٧٨٦) شمېره د احمد بن عاصم الأنطاكي څخه روایت کړی دی.

الله په قرآن کې او یا د رسول الله ﷺ په سنتو کې د ځان لپاره چې په کومه مناسبه طریقه نومونه او صفتونه ثابت کړي وي، هغه ورته منسوب کړو.

- اې مؤمنانو! د الله په نومونو او صفتونو باندې پوره ایمان لرل دوه شیان غواړي؛ لومړی: د الله نومونه او صفتونه په ظاهري بڼه لکه څنگه چې راغلي دي، پیژندل، بلکې د هر ډول تحریف، تعطیل، تکییف، او تمثیل څخه پرته منل، د دې لپاره دلیل د الله دا قول دی:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡمَثَلُ ٱلۡأَعۡلَىٰۚ﴾

او خاص د الله لپاره ترټولو لوړ مثال دی.

همدا ډول الله فرمایلي دي:

﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾

د هغه په مثل هیڅ شی نشته ـ او هم دغه بڼه اوریدونکی، بڼه لیدونکی دی.

- د الله په نومونو او صفتونو باندې د پوره ایمان دویمه غوښتنه دا ده چې یوازې هغه څه ومنل شي چې په قرآن او سنتو کې راغلي وي، او داسې نوم یا صفت رامنځته نه کړو چې په قرآن او سنتو دواړو کې نه وي راغلی، امام احمد رحمه الله فرمایلي دي: الله پاک به په داسې صفاتو سره نشي توصیفولی چې هغه پرې د ځان توصیف نه وي کړي[1].
- د الله بندگانو، د الله په نومونو او صفتونو د ایمان لرلو ضد په هغې کې الحاد کول دي، الحاد په لغت کې د میلان معنا لري، له همدې امله په قبر کې لحد ته ځکه لحد وایي چې لحد هم هم د قبر اړخ ته کنستل شوې څنډه وي، په همدې توگه د الله په نومونو او صفتونو کې الحاد هغه دی چې سړی له سمې معنا څخه چې د عربي ژبې او د سلفو د فهم بلې معنا ته وگرځي.
- الحاد مختلف ډولونه لري، چې ټول ډولونه یې یا خو صحیح معنا تحریفوي او هغه معنا غوره کوي چې هغه مراد نه وي، او یا یې معنا په بشپړ ډول ردوي، دا ټول د الله په نومونو او صفتونو د ایمان مخالف کار دی، بلکې د الله په اړه بې علمه خبرې کول دي، او دا هغه بدعت کار دی چې سلفو صالحینو او د هغویو پیروانو پرې سخت درکړی دی، او دا هغه گناه ده چې الله یې کوونکو ته د سخت عذاب ورکولو وعده کړې ـ الله دې ترې مور وساتي - الله فرمایلي دي:

﴿وَلِلَّهِ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ فَٱدۡعُوهُ بِهَاۖ وَذَرُواْ ٱلَّذِينَ يُلۡحِدُونَ فِيٓ أَسۡمَٰٓئِهِۦۚ سَيُجۡزَوۡنَ مَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

(۱) قاضي ابو یعلی په "طبقات الحنابلة" (۳۸٦/۱) د حنبل بن اسحاق له ترجمې څخه روایت کړی دی.

او خاص د الله لپاره ترټولو ښکلي نومونه دي، نو تاسو دی په دغو (نومونو) سره بلئ او هغه کسان پرېږدئ چې د هغه (الله) په نومونو کې الحاد (کوږوالی) کوي، ژر به دوی ته د هغو عملونو سزا ورکړی شي چې دوی به کول.

او الله فرمايلي دي:

﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِۦ عِلْمٌۚ إِنَّ ٱلسَّمْعَ وَٱلْبَصَرَ وَٱلْفُؤَادَ كُلُّ أُوْلَٰٓئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْـُٔولًا﴾.

او ته د هغه شي پيروي مه کوه چې تا ته د هغه علم نه وي، بېشکه غوږونه او سترګې او زړه، هر يو له دغو (درې واړو) دی د هغه په هکله ټپوس کړی شوی.

- اې مسلمانانو، د الله په نومونو اوصفتونو کې د الحاد تر ټولو مشهور ډول هغه تحريف دی، د سمې او حقيقي معنا څخه پرته يې نور معناوې کولو ته وايي، هغه حقيقي معناوي بدلول چې د عربي ژبې د ګرامر، د سلفو صالحينو لکه صحابه کرامو، تابعينو، او د هغويو د پيروانو د فهم سره برابر وي، په کوم ډول يې چې د پيغمبر ﷺ څخه زده کړې وي، او ښه يې وربانديې ځان پوهه کړی وي، بکلې دا هغه خلک دي چې پيغمبر ﷺ په خپله وينا کې د هغوی د غوره والي شاهدي ورکړي ده، چې فرمايلي دي: "تر ټولو غوره خلک زما دوره ده، بيا هغه کسان چې د هغوی وروسته راځي، بيا هغه کسان چې د هغوی وروسته راځي"[1].

هر هغه څه چې د صحابه کرامو له فهم سره مخالف وي، هغه دين نه دی، بلکې يو نوی جوړه شوې تګلاره ده، چې د اسلام سره هېڅ تړاو نه لري.

د الله په نومونو او صفتونو کې د تحريف ځينې مثالونه دا دي: لکه د الله د استواء په عرش د پورته کېدو صفت تفسير په په عرش د غلبې سره کول، او د الله د عرش د پاسه پورته کيدو صفت څخه انکار کول.

- د الله په نومونو او صفتونو کې د الحاد له ډولونو څخه يو تکييف دي، تکيف دېته وايي چې د الله د يو صفت کيفت او څرنګوالی بيانول، دا کار کول حرام دي، ځکه الله خپل بندګانو ته د خپلو صفتونو په اړه بشپړ علم نه دی ورکړی، الله فرمايلي دي:

﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلْمًا﴾

او دوی د هغه د علم احاطه نشي کولی.

په دې مبارک آيت کې الله دا طمع پرې کړې چې څوک دې د الله د صفاتو د څرنګوالي درک وکړي.

د څرنګوالي په غوښتنه باندې د سلفو امامانو ډېر سخت انکار او رد کړی دی، يو سړي امام مالک رحمه الله ته وويل: يا أبا عبدالله، ﴿ٱلرَّحْمَٰنُ عَلَى ٱلْعَرْشِ ٱسْتَوَىٰ﴾، فكيف استوى؟ "اې ابا عبدالله، رحمن په عرش استواء وکړه، دا څنګه استواء ده؟"

---

(۱) دا حديث بخاری په (۲۶۵۲) شمېره او مسلم په (۲۵۳۳) د عبدالله بن مسعود په روايت سره روايت کړی دی.

راوي وايي: "امام مالک خپل سر ټيټ کړ تر دې چې خوله شو، بيا يې وويل: (الاستواء غير مجهول[۱]، والكيف غير معقول[۲]، والإيمان به واجب، والسؤال عنه بدعة، وما أراك إلا مبتدعا، فأمر به أن يُخرج[۳]. **استواء نا معلومه نه ده، مگر څرنگوالی يې عقل نه شي درک کولی، په هغه ايمان لرل واجب دي، او په اړه يې پوښتنه کول بدعت دی. ته يو بدعتي يې)." بيا يې امر وکړ چې هغه سړی دې وباسل شي.**

- **ابن عثيمين رحمه الله د امام مالک په دې خبرې داسې تبصره کړې چې لنډيز يې دا دی د امام مالک خبره د ټولو صفاتولپاره يو ميزان يعنې تله ده، هغه کسان چې د صفاتو د څرنگوالي په اړه پوښتنې کوي، پوښتنه يې بدعت دی، صحابه کرام د خير او علم د ترلاسه کولو په برخه کې تر ټولو حريص خلک وو، خو له دې سره سره هغوی هېڅکله د الله د صفاتو د څرنگوالي په اړه پوښتنه نه ده کړې[٤]. د شيخ رحمه خبره پای ته ورسيده.**
- **د الله بندگانو، د الله په نومونو او صفتونو کې د الحاد بل ډول تشبيه کول دي، لکه د الله لاس د مخلوق د لاس سره مشابه کول، حال دا چې الله د مخلوقاتو سره د مشابهت څخه اوچت او بالا دی. امام نعيم بن حماد الخزاعي - د امام بخاري شيخ - رحمهما الله فرمايلي دي:** "من شبه الله بخلقه فقد كفر، من أنكر ما وصف به نفسه فقد كفر، وليس فيما وصف الله به نفسه ولا رسوله تشبيه"[٥]. **څوک چې الله د خپلو مخلوقاتو سره مشابه کړي، کافر دی، او څوک چې صفتونه چې الله پرې خپل ځان موصوف کړی؛ رد کړي، هغه کافر دی. په کوم څه چې الله خپل څان موصوف کړی، ايا پيغمبر موصوف کړی، تشبيه نشته.**
- **اې مؤمنانو، د الله نومونو او صفتونو په هغه ډول ځان پوهول چې څرنگه له تحريف پرته راغلي دي، په دې د ټولو مسلمانانو او څلور مذهبونو د امامانو او نورو متفقه خبره ده، امام محمد بن الحسن الشيباني، د امام ابو حنيفه شاگرد، ويلي دي:** "اتفق الفقهاء كلهم من المشرق إلى المغرب على الإيمان بالقرآن والأحاديث التي جاء بها الثقات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم وفارق الجماعة، فإنهم لم يصفوا ولم يُفسروا، ولكن أفتوا بما في الكتاب والسنة ثم سكتوا"[٦].

---

(۱) يعنې مجهوله معنا نه لري، بلکې معنا يې معلومه ده، چې هغه پورته والی دی.

(۲) يعنې د کيفت پوهه او ادراک يې عقل نشي کولی.

(۳) بيهقي په "الأسماء والصفات" (٨٦٦-٨٦٧) کې روايت کړی.

(٤) په لږ تصرف سره د "شرح العقيدة الواسطية" د ابن عثيمين (١٠٠/١) څخه رانقل شو.

(٥) العلو (۴۶۴) شمېره.

(٦) شرح اصول اهل السنة والجماعة، للاكائي (٤٨٠/٣).

له ختيځ څخه تر لويديځ پورې ټول فقهاء په دې متفق دي چې قرآن او احاديث چې باوري کسانو د پيغمبر ﷺ نه روايت کړی، د الله په صفاتو کې د کوم تفسير يا تشبيه پرته ايمان لرلو، څوک چې په دې صفاتو کې تفسير کوي؛ نو هغه د پيغمبر ﷺ له لارې وتلی دی او له مسلمانانو له جماعت څخه بېل شوی دی، ځکه هغوی نه صفات بيان کړي او نه يې تفسير کړی دی،بلکې د کتاب او سنت مطابق فتوا به يې ورکوله، له هغې پرته به يې نور څه نه ويل.

- **امام شافعي رحمه الله فرمايلي دي:** "آمنت بكلام الله على مراد الله، وآمنت بكلام رسول الله على مراد رسول الله"(١).

ما د الله په کلام ايمان راوړی دی، لکه څرنگه چې د الله مقصد دی، او ما د رسول الله په کلام ايمان راوړی دی، لکه څرنگه چې د رسول الله مقصد دی.

- **ابن تيميه رحمه الله فرمايلي دي:** " إن جميع ما في القرآن من آيات الصفات فليس عن الصحابة اختلاف في تأويلها، وقد طالعت التفاسير المنقولة عن الصحابة وما رووه من الحديث، ووقفت من ذلك على ما شاءالله تعالى من الكتب الكبار والصغار أكثر من مائة تفسير، فلم أجد إلى ساعتي هذه عن أحد من الصحابة أنه تأول شيئا من آيات الصفات أو أحاديث الصفات بخلاف مقتضاها المفهوم المعروف، بل عنهم من تقرير ذلك وتثبيته وبيان أن ذلك من صفات الله ما يخالف كلام المتأولين مالا يحصيه إلا الله"(٢). انتهى كلامه رحمه الله.

په قرآن کې د صفاتو په اړه ټول آيتونه داسې دي چې صحابه کرامو د هغې په تأويل کې هيڅ اختلاف نه درلود، ما د صحابه کرامو څخه نقل شوي تفسيرونه او حديثونه مطالعه کړي دي، او د الله په مشيئت سره مې لوی او کوچني له سلو زيات تفسيرونه مطالعه کړل، ليکن تر اوسه پورې مې داسې کوم صحابي ونه موند چې د صفاتو له آيتونه او حديثونو څخه يې داسې تأويل کړی وي چې د هغه له څرگند او معلوم مفهوم څخه بېل وي، بلکې د صحابه کرامو له لورې د هغو آيتونو او حديثونو منل او ثابتول نقل دي، او د صحابو څخه داسې بيان نقل دی چې د تأويل کوونکو د خبرو مخالف دي، چې شمير يې الله ته معلوم دی.

- **ابن كثير رحمه الله د (ثم استوى على العرش) په تفسير کې فرمايلي دي:** وأما قوله تعالى ﴿ثُمَّ ٱسْتَوَىٰ عَلَى ٱلْعَرْشِ﴾ فللناس في هذا المقام مقالات كثيرة جدا ليس هذا موضع بسطها، وإنما يُسلك في هذا المقام مذهب السلف الصالح؛ مالك والأوزاعي والثوري والليث بن سعد والشافعي وأحمد وإسحاق

(١) ابن قدامة (٦٢٠هـ) په خپل كتاب «ذم التأويل» (ص٢٥٦-٢٢٢).
(٢) مجموع الفتاوى (٣٩٤/٦).

بن راهويه وغيرهم من أئمة المسلمين قديما وحديثا، وهو إمرارها كما جاءت من غير تكييف ولاتشبيه ولاتعطيل، والظاهر المتبادر إلى أذهان المشبهين منفي عن الله، لايشبهه شيء من خلقه، و ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡبَصِيرُ﴾، بل الأمر كا قال الأئمة, منه نُعيم بن حماد الخزاعي – شيخ البخاري– قال: (من شبه الله بخلقه فقد كفر، ومن جحد ما وصف الله به نفسه فقد كفر، وليس فيما وصف الله به نفسه ولا رسوله تشبيه)، فمن أثبت لله تعالى ما وردت به الآيات الصريحة والأخبار الصحيحة على الوجه الذي يليق بجلال الله، ونفي عن الله تعالى النقائض؛ فقد سلك سبيل الهدى. انتهى كلامه رحمه الله.

د

﴿ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ﴾

آيت په اړه د خلکو ډېرې خبرې شته، خو دا ځای د هغې د تفصيل نه دی، په دې ځای کې د سلف صالحينو، لکه امام مالک، اوزاعي، ثوري، ليث بن سعد، شافعي، احمد، اسحاق بن راهويه او نورو مسلمانو پخوانيو او اوسنيو امامانو مذهب دا دی چې دا آيتونه هماغسې ومنل شي لکه څنګه چې نازل شوي دي، بې له دې چې کيفيت يې بيان شي، د يو څه سره تشبيه ورکړل شي، يا رد کړل شي، په ښکاره ډول چې د تشبيه ورکونکو ذهنونو ته څه راځي، د هغې تصور د الله په اړه نفی او ناسم دي، ځکه الله د خپل مخلوقاتو په څير نه دي، لکه څنګه چې الله فرمايلي دي: د هغه په مثل هېڅ شی نشته- او هم دغه ښه اورېدونکی، ښه ليدونکی دی، بلکې سمه خبره هاغه ده څنګه چې امامانو ويلي ده، نُعيم بن حماد الخزاعي (چې د امام بخاري استاد و) ويلي دي: «څوک چې الله د خپل مخلوق سره مشابه کړي، کافر دی، څوک چې د الله د صفاتو انکار کوي کوم يې چې د خپل ځان لپاره ثابت کړي، کافر دی. کوم صفات چې الله او رسول بيان کړي، هغې کې تشبيه نشته.» نو څوک چې د الله لپاره هغه صفات ثابت کړي چې په صريحو آيتونو او صحيحو احاديثو کې راغلي دي، په هغه شان چې د الله د جلال لائق وي، او له الله څخه نيمګړتياوې نفی کړي، هغه د هدايت لار رانيولې ده.

- **عبدالرحمن بن قاسم المالكي رحمه الله**[1] **فرمايلي دي:** "لاينبغي لأحد أن يصف الله إلا بما وصف به نفسه في القرآن، ولا يُشبه يديه بشيء، ولا وجهه بشيء، ولكن يقول: (له يدان كما وصف نفسه في القرآن، وله وجه كما وصف نفسه)، يقف عندما وصف به نفسه في الكتاب، فإنه تبارك وتعالى لا مثل

(١) دا امام عبدالرحمن بن القاسم دی، چې امام ذهبي يې په «تاريخ الإسلام» (١١٤٩/٤) کې يادونه کړې: نوموړی د مالکي مذهب ستر عالم دی ... په ١٩٢ هـ کې وفات شوی.

له ولاشبيه، ولكن هو الله لا إله إلا هو كما وصف نفسه، ويداه مبسوطتان كما وصفها ﴿وَٱلْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُۥ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطْوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦ﴾، كما وصف نفسه[1]. **انتهى كلامه رحمه الله.**

هيڅا ته پكار نه دي چې الله د هغه صفاتو پرته په نورو صفاتو ياد كړي چې په قرآن كې يې خپل ځان وربانديې موصوف كړی دی، د الله لاسونه د هيڅا د لاسونو په څير نه دي، مخ يې د هيڅا په څير نه دي، بلكې بايد داسې ووايي: (الله دوه لاسونه لري، څنگه يې چې په قرآن كې د ځان لپاره ياد كړي، همدارنگه د الله لپاره مخ شته څنگه يې چې په قرآن كې د خپل ځان لپاره ياد كړي، بايد په هماغه ځای ودريږي چې څنگه الله خپل ځان په قرآن كې موصوف كړي، ځكه چې الله هيڅ سيال او مشابه نلري، الله هغه ذات چې پرته له ده بل رب نشته او هغه صفات لري كوم يې چې څنگه د خپل ځان لپاره ياد كړي دي، د هغه لاسونه پراخه دي لكه څنگه يې چې فرمايلي دي (او ځمكه به د قيامت په ورځ د هغه په قبضه كې وي او اسمانونه به د هغه په ښي لاس كې تاو شوي وي) څنگه يې چې د خپل ځان بيان كړي دي. خبرې همدلته پای ته ورسېدې.

الله دې تاسو او موږ ته په دې مبارک قرآن كې بركت راكړي، او موږ ته دې د دې په آيتونو او ذكر كې گټه راكړي، زه دا خبره كوم، او له الله څخه د ټولو گناهونو بښنه غواړم، نو تاسې هم له الله څخه بښنه وغواړئ. بې شكه هغه بښونكی او توبه قبلوونكی دی.

دويمه خطبه

الحمدلله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد: **د الله بندگانو د الله څخه وويريږئ، او ځان پوه كړئ چې د الله د نومونو او صفتونو پوهه د بنده په عقل، زړه او اندامونو باندې ډېرې زياتې گټې لري، امام ابن القيم رحمه الله فرمايلي دي:** والأسماء الحسنى والصفات العلا مقتضية لآثارها من العبودية والأمر اقتضاءها لآثارها من الخلق والتكوين فلكل صفة عبودية خاصة هي من موجباتها ومقتضياتها أعنى من موجبات العلم بها والتحقق بمعرفتها وهذا مطرد في جميع أنواع العبودية التي على القلب والجوارح فعلم العبد بتفرد الرب تعالى بالضر والنفع والعطاء والمنع والخلق والرزق والإحياء والإماتة يثمر له عبودية التوكل عليه باطنا ولوازم التوكل وثمراته ظاهرا وعلمه[2] بسمعه تعالى وبصره وعلمه وأنه لا يخفى عليه مثقال ذرة في السموات ولا في الأرض وأنه يعلم السر وأخفى ويعلم خائنة الأعين وما تخفى الصدور يثمر له حفظ لسانه وجوارحه وخطرات قلبه عن كل مالا يرضى الله وأن يجعل تعلق هذه

---

(١) «اصول الفقه» (ص ٤٢)، تحقيق احمد بن على القفيلي، الناشر: دار الفرقان - مصر.

(٢) يعنې د بنده پوهه.

الأعضاء بما يحبه الله ويرضاه فيثمر له ذلك الحياء باطنا ويثمر له الحياء اجتناب المحرمات والقبائح ومعرفته بغناه وجوده وكرمه وبره وإحسانه ورحمته توجب له سعة الرجاء وتثمر له ذلك من أنواع العبودية الظاهرة والباطنة بحسب معرفته وعلمه وكذلك معرفته بجلال الله وعظمته وعزه تثمر له الخضوع والاستكانة والمحبة وتثمر له تلك الأحوال الباطنة أنواعا من العبودية الظاهرة هي موجباتها وكذلك علمه بكماله وجماله وصفاته العلى يوجب له محبة خاصة بمنزلة أنواع العبودية فرجعت العبودية كلها إلى مقتضى الأسماء والصفات وارتبطت بها ارتباط الخلق بها فخلقه سبحانه وأمره هو موجب أسمائه وصفاته في العالم وآثارها ومقتضاها[1]. انتهى كلام ابن القيم رحمه الله

او د الله تعالى ښكلي نومونه او لوړ صفتونه دا تقاضا كوي چې خپل اغيزې په بنده گې كې ښكاره كړي، او د هغه امرونه هم خپل اغيزې په خلق او تشكيل كې ښكاره كوي. هر صفت لپاره ځانگړې بنده گي شته چې د دې د علم او پيژندلو له وجې ضروري ده. دا اصول د زړه او بدن په ټولو ډولونو كې تطبيق كيږي. د بنده پوهه په دې چې يواځې الله د ضرر، نفع، وركولو، منع كولو، پيدا كولو، رزق وركولو، ژوند او مرگ واكمن دى، په هغه كې دننه د توكل بنده گي راولي، او د توكل نتيجې په ظاهره هم څرگندېږي.

بنده چې پوه شي الله تعالى هر څه اوري، وينې او په آسمانونو او ځمكه كې هيڅ د ذرې په اندازه څيز له هغه پټ نه دي، او هغه د پټو رازونو او تر دې هم په ډېرو پټو خبرو خبر دى، د سترگو خيانت او د زړونو پټ رازونه هم ورته څرگند دي، دا علم بنده ته دا نتيجه وركوي چې خپل ژبه، بدن او زړه د هر هغه څه څخه وساتي چې الله يې نه خوښوي، او دا علم د دې لامل كيږي چې د هغه بدن هغه كارونو ته اړباسي چې الله يې خوښوي او پرې راضي كيږي، له دې څخه په دننه كې حيا راټوكيږي، او دا حيا بنده له گناهونو او بديو څخه ژغوري.

د الله تعالى په غنا، سخاوت، كرم، مهربانۍ او رحمت پوهه د بنده په زړه كې پراخه اميدونه پيدا كوي، او دا اميدونه د ظاهري او باطني بنده گۍ بيلابيل ډولونه د بنده د علم او معرفت په كچه رامنځته كوي. همدارنگه، د الله په لويوالي، عزت او عظمت پوهه بنده په خضوع، عاجزۍ او محبت اړباسي، او دا داخلي حالتونه د بنده گۍ ظاهري ډولونه زيږوي. د الله په كمال او ښكلا او لوړ صفاتو پوهه يوه ځانگړې محبت راولي چې د بنده گۍ په مختلفو شكلونو كې راڅرگندېږي.

له دې امله، د بندگۍ ټول ډولونه د الله د نومونو او صفتونو تقاضا ده او د دې نومونو او صفتونو له اغيزو سره تړاو لري، د الله خلق او امر دواړه د هغه د نومونو او صفتونو اغيزې او تقاضا ده چې په دنيا كې راښكاره كيږي.

---

(۱) مفتاح در السعادة (۲/۵۱۱-۵۱۰)، تحقيق الشيخ على بن حسن، ط دار ابن عفان - السعودية.

- پوه شئ، الله دې په تاسو رحم وکړي، الله تاسو ته د یو ستر کار امر کړی دی، لکه څنگه یې چې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایکې په نبي باندې درود وایي، اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی، پر هغه درود او سلام ووایاست.

- اې الله! په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې درود او سلام ووایه، او د هغه صحابو، خلفاوو، تابیعنو او د له هغه کسانو چې د قیامت ورځې پورې په نیکیو کې د دویو پیروي کوي، راضي شې.
- اې الله! هر مصیبت د ګناه له املە رانازلیږي، او هېڅ مصیبت د توبې پرته نه لیرې کي، دا زمونږ لاسونه ستا په لورې دې سره د دې چې ګناهونه مو کړي دي، او زمونږ سرونه ستا په وړاندې دي چې زمونږتوبه قبوله کړه.
- اې الله! په یمن، عراق، شام، فلسطین، لیبیا او نورو اسلامي هیوادونو کې امنیت راولې.
- اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا او اخرت کې ښه بدله راکړي، او له دوزخ څخه مو وساته.
- پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د مخلوقاتو ښه پالوونکی دی.

په ملایکو ایمان لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځي خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

• **اما بعد، اې مسلمانانو،** زه تاسو ته او خپل ځان ته د الله څخه د تقوا او ويرې کولو سپارښتنه کوم، ځکه الله ټولو پخوانيو او راتلونکو نسلونو ته په تقوا کولو سره وصيت کوي، الله فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَـٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ﴾

او خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او يقينًا يقينًا مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ.

د الله څخه وویریږئ، تابعداري یې وکړي او نافرماني یې مه کوئ، پوه شئ چې په ملایکو ایمان راوړل په اسلام کې یو لوی مقام لري، ځکه دا د ایمان دویم رکن دی، ملایکې د الله او د رسولانو ترمنځ واسطه وي، (ملایکې یو غیبي [په سترګو نه لیدل کیدونکی] مخلوق دی، چې یوازې د الله تعالی عبادت کوي، او د ربوبیت او الوهیت هیڅ خصوصیات او ځانګړنې نلري، الله له نور څخه پیدا کړي دي چې الله ورته د خپل امر په بشپړه توګه د اطاعت او په پوره ډول د عملي کولو ځواک ورکړی دي. الله فرمایلي دي:

﴿لَّا يَعْصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ﴾

چې دوی په هغه څه کې د الله نافرمانی نه کوي چې دوی ته یې حکم کړی وي- او دوی هغه څه کوي چې دوی ته یې حکم کولی شي.

او بیا فرمایي:

﴿وَمَنْ عِندَهُۥ لَا يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِهِۦ وَلَا يَسْتَحْسِرُونَ ﴿١٩﴾ يُسَبِّحُونَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ لَا يَفْتُرُونَ﴾

او خاص د هغه لپاره دي هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، او هغه څوك چې له هغه سره دي، هغوی د هغه له عبادت نه تکبر نه کوي او نه ستومانه کېږي، هغوی شپه او روځ تسبیح وایي، نه څه وقفه کوي.

د ﴿لَا يَسْتَحْسِرُونَ﴾ معنا دا ده چې هغوی نه ستړي کېږي او نه هم ستومانه کېږي.

• **د ملایکو شمېر زیات دی،** چې شمیر یې یوازې الله ته معلوم دی، الله فرمایلي دي:

﴿وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ﴾

او ستا د رب لښکرې نه پېژني مګر هم دی

یعنې د هغوی شمېر او زیاتوالی یوازې الله تعالی ته معلوم دی.

په صحیحینو کې د انس رضي الله عنه څخه د معراج د کیسې اړوند روایت نقل شوی چې نبي ﷺ آسمان کې بیت المعمور ته پورته کړل شو، نبي ﷺ له جبرئیل علیه السلام څخه پوښتنه وکړه چې دا څه شی دی؟ جبرئیل ورته وویل: دا بیت المعمور دی، هره ورځ **اویا زره ملایکې** پکې لمونځ کوي، کله چې له دې ځایه ووځي؛ نو بیا هیڅکله هغه ته نه راګرځي[1].

یعنې، هره ورځ اویا زره ملایکې بیت المعمور ته داخلېږي، او بیا هیڅکله نه راګرځي[یعنې د دویم ځل د داخلیدو نمبر یې تر آخیره پورې نه راځي]. دا د ملایکو د ډېرې زیاتې شمېرې څرګندونه کوي.

(١) أخرجه البخاري (٣٢٠٧) ومسلم (١٦٤).

اې مؤمنانو، په ملايكو ايمان لرل شپږ اساسي برخې لري:

لومړی: د ملائكو په شتون [وجود] ايمان لرل.

دويم: د ملائكو سره مينه لرل، څوک چې د ملايكو سره دښمني كوي، هغه كافر دی، الله فرمايلي دي:

﴿مَن كَانَ عَدُوًّا لِّلَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَرُسُلِهِۦ وَجِبۡرِيلَ وَمِيكَىٰلَ فَإِنَّ ٱللَّهَ عَدُوٌّ لِّلۡكَٰفِرِينَ﴾

هر څوك چې د الله دښمن دی او د هغه د ملايكو او د هغه د رسولانو او د جبريل او د ميكائيل، نو يقينًا الله د كافرانو دښمن دی.

دريم: په هغو ملايكو ايمان لرل چې موږ يې نومونه پيژنو، لكه جبرئيل عليه السلام، او د كومو ملائكو نومونه چې موږ نه پيژنو، په هغويو اجمالي ايمان لرل.

څلورم: د ملائكو په هغه پيدائشي صفاتو ايمان لرل چې موږ ته معلوم دي، د مثال په ډول د جبرئيل عليه السلام پيدائشي صفات، نبي ﷺ موږ ته خبر راكړی چې جبريل عليه السلام يې په خپل اصلي شكل كې ليدلی چې شپږ سوه وزرونه يې درلودل، او د آسمان كنارې يې ټول پوښلې وې[1].

ملايكې كله د الله تعالى په امر د انسان په بڼه كې راتلی شي، لكه څنگه چې د جبرئيل عليه السلام سره وشول كله چې الله هغه مريم ته واستاوه؛ نو هغه د يو بشپړ انسان په شكل كې ورته ښكاره شو. همدارنگه هغه وخت چې جبرئيل عليه السلام نبي ﷺ ته د صحابو په منځ كې د يو سړي په بڼه راغی، چې سپينې جامې يې په تن وې، تک تور ويښتان يې درلودل، د سفر هيڅ نښه پرې نه ښكارېده، هيڅ يو صحابي هغه نه پيژنده، د نبي ﷺ مخې ته كښېناست، خپلې زنگونونه يې د نبي ﷺ زنگونونو ته مخامخ كړل، او خپلې دواړه لاسونه يې په خپلو ورانونو كېښودل، د نبي ﷺ څخه يې د اسلام، ايمان، احسان، قيامت او د هغې د نښو په اړه وپوښتل، نبي ﷺ ورته ځوابونه وركړل، او بيا هغه لاړ، بيا چې صحابو له نبي ﷺ څخه وپوښتل چې دا څوک وو، نبي ﷺ ورته وفرمايل: دا جبرئيل و، د دې لپاره راغلی وو چې خلكو ته دين ورزده كړي[2].

همدارنگه هغه ملايكې چې الله ابراهيم عليه السلام او لوط عليه السلام ته استولې وې، د انسانانو په شكل كې راغلې وې.[3]

---

(۱) رواه البخاري (۳۲۳۲-۳۲۳۳)، ومسلم (۱۷٤، ۱۷۷) عن ابن مسعود رضي الله عنه.

(۲) رواه مسلم (۹) عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه.

(۳) "شرح ثلاثة الأصول" لابن عثيمين، ص ۹۰-۹۱، بتصرف وزيادة.

• **اې د الله بنده گانو، د ملايکو سردار جبرئيل عليه السلام دی،** چې په خپل خلقت او اخلاقو کې په ټولو ملايکو کې ترټولو غوره دی، الله پاک يې د قرآن په دوه آيتونو کې پنځه صفتونه ياد کړي دي، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ١٩ ذِي قُوَّةٍ عِندَ ذِي ٱلۡعَرۡشِ مَكِينٖ﴾

بېشکه دا (قرآن) خامخا د ډېر عزتمن رسول قول دی، چې د عرش د مالك په نيز د قوت والا (او) د مرتبې والا دی.

په دې آيت کې الله هغه د (کريم) په صفت سره ياد کړی، يعنې هغه د غوره اخلاقو او ډيرو سترو صفاتو خاوند دی، بيا يې هغه د (قوي) په صفت سره ياد کړی، ورپسې يې په (مَکين) صفت سره ياد کړی، يعنې نوموړی د الله په وړاندې لوړ مقام لري، بيا فرمايي:

﴿مُّطَاعٖ ثَمَّ أَمِينٖ﴾

منلی شوی دی هلته، امين دی

يعنې د ملايکو ترمنځ هغه مطاع دي [امر يې منل کيږی]، او په وحي کې امين [ريښتنی] دی.

همدارنگه الله د هغه د خلقت د ځواک او قوت صفت کړی چې په اړه يې فرمايلي دي:

﴿عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلۡقُوَىٰ ٥ ذُو مِرَّةٖ فَٱسۡتَوَىٰ﴾

ده ته (دا) د ډېرو سختو قوتونو والا (جبريل) ښودلی دی، چې د طاقت والا دی، بيا هغه پورته لاړ.

يعنې هغه ځوک چې محمد ﷺ ته يې وحي وروښوده، جبرئيل دی، الله هغه په (شديد القوى) سره ياد کړی، يعنې هغه په ښکاره او پټ ډول ډېر قوي دی، هغه د الله امرونه په پوره قوت سره عملي کوي، پيغمبرانو ته په وحي رسولو کې او له شيطانانو ځخه يې په ساتنه کې قوي دی، چې هغوی څه پکې اضافه نه کړي چې هغه د الله له لورې ځخه نه وي، دا د الله له لورې د وحي ساتنه ده چې د قوي او امين ملائک په ذريعه يې راولېږله.[1] د الله وينا ده چې (ذُو مِرَّةٍ): المرة د سلامتيا او روغتيا معنا لري، چې له هر ډول ظاهري او باطني نيمګړتياوو پاک دی، دا د کامل خلقت، ښکلا او روغتيا معنا لري، چې په ځواک او صحت کې د کمال ښکارندوی کوي[2]اې د الله بنده گانو، په ملايکو د ايمان پنځمه غوښتنه دا ده چې د ملائکو په هغو اخلاقي صفاتو ايمان لرل چې موږ ته معلوم دي، چې يو يې له دې صفاتو ځخه د حيا صفت دی، په دې خبره دليل د عثمان رضي الله عنه په اړه د نبي ﷺ وينا ده، چې فرمايلي يې دي: (ايا زه له هغه سړي ځخه حيا ونکړم چې ملايکې له هغې ځخه حيا کوي) [3].

---

(١) انظر تفسير الآيات في "تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان" للشيخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله.

(٢) قاله ابن القيم في " إغاثة اللهفان" (١٢٩/٢)، تحقيق الفقي.

(٣) رواه مسلم (٢٤٠١) عن عائشة رضي الله عنها.

ملایکې هغه څه بد ګڼي کوم چې الله ته ناخوښ وي، او هغه کور ته نه ننوځي چې سپی یا مجسمه ورکې وي، نبي ﷺ فرمایلي دي: (**ملایکې هغه کور ته نه ننوځي** چې پکې سپی یا د مجسمو تصویر وي) [١].

ملایکې له هغه څه څخه **ځوریږي** له کوم څخه چې انسانان ځوریږي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي هغه څوک چې پیاز، هوږه یا ګندنه وخوري، جومات ته دې نه ننوځي، په دې حکم کې بدبویی لرونکي شیان هم شامل دي، لکه د سګرټو بوی، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (څوک چې پیاز، هوږه او ګندنه وخوري، هغه دې زمونږ جومات ته نه ننوځي؛ ځکه **ملایکې له هغه څه ځوریږي** له کوم چې انسانان ځوریږي)[٢].

اې د الله بنده ګانو، په ملایکو د ایمان شپږمه غوښتنه دا ده چې مونږ په هغه عامو او خاصو کارونو ایمان ولرو

چې مونږ ته معلوم دي، او دوی یې د الله د امر مطابقت له امله ترسره کوي، عام کارونه لکه د الله تسبیح ویل، شپه اورځ له ستړیا او سستی پرته عبادت کول، الله فرمایلي دي:

﴿ فَٱلتَّٰلِيَٰتِ ذِكۡرًا ﴾

قسم دی بیا د ذکر په لوستونکو [ملایکو] باندې.

ځینې ملایکې بیا ځانګړي او خاص کارونه لري چې دویو ته سپارل شوي دي، لکه جبرئیل علیه السلام چې په وحي باندې امین مقرر کړی شوی دی، چې بیا یې پیغمبرانو او رسولانو ته رسوي، ځینې وختونه نورې ملایکې هم د وحي یو څه راوړلو لپاره راښکته کیږي، الله فرمایلي دي:

﴿فَٱلۡمُلۡقِيَٰتِ ذِكۡرًا ۝ عُذۡرًا أَوۡ نُذۡرًا ﴾

قسم دی بیا په هغو بادونو باندې چې د ذکر اچونکي دي، د عذر لپاره او وېرولو لپاره.

یعنې ملائکې چې وحي انبیاوو ته رسوي، د دې لپاره چې په خلکو د تبلیغ له لارې اتمام حجت وکړي او یا هغوی ته د عذاب خبرداری ورکړي.

بل د هغو ملائکو له جملې څخه چې ځانګړی او خاص کارو ورسپارل شوی وي، میکائیل علیه السلام دی چې د باران د راښکته کولو او د ځمکې د خړوبولو دنده لري[٣].

بل د هغو ملائکو له جملې څخه چې ځانګړی او خاص کارو ورسپارل شوی وي، هغه ملائک دی چې د شپیلی د پوکولو کار ورسپارل شوی، مشهوره دا ده چې ددې ملک نوم اسرافیل[٤] دی، صور

---

(١) رواه البخاري (٣٢٢٥) ومسلم (٢١٠٦) عن أبي طلحة رضي الله عنه، واللفظ للبخاري.

(٢) رواه مسلم () عن جابر رضى الله عنهما.

(٣) جاء هذا في حديث رواه النسائي في "الكبرى" (٩٠٢٤)، وأحمد (٢٧٤/١)، عن ابن عباس رضي الله عنهما، وحسنه محققو "المسند".

(٤) جزم به ابن جرير رحمه الله كما في تفسير آية الزمر (ونفخ في الصور فصعق من في السماوات ومن في الأرض) وانظر كلام علماء التفسير عند هذه الآية، وكذا عند قوله تعالى: (وله الملك يوم ينفخ في الصور).

بيا د پوکولو شپيلۍ ته وايي څرنگه چې په حديث کې راغلي دي، او دا پو به د قيامت د قائميدو او د مخلوقاتو د راژوندي کيدو لپاره کيږي.

دغه درې واړه په ملائکو کې تر ټولو لوی ملائک دي، دا درې واړه د ژوند اړوند په چارو ګمارل شوي دي، جبرئيل د وحي په رسولو مکلف دی، چې په وحي کې د زړونو ژوند دی، ميکائيل د باران په راښکته کولو مکلف دی، چې په باران کې د ځمکې ژوند دی، اسرافيل د شپيلۍ په پوکولو مکلف دی، چې په دې کې د قيامت په ورځ د بدنونو ژوند دي.

اې مؤمنانو، د ملايکو له ډلې څخه يو د مرګ ملائکه ده، چې د انسانانو د روحونو د قبض کولو لپاره ګمارل شوې ده، الله فرمايلي دي:

﴿قُلْ يَتَوَفَّىٰكُم مَّلَكُ ٱلْمَوْتِ ٱلَّذِى وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّكُمْ تُرْجَعُونَ﴾

ته (دوی ته) ووايه: ستاسو روحونه هغه د مرګ مَلَك قبض کوي چې په تاسو مقرر کړی شوی دی، بيا به تاسو خپل رب ته بېرته ورګرځولی شئ

دا ملائکه د (عزرائيل) په نوم يادول په قرآن او سنت کې ثابت نه دي، بلکې په قرآن کې يوازې په ملک الموت سره ياده شوې ده.

ملک الموت (د مرګ ملائکه) نور مرستيالان لري، الله فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ ٱلْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِۦ ۖ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ ٱلْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ﴾

او هم هغه غالب دی، د خپلو بنده ګانو له پاسه دی، او پر تاسو باندې ساتونکي (ملايك) رالېږي، تر هغه پورې چې کله په تاسو کې يو کس ته مرګ راشي (، نو) زمونږ استازي يې وفات کړي او هغوی هېڅ تقصير (کمی) نه کوي

(رُسُلُنَا) يعنې زمونږ ملايکې، چې د ملک الموت مرستيالانې دي، (لَا يُفَرِّطُونَ) يعنې په ورسپارل شوې کار کې هيڅ کوتاهي نه کوي.

په ملائکو کې ځينې ګرځنده [سياحت کوونکې] ملائکې د ځمکې پر مخ ګرځي، د ذکر او علم د مجلسونو لټون کوي، کله چې دغسې مجلس پيدا کړي، خپلو ملګرو ته خبر ورکوي او د هغه مجلس پر ګډونوالو خپل وزرونه راخواره کړي، ترڅو د اسمان تر لاندې برخې پورې ورسېږي[1].

په ملائکو کې ځينې ملائکې دي چې د جنين [د مور په رحم کې شته ماشوم] ساتنه کوي، کله چې يې د مور په رحم کې څلور مياشتې پوره شي، الله ورته يو ملائکه راولېږي چې د هغه د رزق، عمر، عمل، او د نېکمرغه يا بدمرغه کيدو حکم او فيصله يې وليکي[2].

---

(١) روى أبو داود (٤٧٤٢) والترمذي (٣٢٤٤) واللفظ له عن عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما قال: قال أعرابي: يارسول الله، ما الصور؟ قال: قرن يُنفخ فيه. وصححه الألباني كما في "الصحيحة" (١٠٨٠).

(٢) انظر ما رواه البخارى (٣٢٠٨) ومسلم (٢٦٤٣) عن ابن مسعود رضي الله عنه.

په ملائکو کې ځینې د انسان د عملونو لیکونکې او ساتونکې ملائکې دي، د هر انسان لپاره دوه ملایکې مقرر شوي دي یوه یې په ښي اړخ او بله یې په کین اړخ باندې وي، الله فرمایلي دي:

﴿إِذْ يَتَلَقَّى ٱلْمُتَلَقِّيَانِ عَنِ ٱلْيَمِينِ وَعَنِ ٱلشِّمَالِ قَعِيدٌ ﴿١٧﴾ مَّا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ﴾

(یاد کړه) هغه وخت چې دوه اخیستونکي اخلي، چې یو له ښي اړخ نه او (بل) له چپ اړخ نه ناست وي، (دغه بنده) هیڅ خبره نه کوي مګر له ده سره حاضر ساتونکی دی.

او بل ځای کې الله فرمایلي دي:

﴿وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحَٰفِظِينَ ﴿١٠﴾ كِرَامًا كَٰتِبِينَ﴾

په داسې حال کې چې پر تاسو باندې ساتونکي (ملایك) مقرر دي، چې عزتمن لیکونکي دي.

په ملائکو کې ځینو ته چې کله مړی په قبر کې کیښودل شي، د پوښتنو کولو امر ورسپارل شوی، چې رب دې څوک دی؟ دین دې څه دی؟ او نبي دې څوک دی؟[1]

په ملایکو کې ځینې د جنتیانو د خدمت لپاره مقرر شوي دي، بلکې دوی د جنت ساتونکي ملایکې دي الله د جنتیانو په اړه فرمایلي دي:

﴿وَٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَدْخُلُونَ عَلَيْهِم مِّن كُلِّ بَابٍ ﴿٢٣﴾ سَلَٰمٌ عَلَيْكُم بِمَا صَبَرْتُمْ ۚ فَنِعْمَ عُقْبَى ٱلدَّارِ﴾

او ملایك به په دوی باندې له هرې دروازې نه ورننوځي، (او وایي به) ستاسو د صبر کولو په سبب دې پر تاسو باندې سلام وي، نو (دا) د اخرت ښه انجام دی.

په ملایکو کې ځینې ملایک په درزخ ټاکل شوي دي، د دوی مشر (مالک) نومیږي، چې د دوزخ ساتنه کوي، الله فرمایلي چې د دوزخیان به وایي:

﴿وَنَادَوْا۟ يَٰمَٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ﴾

او دغه (دوزخیان) به اواز وکړي: ای مالکه! ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به ووایي: بېشکه تاسو (تل) ژوندي پاتې کېدونکي یئ.

په ملایکو کې د غرونو ملایکه هم شته، چې کله نبي کریم ﷺ د مکې له خلکو څخه زیات په تکلیف کې شو، د غرونو ملایکه ورته راغله او ورته ویې ویل: که غواړې، نو زه به دوی د دې دوو غرونو[2] د لاندې کړم. نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل: زه یقین لرم چې الله به د دوی له نسل څخه داسې خلک راپیدا کړي چې یوازې به د الله عبادت کوي، او د الله سره به هیڅ شی نه شریکوي[3].

---

(١) انظر حديث أنس بن مالك الذي رواه البخاري (١٣٧٤). فائدة: دوی د نکیر او منکر په نوم یادې شوې دي، في حديث رواه الترمذي (١٠٧١)، وصححه الالباني كما في السلسلة الصحيحة (١٣٩١).

(٢) دغه دوه لوی غرونه چې مکې کې دي، اخشبان نومیږي.

(٣) رواه البخاری (٣٢٣١) ومسلم (١٧٩٥) عن عائشة رضي الله عنها.

په ملايكو كې ځينې د وريځو شړونكې ملايک دي، د الله په حكم وريځې هغه ځايونو په لور بيايي چې كوم ځای ورته اړتيا وي، الله فرمايلي دي:

﴿فَٱلزَّٰجِرَٰتِ زَجۡرٗا﴾

قسم دی بيا په هغه ملايكو چې (وريځو لره) په شړونكو (ملايكو دی) سخت شړل.

اې د الله بنده گانو، ملايكي د مؤمنانو سره مينه كوي، دعاگانې ورته كوي او بښنه ورله غواړي، الله د عرش ساتونكو ملايكو په اړه داسې فرمايلي دي:

﴿ٱلَّذِينَ يَحۡمِلُونَ ٱلۡعَرۡشَ وَمَنۡ حَوۡلَهُۥ يُسَبِّحُونَ بِحَمۡدِ رَبِّهِمۡ وَيُؤۡمِنُونَ بِهِۦ وَيَسۡتَغۡفِرُونَ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْۖ رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧ رَبَّنَا وَأَدۡخِلۡهُمۡ جَنَّٰتِ عَدۡنٍ ٱلَّتِي وَعَدتَّهُمۡ وَمَن صَلَحَ مِنۡ ءَابَآئِهِمۡ وَأَزۡوَٰجِهِمۡ وَذُرِّيَّٰتِهِمۡۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٨ وَقِهِمُ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ وَمَن تَقِ ٱلسَّيِّـَٔاتِ يَوۡمَئِذٖ فَقَدۡ رَحِمۡتَهُۥۚ وَذَٰلِكَ هُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ﴾

(له ملايكو څخه) هغه كسان چې عرش اوچتوي او هغه (ملايك) چې د دغه (عرش) گېر چاپېره دي، دوی د خپل رب د ستاينې سره تسبيح وايي او په ده ايمان لري او د هغو كسانو لپاره مغفرت غواړي چې ايمان يې راوړی دی (او وايي:) ای زمونږه ربه! ته د رحمت په لحاظ سره هر شي ته رسېدلی يې، نو ته هغو كسانو ته بخښنه وكړې چې توبه يې ايستلې ده او ستا د لارې پيروي يې كړې ده او ته دوی د دوزخ له عذاب نه وساته، ای زمونږه ربه! او ته دوی د تل استوگنې هغو جنتونو ته ننباسه چې تا يې له دوی سره وعده كړې ده، او هغه څوك چې صلاحيت ولري د دوی له پلرونو او د دوی له بښځو او د دوی له اولادونو څخه (هغه هم ننباسه)، بېشكه ته، هم ته ښه غالب، ډېر حكمت والا يې، او ته دوی له سختيو نه بچ وساته او هغه څوك چې ته يې په دغې ورځ كې له سختيو نه بچ وساتې، نو يقيناً تا په هغه رحم وكړ او هم دغه ډېره لويه كاميابي ده.

ملايكې د هغه چا لپاره بښنه غواړي چې په جومات كې د لمانځه لپاره انتظار كوي، ملايكې ورته داسې دعا كوي: اې الله! ته ورته بښنه وكړې، اې الله! ته پرې رحم وكړې[1].

او بل ملايكې د هغو كسانو لپاره هم د مغفرت او رحمت دعا كوي چې په جومات كې د لمانځه په لومړيو صفونو كې ودريږي، لكه څنگه چې رسول الله ﷺ فرمايلي: الله او ملايكې د لومړيو صفونو لونځ كوونكو ته د مغفرت او رحمت دعا كوي[2].

ملايكې د هغه چا لپاره د لوړ والي او لوې مرتبې دعاگانې غواړي چې خلكو ته خير وزده كوي، ابو امامه باهلي رضي الله عنه څخه روايت نقل دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله، ملايكې، د

(١) رواه أبو داود (٤٦٩)، والترمذي (٣٣٠)، والنسائي (٧٣٣)، وابن ماجه (٧٩٩) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه الألباني.

(٢) رواه أبو داود (٦٧٤)، والنسائي (٦٤٦) وابن ماجه (٩٩٧) عن البراء بن عازب رضي الله عنه، وصححه الألباني رحمه الله.

اسمانونو او ځمکې ټول اوسيدونکي، حتى په خپله ځاله کې ميږى او په اوبو کې ماهيان، دا ټول د خير ښودونکي ته دعا کوي[١].

ملايکې په هغه چا لعنت وايي چې د خپل مسلمان ورور په لورې وژونکې آله، او يا وسله پورته کړي، د ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دى چې ابو القاسم ﷺ فرمايلي دي: يعنې هر څوک چې د خپل ورور په لور د وسلې اشاره وکړي، ملايکې پرې لعنت وايي ترڅو چې هغه وسله ښکته کړي، حتى که هغه يې خپل سکه ورور هم وي[٢].

ملايک د سهار په لمونځ کې د مؤمنانو سره ګډون کوي، الله فرمايلي دي:

﴿ وَقُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ ۖ إِنَّ قُرْءَانَ ٱلْفَجْرِ كَانَ مَشْهُودًا ﴾

او د سبا قرآن (لمونځ) هم (قايموه) بېشکه د سبا قرآن، ده ته حاضري کولى شي.

دلته (قرآن الفجر) څخه مراد د سهار لمونځ دى، دې لمونځ د قران نسبت ځکه شوي چې د سهار په لمونځ کې د قرآن اوږده تلاوت کول پکار دي او د دې تلاوت فضيلت دا دى چې د ورځې او شپې ملايکې دواړه سهار لمانځه ته حاضرېږي.[٣]

په ملايکو کې ځينې ملايکې **په دوامداره توګه د الله عبادت کوي**، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: اسمان غږ کوي (د عبادت د ډېرښت له کبله)، او دا غږ کول يې حق دي، ځکه چې د څلور ګوتو په اندازه ځای نشته مګر هلته يو ملايک د الله لپاره په سجده پروت دى[٤].

اې مؤمنه فکر وکړه چې څنګه دا پراخه اسمان د ملايکو د عبادت له کبله په ملايکو راتنګېږي؛ نو هغه لوى او عظيم رب لپاره پاکي ده[٥].

تيجه دا شوه چې ملايکې د الله په حکم سره د نړۍ د کارونو د سمبالښت لپاره ټاکل شوي دي، او ځکه الله ملايکو ته رسولان [استازي] ويلي دي، ځکه هغوى هغه دندې ترسره کوي چې الله ورته ورسپارلي دي، الله په سوره فاطر کې فرمايلي دي:

﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُو۟لِىٓ أَجْنِحَةٍ﴾

ټولې ستاينې خاص د الله لپاره دي چې د اسمانونو او ځمکې پيدا کوونکى دى، ملايکو لره رسولان ګرځوونکى دى، (داسې ملايك) چې د وزرو والا دي،

اې د الله بنده ګانو، د ملايکو د ستر مقام او د هغه کارونو له امله چې دوى يې ترسره کوي، الله په ملايکو قسم کړى، څرنګه يې چې فرمايلي دي:

---

(١) رواه الترمذي (٢٦٨٥).

(٢) رواه مسلم (٢٦١٦).

(٣) قاله الشيخ ابن سعدي رحمه الله في تفسيره، باختصار وتصرف يسير.

(٤) رواه الترمذي (٢٣١٢) وابن ماجه (٤١٩٠) وأحمد (١٧٣/٥)، وحسنه الألباني في"الصحيحة" (١٧٢٢)، وكذا محققو "المسند".

(٥) د ډېرې فايدې لپاره د ابن ابي العز الحنفي وينا وګوره په "شرح العقيدة الطحاوية" کې، په الإيمان بالملائكة کې، ص ٢٩٩-٣٠١، الناشر: المكتب الإسلامي - بيروت.

﴿فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا﴾

بیا د کار په تدبیر جوړونکو (ملایکو) چې تاسو به خامخا بیا راژوندي کړی شئ.

دا د ملایکو په عزت او لوړ مقام دلالت کوي.

ابن تیمیه رحمه الله ویلي دي: "د ملایکو کار ډېر محترم دي، دوی د الله استازې او د دنیا د کارونو سبمالوونکي دي، لکه څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿فَٱلۡمُدَبِّرَٰتِ أَمۡرٗا﴾

بیا د کار په تدبیر جوړونکو (ملایکو) چې تاسو به خامخا بیا راژوندي کړی شئ.

او بل ځای یې فرمایلي دي:

﴿فَٱلۡمُقَسِّمَٰتِ أَمۡرًا﴾

بیا د کار په تقسیموونکو ملایکو (قسم دی).

الله تعالی په خپلو کتابونو کې د ملایکو په اړه د معلوماتو او د ملایکو د ډولونو په اړه وضاحت کړی، چې د هغوی صفتونو دلته بیانول به ډیر اوږد شي، لیکن د ملایکو اثرات په دنیا کې موجود دي [1].

د دې خبرو په پای کې وایم اې مؤمنانو، دا په ملایکو باندې د ایمان اړوند یوه ګټوره مقدمه ده، الله دې تاسو او موږ ته په دې مبارک قرآن کې برکت راکړي، او موږ ته دې د دې په آیتونو او ذکر کې ګټه راکړي، زه دا خبره کوم، او له الله څخه د ټولو ګناهونو بښنه غواړم، نو تاسې هم له الله څخه بښنه وغواړئ. بې شکه هغه بښونکی او توبه قبلوونکی دی.

دویمه خطبه

الحمد لله وکفی، وسلام علی عباده الذین اصطفی، أما بعد، اې د الله بنده ګانو دالله څخه وویریږئ، ځان په دې خبره پوهه کړئ چې په ملایکو ایمان لرل سترې ګټې لري، چې ځینې یې دا دي[2]:

لومړی: د الله عظمت، قوت او سلطنت پیژندنه، ځکه د مخلوق عظمت د خالق د عظمت په لوی والي دلالت کوي.

دویم: د الله شکر ادا کول چې په انسانانو ډیره پاملرنه کوي، ملایک یې ورته ټاکلي چې د انسان ساتنه کوي عملونه یې لیکي او داسې نورې ګټورې اړتیاوې یې پوره کوي.

دریم: د ملایکو سره د هغه عملونو له امله چې هغوی یې سرته رسوي، مینه کول.

---

(١) الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح، (٦/٢٥-٢٦).

(٢) دا څېرکی د "شرح الأصول الثلاثة" د ابن عثیمین، ص ٩٢ څخه په لږ تصرف سره نقل دی.

پوه شئ چې نیکان انسانان د ملایکو څخه غوره دي، چې دا د اهل سنت والجماعت وینا ده، ځکه چې په انسانانو کې په فطري ډول شهوت شته، چې د هغې سره مبارزه کوي، او د شهوت غلبه راکنترولوي، بل په انسانو کې په بدیو امر کوونکی نفس دي، شیطانان ورسره وي چې د غولوولو هڅه یې کوي، د ملایکو په خلاف، ملایکو کې په فطري ډول د الله اطاعت پروت دی، شیطانان پرې تسلط نه شي ترلاسه کولی، که په انسان کې څوک د الله په اطاعت کلک پاتې شو، او خپل نفس یې کنټرول کړو؛ نو هغه انسان د ملایکو څخه غوره دی.

پوه شئ چې الله موږ او تاسو ته د یو ستر کار امر کړي، څرنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي، ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! تاسو په دغه نبي باندې درود او ډېر سلام ووایئ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: (ستاسو په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ده، په دې ورځ کې آدم علیه السلام پیدا شوی، په همدې ورځ وفات شوی، په همدې ورځ به اوله او دویمه شپیلی[1] ووهلی شي؛ نو پر ما زیات درودونه ووایئ، ځکه چې ستاسو درودونه ما ته وړاندې کیږي)[2].

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیل کړه، د خپل دین دښمنان تباه کړه، او خپل موحدو بندګانو ته کامیابي ورکړه.

اې الله! موږ په خپلو هېوادونو کې په امن کې کړه، زمونږ مشران او حکمرانان اصلاح کړه، او هغوی په سمه لار پوه او د دغې لارې لارښوونکي یې وګرځوه.

اې الله! د ټولو مسلمانانو حکمرانانو ته توفیق ورکړه چې ستا کتاب حاکم وګرځوي، ستا دین ته عزت ورکړي، او د خپلو خلکو لپاره یې رحمت وګرځوه.

اې الله! مسلمانان چې هر چیرته وي، ته یې وضعیت ښه کړې، ظلم ترې ختم کړي.

اې زما ربه! ما ته په دنیا او اخرت دواړو کې ښه برخه راکړې، او د قبر د عذاب څخه مې وژغورې، پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د مخلوقاتو ښه پالوونکی دی.

---

(١) النفخة: مراد ترې دویمه شپیلی ده، دا یو شپلی ده چې اسرافیل علیه السلام به یې پو کوي، ټول انسانان به د دې سره د قبرونو څخه راپاڅي. الصعقة: ټول خلک به د دنیا په آخیره کې مړه شي، او دغه مرګ به د لومړی شپیلی سره وشي، او د دواړو شپیلیو ترمینځ به څلوېښت کاله فاصله وي.

(٢) رواه النسائي (١٣٧٣)، وأبو داود (١٠٤٧)، وابن ماجه (١٠٨٥)، وأحمد (٨/٤)، وصححه الألباني في "صحيح أبي داود"، ومحققو "المسند" برقم (١٦١٦٢).

په اسماني کتابونو ایمان لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلامضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

- **أمابعد، ای مسلمانانو! زه تاسو او خپل ځان د الله څخه د ویریدو او تقوی توصیه کوم، ځکه دا د الله لومړنیو او وروستنیو ټولو ته وصیت دی ، الله تعالی فرمایي:**

﴿وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ﴾

او خاص د الله لپاره دي هر هغه څه چې په اسمانونو کې دي او هر هغه څه چې په ځمکه کې دي او یقینًا یقینًا مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ.

نو د الله څخه وېره وکړئ، ترې ووېرېږئ، د هغه اطاعت وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، دا خبره په یاد ولرئ چې پر اسماني کتابونو ایمان لرل د دین له اساسي او بنسټیزو قواعدو څخه دی. چې په اسماني کتابونو ایمان لرل د ایمان درېیم رکن دی، الله له هر پیغمبر سره خپل کتاب نازل کړی دی، ترڅو د لارښوونې لپاره او په مخلوق د رحمت له امله، چې د دې کتاب په وسیله دوی د دنیا او آخرت کامیابۍ ته ورسېږي. الله فرمایلي دي:

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ﴾

یقینًا یقینًا مونږ خپل رسولان په ښکاره دلیلونو سره لېږلي دي او له دوی سره مونږ کتاب او تله نازل کړي دي.

- **الله په ټولو نازل شویو کتابونو ایمان لرل واجب دي، الله فرمایلي دي:**

﴿قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ﴾

تاسو ووایئ: مونږ په الله ایمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهیم او اسمٰعیل او اسحٰق او یعقوب او (د هغوی) اولادې ته نازل کړی شوي دي، او (مونږ ایمان راوړی دی) په هغه څه چې موسیٰ او عیسیٰ ته ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه

(نورو) نبیانو ته ورکړی شوي دي- مونږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي یو.

او الله تعالی خپل نبي (صلی الله علیه وسلم) ته ویلي دي:

﴿وَقُلۡ ءَامَنتُ بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِن كِتَٰبٖۖ﴾

او ته وایه: ما په هر هغه کتاب ایمان راوړی دی چې الله نازل کړی دی .

- اې مؤمنانو! په کتابونو ایمان لرل اووه کارونو ته شامل دی: [1]

لومړی: ایمان لرل چې دا کتابونه په رښتیا د الله له لوري نازل شوي دي، لکه څنګه چې الله د مؤمنانو په اړه فرمایلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ﴾ .

رسول په هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو باندې.

دا کتابونه یې د وحې له لارې نازل کړي دي، او د کتابونو د وحې لپاره یې یوه ځانګړې ملایک غوره کړې وه چې پیغمبرانو ته به یې وحې راوړه، چې هغه جبرائیل دی. بیا جبرائیل هر نبي ته خپل ځانګړی کتاب ور ورسولو.

دویم: په هغو کتابونو ایمان لرل چې نومونه یې مونږ ته معلوم دي، چې هغه شپږ دي: د ابراهیم او موسی صحیفې، تورات چې په موسی علیه السلام نازل شوی وو، انجیل چې په عیسی علیه السلام نازل شوی وو، زبور چې په داود علیه السلام ته ورکړل شوی وو، قرآن چې په محمد (صلی الله علیه وسلم) نازل شوی وو، ځینې علماء بیا وایي چې د موسی صحیفې هماغه تورات وو؛ نو بیا په دې سره کتابونه پنځه شول.

او د کومو کتابونو نومونه چې نه دې ذکر شوې؛ نو په هغې به اجمالي ایمان لرو.

دریم: په هغو اصلي کتابونو ایمان لرل چې الله خپلو پیغمبرانو ته نازل کړي دي، نه په هغو کتابونو چې تحریف ورکې شوی دی، د مثال په ډول مونږ د هغې تورات په حقانیت ایمان لرو چې الله موسی علیه السلام ته نازل کړی و، او د هغې انجیل په حقانیت هم ایمان لرو چې الله عیسی ابن مریم علیه السلام ته نازل کړی و، خو هغه کتابونه چې نن د یهودو او نصاراوو په لاس کې دي، اصلي تورات او انجیل نه دي، که څه هم هغوی یې هماغسې اصلی کتابونه بولي، بلکې دا هغه لیکل شوې خبرې دي چې ځینو کسانو د مخکنو خلکو له خولې اوریدلي دي، په دې کې سمې او ناسمې

(١) یراجع "شرح ثلاثة الأصول" لابن عثیمین رحمه الله، ص ٩٤.

خبرې دواړه شته، چې بيا وروستنيو خلکو ورته د اصلی تورات او انجيل نسبت کړی دی، چې په دې توگه نسلونه په دې گمراهۍ کې پاتې شول، خپله هم گمراه شول او نور يې هم گمراه کړل.
کله چې د انبياوو کتابونه ضايع شول او خوندي پاتې نه شول، نو الله خپل نبي محمد صلى الله عليه وسلم ته قرآن نازل کړ، او د تحريف او ضايع کېدو څخه يې خوندي کړ. الله فرمايي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾

بېشکه هُم مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي يو.

او ذکر قرآن دی.

اې د الله بنده گانو! څلورم: د هغه سمو خبرو تصديق يې وکړو چې په کتابونو کې راغلي دي، لکه د قرآن کريم خبرونه او هغه خبرونه چې په پخوانيو کتابونو کې تحريف شوي نه وي، او هغه څه چې قرآن او سنت يې د دروغو يا رښتيا والي په اړه څه نه دي ويلي، نه يې منو او نه يې رد کوو، د رسول الله صلى الله عليه وسلم د وينا پر اساس: د اهل کتابو چې تاسو ته څه ووايي، نو مه تاييد کوئ او مه يې رد وئ، بلکې ورته وايئ: (مونږ په الله د او د هغه په پېغمبرانو ايمان لرو) که چيرته يې باطله خبره کړې وه، نو تاسو به يې تاييد نه وې کړی، او که چيرته يې ريښتيا خبره کړې وه؛ نو تاسو به يې رد نه وي کړی[1].

پنځم: په هغه احکامو عمل کول، کوم چې منسوخ شوې نه وي، څنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ لِيُبَيِّنَ لَكُمْ وَيَهْدِيَكُمْ سُنَنَ ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ وَيَتُوبَ عَلَيْكُمْ ۗ﴾

الله غواړي چې تاسو ته (حکمونه) ښه واضحه کړي او تاسو ته د هغو خلقو لارې وښيي چې له تاسو نه مخکې وو، او ستاسو توبه قبوله کړي (تاسو ته په خپل رحمت سره توجه وکړي).

او بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ هَدَى ٱللَّهُ ۖ فَبِهُدَىٰهُمُ ٱقْتَدِهْ ۗ﴾.

دا هغه کسان دي چې الله ورته هدايت کړی دی، نو ته د دوی د طريقې اتباع کوه.

د بېلگې په توگه، د هغه احکامو له جملې څخه چې هغه منسوخ شوي نه وي لکه د قصاص احکام، الله تعالى د تورات په اړه فرمايلي دي:

﴿وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ﴾.

---

(١) رواه أبو داود (٣٦٤٤) عن أبي نملة الأنصاري رضي الله عنه، وحسنه الشيخ شعيب الأرنؤوط في تحقيقه على "السنن"، وأصل الحديث عند البخاري برقم (٤٤٨٥) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

او مونږ په دوی باندې په دې (تورات) کې فرض کړي وو چې ښکه ځان د ځان په بدله کې دی او سترګه د سترګې په بدله کې او پوزه د پوزې په بدله کې او غوږ د غوږ په بدله کې او غاښ د غاښ په بدله کې دی او زخمونه (هم) قصاص (برابر) دي.

په دې حکم باندې زمونږ په شریعت کې هم عمل جاري دی، ځکه زمونږ شریعت له دې سره په ټکر کې نه دي، او نه يې دا حکم منسوخ کړی دی.

شپږم: دا ایمان لرل چې دا ټول کتابونه یوې عقیدې ته بلنه ورکوي، او هغه توحید دی چې درې ډولونه لري، توحید ربوبیت، توحید الوهیت، او د الله د نومونو او صفتونو توحید.

اووم: دا ایمان لرل چې قرآن کریم د ټولو پخوانیو کتابونو حاکم او پر هغوی غالب دی، او د عموم په لحاظ هغه ټول کتابونه د قرآن په وسیله منسوخ شوي دي، الله فرمایي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ﴾

او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی.

نسخ یوازې د شریعتونو په احکامو کې راځي، چې عبادات او معاملات پکې شامل دي، لیکن عقاید په ټولو شریعتونو کې ثابت پاتې دي او په هغوی کې نسخ نه راځي، لکه په الله ایمان، په ملایکو، کتابونو، پیغمبرانو، په آخرت ورځ او تقدیر چې (ښه او بد) ورکې شامل دي.

ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: قرآن کریم د پخوانیو کتابونو هغه بیانونه تایید کړل چې د الله تعالی په اړه او د قیامت ورځې په اړه راغلي وو، او په هغه کې يې لا زیاته وضاحت او تفصیل وکړو، قرآن يې په اړه دلایل او شواهد وړاندې کړل، د ټولو پیغمبرانو نبوت او رسالت يې تایید کړل، بلکې ټول هغه عمومي شریعتونه يې تایید کړل چې پیغمبرانو ورته خلک رابلل، او د کتابونو او پیغمبرانو منکرینو سره يې په ډول ډول دلایلو مناقشه وکړه، د الله له لورې ورته د سزاګانو وضاحت وکړ، او د هغه خلکو مرسته يې بیان کړه چې د آسماني کتابونو پیروي يې کوله، قرآن دا وضاحت هم وکړ چې په دغه کتابونو کې څه بدل او تحریف شوي دي، او اهل کتابو په څه ډول د پخوانیو کتابونو تحریف وکړو، دغه راز يې هغه څه هم څرګند کړل چې اهل کتابو پټ کړي وو، حال دا چې الله ورته د بیانولو امر کړی وو، د شریعتونو او منهجونو ټولې غوره خبرې الله په قرآن کې بیان کړې، او په ټولو پخوانیو کتابونو يې د ببلابېلو اړخونو څخه حاکمیت او غلبه ورکړه، قرآن د پخوانیو کتابونو د حقانیت شاهد دی، او د تحریف شوو برخو هم شاهد دی، کوم څه چې الله تایید کړي وي قران يې تایید کوي، او کوم څه چې الله منسوخ کړي وي، هغه منسوخوي؛ نو قرآن په خبرونو کې شاهد او په احکامو کې حاکم دی[1].

(١) مجموع الفتاوى (٤٤/١٧).

ابن تيميه رحمه الله نور زياتوي: قرآن كريم په خپل ذات كې خپلواک دی، اتباع يې د بل كتاب اړتيا نه لري، بلكې په قران كې يې د ټولو پخوانيو كتابونو سېڅې راټولې كړي دي، او ډېر زيات اضافي تعليمات پكې شته چې په نورو كتابونو كې نشته، له همدې امله قرآن هغه څه تاييدوي چې د پخوانيو كتابونو حقه برخه ده، او هغه څه ردوي چې تحريف شوې برخه يې ده، قرآن هغه احكام نسخ كوي چې الله نسخ كړي دي، او د حق دين تاييدوي، چې دا د پخوانيو كتابونو زياتره برخه ده، د تحريف شوی دين رد كوي چې په پخوانيو كتابونو كې اصل نه لري، او هغه لږ احكام چې نسخ شوي دي، په هغو كې هم وضاحت كوي، ځكه منسوخ شوي احكام په نسبت د تاييد شويو احكامو ډېر لږ دي[1]. د ابن تيميه رحمه الله خبرې پای ته ورسيدې.

- **مسلمانانو! آسماني كتابونه په لاندې شپږو مهمو خبرو كې سره متفق دي:**

لومړی: ټول آسماني كتابونه يوه خبره كوي، هغه دا چې يوازې د الله عبادت وكړئ او د هغه پرته د بل هېڅ شي عبادت مه كوئ، برابره خبره ده كه دغه معبودان بوتان، خلک، پيغمبران، ډبرې يا داسې نور شيان ولې نه وي، د ټولو پيغمبرانو دين په دې مفهوم يو دی، يعنې يوازې د الله عبادت كول وو.

دويم: ټول آسماني كتابونه په اساسي عقيده كې يو شان دي، او هغه عقيده دا ده چې په الله ايمان لرل، په ملايكو، كتابونو، پيغمبرانو، د اخرت په ورځ او په تقدير ايمان لرل كه خير وي او كه شر وي.

دريم: ټول آسماني كتابونو د ځانګړو عبادتونو ادا كول واجب ګرځولي دي، لكه لمونځ، زكات، روژه، او حج، خو دا عبادات د خلكو اړتياوو او شرايطو ته په پام سره، چې كوم قوم ته پيغمبر استول شوی، په ادا كولو كې توپير او فرق لري، مثلا، تورات د لمانځه حكم كړی دی، انجيل او قرآن هم د لمانځه امر كړی دی، خو د دغو دينونو ترمنځ د لمانځه د ترسره كولو څرنګوالی او وخت توپير لري، په پای كې، د ټولو دينونو لمونځ د الله لپاره د عبادت په توګه ترسره كېږي، او دا چې په هر شريعت كې د هغې د ترسره كولو څرنګوالی څرنګه دی، دا د هماغه دين په لارښوونو پورې اړه لري. د دې حكم په خير په روژه او نورو عباداتو كې هم ويل كېږي.

بل ټول آسماني كتابونه په دې كې هم سره متفق دي چې د پنځو اساسي ضرورتونو ساتنه وكړي، چې عبارت دي له دين، عقل، مال، عزت او ژوند څخه.

بل ټول آسماني كتابونه په دې كې هم سره متفق دي چې په عدل او انصاف امر كوي، الله فرمايلي دي:

---

(١) مجموع الفتاوى (١٨٤/١٩-١٨٥).

﴿لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ﴾

یقیناً یقیناً مونږ خپل رسولان په ښکاره دلیلونو سره لېږلي دي او له دوی سره مونږ کتاب او تله نازل کړي دي، د دې لپاره چې خلق په انصاف ودریږي.

بل ټول آسماني کتابونه په دې کې هم سره متفق دي چې په ښو اخلاقو امر کوي او له بدو اخلاقو څخه منع کوي، د ببلگې په توگه د والدینو سره په نیکۍ، صله رحمۍ، د میلمه په عزت، بیوزلو سره په مرسته، په ښو خبرو او داسې نورو ښو کارونو امر کوي، همدارنگه د ظلم، تیرې، د والدینو د نافرمانۍ، د خلکو د بې عزتۍ او سپکاوۍ، غیبت، دورغ ویلو او غلا کولو څخه منع کړې ده.

دا د اسماني کتابونو د ایمان په اړه یوه ګټوره مقدمه وه، الله دې ما او تاسو ته په قرآن عظیم برکت راکړي، ما او تاسو ته دې الله د قرآن په آیتونو او حکیم ذکر سره فایده راکړی، خپله خبره همدلته پای ته رسوم، له الله څخه د خپل ځان او ستاسې لپاره بخښنه غواړم، بېشکه الله توبه قبلوونکی او بښونکي دي.

دویمه خطبه

الحمدلله وکفی، وسلام علی عباده الذین اصطفی، أما بعد: په دې خبره ځان پوهه کړئ، الله په خپل کتاب کې ښکاره وضاحت کړې چې تر ټولو غوره کتابونه هغه قرآن او تورات دي، چې قرآن او تورات الله د قرآن په ډېرو آیتونو کې یوځای ذکر کړي دي، ځکه چې دا دواړه غوره کتابونه دي، او د دوی شریعتونه تر ټولو بشپړ شریعتونه دي[1].

- **اې د الله بنده ګانو،** په ټولو آسماني کتابونو کې غوره کتاب بې له شکه هغه قرآن کریم دی، الله دغه کتاب د ټولو آسماني کتابونو په سر باندې حاکم ګرځولی دی، په قرآن کریم کې داسې اعجاز، ښکلا، او علم دی چې په نورو کتابونو کې نه شته.
- **ای مؤمنانو، قرآن د الله کلام دی،** چې الله په حقیقت کې وربانديې خبرې کړي دي، بیا دغه کلام جبرائیل علیه السلام رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راوړ، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا خپلو صحابو ته ورسولو، چې هغوی قرآن په سینو کې یاد او په کاغذونو کې ولیکلو، بیا د عثمان رضی الله عنه په درو خلافت کې په یوه مصحف کې راټول کړل شو، چې بیا له هغه مصحف څخه نورې نسخې جوړې شوې، چې تر نن ورځې پورې مونږ ته په خپل اصل حالت کې رارسېدلی دی، الله فرمایي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾

بېشکه هُم مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو.

---

(١) دا قول شیخ عبدالرحمن سعدی رحمه الله د خپل تفسیر د سورت الإسراء په مقدمه کې کړی دی.

- **اې مسلمانانو،** الله د قرآن د نزول ډېرې حکمتونه بيان کړي دي[1]، له هغو حکمتونو څخه يو دا دی چې د قرآن کريم په آيتونو کې تدبر وشي، څو هوښيار خلک ترې پند او تقوا واخلي، الله فرمايي:

﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ﴾

(دغه قرآن) کتاب دی چې مونږه تا ته نازل کړی دی، برکتناك دی، د دې لپاره چې دوی د ده په ايتونو کې فکر وکړي او د دې لپاره چې د خالصو عقلونو والا ترې پند واخلي.

او بل ځای فرمايي:

﴿وَكَذَٰلِكَ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَانًا عَرَبِيّٗا وَصَرَّفۡنَا فِيهِ مِنَ ٱلۡوَعِيدِ لَعَلَّهُمۡ يَتَّقُونَ﴾

او هم داسې مونږ دغه (کتاب) نازل کړی دی عربي قرآن، او مونږ په ده کې (ايتونه) له وعيد ځنې بيا بيا راوړي دي، د دې لپاره چې دوی پرهېزګاره شي يا دغه (قرآن) دوی ته څه پند پيدا کړي.

د قرآن د نزول بل حکمت متقيانو ته د ثواب زېرى ورکول او له حق څخه مخ اړونکو ته د عذاب خبر ورکول دي، الله فرمايي:

﴿فَإِنَّمَا يَسَّرۡنَٰهُ بِلِسَانِكَ لِتُبَشِّرَ بِهِ ٱلۡمُتَّقِينَ وَتُنذِرَ بِهِۦ قَوۡمٗا لُّدّٗا﴾

پس بېشکه همدا خبره ده چې مونږ دغه (قرآن) ستا په ژبه آسان کړی دی، د دې لپاره چې ته په ده سره پرهېزګارانو ته زېرى ورکړې او ته په ده سره ډېر جګړه کوونکی قوم ووېروې.

د قرآن د نزول يو بل حکمت خلکو ته د شرعي احکامو وضاحت دی، الله فرمايي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلذِّكۡرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيۡهِمۡ وَلَعَلَّهُمۡ يَتَفَكَّرُونَ﴾

په ښکاره معجزو اوکتابونو سره او مونږ تا ته ذکر (وحي) نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته خلقو ته هغه څه ښه واضحه کړې چې دوی ته نازل کړی شوي دي او د دې لپاره چې دوی ښه فکر وکړي.

او فرمايي:

﴿وَمَآ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا لِتُبَيِّنَ لَهُمُ ٱلَّذِي ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ﴾

او مونږ په تا باندې کتاب نه دی نازل کړی مګر د دې لپاره چې ته دوی ته هغه ښه واضحه کړې چې دوی په هغه کې اختلاف کړی دی.

همدارنګه د قرآن د نزول يو حکمت په ايمان او هدايت د مؤمنانو ثابت قدمه ساتل دي، الله فرمايي:

---

(١) دا برخه مې د «أضواء البيان» د سورت ص ددې آيت (كتاب أنزلناه إليك مبارك ليدبروا آياته وليتذكر أولوا الألباب) د تفسير څخه ترلاسه کړې ده.

﴿قُلْ نَزَّلَهُۥ رُوحُ ٱلْقُدُسِ مِن رَّبِّكَ بِٱلْحَقِّ لِيُثَبِّتَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَهُدًى وَبُشْرَىٰ لِلْمُسْلِمِينَ﴾

ته ووایه: هغه ستا د رب له جانبه په حقه سره روح القدس (جبریل) نازل کړی دی، د دې لپاره چې هغه کسان ثابت او ټینګ کړي چې ایمان یې راوړی دی او د مسلمانانو د هدایت او زېرې لپاره.

او د قرآن د نزول بل حکمت دا دی چې د خلکو ترمنځ په قرآن پریکړې کول، الله فرمایي:

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَآ إِلَيْكَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُ﴾

بېشکه مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، د دې لپاره چې ته د خلقو په مینځ کې فیصله وکړې په هغه څه سره چې الله تا ته ښودلي دي.

یعنې د هغو علومو په اساس چې الله په دې قرآن کې تا ته در ښوولي دي.

- اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیل کړه، د خپل دین دښمنان تباه کړه، او خپل موحدو بندګانو ته کامیابي ورکړه.

اې الله! مونږ په خپلو هېوادونو کې په امن کې کړه، زمونږ مشران او حکمرانان اصلاح کړه، او هغوی په سمه لار پوه او د دغې لارې لارښوونکي یې وګرځوه.

اې الله! د ټولو مسلمانانو حکمرانانو ته توفیق ورکړه چې ستا کتاب حاکم وګرځوي، ستا دین ته عزت ورکړي، او د خپلو خلکو لپاره یې رحمت وګرځوه.

اې الله! مسلمانان چې هر چیرته وي، ته یې وضعیت ښه کړې، ظلم ترې ختم کړي.

اې زما ربه! ما ته په دنیا او اخرت دواړو کې ښه برخه راکړې، او د قبر د عذاب څخه مې وژغورې، پاکې ده ستا رب لره چې د عزت او غلبې مالک دی، د هغو خبرو څخه چې دا مشرکان یې بیانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د مخلوقاتو ښه پالوونکی دی.

په پېغمبرانو د ایمان لرلو غوښتنې ۲/۱

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کې مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

۱. **اې مسلمانانو، د الله څخه وويريږئ، د هغې د امر لټون او اطاعت وکړئ، او نافرماني يې مه کوئ، په دې خبره ځان پوهه کړئ، الله په خپلو بنده ګانو ډېر رحم کړی، چې يو له هغې څخه يې خپلو بنده ګانو ته پيغمبران راستولي دي، چې د دنيا او اخرت د ګټې کارونه ورته وښايي، بلکې هغه څه ورته وښايي چې په دنيا کې خوشاله او په اخرت کې د جهنم څخه ورته نجات حاصل شي، ځکه خلک چې هرڅومره د پوهې او ذکاوت څخه برخمن وي؛ نو نه شي کولی چې د ټولنې لپاره يو واحد او عمومي قانون جوړ کړي چې د هغوی مصالح په غوره ډول تنظيم کړي، دا ځکه چې د انسانانو**

عقلونه ناقص دي، خو الله حكيم، خبردار او د خپلو بندگانو د مصالحو څخه پوره خبر دی، لكه څنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ﴾

ايا هغه ذات به نه پوهېږي چې يې (هر څه) پيدا كړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باريك بين، ښه خبردار دی.

پيغمبران د الله او بنده گانو ترمينځ واسطه دي، چې د الله شريعت خلكو ته ورسوي، الله فرمايلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل كړی شوي دي.

څنگه چې د پيغمبرانو رول دومره مهم دی؛ نو په هغوی ايمان راول په ټولو شريعتونو كې د دين د اصولو يوه برخه ده، همداشان په اسلام كې هم دي، چې وايي **په پيغمبرانو ايمان لرل د ايمان ركن دی**، او له دې پرته يو انسان مومن نه دي، الله فرمايلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ﴾

رسول په هغه څه ايمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل كړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ايمان راوړی دی په الله باندې او د هغه په ملايكو او د هغه په كتابونو او د هغه په رسولانو باندې.

٢. په پيغمبرانو د ايمان لرلو له غوښتنو څخه يوه غوښتنه دا ده چې دا **ايمان لرل چې نوح عليه السلام د الله لومړنی رسول دی**، څنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّآ أَوْحَيْنَآ إِلَيْكَ كَمَآ أَوْحَيْنَآ إِلَىٰ نُوحٍ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعْدِهِۦ ۚ﴾ .

بېشكه مونږ تا ته وحي كړې ده، لكه څنگه چې مونږه وحي كړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبيانو ته .

د شفاعت په حديث كې د انس بن مالك رضي الله عنه څخه نقل دي چې انسانان به آدم ته راشي [دقيامت په ورځ]، ترڅو هغه د هغوی لپاره شفاعت وكړي، خو هغه به ورته وايي: (نوح ته لاړ شئ، هغه لومړی پيغمبر دی چې الله د ځمكې خلكو ته استولی دی).[1]

(١) أخرجه البخاري (٤٤٧٦)، ومسلم (١٩٣)، ولفظ مسلم: فيأتون نوحان عليه السلام، فيقولون: يا نوح، أنت أول الرسل إلى أهل الأرض ... الحديث.

٣. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې په دې خبره ایمان لرل چې **محمد صلی الله علیه وسلم اخیري پیغمبر دی**، څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَآ أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَٰكِن رَّسُولَ ٱللَّهِ وَخَاتَمَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ﴾

محمد (ﷺ) ستاسو په سړیو کې د هیچا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبیانو (د لړۍ) ختموونکی دی.

٤. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې **هیڅ امت له پیغمبره خالي نه و**، بلکې الله ځینو امتونو ته یو ځانگړی رسول د مستقل شریعت سره استولی و، یا یې ورته نبي استولی وو چې د پخواني شریعت تجدید وکړي، څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِى كُلِّ أُمَّةٍ رَّسُولًا أَنِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ وَٱجْتَنِبُوا۟ ٱلطَّٰغُوتَ﴾

او یقینًا یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ.

او بل ځای یې فرمایلي دي:

﴿وَإِن مِّنْ أُمَّةٍ إِلَّا خَلَا فِيهَا نَذِيرٌ﴾ .

او نه و هیڅ یو امت مگر په هغه کې یو وېروونکی تېر شوی دی.

٥. اې د الله بندگانو، په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده **چې د ټولو پیغمبرو بلنه یوه ده**، او هغه الوهیت توحید ته بلنه ورکول وو، که څه هم شریعتونه یې سره مختلف وو، څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ﴾

او مونږ له تا نه مخکې هیڅ رسول نه دی لېږلی مگر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هیڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ.

الله د شریعتونو د اختلاف په اړه فرمایلي دي:

﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾

مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده.

٦. په پیغمبرانو د ایمان له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې پیغمبران انسانان دي، خو **الله هغوی د رسالت او پیغمبرۍ لپاره غوره کړي وو**، او د دې دندې د پوره کولو توان یې ورکړي وو، ترڅو د دې بار په تکلیفونو صبر وکړي، او بیا په ځانگړې توگه اولو العزم پیغمبران، څنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿ٱللَّهُ يَصۡطَفِي مِنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلٗا وَمِنَ ٱلنَّاسِۚ﴾.

الله له ملايكو څخه استازي غوره كوي او له خلقو څخه.

په پيغمبرانو د ايمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې **پيغمبران انسانان دي، او الله پيدا كړي دي**، هغوی نه د ربوبيت كومه ځانگړتيا او خصوصيت لري او نه د الوهيت، څنگه چې الله د خپل پيغمبر محمد صلى الله عليه وسلم په اړه فرمايلي، حال دا چې هغه د ټولو پيغمبرانو سردار، او په ټولو پيغمبرانو كې لوړ مقام لري:

﴿قُل لَّآ أَمۡلِكُ لِنَفۡسِي نَفۡعٗا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ وَلَوۡ كُنتُ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ لَٱسۡتَكۡثَرۡتُ مِنَ ٱلۡخَيۡرِ وَمَا مَسَّنِيَ ٱلسُّوٓءُۚ إِنۡ أَنَا۠ إِلَّا نَذِيرٞ وَبَشِيرٞ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ﴾

ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مگر هغه چې الله يې وغواړي او كه چېرې زه په غيبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل كړی و او ما ته به هېڅ تكليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مگر وېروونكی او زېری وركوونكی د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي.

٧. په پيغمبرانو د ايمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې **پيغمبران د بشريت خصوصيات او ځانگړتياوې لري**، لكه ناروغتيا، مرگ، خوراك او څښاك كول، او داسې نورې اړتياوې، څنگه چې ابراهيم عليه السلام د الله په اړه فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِي هُوَ يُطۡعِمُنِي وَيَسۡقِينِ ٧٩ وَإِذَا مَرِضۡتُ فَهُوَ يَشۡفِينِ ٨٠ وَٱلَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحۡيِينِ﴾

او هغه چې همغه په ما خوراك كوي او په ما څښاك كوي، او كله چې زه ناروغه شم، نو هغه ما ته شفا راكوي، او هغه چې ما ته به مرگ راكوي، بيا به ما ژوندی كوي.

او پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: (إنما أنا بشر مثلكم، أنسى كما تنسون، فإذا نسيت فذكروني).[1]

٨. په پيغمبرانو د ايمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې پيغمبران د الله بندگان دي، او الله د پيغمبرو صفت په بندگۍ سره كړی، چې دوی زما بنده گان دي، څنگه چې الله نوح عليه السلام په اړه فرمايلي دي:

﴿إِنَّهُۥ كَانَ عَبۡدٗا شَكُورٗا﴾

بېشكه هغه ډېر شكر ايستونكی بنده وو.

د ابراهيم، اسحاق او يعقوب عليه السلام په اړه يې فرمايلي دي:

﴿وَٱذۡكُرۡ عِبَٰدَنَآ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ أُوْلِي ٱلۡأَيۡدِي وَٱلۡأَبۡصَٰرِ﴾

---

(١) رواه البخاري (٤٠١)، ومسلم (٥٧٢)، عن عبدالله بن مسعود رضي الله عنه.

او ته زمونږ بنده گان ابراهيم، او اسحٰق او يعقوب ياد کړه چې د (عمل د) قوت او (حق ليدونکو) ستر گو خاوندان وو .

او د عيسى ابن مريم عليه السلام په اړه يې فرمايلي دي:

﴿إِنْ هُوَ إِلَّا عَبْدٌ أَنْعَمْنَا عَلَيْهِ وَجَعَلْنَاهُ مَثَلًا لِّبَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ﴾

دغه نه دی مگر يو بنده دی چې مونږ په ده انعام کړی دی او د بني اسرائيلو لپاره مو هغه (د قدرت) يو مثال گرځولی وو.

او د محمد صلى الله عليه وسلم په اړه يې فرمايلي دي:

﴿تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا﴾

ډېر برکتناك دی هغه ذات چې په خپل بنده يې فرقان (قرآن) نازل کړی دی، د دې لپاره چې دی د خلقو لپاره وېروونکی شي.

پيغمبران د الله بندگان دي، له همدې امله هيڅ ډول عبادت لکه دعا، ذبح، نذر، سجده او نورو عباداتو د دويو لپاره ونشي، بلکې د دې عبادتونو مستحق يواځې الله دی، او دا د ټولو آسماني شريعتونو متفقه حکم دی، ځنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ﴾

او مونږ له تا نه مخکې هيڅ رسول نه دی لېږلی مگر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هيڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

١٠. الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد، اې د الله بنده گانو! د الله ځخه وويرېږئ، په پيغمبرانو د ايمان له غوښتنو ځخه بله غوښتنه دا ده **الله ځينې پيغمبران پر ځينو نورو غوره کړي دي**، ځنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ عَلَىٰ بَعْضٍ ۖ﴾

او يقينًا يقينًا مونږ ځينو نبيانو ته په ځينو نورو باندې فضيلت ورکړی دی.

په ټولو پيغمبرانو کې غوره "اولو العزم" پيغمبران دي، چې شمير يې پنځه دی؛ نوح، ابراهيم، موسى، عيسى او محمد ﷺ. الله دوی د قرآن په الأحزاب او الشورى سورتونو کې ياد کړي دي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مِيثَٰقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ ۖ﴾

او كله چې مونږ له نبيانو نه د دوی پخه وعده واخيسته او له تا نه او له نوح او ابراهيم او موسٰی او د مريمې له زوی عيسٰی نه.

او بل ځای يې فرمايلي دي:

﴿شَرَعَ لَكُم مِّنَ ٱلدِّينِ مَا وَصَّىٰ بِهِۦ نُوحًا وَٱلَّذِىٓ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ وَمَا وَصَّيۡنَا بِهِۦٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ وَعِيسَىٰٓۖ أَنۡ أَقِيمُواْ ٱلدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُواْ فِيهِۚ﴾

هغه تاسو لپاره هغه دين مقرر کړی دی چې د هغه وصيت يې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصيت ابراهيم او موسٰی او عيسٰی ته کړی و، چې تاسو دين قايم کړئ او په ده کې مه مختلف کېږئ.

- اې مؤمنانو! دا لس هغه شرطونه دي چې په پېغمبرانو باندې د ايمان لرلو پورې اړوند دي، مؤمن ته پکار ده چې دا شرطونه زده کړي او کلک ايمان پرې ولري، تر څو په دې ټينګ شي او د ايمان په لاره کې يې قدمونه ثابت پاتې شي.
- الله دې رحم وکړي ځانونه پوهه کړئ چې الله تاسو ته په يوه لويه خبره امر کړی دی، چې فرمايلي يې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي، ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی! تاسو په دغه نبي باندې درود او ډېر سلام ووايئ.

اې الله! پرخپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام ووايه، او د هغه له خلفاؤ صحابه کرامو څخه راضي شه، له تابعينو او هغه کسانو څخه هم راضي شه چې تر قيامته به راځي او په نيکيو کې به د دويو تابعداري کوي.

- اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين د ښمنان تباه کړه، ستا مؤمن بنده ګانو ته بريا ورکړه.
- اې الله! مونږ په خپلو هيوادونو کې په امن کړه، زمونږ امامان او واکداران اصلاح کړه، او هغوی لارښوونکي او هدايت شوي وګرځوه.
- اې الله! ټول مسلمان واکداران ستا د کتاب د حاکم ګرځولو، او ستا د دين په لوړولو کې موفق ولره، په خپل رعيت يې رحمت وګرځوه.
- اې الله! له تا څخه هر ډول خير غواړو که هغه اوس وي او که په راتلوونکي کې وي، که مونږ پرې پوهيږو او کنه، په تاپورې پناهي غواړو د هر ډول شر څخه، که هغه اوس وي او که په راتلوونکي کې وي، که مونږ پرې پوهيږو او کنه پوهيږو.

- اې الله! موږ له تا څخه جنت غواړو او د هر هغې خبرې او عمل توفیق غواړو چې موږ جنت ته نزدې کوي، او پناه غواړو له اوره او له هر هغه خبرې او عمل څخه چې موږ دوزخ ته نزدې کوي.
- اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، مړې مو وبښه، او زموږ مصیبت زده ته عافیت ورکړه.
- اې الله! زموږ د دین په سمه لاره برابر کړه، چې دین زموږ د کارونو ساتنه کوي، دنیا مو سمه کړه چې په دې کې زموږ روزي ده، آخرت مو سم کړه چې اخرت زموږ وروستی استوګنې ځای دي، زموږ د ژوند ډېره برخه په کې مشغوله کړه، او مرګ زموږ لپاره له هر ډول شر څخه راحت وګرځوه.
- ای زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې خیر راکړه او په آخرت کې خیر راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.
- د الله بنده ګانو! بېشکه الله په عدل، احسان او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي، او له بدکاریو، ناوړه اعمالو او ظلم څخه مو منع کوي، نصیحت کوي چې پند ترې واخلئ، نو د الله ذکر وکړئ، هغه به ستاسو یادونه وکړي، او د هغه شکر وباسئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي، د الله ذکر تر هر څه لوی دی، او الله ستاسو له کارونو خبردار دی.

په پېغمبرانو د ایمان لرلو غوښتنې ۲/۲

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بندګانو، د الله څخه وویریږئ، د هغې د امر لټون او اطاعت وکړئ، او نافرماني يې مه کوئ، په دې خبره ځان پوهه کړئ، چې الله په خپلو بندګانو ډیر رحم کړی، چې یو له هغې څخه يې <u>خپلو بنده ګانو ته پیغمبران راستولي دي</u>، چې د دنیا او اخرت د ګټې کارونه ورته وښایي، بلکې هغه څه ورته وښایي چې په دینا کې خوشالي او په اخرت کې ورته د جهنم څخه نجات حاصل شي، ځکه خلک چې هرڅومره د پوهې او ذکاوت څخه برخمن وي؛ نو نه شي کولی چې د ټولنې لپاره یو واحد او عمومي قانون جوړ کړي چې د هغوی مصالح په غوره ډول تنظیم کړي، دا ځکه چې د انسانانو عقلونه ناقص دي، خو الله حکیم، خبردار او د خپلو بندګانو د مصالحو څخه پوره خبر دی، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلْخَبِيرُ﴾

ایا هغه ذات به نه پوهېږي چې يې (هر څه) پیدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باریك بین، ښه خبردار دی.

<u>پیغمبران د الله او بندګانو ترمینځ واسطه دي</u>، چې د الله شریعت خلکو ته ورسوي، الله فرمایلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغْ مَآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ﴾

اې رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوي دي.

ځنګه چې د پیغمبرانو رول دومره مهم دی؛ نو په هغوی ایمان راول په ټولو شریعتونو کې د دین د اصولو برخه ده، همداشان په اسلام کې هم دي، چې وایي <u>په پیغمبرانو ایمان لرل د ایمان رکن دی</u>، او له دې پرته یو انسان مومن نه دي، الله فرمایلي دي:

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلْمُؤْمِنُونَ ۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَـٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ﴾

رسول په هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم، ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه په ملایکو او د هغه په کتابونو او د هغه په رسولانو باندې.

اې مسلمانانو! په تېره خطبه کې په پېغمبرانو د ایمان لرلو اړوند لس شرطونه بیان شول، او په دې خطبه کې به مورږ د پاتې لسو شرطونو په اړه خبرې پوره کوو.

١. اې مؤمنانو! په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه یوه غوښتنه دا ده چې په دې خبره ایمان ولرو چې **په ټولو پېغمبرانو کې غوره یې هغه دوه پیغمبران دي، چې په خلیل سره یاد کړی شوي دي**، یو یې ابراهیم علیه السلام او بل یې محمد ﷺ دی، الله یوازې همدوی دواړه د "خلیل" (نږدې دوست) په توګه غوره کړي دي، او "خُلَّة" د محبت تر ټولو لوړه درجه ده، او په دې خبره دلیل دا آیت دی:

﴿وَٱتَّخَذَ ٱللَّهُ إِبۡرَٰهِيمَ خَلِيلٗا﴾

او الله ابراهیم لره خلیل نیولی دی.

او د محمد ﷺ د خلیل ګرځولو دلیل هغه د رسول الله ﷺ دا وینا ده: او الله ستاسو ملګری خلیل وګرځاوه، چې په دې وینا کې یې په "صاحبکم" سره خپل ځان ته اشاره کړې ده[1].

٢. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې **په دې دوه خلیلیونو کې تر ټولو غوره یې محمد ﷺ دی**، الله هغه د مخلوقاتو د پیل څخه تر آخیره پورې په ټولو باندې غوره کړی دی، حتی په نورو پیغمبرانو یې هم غوره کړی دی، بلکې محمد ﷺ د ټولو پیغمبرانو سردار او امام دی، ځنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زه به د قیامت په ورځ د آدم د اولاد سردار یم[2].

الله محمد ﷺ ته داسې معجزې ورکړې دي چې د نورو پېغمبرانو له معجزو څخه زیاتې او غوره دي، په ټولو معجزو کې یې ستره معجزه قرآن کریم دی، چې تر ټولو زیاتو خلکو پرې ایمان راوړی دی، او دا معلومه خبره ده چې د پېغمبرانو معجزې د هغوی په وفات سره پای ته رسېدلي دي، خو قرآن کریم بیا یوه تل پاتې معجزه ده.

د هغو دلائلو څخه چې محمد ﷺ د نورو پیغمبرانو څخه غوره دی، یو دا دلیل دی چې الله په هغه کې هغه ځانګړتیاوې راټولې کړې دي، چې هغه په نور پیغمبرانو کې په جلا جلا ډول وې، چې له هغو ځانګړتیاو څخه یو خُلَّة (نږدې دوست ګرځول)، خبرې ورسره کول، نبي او رسول یې ګرځول دي، خُلَّة د محبت تر ټولو لوړه درجه ده، هغه د الله خلیل دی، او الله د هغه خلیل دی، چې په دې ځانګړتیا کې هغه د ابراهیم علیه السلام سره یو شان دي.

---

(١) رواه مسلم (٢٣٨٣) عن ابن مسعود رضي الله عنه.

(٢) رواه مسلم (٢٢٧٨) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

کلام (خبرې کول): الله د هغه سره د معراج په شپه چې کله يې اسمان ته پورته کړ ، خبرې کړې دي، او پنځه وخته لمونځ پرې فرض شو، په دې ځانگړتيا کې هغه د موسی عليه السلام سره يو شان شولو.

او هغه ته د نبوت او رسالت صفت ورکړل شوی، چې دا خبره په ډېرو آيتونو کې واضحه شوې ده، لکه د الله پاک دا ويناː

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ﴾

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوي دي

او دا قولː

﴿وَأَرۡسَلۡنَـٰكَ لِلنَّاسِ رَسُولٗاۚ﴾

او (ای نبي!) ته مونږه د خلقو لپاره رسول لېږلی يې

دغه څلور ځانگړتياوې؛ چې خُلَّة، کلام، نبوت او رسالت، هېڅ يو بل نبي ته په گډه نه دي ورکړل شوي، مگر يوازې زمونږ نبي محمد ﷺ ته ورکړل شوي دي، چې دا په نورو پيغمبرانو د هغه د غوره والي د څرگندو دلايلو څخه دي.

د هغه فوايدو له جملې څخه چې د انبياوو د غوره والي اړوند بيانيږي، د کومو انبياوو کيسې چې الله په قرآن کې بيان کړي دي، د هغو انبياوو په پرتله غوره دي چې الله يې کيسې په قرآن کې نه دي ذکر کړي[1]، دا د قرآن د شرف له امله، څوک چې الله په قرآن کې ياد کړی، د هغه نورو په پرتله لوړ مقام لري چې په قرآن کې يې ذکر نه دی شوی.

٣. په پيغمبرانو د ايمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې **پر ټولو پېغمبرانو بې له توپيره ايمان ولرو**، د دې ضد خبره داسې ده، چې په ځينو پيغمبرانو ايمان لرل، او د ځينو څخه انکار کول، حتی که د يو نبي څخه هم انکار وي، الله په ټولو پېغمبرانو ايمان لرل واجب گرځولي دي:

﴿قُولُوٓاْ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡنَا وَمَآ أُنزِلَ إِلَىٰٓ إِبۡرَٰهِـۧمَ وَإِسۡمَٰعِيلَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَ وَٱلۡأَسۡبَاطِ وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمۡ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّنۡهُمۡ وَنَحۡنُ لَهُۥ مُسۡلِمُونَ﴾

تاسو ووايئ: مونږ په الله ايمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهيم او اسمٰعيل او اسحٰق او يعقوب او (د هغوی) اولادې ته نازل کړی شوي دي، او (مونږ ايمان راوړی دی) په هغه څه چې موسیٰ او عيسیٰ ته ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) نبيانو

(١) قاله الشيخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله في تفسيره عند قوله تعالى: (وإسماعيل واليسع ويونس وكلا فضلنا على العالمين).

ته ورکړی شوي دي ـ مونږ په دوی کې د هېڅ یو په مینځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه (الله) حکم منونکي یو.

امام ابن جریر رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: د ﴿لا نفرق بین أحد منهم﴾ معنا دا ده چې مونږ پر ځینو پېغمبرانو ایمان نه راوړو، د ځینو څخه انکار کوو، له ځینو بېزاري کوو او ملاتړ یې نه کوو، لکه څنگه چې یهودو له عیسی او محمد علیهم السلام څخه بېزاري وکړه، خو له دوی پرته پر نورو یې اقرار وکړ، او لکه څنگه چې نصاراو له محمد ﷺ څخه بېزاري وکړه او له هغې پرته پر نورو یې اقرار وکړ، بلکې مونږ په ټولو پیغمبرانو گواهي ورکوو چې دوی د الله رسولان او انبیا وو، چې په حق دین او هدایت سره خلکو ته رالېږل شوي وو.

۴. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې پر هغو پېغمبرانو ایمان ولرو چې نومونه یې په قرآن او یا صحیح حدیثونو کې بیان شوي وي، په قرآن کې د شپږویشت پېغمبرانو ذکر راغلی دی، چې هغه آدم، نوح، ابراهیم، اسحاق، یعقوب، اسماعیل، داود، سلیمان، ایوب، الیاس، یونس، الیسع، لوط، ادریس، هود، شعیب، صالح، ذوالکفل، یوسف، موسی، هارون، خضر، زکریا، یحیی، عیسی، او محمد ﷺ دي، د الله له لورې دې پرې درودونه او ډېر سلامونه وي.

په حدیثو کې بیا د یو داسې پېغمبر ذکر راغلی چې په قرآن کې یې ذکر نه دی شوی، هغه یوشع بن نون بن افراهیم بن یوسف بن یعقوب بن اسحاق بن ابراهیم الخلیل علیهم السلام دی، چې د بنی اسرائیلو له پېغمبرانو څخه وو، او د موسی علیه السلام له وفات وروسته د بنی اسرائیلو مشر وو. خلاصه دا شوه چې په قرآن او سنت کې د اووه ویشت پېغمبرانو یادونه شوې ده، لیکن هغه پیغمبران چې مونږ ته یې نومونه نه دي معلوم، مونږ په هغو اجمالی ایمان لرو، قرآن د هغوی په اړه داسې اشاره کړې ده:

﴿وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلًا مِّن قَبْلِكَ مِنْهُم مَّن قَصَصْنَا عَلَيْكَ وَمِنْهُم مَّن لَّمْ نَقْصُصْ عَلَيْكَ﴾

او یقینًا یقینًا مونږ له تا نه مخکې ډېر رسولان رالېږلي وو، په دوی کې ځینې هغه دي چې مونږ تا ته بیان کړي دي او په دوی کې ځینې هغه دي چې مونږ تا ته نه دي بیان کړي.

۵. اې د الله بندګانو، په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې په دې خبره ایمان ولرو چې د الله د رسولانو شمیر درې سوه او پنځلس (۳۱۵) دی، په دې کې هغه رسولان هم شامل دي چې نومونه یې په قرآن او سنت کې بیان شوي دي، لکه مخکې چې ذکر شول، او نور یې هغه پیغمبران دي، چې مونږ یې نه پیژنو، په دې شمیره یې دلیل د ابو امامه رضي الله عنه حدیث دی: یو تن پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله، ایا آدم علیه السلام نبي وو او کنه؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: هو، هغه ته پوهه ورکړی شوې وه، او د الله سره یې خبرې کړې وې، بیا یې وپوښتل: د هغه او نوح علیهما السلام ترمنځ څومره موده وه؟ هغه ورته وفرمایل: لس پېړۍ موده وه. بیا یې وپوښتل :د نوح او ابراهیم ترمنځ څومره موده وه؟ هغه ورته وفرمایل: لس پېړۍ موده وه. بیا یې

وپوښتل :اې د الله رسوله! د رسولانو ټول شمیره څومره تنه وو؟ هغه ورته وفرمایل: درې سوه او پنځلس (٣١٥)، چې په زیات شمېر سره وو[١].

٦. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې د هغوی هغه خبرونه چې په قرآن کریم، په احادیثو، یا د سیرت او تاریخ په مستندو کتابونو کې ذکر شوي وي، تایید او ومنو، چې په دې خبرونو کې د هغوی کیسې او خصوصیات بیان شوي دی، خو لیکن هغه روایتونه چې د اهل کتابو په کتابونو کې له پېغمبرانو څخه نقل شوي دي، مگر د مسلمانانو په صحیح روایتونو کې د هغې تایید بیان نه وي؛ نو په یو مسلمان لازم نه دې چې د هغې روایتونو تصدیق وکړي او یا یې تکذیب، خو که کله داسې روایتونه وي د مسلمانانو د صحیح کتابونو له معلوماتو سره مخالف وي؛ نو بیا یې تکذیب کول واجب دي.

د دې لپاره دلیل د نبي کریم ﷺ دا وینا ده: تاسو د اهل کتابو د روایتونو مه تصدیق کوئ او مه یې تکذیب کوئ، بلکې ووایئ: مونږ په الله ایمان لرو، او په هغه څه ایمان لرو کوم چې مونږ ته نازل شوي او کوم چې تاسو ته نازل شوي دي[٢].

دلته د "ما أنـزل إليكم" مطلب اصلي تورات او انجیل دي، کوم چې الله موسی او عیسی علیهم السلام ته نازل کړي وو، نه دا تحریف شوی تورات او انجیل چې اوس د یهودو او نصاراو په لاسونو کې دي.

٧. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې مونږ ایمان ولرو چې هغوی خپل رسالت لکه څنگه چې ورته الله امر کړی وو، په هماغه ډول په بشپړ توگه خلکو ته رسولی دی، او خلکو ته یې داسې واضحه کړي چې د ناپوهۍ لپاره ورکې هېڅ ځای پاتې نه دی، الله فرمایي:

﴿فَهَلۡ عَلَى ٱلرُّسُلِ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ﴾

نو د رسولانو په ذمه نشته مگر ښکاره رسَوَل.

د دې ابلاغ په ترسره کولو سره پېغمبران د الله له لورې په انسانانو حجت او دلیل وگرځېدل، لکه څرنگه چې الله فرمایي:

﴿رُّسُلٗا مُّبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ لِئَلَّا يَكُونَ لِلنَّاسِ عَلَى ٱللَّهِ حُجَّةُۢ بَعۡدَ ٱلرُّسُلِۚ﴾

او (مونږ لېږلي وو) رسولان، چې زېرى ورکوونکي او وېروونکي وو، د دې لپاره چې د خلقو لپاره په الله باندې څه حجت پاتې نشي .

٨. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې په هغو نښو او معجزو ایمان ولرو چې الله په هغوی سره پیغمبران مضبوط کړي دي، دې نښو ته براهین او دلایل هم ویل کېږي، دا هغه خارق العاده (د عادت څخه خلاف) کارونه دي چې الله یې د پیغمبرانو په واسطه

---

(١) رواه الحاكم في "مستدركه" (٢٦٢/٢)، واللفظ له، وقال الذهبي: على شرط مسلم، وكذا رواه الطبراني في "الكبير" (١١٨/٨-١١٩)، وفيه: (ثلاثمائة وثلاثة عشر)، وصححه الألباني كما في "السلسلة الصحيحة" (٢٦٦٨).

(٢) رواه البخاري (٧٣٦٢) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

ترسره کړي دي، د دې لپاره چې د هغوی رسالت د خلکو لپاره روښانه شي او هېڅ شک ورکې پاتې نه شي.

کله چې خلک ګوري چې د دوی پېغمبران داسې کارونه ترسره کوي چې د انسان له وس او توان څخه پورته دي، نو پوهېږي چې دا پېغمبران د الله له لوري رالېږل شوي دي، له دې سره د هغوی زړونه د دین په اړه مطمئن کېږي او په ایمان ثابت قدمه پاتې کېږي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې د الله بندګانو د الله څخه وویرېږئ، او ځان په دې خبره پوهه کړئ چې د پېغمبرانو په ایمان کې دا هم شامل دي چې د هغوی اطاعت وشي، الله پېغمبران د شرایعو سره ولېږل، او د هر پېغمبر لپاره یې ځانګړې شریعت ورکړ چې خلک د هغه اطاعت وکړي او د هغه پیروي وکړي، په دې شریعتونو کې داسې لارښوونې وې چې د خلکو لپاره د هغوی د عقایدو، عباداتو، او سلوکیاتو په اصلاح کې مرسته وکړي، الله د دې ټولو پېغمبرانو وروستی پیغمبر محمد مصطفی ﷺ د اسلام په رسالت سره رالېږلی، کوم چې د ټولو شریعتونو څخه غوره او بشپړ دی، او خلکو ته یې ددې شریعت د منلو امر کړي دی، او د شریعت منل یې د خپل خپل اطاعت یوه برخه ګرځولې ده، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿مَّن يُطِعِ ٱلرَّسُولَ فَقَدۡ أَطَاعَ ٱللَّهَۖ﴾

چا چې د رسول اطاعت وکړ، نو یقینًا هغه د الله اطاعت وکړ .

او فرمایي:

﴿وَإِن تُطِيعُوهُ تَهۡتَدُواْۚ﴾

او که تاسو د هغه (رسول) اطاعت وکړئ (نو) نېغه لار به وموموئ.

۱۰. په پیغمبرانو د ایمان لرلو له غوښتنو څخه بله غوښتنه دا ده چې په دې خبره ایمان ولرو چې پېغمبران تل غالب دي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿كَتَبَ ٱللَّهُ لَأَغۡلِبَنَّ أَنَا۠ وَرُسُلِيٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ﴾

الله لیکلي دي چې خامخا (او) لازمًا به زه غالب کېږم او زما رسولان، بېشکه الله ډېر قوي، ښه غالب دی.

او همدارنګه فرمایي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ﴾

بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی، په دنیایي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودریږي.

شیخ شنقیطي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: دې مبارک آیت مونږ ته دا واضحه کړې چې د الله پېغمبران به د خپلو مخالفو په وړاندې غالبه وي، لیکن دغه غلبه بیا په دوه ډوله ده: یوه غلبه په دلیل او بیان سره ده، چې دا بیا د ټولو پېغمبرانو لپاره ثابته ده، او بله غلبه بیا په توره نه د هغو لپاره چې امر ورته نه وي شوی[1].

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: چې خلاصه یې دا ده، د انبیاوو غلبه په خپل مخالف باندې په دلیل او علم سره د هغه مجاهد په ځېر ده چې خپل دښمن ته یې شکست ورکړی وي، او د انبیاوو غلبه په خپل مخالف باندې په تورې سره د هغه مجاهد په ځېر ده چې خپل دښمن یې وژلی وي.[2]

هغه زیاتوي: هیڅ یو داسې پېغمبر به پیدا نه شي چې هغه دې په جهاد کې وژل شوی وي[3].

- اې مؤمنانو، دا شل ګټورې نکتې وې چې په پېغمبرانو باندې د ایمان لرلو اړوند دي، هر مؤمن ته پکار دي چې دا ښه زده کړې، او په دې یقیني شي، ترڅو په دې ایمان کې مضبوط او راسخ او د ایمان په لاره کې ثابت قدمه پاتې شي.
- الله دې رحم وکړي ځانونه پوهه کړئ چې الله تاسو ته په یوه لویه خبره امر کړی دی، چې فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي، ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! تاسو په دغه نبي باندې درود او ډېر سلام ووایئ.

اې الله! پرخپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام ووایه، او د هغه له خلفاؤ صحابه کرامو څخه راضي شه، له تابعینو او هغه کسانو څخه هم راضي شه چې تر قیامته به راځي او په نیکیو کې به د دویو تابعداري کوي.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین د ښمنان تباه کړه، ستا مؤمن بنده ګانو ته بریا ورکړه.

اې الله! مونږ په خپلو هیوادونو کې په امن کړه، زمونږ امامان او واکداران اصلاح کړه، او هغوی لارښوونکي او هدایت شوي وګرځوه.

اې الله! ټول مسلمان واکداران ستا د کتاب د حاکم ګرځولو، او ستا د دین په لوړولو کې موفق ولره، په خپل رعیت یې رحمت وګرځوه.

---

(١) انظر: "أضواء البيان".

(٢) أنظر: "النبوات"، ص ٢٠٩.

(٣) "الفتاوى" (٥٩/١).

اې الله! له تا څخه هر ډول خير غواړو که هغه اوس وي او که په راتلوونکې کې وي، که موږ پرې پوهيږو او کنه، په تاپورې پناهي غواړو د هر ډول شر څخه، که هغه اوس وي او که په راتلوونکي کي وي، که موږ پرې پوهيږو او کنه پوهيږو.

اې الله! موږ له تا څخه جنت غواړو او د هر هغې خبرې او عمل توفيق غواړو چې موږ جنت ته نزدې کوي، او پناه غواړو له اوره او له هر هغه خبرې او عمل څخه چې موږ دوزخ ته نزدې کوي.

اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، مړې مو وبښه، او زموږ مصيبت زده ته عافيت ورکړه.

اې الله! زموږ د دين په سمه لاره برابر کړه، چې دين زموږ د کارونو ساتنه کوي، دنيا مو سمه کړه چې په دې کې زموږ روزي ده، آخرت مو سم کړه چې اخرت زموږ وروستۍ استوګنې ځای دي، زموږ د ژوند ډېره برخه په کې مشغوله کړه، او مرګ زموږ لپاره له هر ډول شر څخه راحت وګرځوه.

ای زموږ ربه! موږ ته په دنيا کې خير راکړه او په آخرت کې خير راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.

د الله بنده ګانو! بېشکه الله په عدل، احسان او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي، او له بدکاريو، ناوړه اعمالو او ظلم څخه مو منع کوي، نصيحت کوي چې پند ترې واخلئ، نو د الله ذکر وکړئ، هغه به ستاسو يادونه وکړي، او د هغه شکر وباسئ، هغه به ستاسو نعمتونه زيات کړي، د الله ذکر تر هر څه لوی دی، او الله ستاسو له کارونو خبردار دی.

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ۸/۱

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل يې ياد وساتئ، اطاعت يې وکړئ او د نافرمانۍ څخه يې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره يې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

د قیامت ورځ د «ورستۍ ورځې» په نوم هم یاده شوې ده، ځکه چې له هغې وروسته بله ورځ نشته، په دې ورځ کې به جنتیان په جنت کې او جهنمیان په جهنم کې ځای پرځای کړل شي، دغه ورځ د «قیامت ورځې» په نوم هم یاده شوې ده، ځکه چې خلک به په دې ورځ د الله په وړاندې ودرېږي، لکه څنګه چې الله فرمايي:

﴿ يَوْمَ يَقُومُ ٱلنَّاسُ لِرَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴾

هغه ورځ چې خلق به "رب العلمین" ته ودرېږي.

اې مؤمنانو! د قیامت پر ورځ ایمان لرل شپږ اساسي برخې لري:

لومړی برخه: په شپېلۍ (صور) کې پوک وهل.

دویمه برخه: د قیامت د سختو پېښو رامنځته کېدل.

دریمه برخه: د مخلوقاتو بیا راژوندي کېدل.

څلورمه برخه: د محشر په میدان کې د خلکو راټولېدل.

پنځمه برخه: حساب او جزا.

شپږمه برخه: جنت او دوزخ ته داخلېدل.

۱. اې د الله بندگانو! په شپېلۍ کې پوک وهل د قیامت د ورځې پیل دی، صور یو شپېلۍ ده چې د صور ملایکه (اسرافیل علیه السلام) به په کې دوه ځلې پوک وهي، په لومړي پوک کې - چې د وېرې او مړینې پوک بلل کیږي - ټول مخلوقات به ووېرېږي او مړه به شي، دا اوږد پوک دی چې اسرافیل علیه السلام به یې تر هغه وخته پورې اوږدوي چې د دنیا په ختیځ او لوېدیځ کې ټول خلک مړه شي، په دې خبره دلیل دا آیت دی:

﴿وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً مَّا لَهَا مِن فَوَاقٍ﴾

او دوی انتظار نه کوي مګر د یوې داسې چغې چې د هغې لپاره بېرته ګرځېدل نشته (وقفه نشته)

بیا به په شپېلۍ کې دویم ځل پوک وشي، او خلک به له خپلو قبرونو راپاڅي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿فَإِنَّمَا هِيَ زَجْرَةٌ وَٰحِدَةٌ فَإِذَا هُمْ يَنظُرُونَ﴾

پس همدا خبره ده چې هغه (قیامت) خو یوه چغه ده، نو ناڅاپه به دوی ګوري.

په لومړي پوک کې به ژوندي مړه شي، او په دویم پوک کې به مړي راژوندي شي، په قرآن کریم کې صور ته «ناقور» هم ویل شوی، لکه د سورة المدثر په دې آیت کې چې دي:

﴿فَإِذَا نُقِرَ فِي ٱلنَّاقُورِ﴾

نو کله چې په شپېلۍ کې پوکی وکړی شي.

۲. د قیامت په ورځ د ایمان له مهمو برخو څخه یې هغه سختۍ دي چې د شپېلۍ (صور) د پوک وهلو وروسته رامنځته کیږي، یو یې له دغو سختیو هغه د ځمکې لړزه او زلزله ده، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿إِذَا زُلْزِلَتِ ٱلْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴾

کله چې ځمکه وخوزلی شي په خپلو سختو خوزولو سره.

او فرمایي:

﴿إِذَا رُجَّتِ ٱلْأَرْضُ رَجًّا﴾

کله چې ځمکه وخوځولی شي، خوځول.

د قیامت له سختیو څخه بله د اسمان ټوټه کیدل دي، لکه څنګه چې الله فرمایي:

﴿فَإِذَا ٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَٱلدِّهَانِ﴾

بیا چې کله اسمان څیرې شي، نو سور رنګه ګل به شي، لکه د سرې څرمنې.

دلته "وردة" د سور ګل معنی لري، او "دهان" د پوست معنی لري.

په یو بل آیت کې الله د قیامت په ورځ اسمان د ویلې شوي څیز سره ورته مشابه یاد کړی، لکه څنگه چې الله فرمایي:

﴿يَوْمَ تَكُونُ ٱلسَّمَآءُ كَٱلْمُهْلِ﴾

په هغې ورځ چې اسمان به د ویلې کړی شوې قلعي په شان شي.

په دغه ورځ به غرونه په بشپړه توگه ذره ذره شي، تر دې چې د باریکه شگو یا د ډانډس شوې وړی په څیر به وي، دا دواړه صفتونه یو بل سره نږدي دي، د غرونو ذره ذره کیدل په دې آیت کې ذکر شوي:

﴿وَبُسَّتِ ٱلْجِبَالُ بَسًّا﴾

او غرونه ورژول شي، رژول.

او د هغوی خوریدل په دې آیت کې ذکر شوی:

﴿وَتَكُونُ ٱلْجِبَالُ كَٱلْعِهْنِ ٱلْمَنفُوشِ﴾

او غرونه به د ډانډس کړی شوې رنگینې وړی په شان شي.

او په دې آیت کې دي:

﴿وَكَانَتِ ٱلْجِبَالُ كَثِيبًا مَّهِيلًا﴾

په هغې ورځ کې چې ځمکه او غرونه به خوځېږي او غرونه به د شگو روانې ډېرې شي.

په دې ورځ به غرونه له خپلو ځایونو څخه پورته کړل شي او د سراب (شگوگل) په څیر به ښکاري، لکه څنگه چې الله فرمایي:

﴿وَسُيِّرَتِ ٱلْجِبَالُ فَكَانَتْ سَرَابًا﴾

او غرونه به روان کړی شي، نو دوی به سراب شي.

او الله فرمایي:

﴿وَتَرَى ٱلْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ ٱلسَّحَابِ ۚ صُنْعَ ٱللَّهِ ٱلَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ﴾

او ته به غرونه وینې، ته به په دوی د کلکو ولاړو ګمان کوې، حال دا چې دوی به د وریځې د تېرېدلو په شان تېرېږي، (وګورئ) کاریګري د الله هغه چې هر شی یې محکم کړی دی، بېشکه هغه ښه خبردار دی په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ.

د قیامت له سختیو څخه یوه هم د لمر نغښتل دي، لکه څنگه چې الله فرمایي:

﴿إِذَا ٱلشَّمْسُ كُوِّرَتْ﴾

کله چې لمر ونغښتل شي.

د لمر نغښتل داسې دي لکه د لونګې د ول په څیر راټول شي او بیا وغورځول شي، چې رڼا یې له منځه لاړه شي.[۱]

د قیامت له سختیو څخه بله یې د ستورو راپرېوتل دي، یعنې هغه ستوري چې لوړ په آسمان کې دي، دا به راپرېوځي، لکه څنګه چې الله فرمایي:

﴿وَإِذَا ٱلنُّجُومُ ٱنكَدَرَتْ﴾

او کله چې ستوري خړ شي.

د قیامت له سختیو څخه بله د بحرونو لمبه کېدل دي، چې اور واخلي، لکه څنګه چې الله فرمایي:

﴿وَإِذَا ٱلْبِحَارُ سُجِّرَتْ﴾

او کله چې دریابونه بل کړی شي.

پاکې یوازې هغه ذات لره ده چې په خپل قدرت سره د طبیعت قوانین د خپلې ارادې له مخې بدلوي، لکه څنګه چې فرمایي:

﴿إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ﴾

بېشکه د هغه امر (حکم) هم دا وي چې کله د یو شي اراده وکړي، دا چې هغه ته ووایي چې پیدا شه، نو هغه پیدا شي.

۳. اې د الله بندګانو! د اخرت په ورځ د ایمان له غوښتنو څخه یې په بعث ایمان لرل دي، بعث بیا د شپېلۍ په دوهم پوک سره د مړو بیا راژوندي کیدو ته وایي، د بعث حقیقت په قرآن، سنت، او د مسلمانانو په اجماع باندې ثابت دی. الله فرمایي:

﴿ثُمَّ إِنَّكُم بَعْدَ ذَٰلِكَ لَمَيِّتُونَ ﴿١٥﴾ ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَـٰمَةِ تُبْعَثُونَ﴾

بیا بېشکه تاسو له دې (ژوند) نه بعد خامخا مړه کېدونکي یئ،بیا به یقینًا تاسو د قیامت په ورځ ژوندي راپاڅولی شئ.

په دغه وخت کې به خلک د رب العالمین مخې ته راپاڅي، خپې به یې لوڅې وي، پیزار به نه لري، بدن به یې لوڅ وي جامې به نه لري، سنت شوي به نه وي، بې عیبه به وي، یعنې کوم عیبونه یې چې په دنیا کې درلودل لکه شلتوب یا ړوند والی او داسې نور، هغه به نه لري، الله فرمایي:

﴿كَمَا بَدَأْنَآ أَوَّلَ خَلْقٍ نُّعِيدُهُۥ ۚ وَعْدًا عَلَيْنَآ ۚ إِنَّا كُنَّا فَـٰعِلِينَ﴾

لکه څنګه چې مونږ د اول تخلیق ابتدا کړې ده، مونږ د هغه بیا اعاده کوو، دا زمونږ په ذمه وعده ده، بېشکه مونږ (دا کار) کوونکي یو.

---

(۱) انظر تفسیر ابن جریر رحمه الله للآیة.

الله دې موږ ټولو ته په قرآن کریم سره برکت راکړي، او په قرآن کې په شته آیتونو او د حکمت ډک ذکر سره دې موږ ته گټه راکړي، زه تاسو دا خبره کوم او له الله څخه د ځان او تاسو لپاره مغفرت غواړم، تاسې ترې هم بښنه وغواړئ، ځکه هغه ډېر بښوونکی او مهربان دی.

دویمه خطبه

٤. الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد: **اې د الله بندگانو! د الله څخه وډار شئ او پوه شئ چې د قیامت په ورځ د ایمان څخه یوه خبره دا هم ده چې په دې خبره ایمان لرل چې د حشر په میدان کې په ټول مخلوقات رایوځای او جمع کړل شي.**

حشر هغه حالت دی چې ټول مخلوقات له خپلو قبرونو څخه راپاڅېږي او د محشر میدان ته راټولیږي. په دې خبره دلیل دایت دی:

﴿قُلْ هُوَ ٱلَّذِى ذَرَأَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَإِلَيْهِ تُحْشَرُونَ﴾

او دی هماغه ذات دی چې تاسو یې په ځمکه کې خواره کړي یئ او خاص د هغه په طرف به تاسو ورجمع کولی شئ.

د ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ موږ ته خطبه راکړه او ویې فرمایل: "ای خلکو! تاسې به د الله په وړاندې په داسې حالت کې راپورته کړی شئ، چې لوڅ، بې جامو او ناسنته به یاست".

په قیامت کې به خلک په داسې سپینه او بې نښې ځمکه رایوځای کړل شئ، چې هلته به د هیڅ چا لپاره کومه نښه نه وي، ټول به د آوازکوونکي آواز اوري او ټول به یو بل سره ویني، لکه څنگه چې د صحیح بخاري په روایت کې د ابو هریره رضي الله عنه څخه نقل شوي دي. (۱)

په دغه ورځ به انسانان، پېریان، ملائکې او حیوانات ټول د قبورنو څخه راپورته کړل شی، د انسانانو او پېریانو د قبرونو څخه راپوته کیدل او د حشر په میدان کې رایوځای کیدل، د مخکې ذکر شوی عمومي آیت څخه ثابت دي، او د حیواناتو د حشر په دې آیت سره ثابت دی:

﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا طَٰٓئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ۚ مَّا فَرَّطْنَا فِى ٱلْكِتَٰبِ مِن شَىْءٍ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ﴾

او نشته دی هیڅ یو په ځمکه کې خوځنده او نه هیڅ مارغه چې په خپلو دواړو وزرونو الوزي مگر (دوی) ستاسو په شان امتونه دي، مونږ په کتاب کې هیڅ شی نه دی پریښی، بیا به دوی د خپل رب په طرف ورجمع کولی شي.

او الله فرمایلي دي:

---

(۱) رواه البخاري برقم (٣٣٦١).

﴿وَإِذَا ٱلۡوُحُوشُ حُشِرَتۡ﴾

او كله چې وحشي ځناوران راجمع كړل شي.

او د ملائكو د حشر په دې آيت سره ثاتب دی:

﴿وَجَآءَ رَبُّكَ وَٱلۡمَلَكُ صَفّٗا صَفّٗا﴾

او ستا رب راشي او ملايك قطار قطار (راشي).

ملائكې به په قيامت كې د الله په وړاندې په صفونو كې رايوځای كړل شي، خو د هغوی سره به محاسبه نه كېږي، ځكه هغوی په فطرتي ډول د الله د امر اطاعت كوي او هېڅكله يې نافرماني نه كوي. الله فرمايي:

﴿لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ ﴾

چې دوی په هغه څه كې د الله نافرمانۍ نه كوي چې دوی ته يې حكم كړی وي ـ او دوی هغه څه كوي چې دوی ته يې حكم كولی شي.

اې د الله بندگانو! دا هغه څلور اړينې برخې دي چې په قيامت باندې د ايمان لپاره ضروری دي، او د قيامت په ورځ ايمان يوازې په دې خبرو باندې د ايمان لرلو سره بشپړېږي، په راتلونكو خطبو كې به د اخرت په ورځ د ايمان اړوند په پنځمې او شپږمې غوښتنو په اړه خبرې وكړو، إن شاء الله.

- ځان په دې خبره پوه كړئ، چې د جمعې په ورځ او شپه كې تر ټولو غوره عمل هغه په پيغمبر صلى الله عليه وسلم درود ويل دی، اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) درود او سلامونه راوليږه، او د هغې له صحابو او څلورو خليفه گانو څخه، او همدارنگه د تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيكيو كې د دوی پيروي كوي، ته ترې راضي شه.
- اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت وركړه، شرک او مشركان سپک او ذليل كړه.
- اې الله! زمور هيوادونه په امن او امان كې وساته، زمور واكمنان اصلاح كړه او هغوی د هدايت په لاره روان كړه.
- اې الله! مور له تا څخه اوس او په راتلوونكي كې هر ډول خير غواړو، كه هغه خير مور پيژنو او كه نه يې پيژنو، او همدارنگه د هر رنگه شرک څخه اوس او په راتلوونكي كې پناه غواړو، كه هغه شرک مور پيژنو او كنه پيژنو.
- اې الله! مور له تا څخه جنت غواړو، او د هغه وينا او عمل توفيق غواړو چې مور جنت ته نږدې كوي، او په تا پورې پناه غواړو د اور څخه، او د هغه وينا او عمل څخه هم پناه غواړو چې مور اور ته نږدې كوي.

- اې الله! زموږ مریضانو ته شفا ورکړي، او مړو ته مو ښښنه وکړي، او په مصیبت کې راګیر تنانو ته مو عافیت او روغتیا ورکړی.
- اې الله! موږ د دین په سمه لاره برابر کړه چې دین زموږ د کارونو ساتنه کوي، دنیا مو سمه کړه چې په دې کې زموږ روزي ده، آخرت مو سم کړه چې اخرت زموږ وروستی استوګنې ځای دي، زموږ د ژوند ډېره برخه په کې مشغوله کړه، او مرګ زموږ لپاره له هر ډول شر څخه راحت وګرځوه.
- ای زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې خیر راکړه او په آخرت کې خیر راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.
- د الله بنده ګانو! بېشکه الله په عدل، احسان او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي، او له بدکاریو، ناوړه اعمالو او ظلم څخه مو منع کوي، موږ ته نصیحت کوي چې پند ترې واخلو؛ نو د الله ذکر وکړئ، هغه به ستاسو یادونه وکړي، او د هغه شکر وباسئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي، د الله ذکر تر هر څه لوی دی، او الله ستاسو له کارونو خبردار دی.

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ۸/۲

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل يې ياد وساتئ، اطاعت يې وکړئ او د نافرمانۍ څخه يې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره يې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو! **ټېره خطبه کې مو د آخرت په ورځ د ایمان د ځینو غوښتنو په اړه خبرې کړې وې، چې هغه عبارت دي: د شپېلۍ په پوک باندې ایمان لرل، د قیامت د ورځې په وېرونکو حالاتو ایمان لرل، د مخلوقاتو په بیا راژوندي کېدو او د محشر میدان ته د ټولو خلکو په راټولېدو ایمان لرل، نن ورځ د الله په مرسته، د هغو تفصیلاتو په اړه خبرې کوو چې په محشر میدان کې به راپېښېږي.**

اې د الله بندګانو! **د محشر په میدان کې به څلور مهمې پېښې واقع کیږي:**

۱ -خلک به په ویره کې وي، **د دې خبرې دلیل د حج سورت لومړی آیت دی، چې الله فرمایلي دي:**

﴿إِنَّ زَلْزَلَةَ ٱلسَّاعَةِ شَىْءٌ عَظِيمٌ ﴿١﴾ يَوْمَ تَرَوْنَهَا تَذْهَلُ كُلُّ مُرْضِعَةٍ عَمَّآ أَرْضَعَتْ وَتَضَعُ كُلُّ ذَاتِ حَمْلٍ حَمْلَهَا وَتَرَى ٱلنَّاسَ سُكَٰرَىٰ وَمَا هُم بِسُكَٰرَىٰ وَلَٰكِنَّ عَذَابَ ٱللَّهِ شَدِيدٌ﴾

اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ، بېشکه د قیامت زلزله ډېر لوی شی دی، په هغې ورځ چې تاسو هغه وویني، چې هر تی ورکوونکې به غافله شي له هغه (وړوکي) نه چې هغه ته تی ورکوي، او هره حمل والا به خپل حمل وغورځوي او ته به خلکو لره نشه ویني، حال دا چې دوی به نشه نه وي او لیکن د الله عذاب به ډېر سخت وي.

د دغې ورځې د سختۍ او هیبت له امله به د خلکو عقلونه ګډوډ شي، چې په دنیا کې یې څومره وخت تیر کړی دی، ځینې به وایي:

﴿إِن لَّبِثْتُمْ إِلَّا عَشْرًا﴾

چې تاسو وخت نه دی تېر کړی (په دنیا کې) مګر لس شپې.

او ځینې به وایي:

﴿لَبِثْنَا يَوْمًا أَوْ بَعْضَ يَوْمٍ فَسْـَٔلِ ٱلْعَآدِّينَ﴾

هغوی به ووایي: مونږ وخت تېر کړی دی یوه ورځ، یا د ورځې څخه حصه، نو له حسابګرو نه تپوس وکړه.

او په یو بل آیت کې الله فرمایي:

﴿وَيَوْمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ يُقْسِمُ ٱلْمُجْرِمُونَ مَا لَبِثُواْ غَيْرَ سَاعَةٍ﴾

او په هغې ورځ کې چې قیامت به قایم شي، مجرمان (کافران) به (په دې) قسم خوري چې دوی (په دنیا کې) له یو ساعت نه غیر نه دي پاتې شوي، همدارنګې به دوی ګرځولی شول.

د دغې ورځې د سختۍ له کبله به خلک له خپلو خپلوانو څخه ناخبره وي، الله فرمایي:

﴿يَوْمَ يَفِرُّ ٱلْمَرْءُ مِنْ أَخِيهِ ﴿٣٤﴾ وَأُمِّهِۦ وَأَبِيهِ ﴿٣٥﴾ وَصَٰحِبَتِهِۦ وَبَنِيهِ ﴿٣٦﴾ لِكُلِّ ٱمْرِئٍ مِّنْهُمْ يَوْمَئِذٍ شَأْنٌ يُغْنِيهِ﴾

په هغه ورځ چې سړی به له خپل وروره تښتي، او له خپلې مېرځې او خپلو زامنو نه، په دیو کې د هر سړي لپاره به په دغه ورځ کې یو حال وي، چې دی به (له نورو نه) بې پروا (بې غوره) کوي.

اې د الله بندګانو! د قیامت په ورځ به ګناهګار خلک، لکه کافران، بدعتیان، او د مؤمنانو نافرمانه خلک به په ویره کې وي، الله فرمایي:

﴿وَكَانَ يَوْمًا عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ عَسِيرًا﴾

او وي به دغه په کافرانو ډېره سخته ورځ.

خو کامل مؤمنان چې د الله اطاعت یې کړي وي او له هغه کارونو څه یې ډډه کړې چې الله حرام کړي دي، هغوی به په وېره کې نه وي. ځوک چې په دنیا کې له الله څخه ویرېدلی وي، الله به ورته په آخرت کې امن ورکړي، او کوم خلک چې په دنیا کې په امن کې وو او له الله څخه بې پروا وو، الله به یې په آخرت کې په وېره اخته کړي، دا د الله عدل دی چې پر خپل بنده دوه امنونه او دوه وېرې نه رایوځای کوي. الله د مؤمنانو په اړه فرمایي:

﴿لَا يَحْزُنُهُمُ ٱلْفَزَعُ ٱلْأَكْبَرُ وَتَتَلَقَّىٰهُمُ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ﴾

دوی به هغه تر ټولو لویه وېره نه غمجن کوئ او له دوی سره به ملایک ملاقات کوي.

او فرمایي:

﴿وَهُم مِّن فَزَعٍ يَوْمَئِذٍ ءَامِنُونَ﴾

او دوی به د دغې ورځې د سختې وېرې نه په امان (امن والا) وي.

او فرمايي:

﴿أَفَمَن يُلْقَىٰ فِي ٱلنَّارِ خَيْرٌ أَم مَّن يَأْتِيٓ ءَامِنًا يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ﴾

ايا هغه څوک چې په اور کې غورځولی شي، ډېر غوره دی يا هغه څوک چې د قيامت په ورځ (له عذاب ن) په امن کې راشي.

۲ - د محشر په ميدان کې د لمر نږدې کېدل: په محشر ميدان کې به لمر د يو ميل په اندازه د خلکو سرونو ته رانږدې وي، په دې اړه دوه نظرونه شته: يو دا چې ميل په رانجو د سترگو د تورولو لرگي ته وايي، او بل دا چې ميل د مسافې د اندازه کولو واحد دی، که هر يو وي، لمر به ډېر نږدې وي او تودوخه به يې د خلکو سرونو ته رسيږي.

که پوښتنه وشي چې آيا څوک به د لمر له دې سختۍ څخه په امن کې وي؟ ځواب يې دا دی چې هو، داسې کسان شته چې الله به يې د دې ورځې له لمر څخه وساتي، هغه اووه ډوله خلک دي چې الله به يې د خپل سوري لاندې پناه ورکړي، چې په هغه ورځ به د الله د سوري پرته بل هيڅ سوری نه وي، دا سوری به د الله د عرش څخه وي، او هغه کسان چې په دې سوري کې به وي، په دې ډول دي:

عادل پادشاه، بل هغه ځوان چې د الله په اطاعت کې رالوی شوی وي، دوه کسان چې يو بل سره د الله لپاره محبت پالی، چې له دې محبت له امله سره يوځای کيږي او په همدې سره جلا کيږي، بل هغه سړی چې زړه يې جومات سره تړلی وي، کله چې مسجد ته لاړ شي، بيا يې مسجد ته د بيا ورتللو هيله وي، بل هغه سړی چې په يوازيتوب کې الله ياد کړي او سترگې يې له اوښکو ډکې شي، بل هغه سړی چې د يوې ښکلې او لوړې رتبې لرووونکې ښځې له لورې ورته ته د ګناه دعوت ورکړل شي، او دغه سړی ورته ووايي: «زه له الله څخه وېرېږم». بل هغه څوک چې په پټه صدقه ورکړي، او په داسې شان سره يې ورکړي چې چې ښي لاس يې صدقه ورکړي او کين لاس يې هيڅ خبر نه شي.[1]

۳ - د محشر په ميدان حوض ته د خلکو ورتګ: د محشر په ميدان کې به خلک د رسول الله صلى الله عليه وسلم د حوض (حوض کوثر) په لور ورځي، مؤمنان چې د شريعت پابند وي، له دې حوض څخه به اوبه څښي. خو دوه ډوله کسان به له دې حوض څخه شړل کيږي: **لومړی:** هغه کسان چې له اسلام څخه اوښتي وي، لکه د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر وفات وروسته مرتد شوي خلک، او همدارنګه له دې وروسته هغه خلک چې د قيامت تر ورځې پورې راځي او د اسلام

(۱) روى هذا الحديث البخاري (٦٦٠) ومسلم (١٠٣١) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

څخه اوړيدلي وي. **دويم:** د بدعت پلويان، برابره خبره ده که هغه قولی بدعت وي، او که عملي وي، هغوی به د دې حوض څخه د نا اشنا اوښانو په څېر شړل کېږي. [۱]

دې حوض ته دوه ناوې د جنت د کوثر نهر څخه رابهيږي، کوثر د "ډېر خير" په معنا دي، د دې حوض اوږدوالی د يوې مياشتې سفر په اندازه دی، چې د اسمان د ستورو په شمېر د اوبو پيالې لري، اوبه يې له شيدو سپينې دي، او بوی يې له مُشک څخه خوشبو داره دی، او خوند يې د شاتو څخه خوږ دی، څوک چې يو ځل له دې حوض څخه اوبه وڅښي، هغه به بيا هيڅکله تږی نه شي، د جنت څخه ورته دوه ناوې رابهيږي، يو يې د سرو زرو ده او بله يې د سپينو زرو ده، د دې حوض پراخوالی او اوږدوالي سره برابر دي، لکه د صنعاء او مدينې ترمنځ فاصله. [۲]

اې د الله بندګانو! د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حوض اوس هم موجود دی، لکه څنګه چې هغه فرمايلي دي: «قسم په الله چې زه اوس هم خپل حوض وينم». [۳]

په دې اړه راغلي چې هر نبي به خپل ځانته جلا حوض لري، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: «ښېشکه چې هر نبي يو حوض لري، او هغوی به په دې باندې فخر کوي چې د چا حوض ته به زيات خلک ورځي، او زه هيله لرم چې زما حوض ته به تر ټولو زيات خلک راځي». [٤]

دا د الله له حکمت او رحمت څخه ده، ترڅو د مخکنيو پيغمبرانو پيروان له خپلو انبياوو د حوضونو څخه د هغوی د ايمان او اطاعت په بدله کې؛ اوبه وڅښي.

الله دې موږ ټولو ته په قرآن کريم سره برکت راکړي، او په قرآن کې په شته آيتونو او د حکمت ډک ذکر سره دې موږ ته ګټه راکړي، زه تاسو دا خبره کوم او له الله څخه د ځان او تاسو لپاره مغفرت غواړم، تاسې ترې هم ښښنه وغواړئ، ځکه هغه ډېر ښښوونکی او مهربان دی.

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أمابعد: **اې د الله بندګانو!** له الله وويرېږئ، او ځان پوه کړئ، چې د محشر په ميدان کې يوه ستره پېښه هغه د **شفاعت عظمى (لويه شفاعت)** پېښه ده، د قيامت په ورځ به د محشر په ميدان کې خلک تر ډېره وخته ودرول شوي وي، برابره خبره ده که هغه مؤمنان وي او که کافران، انسانان به انبياوو ته ورشي؛ ترڅو

---

(۱) انظر "صحيح مسلم" (۲۳۰۳).

(۲) انظر الأخبار الواردة في الحوض في " صحيح البخاري"، كتاب الرقاق، باب في الحوض، وكذلك" صحيح مسلم"، كتاب الفضائل، باب إثبات حوض نبينا (صلى الله عليه وسلم) وصفاته.

(۳) رواه البخارى (٦٥٩٠) ومسلم (٣٢٩٦) عن عقبة بن عامر رضي الله عنه.

(٤) رواه الترمذي (٢٤٤٣) عن سمرة رضي الله عنه، وصححه الألباني كما في "الصحيحة" (١٥٨٩).

الله ته شفاعت وکړي چې حساب پیل کړي، چې هر تن خپل لوری که هغه جنت وي او که اور وي؛ وویني.

پنځه انبیاء به د شفاعت کولو څخه معذرت وکړي، چې هغه به آدم، نوح، ابراهیم، موسی او عیسی علیهم السلام وي.

عیسی علیه السلام به انسانان د محمد صلی الله علیه وسلم ته ور ولېږي، انسانان به هغې ته راشي، او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته ووایي: "زه د دې لپاره یم". رسول الله صلی الله علیه وسلم به د عرش د لاندې سجده وکړي، الله به په هغه داسې ثنا او صفتونه ولوروي چې مخکې یې چا ته نه وو ورکړي، بیا به ورته ویل شي: " اې محمده! خپل سر راپورته کړه، وایه ستا خبره به اوریدل کیږي، چې د چا شفاعت کوي هغه به ومنل شی، او څه چې غواړې هغه به تا ته درکول کیږي".

رسول الله به د حساب د پیل لپاره شفاعت وکړي، او الله به یې شفاعت ومني، په دې سره به د ټولو بندگانو، مؤمنانو او کافرانو، له آدم علیه السلام څخه نیولې تر قیامته پورې به د ټولو مخلوقاتو سره حساب او د هغوی په اړه فیصلې پیل شي.

دا شفاعت هغه "مقام محمود" دی چې الله یې په خپل کتاب کې یادونه کړې ده:

﴿عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا﴾

امید دی چې ستا رب به تا مقام محمود (ستایل شوي ځای) ته پورته کړي.

دا هغه مقام دی چې د قیامت په ورځ به لومړني او وروستي ټول خلک په دې باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم وستایي او ویاړ به پرې وکړي.

د دې شفاعت ستر حیثیت ته په کتو سره، علماوو دې ته "شفاعة العظمی" (لویه شفاعت) نوم ورکړی دی، او دا د قیامت په ورځ د شفاعتونو له جملې څخه لومړنۍ شفاعت دی.

اې د الله بندگانو! دا هغه څلور پېښې دي چې د قیامت په ورځ به د محشر په میدان کې واقع کیږي، مسلمان ته پکار دي چې تل دا پېښې یاد وساتي، ترڅو د الله څخه وډار شي، نېکو اعمالو ته وهڅیږي، او له هغو کارونو ځان وژغوري چې الله ته ناخوښ وي.

- ځان په دې خبره پوه کړئ، چې د جمعې په ورځ او شپه کې تر ټولو غوره عمل هغه په پیغمبر صلی الله علیه وسلم درود ویل دی، اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد (صلی الله علیه وسلم) درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او څلورو خلیفه ګانو څخه، او همدارنګه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته تر راضي شه.
- اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تس نس کړه، او د خپلو موحدو بندګانو مرسته وکړه.

- اې الله! زمونږ هیوادونه په امن او امان کې وساته، زمونږ واکمنان اصلاح کړه او هغوی د هدایت په لاره روان کړه.
- اې الله! د ټولو مسلمانانو پادشاهانو ته ستا د کتاب د نفاذ، او ستا د دین د عزتمن ګرځولو، توفیق ورکړه، او دغه بادشاهان په خپلو رعیت باندې رحمت وګرځوه.
- اې الله! مونږ له تا څخه اوس او په راتلوونکي کې هر ډول خیر غواړو، که هغه خیر مونږ پیژنو او که نه یې پیژنو، او همدارنګه د هر رنګه شرک څخه اوس او په راتلوونکي کې پناه غواړو، که هغه شرک مونږ پیژنو او کنه پیژنو.
- اې الله! مونږ له تا څخه جنت غواړو، او د هغه وینا او عمل توفیق غواړو چې مونږ جنت ته نږدې کوي، او په تا پورې پناه غواړو د اور څخه، او د هغه وینا او عمل څخه هم پناه غواړو چې مونږ اور ته نږدې کوي.
- اې الله! زمونږ مریضانو ته شفا ورکړې، او مړو ته مو ښښنه وکړې، او په مصیبت کې راګیر تنانو ته مو عافیت او روغتیا ورکړی.
- اې الله! مونږ د دین په سمه لاره برابر کړه چې دین زمونږ د کارونو ساتنه کوي، دنیا مو سمه کړه چې په دې کې زمونږ روزي ده، آخرت مو سم کړه چې اخرت زمونږ وروستۍ استوګنې ځای دي، زمونږ د ژوند ډېره برخه په کې مشغوله کړه، او مرګ زمونږ لپاره له هر ډول شر څخه راحت وګرځوه.
- ای زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا کې خیر راکړه او په آخرت کې خیر راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.
- د الله بنده ګانو! بېشکه الله په عدل، احسان او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي، او له بدکاریو، ناوړه اعمالو او ظلم څخه مو منع کوي، نصیحت کوي چې پند ترې واخلئ، نو د الله ذکر وکړئ، هغه به ستاسو یادونه وکړي، او د هغه شکر وباسئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي، د الله ذکر تر هر څه لوی دی، او الله ستاسو له کارونو خبردار دی.

د الله ذکر کوئ، هغه به تاسو یاد کړي، د هغه د نعمتونو شکر وباسئ چې هغه به خپل نعمتونه نور هم ډیر کړي، د الله ذکر تر هر څه ستر او لوی دی، الله ستاسو په ټولو کارونو پوهېږي.

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ۸/۳
(په جزا او حساب ایمان لرل)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د الله بندگانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل يې ياد وساتئ، اطاعت يې وکړئ او د نافرمانۍ څخه يې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شريعت په رالېږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکيم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره يې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پيغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤوليتونو بدلې ورکړي، الله فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو! **تېره خطبه کې مو د آخرت په ورځ د ایمان اړوند د ځینو غوښتنو په اړه خبرې کړې وې، چې هغه عبارت دي له: د شپېلۍ په پوک باندې ایمان لرل، د قیامت د ورځې په وېرونکو حالاتو ایمان لرل، د مخلوقاتو په بیا راژوندي کېدو او د محشر میدان ته د ټولو خلکو په راټولېدو ایمان لرل، نن ان شاء الله، مونږ د حساب او جزا په اړه خبرې کوو.**

۱. **اې د الله بندگانو!** **حساب او جزا د کتاب، سنت او د مسلمانانو د اجماع له مخې ثابت حق دی، د دې په ثبوت د قران کریم دا آیت دلیل دی:**

﴿إِنَّ إِلَيْنَآ إِيَابَهُمْ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ إِنَّ عَلَيْنَا حِسَابَهُم﴾

بېشکه خاص مونږ ته د دوی بېرته راتګ دی، بیا یقینًا د دوی حساب زمونږ په غاړه دی.

الله فرمايلي دي:

﴿مَن جَآءَ بِٱلْحَسَنَةِ فَلَهُۥ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ وَمَن جَآءَ بِٱلسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰٓ إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ﴾

څوك چې يوه نېكي راوړي، نو د هغه لپاره د هغې لس چنده دی او څوك چې يوه بدي راوړي، نو هغه ته به يواځې د هغې په مثل سزا ورکولی شي او په دوی به ظلم نه کېږي.

او بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿وَنَضَعُ ٱلۡمَوَٰزِينَ ٱلۡقِسۡطَ لِيَوۡمِ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَلَا تُظۡلَمُ نَفۡسٞ شَيۡـٔٗاۖ وَإِن كَانَ مِثۡقَالَ حَبَّةٖ مِّنۡ خَرۡدَلٍ أَتَيۡنَا بِهَاۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ﴾

او د قيامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو.

٢. **اې د الله بندګانو!**، حساب او جزا د حکمت د غوښتنو څخه دي، ځکه چې الله کتابونه نازل کړي دي، رسولان يې رالېږلي دي؛ نو په بندګانو فرض دي چې هغه څه ومني چې رسولانو راوړي دي، او په هغه څه عمل وکړي چې عمل کول پرې واجب دي، او د مخالفينو سره يې د جګړې کولو حکم کړی دي، چې د هغوی وينه، اولاد، ښځې او مالونه ورته حلال ګرځول شوي دي، که چيرې حساب او جزا نه وي؛ نو بيا به دا شريعت بې ګټې وي، چې الله د داسې کار کولو څخه پاک دی.

٣. اې د الله بندګانو! حساب دوه ډوله دی؛ يو د عرض (مخامخ د اعمالو د وړاندې کولو) حساب دی او بل د مناقشې او عذاب حساب دی، په دې خبره دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا وينا ده: "کوم تن سره چې د قيامت په ورځ حساب وشو؛ نو هغه هلاک شو". عائشې رضى الله عنها ورته وويل: "اې د الله رسوله! آيا الله فرمايلي نه دي:

﴿فَأَمَّا مَنۡ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ ٧ فَسَوۡفَ يُحَاسَبُ حِسَابٗا يَسِيرٗا﴾

نو هر چې هغه څوك دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) په ښي لاس کې ورکړی شي، نو ژر ده چې له ده سره به حساب وکړی شي، ډېر اسان حساب.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: "دا يوازې د عرض (مخامخ د اعمالو د وړاندې کولو) حساب دی، که چيرته د قيامت په ورځ د چا سره په حساب کې مناقشه او بحث وکړی شو؛ عذاب به ورکړل شی".[1]

اې د الله بندګانو! د لومړی ډلې په خلکو کې هغه ډول خلک شامل دي چې دويو ته په خپل کړي ګناهونه وريادونه کړل شي، چې الله وربانديې په دنيا کې پرده اچولې وه، د قيامت په ورځ به ورته الله ښښنه وکړي. د ابن عمر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "الله مؤمن ځان ته رانږدې کوي، خپل رحم وربانديې کوي، او پرده وربانديې اچوي، او ورته وايي: "آيا هاغه ګناه پېژنې چې کړې دې ده؟ آيا هاغه ګناه پېژنې چې کړې دې ده؟"

(١) رواه البخاري (٦٥٣٧) ومسلم (٢٨٧٦) عن عائشة رضي الله عنها.

مؤمن به ورته ووايي: هو، اې زما ربه! ترڅو چې مؤمن په خپلو کړو ګناهونو اقرار وکړي، مؤمن به دا فکر وکړي چې تباه شوم، الله به ورته ووايي: "په دنيا کې مې درباندې پرده اچولې وه، او نن ورځ درته زه بښنه کوم"، بيا به ورته د نيکو عملنامه ورکړل شی [1]

٤. اې د الله بندګانو! په دغه ورځ به د انسان عملونه تلل کيږي، ددې لپاره چې خلکو ته د الله عدل ښکاره شي، الله فرمايلي دي:

﴿وَنَضَعُ ٱلْمَوَٰزِينَ ٱلْقِسْطَ لِيَوْمِ ٱلْقِيَٰمَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْـًٔا ۖ وَإِن كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِّنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا ۗ وَكَفَىٰ بِنَا حَٰسِبِينَ﴾

او د قيامت په ورځ به مونږ ډېر د انصاف تلې کېږدو، نو په هېڅ نفس باندې به هېڅ شی ظلم ونه کړی شي او که دا (عمل) د اوري د دانې په وزن وي مونږ به هغه راوړو او هم مونږ حساب کوونکي بس يو.

که يو څوک پوښتنه وکړي، نيکيانې او بديانې به څنګه تلل کيږي، حال دا چې دا معنوي شيان دي؟

جواب يې دا دی چې عملونه به د الله په قدرت سره جسم ولري، او همدارنګه د اعمالو پرته شيان به هم جسم ولري، د مثال په ډول مرګ يو معنوي امر دی حسي نه دي، ليکن د قيامت په ورځ به د ګډ په شکل راوستلی شي، د جنت او جهنم ترمينځ په ذبحه کړل شي، بيا به يو آواز وشي: (اې جنتيانو! تل به همدلته ياست، نور مرګ نشته، اې جهنميانو! تل به همدلته ياست، نور مرګ نشته).[2]

که يو څوک پوښتنه وکړي: آيا د مؤمنانو او کافرانو ټولو عملونه به تلل کيږي، او که يوازې به د مؤمنانو عملونه تلل کيږي؟

جواب يې دا دی چې يوازې د مؤمنانو عملونه به تلل کيږي، که چيرته کوم مؤمن ګناه ونه لري، هغه به د اول سر څخه جنت ته ځي، او که کوم مؤمن ګناهونه ولري، د هغې سزا به ورکړل شي، بيا به يې الله جنت ته داخل کړي، او يا به ورته الله د اول سر څخه بښنه وکړي، جنت ته به بغير د عذاب څخه داخل شي، يا به يې شفاعت کوونکی شفاعت وکړي او يا به ورباندې الله مهرباني وکړي، هر چې کافر دی د هغه عملونه نه تلل کيږي، ځکه چې الله هغه ته په دنيا کې صحت، پراخه رزق او داسې نور شيان ورکړي وو، ليکن کله چې د الله سره په قيامت کې مخامخ شي؛ نو د هغه ځای يوازې اور دی، که نيک عملونه يې هم کړي وي، الله د کافرانو په اړه فرمايلي دي:

﴿أُو۟لَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِى ٱلْـَٔاخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُ ۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا۟ فِيهَا وَبَٰطِلٌ مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ﴾

دا هغه کسان دي چې د دوی لپاره په اخرت کې نشته مګر اور او هغه څه برباد شول چې دوی په دې (دنيا) کې کړي وو او باطل دي هغه عملونه چې دوی به کول.

---

(١) رواه البخاري (٢٤٤١) ومسلم (٢٧٦٨).

(٢) انظر صحيح البخاري (٤٧٣٠) ومسلم (٢٨٤٩).

الله فرمايلي دي:

﴿وَقَدِمْنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُوا۟ مِنْ عَمَلٍ فَجَعَلْنَٰهُ هَبَآءً مَّنثُورًا﴾

او دوی چې څه عمل هم کړی دی هغه ته به مونږ ورسو، نو هغه به خور کړی شوی گرد وگرځوو.

بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ أَعْمَٰلُهُمْ كَسَرَابٍۭ بِقِيعَةٍ يَحْسَبُهُ ٱلظَّمْـَٔانُ مَآءً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَهُۥ لَمْ يَجِدْهُ شَيْـًٔا﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي، د هغوی عملونه د سراب (شګې ګل) په شان دي چې په هوار ډاګ کې دي، تږی په هغه باندې د اوبو ګمان کوي، تر دې چې کله ده ته راشي، نو دغه هیڅ شی ونه مومي او په خپلې خوا کې الله ومومي، نو هغه به ده ته د ده حساب پوره ورکړي، او الله ډېر ژر حساب والا دی.

لنډه دا چې د کافرانو او منافقانو سره به د نیکیو او ګناهونو د توازن له مخې حساب نه کیږي، بلکې د توبیخ او د ځواب غوښتنې حساب به ورسره کیږي، لکه څنګه چې په حدیث د ابن عمر کې راغلي دي، هغوی ته به په خپلو عملونو خبرولی شي، که هغوی انکار وکړي، نو د هغوی د بدن اندامونه به پرې ګواهي ورکړي، بیا به وروباندې د ټولو په وړاندې اواز وشي:

﴿هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ ۚ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ﴾

دا هغه کسان دي چې په خپل رب یې دروغ تړلي وو ـ، خبردار شئ! د الله لعنت په ظالمانو باندې دی.

بیا به اور ته واچول شی، ـ الله دې مونږ او تاسې ترې وساتي ـ په دې کې اشاره ده چې الله مؤمن باندې پرده اچوي، او کافر بیا رسوا کوي.

٥. **اې د مؤمنانو ټولگیه!** د حساب د صحنو څخه یوه دا هم ده چې کله هم خلک د حساب لپاره راغوښتل کیږي، نو د ډېرې اندیښنې له امله به پر خپلو زنګونانو کیني، الله په سورة الجاثیه کې فرمايي:

﴿وَتَرَىٰ كُلَّ أُمَّةٍ جَاثِيَةً ۚ كُلُّ أُمَّةٍ تُدْعَىٰٓ إِلَىٰ كِتَٰبِهَا ٱلْيَوْمَ تُجْزَوْنَ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ﴾

او ته به هر امت په ځنګنونو پروت ویني، هر امت به خپل کتاب (اعمالنامې) ته راوبللی شي ـ، نن ورځ به تاسو ته د هغو عملونو بدله درکولی شي چې تاسو به کول.

٦. **ای مؤمنانو!** د انسان سره چې د هغه د کړو عملونو حساب کیږي، نو لومړی به د الله د حقوقونو حساب ورسره کیږي، چې په هغې کې لومړی لمونځ دی، که لمونځ یې سم وي، نو ټول عملونه به یې سم وي، او که لمونځ یې خراب وي، نو ټول عملونه به یې خراب وي.

٧. د انسان سره به د نورو انسانانو د حقوقو حساب هم کیږي، لومړی به د وینې (قتل) حساب کیږي، د دې دلیل د نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) دا قول دی: «د قیامت په ورځ به د انسانانو ترمینځ لومړی حساب د وینې په اړه کیږي».

٨. په دغه ورځ به د انسان غړي د هغه په بدو اعمالو گواهي ورکړي که هغه انکار وکړي، د هغه غوږونه، سترګې، او پوستکی به د هغه په اعمالو شاهدي ورکړي. الله فرمايي:

﴿وَيَوْمَ يُحْشَرُ أَعْدَآءُ ٱللَّهِ إِلَى ٱلنَّارِ فَهُمْ يُوزَعُونَ ﴿١٩﴾ حَتَّىٰٓ إِذَا مَا جَآءُوهَا شَهِدَ عَلَيْهِمْ سَمْعُهُمْ وَأَبْصَٰرُهُمْ وَجُلُودُهُم بِمَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ ﴿٢٠﴾ وَقَالُواْ لِجُلُودِهِمْ لِمَ شَهِدتُّمْ عَلَيْنَاۖ قَالُوٓاْ أَنطَقَنَا ٱللَّهُ ٱلَّذِيٓ أَنطَقَ كُلَّ شَيْءٍ وَهُوَ خَلَقَكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾

او (یاده کړه) هغه ورځ چې د الله دښمنان به اور ته راجمع کولی شي، نو دوی به ډلې کولی (او تقسیمولی) شي، تر دې چې کله دوی ده ته (څنگه) راشي (، نو) په دوی باندې به د دوی غوږونه او د دوی سترګې او د دوی څرمنې گواهي ورکړي، د هغو کارونو چې دوی به کول، او دوی به خپلو څرمنو ته ووايي: تاسو ولې پر مونږ گواهي ورکړه؟ نو دغه (څرمنې) به ووايي: مونږ هغه الله گویا کړو چې هر شی یې گویا کړی دی. او دغه (الله) تاسو اول ځلې پیدا کړي یئ او خاص همده ته به بېرته ورگرځولی شئ.

حسن بصري رحمه الله د دې آیت په اړه ویلي دي: ﴿كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا﴾: «ای د آدم زویه! هغه ذات چې ته یې پیدا کړی یې له تا سره یې انصاف وکړ، ته یې په خپل ځان حساب کوونکی وگرځولې».

ابن جرير الطبري په خپل «تفسير» کې د قتاده رحمه الله څخه روایت نقل کوي چې د دې آیت په اړه یې ویلي دي: ﴿كفى بنفسك اليوم عليك حسيبا﴾، «په هغه ورځ به هغه څوک لوست وکړي چې په دنیا کې یې لوست نه وو کړی».

٩. اې مسلمانانو! په هغه ورځ به اویا زره کسان د حساب څخه مستثنی شي، هغوی سره به نه حساب کیږي او نه به عذاب ورکړل شي - الله دې مونږ له هغوی څخه وگرځوي - او دا هغه کامل مؤمنان دي چې د الله ټول فرضونه یې ادا کړي دي، په نیکیو کې یې بیړه کړې ده، او له حرامو او مکروهاتو څخه یې ځان ساتلی دی.[1]

د ابو امامه رضي الله عنه په حدیث کې راغلي دی چې دا فضیلت به یوازې په دې شمیر (٧٠ زرو) پورې محدود نه دی، هغه وایي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمایل: «زما رب ما سره وعده کړې چې زما له امت څخه به اویا زره کسان بې حسابه او بې عذابه جنت ته ځي، او له هر زرو سره به اویا زره نور هم وي، او ورسره درې لپې د الله د لپو څخه به هم ورسره زیاتې کړل شي».[2]

---

(١)

(٢) أخرجه الترمذي واللفظ له (٢٤٣٧) وغيره، وصحح إسناده الألباني رحمه الله كما في "الصحيحة" (١٩٠٩).

الله دې موږ ټولو ته په قرآن کریم سره برکت راکړي، او په قرآن کې په شته آیتونو او د حکمت ډک ذکر سره دې موږ ته گټه راکړي، زه تاسو دا خبره کوم او له الله څخه د ځان او تاسو لپاره مغفرت غواړم، تاسې ترې هم بښنه وغواړئ، ځکه هغه ډېر بښوونکی او مهربان دی.

دویمه خطبه

۱۰. الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، د الله څخه وویریږئ، اې د الله بندگانو، ځان پوه کړې چې حساب به پیریانو او انسانانو دواړو سره کیږي، ځکه چې پیریان د رسالت په عاموالی کې داخل دي، او هغوی مکلف دي، لکه څنگه چې الله فرمایي:

﴿قَالَ ٱدۡخُلُواْ فِيٓ أُمَمٖ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِكُم مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ فِي ٱلنَّارِۖ﴾

(ورته) وبه وایي: تاسو له هغو امتونو سره یو ځای اور ته داخل شئ چې له تاسو نه مخکې په پېریانو او انسانانو کې تېر شوي دي.

او د جنت د حورو په اړه الله فرمایلي دي:

﴿لَمۡ يَطۡمِثۡهُنَّ إِنسٞ قَبۡلَهُمۡ وَلَا جَآنّٞ﴾

چې له دغو (جنتي خاوندانو) نه به مخکې دوی ته نه انسان لاس ورورې وي او نه پېري.

د دې آیت څخه څرگندیږي چې جنت کې به پیریان هم شامل وي، لکه څنگه چې انسانان به هم ورکې وي.

۱۱. اې د الله بندگانو! په دغه ورځ به الله د څارویو تر منځ هم انصاف وکړي، یو څاروی به د بل څخه بدله واخلي، د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمایل: «د قیامت په ورځ به تاسې هر تن ته خپل حقونه ورکړئ، چې تاسې ترې اخیستي وو، آن تر دې چې بې ښکرو مېږه به د ښکرورې مېږې څخه بدله واخلي، چې هغه یې وهلې ده».[1]

سبحان الله! عقل د الله عدل او حکمت ته حیران شي.

اې د الله بندگانو! د قیامت د ورځې، حساب او جزا باندې په ایمان لرلو کې لس مهمې خبرې شاملې دي، الله دې موږ له هغو کسانو څخه وگرځوي چې علمنامه په ښي لاس راکړي، او اسان حساب راسره وکړي.

ځان په دې خبره پوه کړئ، چې د جمعې په ورځ او شپه کې تر ټولو غوره عمل هغه په پیغمبر صلى الله عليه وسلم درود ویل دی، اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد (صلى الله عليه وسلم) درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او څلورو خلیفه گانو څخه، او همدارنگه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته ترې راضي شه.

---

(۱) رواه مسلم (۲۵۸۲).

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تس نس کړه، او د خپلو موحدو بندګانو مرسته وکړه.

اې الله! زمونږ هیوادونه په امن او امان کې وساته، زمونږ واکمنان اصلاح کړه او هغوی د هدایت په لاره روان کړه.

اې الله! د ټولو مسلمانانو پادشاهانو ته ستا د کتاب د نفاذ، او ستا د دین د عزتمن کولو توفیق ورکړه، او دغه بادشاهان په خپل رعیت باندې رحمت وګرځوه.

اې الله! مونږ له تا څخه اوس او په راتلوونکي کې هر ډول خیر غواړو، که هغه خیر مونږ پیژنو او که نه یې پیژنو، او همدارنګه د هر رنګه شرک څخه اوس او په راتلوونکي کې پناه غواړو، که هغه شرک مونږ پیژنو او کنه پیژنو.

اې الله! مونږ له تا څخه جنت غواړو، او د هغه وینا او عمل توفیق غواړو چې مونږ جنت ته نږدې کوي، او په تا پورې پناه غواړو د اور څخه او د هغه وینا او عمل څخه هم پناه غواړو چې مونږ اور ته نږدي کوي.

اې الله! زمونږ مریضانو ته شفا ورکړي، او مړو ته مو ښښنه وکړي، او په مصیبت کې راګیر تنانو ته مو عافیت او روغتیا ورکړې.

اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا کې خیر راکړه او په آخرت کې خیر راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته .

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ۸/۴
(د جنت لس صفتونه)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل يې ياد وساتئ، اطاعت يې وکړئ او د نافرمانۍ څخه يې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره يې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو! په تېرو خطبو کې مونږ د اخرت په ورځ د ایمان د ځینو غوښتنو په اړه خبرې کړې وې، چې پکې د شپېلۍ پوکېدل، د قیامت وېرووونکي حالتونه، د مخلوقاتو بیا راژوندي کېدل، د محشر میدان ته د خلکو راټولېدل، د بدلې او حساب مسألې شاملې وې، نن د الله په مرسته، د جنت په اړه خبرې کوو چې الله د مؤمنانو لپاره تیار کړی دی.

۱. اې د الله بندګانو! د اخرت په ورځ ایمان کې دا خبره هم شامله ده چې مونږ باید په جنت او دوزخ باندې ایمان ولرو، دا دواړه ځایونه د مخلوقاتو لپاره د تلپاتې استوګنې ځایونه دي، جنت د خوشالۍ هغه کور دی چې الله د مؤمنانو او متقیانو لپاره تیار کړی دی، چې د الله په شتون او په هغه څه ایمان لري، چې ایمان لرل پرې لازم دي، د الله او د هغه د رسول ﷺ اطاعت کوي، په جنت کې داسې ډول ډول نعمتونه دي چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو د هغې صفتونه اورېدلي، او د هغې خیال د د انسان په زړه کې تېر شوی دی، الله فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ هُمۡ خَيۡرُ ٱلۡبَرِيَّةِ ۝٧ جَزَآؤُهُمۡ عِندَ رَبِّهِمۡ جَنَّٰتُ عَدۡنٖ تَجۡرِي مِن تَحۡتِهَا ٱلۡأَنۡهَٰرُ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ذَٰلِكَ لِمَنۡ خَشِيَ رَبَّهُۥ ۝٨﴾

بېشکه هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي همدغه کسان د خلقو بهترین دي، د خپل رب په نیز د دوی بدله د تل اوسېدنې جنتونه دي چې د هغو له لاندې ولې بهېږي، چې دوی به په دغو کې تل ترتله همېشه وي، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي، دغه (وعده) د هغه چا لپاره ده چې له خپل رب نه وېرېږي.

او الله تعالی وایي:

﴿فَلَا تَعۡلَمُ نَفۡسٞ مَّآ أُخۡفِيَ لَهُم مِّن قُرَّةِ أَعۡيُنٖ جَزَآءَۢ بِمَا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

نو هېڅ یو نفس ته معلوم نه دي هغه څه چې د دوی لپاره پټ کړی شوي دي، د سترګو له یخوالي نه، لپاره د بدلې د هغو عملونو چې دوی به کول.

۲. اې مؤمنانو! جنت سل درجې لري، د عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روایت نقل دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: جنت سل درجې لري، د هرې دوو درجو ترمنځ فاصله د سل کاله سفر په اندازه ده، عفان وایي: لکه څومره چې د اسمان او ځمکې ترمنځ فاصله ده، او جنت فردوس د جنت تر ټولو لوړه درجه ده، له هغه ځایه څلور نهرونه رابهېږي، او عرش د دې درجې څخه پورته دی، کله چې هم تاسې د الله څخه څه غواړئ؛ نو جنت فردوس وغواړئ. (١)

۳. اې مسلمانانو! جنت بېلابېلې برخې لري، یعنې یو واحد جنت نه دی، او د دې ترمینځ نعمتونه هم سره مساوي نه دي، بلکې نعمتونه یې سره مختلف دي، اوسېدونکي یې د نېکو عملونو په اندازې سره په دې کې وېشل کېږي، دوه برخې بیا داسې دي چې ټول هر څه یې د سرو زرو دي، او د دوه نورو بیا ټول شیان د سپینو زرو دي، الله د لومړي دوو په اړه فرمایلي دي:

﴿وَلِمَنۡ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ﴾

او د هغه چا لپاره چې د خپل رب په وړاندې له ودرېدلو نه وېرېږي، دوه جنتونه دي.

بیا د هغو جنتونو په اړه چې د لومړنیو درجو څخه په نعمتونو کې کم دي، فرمایلي دي:

﴿وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ﴾

او له دغو دواړو نه غیر دوه نور جنتونه دي. د ابن جریر الطبري په تفسیر کې د ابو موسى الاشعري څخه روایت نقل دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: دوه جنتونه د سرو زرو دي چې د مقربانو (د

---

(١) رواه أحمد (٣١٦/٥)، وصحح إسناده محققو "المسند".

نږدې خلکو) لپاره دي، او دوه جنتونه د سپینو زرو دي چې د اصحاب الیمین (د ښې لاس خاوندانو) لپاره دي.

د عبدالله بن قیس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: "دوه جنتونه دي چې د سپینو زرو دي، د هغو لوښي او په هغوی کې ټول شیان د سپینو زرو دي، او دوه جنتونه دي چې د سرو زرو دي، د هغو لوښي او په هغوی کې ټول شیان د سرو زرو دي، په عدن جنت کې به د خلکو او د دې چې خپل رب ته وګوري، ترمینځ به یوازې د هغه د عزت او لویي پرده مانع وي".(١)

اې د الله بندګانو! په دې ځای کې د مقربینو او اصحاب الیمین ترمینځ د توپیر یادونه کول مناسب دي، مقربین (چې د "السابقین" په نوم هم یادېږي) هغه کسان دي چې په فرایضو او نوافلو پابندي کوي، او له ګناهونو او مکروهاتو ځان ساتي، مګر اصحاب الیمین (چې د "الأبرار" په نوم هم یادېږي) هغه کسان دي چې د فرایضو پابندي کوي، او له ګناهونو ځان ساتي، خو په نوافلو یې پوره حرص نه وي کړی، او شاید ځینې مکروهاتو کې واقع شوی وي، دا دواړه ډلې له ګناهونو (که هغه لوی وي یا کوچني) ځان ساتي، او که کومه تېروتنه وکړي؛ نو سمدلاسه توبه وباسي، د توبې وروسته د هغوی حالت د مخکې حالت په پرتله ښه کېږي، خو د السابقین حالت د ګناهونو څخه په ځان ساتنې کې لا لوړ دی.

اې د الله بندګانو! د السابقین پر الأبرار د فضیلت سبب څرګند دی، ځکه چې السابقین د الله د اطاعت په لار کې خپل ټول وس مصرفوي، او له معصیت څخه په بشپړه توګه ځان ساتي، فرایضو او نوافلو لکه لمونځ، روژه، عمره، حج او نور عبادتونه ترسره کوي، همدارنګه، نورو خلکو ته ګټه رسوي، خیر ته یې رابلي، په نیکیو امر او د بدیو څخه خلک منع کوي، جهاد، صدقه، د خلکو ترمنځ د جوړجاړي هڅې، د جوماتونو او څاهګانو جوړول او دې ورته نور نیک عملونه کوي.

خو ابرار په دې لار کې دومره هڅه نه ده کړې، هغوی په دې دواړو چارو کې چې د ځان او د نورو اصلاح ده؛ لږ کار کړی دی، نو د ثواب په لحاظ د السابقین په پرتله ټیټ دي.

د السابقین پر الأبرار د فضیلت د دلایلو څخه دا آیت دی:

﴿يُحَلَّوْنَ فِيهَا مِنْ أَسَاوِرَ مِن ذَهَبٍ﴾

دوی به په دغو (جنتونو) کې د سرو زرو په بنګړو سره ښایسته کولی شي

او د الأبرار په اړه الله فرمایلي دي:

﴿وَحُلُّوٓاْ أَسَاوِرَ مِن فِضَّةٍ﴾

او دوی ته به د سپینو زرو باهوګان واچولی شي.

د الواقعې سورت په پیل او اخر کې الله د سابقینو او د ابرارو ترمینځ د نعمتونو د توپیر یادونه کړې ده.

---

(١) رواه البخاري (٧٤٤٤) ومسلم (١٨٠).

٤. اې د الله بندگانو! جنتیان که څه هم ټول په جنت کې د اوسېدونکو په صفت کې شریک دی، لیکن د نعمتونو په لحاظ سره متفاوت دي، السابقین بیا په خپلو کې د نعمتونو په لحاظ سره توپیر لري، او همدارنگه ابرار هم په خپلو کې د نعمتونو په لحاظ سره توپېر لري، د ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت نقل دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: جنتیان به د هغو خلکو (اهل الغرف) ځایونه ګوري چې له دوی څخه لوړ دي، لکه څنگه چې تاسې یو پرڅیدونکی ستوری ګورئ چې کله د ختیځ څخه راپورته کیږي، او یا د لویدیځ لورې ته ډوبیږي، سره د توپیره چې جنتیان به یې له یو بله سره لري" صحابوو وویل: اې د الله رسوله! دا خو د انبیاوو ځایونه دي، هلته د انبیاوو پرته به بل هیڅوک نشي رسېدلی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: "هو، قسم په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده، هغه کسان به هم ورته ورسیږي چې پر الله یې ایمان راوړی وي او د پیغمبرانو تصدیق یې کړی وي". [1]

٥. اې د الله بندگانو! د جنتیانو لپاره بل لوی نعمت هغه ښځې دي، په نصوصو کې راغلي دی چې هر مؤمن ته به په جنت کې دوه حورې ورکول کېږي، او ترځنگ به یې هغه ښځې هم وي چې دنیا کې ورسره وې، الله به هر تن د هغه د عمل په اندازه حورې زیاتوي، د حورو د نعمت په اړه آیتونه او حدیثونه راغلي دي، چې له هغې څخه یو دا آیت دی:

﴿وَحُورٌ عِينٌ ۝٢٢ كَأَمْثَٰلِ ٱللُّؤْلُوِ ٱلْمَكْنُونِ﴾

او (د دوی لپاره) پیمخې غټ سترګې حورې دي، د پټو ساتل شویو ملغلرو په شان.

سعدي رحمه الله ویلي دي: حورې هغه ښځې دي چې سترګې به یې په کحل (رانجو) سره ښکلې شوې وي، ښکلا او تازګي به لري. "العِین" بیا هغه ښځې دي چې سترګې یې غټې او ښکلې وي، او د ښځو د سترګو ښکلا د هغې د جمال او حسن لوی دلیل ګڼل کېږي، الله فرمایلي دي: (كَأَمْثَالِ اللُّؤْلُؤِ الْمَكْنُونِ) یعنې دوی د سپینو، نرم او صفا لعلونو په څېر دي. "المکنون" یعنې د خلکو له سترګو، باد او لمر څخه به پټې ساتل شوي وي، په ټولو رنګونو کې به یې ښکلی او ښایسته رنګ وي، هېڅ ډول عیب به نه لري، حور العین به هم ددې په څیر وي، هیڅ ډول عیب به نه لري، د ټولو کمالاتو لرونکې به وي، او ښکلا به یې په هر اړخ کې مکمله وي، که یو څوک یې په اړه فکر وکړي، یوازې هغه څه به وویني چې زړونو ته حوشالي او سترګو ته ښکلا ورکوي. پای.

په بل آیه کې یې الله صفت داسې بیان کړي دی:

﴿كَأَنَّهُنَّ ٱلْيَاقُوتُ وَٱلْمَرْجَانُ﴾

ګویا کې دغه (حورې) یاقوت لعل دي، یا مرجان دي.

یعنې په صفاوالی کې به د یاقوت او په سپینوالی کې به د مرجان په څیر وي. [2]

---

(١) رواه البخاري (٣٢٥٦) ومسلم (٢٨٣١).

(٢) رواه ابن جرير في تفسير الآية عن ابن زيد.

په الواقعه سورت کې الله د جنت د ښځو صفت داسې بیان کړي دی:

﴿إِنَّآ أَنشَأۡنَٰهُنَّ إِنشَآءٗ ۝٣٥ فَجَعَلۡنَٰهُنَّ أَبۡكَارًا ۝٣٦ عُرُبًا أَتۡرَابًا ﴾

بېشکه مونږ دغه (ښځې/حورې) پیدا کړې دي، خاص پیدا کول، نو مونږ دغه (حورې) پېغلې ګرځولې دي، په خپلو خاوندانو مینانې (او) همزولې.

عُرُباً" یعنې خپلو خاوندانو سره به مېنه کوونکې وي، او "أَتْرَاباً" یعنې ټول به سره همزولي وي، چې درې دیرش کاله عمر به لري.

د جنت د ښځو صفت الله په پاکۍ سره کړی دی:

﴿وَلَهُمۡ فِيهَآ أَزۡوَٰجٞ مُّطَهَّرَةٞۖ وَهُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ﴾

او د دوی لپاره په دغو (جنتونو) کې ډېرې پاکې بېبیانې (ښځې) دي، او دوی به په دغو کې همېشه وي.

ابن القیم رحمه الله وایي: دوی به له حیض، اودس ماتي، او ټول هغه اذیتونه څخه چې ښځې یې په دنیا کې لري؛ پاکې به وي، او همدارنګه به د هغوی باطن هم له کینې، د خاوندانو ته د اذیت، په هغوی د ظلم، او د نورو ناسمو ارادو څخه پاک وي. پای. [۱]

الله د دویو صفت داسې کړی چې د دوی سترګې به یوازې خپلو میړونو ته وي، بل چا ته به نه ګوري:

﴿فِيهِنَّ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ ﴾

په دغو (جنتونو) کې به د سترګو رامنع کوونکې حورې وي.

او فرمایي:

﴿حُورٞ مَّقۡصُورَٰتٞ فِي ٱلۡخِيَامِ﴾

په خېمو کې محفوظې ساتلې شوې حورې به وي.

ابن القیم رحمه الله وایي: (مقصورات فی الخیام) مانا داده د خاوندانو پرته به نورو ته د ډول او سینګار کولو څخه به رامنع کړی شوي وي، سینګار او ډول به یوازې خپلو خاوندانو ته کوي، له خپل ځایونو به بهر نه ځي، خپلو خاوندانو سره به وي، او له دې پرته نور څه به نه غواړي، بل صفت یې چې الله کړی (قاصرات الطرف) دا صفت یې د لومړي څخه ډېر کامل دی، چې د محبت له امله به یوازې خپلو خاوندانو ته ګوري، په لیدو به یې خوشالیږي، او له خاوندانو پرته به بل چا ته نه ګوري. پای. [۲]

په حدیثونو کې د دوی د ښکلا او ښایست داسې بیان شوی چې عقلونه ورته حیران شي، د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: " لومړۍ ډله چې جنت ته به

(۱) "روضة المحبین"، الباب التاسع عشر، ص ۳٤۸، تحقیق: محمد عزیز شمس، الناشر:دار الفوائد - مکة.

(۲) "روضة المحبین"، الباب التاسع عشر، ص ۳٤۸، تحقیق: محمد عزیز شمس، الناشر: دار الفوائد - مکة، باختصار یسیر.

داخلیږي، د څوارلسمې سپوږمۍ د روښاني په څیر به ښایسته وي، له دې وروسته چې کومه ډله داخلیږي، هغه به په اسمان کې د پرڼیدونکي ستورې د ښکلا په څیر به ښایسته وي، د ټولو زړونه به داسې وي لکه د یو تن زړه چې وي، په دوی کې به اختلاف او کینه نه وي، هر یو تن ته به د حور العین څخه دوه ښځې ورکړل شي، چې زیاتې ښکلا له املې به یې د پنډۍ مغز د غوښې او هډوکو له شا څخه هم ښکاري". [1]

ابن حجر رحمه الله وایي: (مخ) هغه مغز ته وایي چې د هدوکې په مینځ کې وي، دلته ترې مراد د شفاف والي صفت دی، د هډوکې به مینځ کې چې کوم مغز وي، هغه به په هډوکې، غوښه او څرمن سره نه پټیږي. پای. [2]

د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "که د جنت ښځو څخه یوه ښځه ځمکې ته راښکاره شي، ترمینځ یې چې څه دي هغه ټول به روښانه شي، او فضا به د خوشوبي څخه ډکه شي، هغه پرونې چې په سر به یې پروت وي، د دنیا او هغه څه چې په دنیا کې دي، له هغه ټولو څخه غوره دی". [3]

د فائدې لپاره: د شیخ ابن عثیمین رحمه الله څخه پوښتنه وشوه: آیا د حورو دا ځانګړتیاوې چې لري د دنیا د ښځو لپاره هم وي او کنه؟

هغه ځواب ورکړ: ما ته داسې ښکاري چې د دنیا ښځې به له حورو غوره وي، حتی په ظاهري ځانګړتیاوو کې به هم له حورو غوره وي. والله أعلم.

٦. اې مسلمانانو! د جنت له نعمتونو څخه بل نعمت هغه په جنت کې څښاک دی، چې څلور ډولونه لري، اوبه، شیدې، شراب او شهد به وي، دا ټول به د نهرونو په شکل کې بهیږي چې د مؤمنانو لپاره به وي، الله فرمایي:

﴿مَّثَلُ ٱلْجَنَّةِ ٱلَّتِي وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَۖ فِيهَآ أَنْهَٰرٌ مِّن مَّآءٍ غَيْرِ ءَاسِنٍ وَأَنْهَٰرٌ مِّن لَّبَنٍ لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُۥ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ خَمْرٍ لَّذَّةٍ لِّلشَّٰرِبِينَ وَأَنْهَٰرٌ مِّنْ عَسَلٍ مُّصَفًّىۖ﴾

د هغه جنت حال (او صفت) چې پرهېزګارانو ته یې وعده ورکړی شوې ده، په هغو کې د داسې اوبو ولې دي چې خرابېدونکې نه دي او د داسې شیدو (پیو) ولې دي چې خوند (او مزه) به یې تغیر نه مومي (نه خرابېږي) او د داسې شرابو ولې دي چې څښونکو ته مزه ورکوونکي وي او د صفا کړی شویو شاتو ولې دي.

د اوبو په اړه الله فرمایلي دي: (غَيْرِ آسِنٍ) یعنې په ډېر وخت پاتې کیدو سره به نه خرابېږي.

---

(١) رواه البخاري (٣٢٤٦) ومسلم (٢٨٣٤).

(٢) فتح الباري (٣٧٥/٦).

(٣) رواه البخاری (٢٧٩٦).

د شیدو په اړه الله فرمایلي دي: (لَّمْ يَتَغَيَّرْ طَعْمُهُ) یعنې خوند به یې نه خرابیږي، چې تروې شي او داسې نور، ځکه چې دا شیدې له حیواناتو نه دي ترلاسه شوي، چې خوند به یې خراب شي، بلکې الله دا شیدې د سیندونو په بڼه پیدا کړې دي؛ نو په خپل شکل به باقي پاتې وي [1].

د شراب په اړه الله فرمایلي دي: (من خمر لَذَّةٍ لِّلشَّارِبِينَ) دا په دې دلالت کوي چې د دنیا د شرابو په څښر به نه وي، بلکې خواږه به وي، په بل آیت کې راغلي دي: (لَا فِيهَا غَوْلٌ)، یعنې دا به په خیټه درد نه پیدا کوي، او همدارنگه په بل آیت کې دي: (وَلَا هُمْ عَنْهَا يُنزَفُونَ) یعنې د دې له امله به یې عقلونه نه خرابیږي.

د شهدو په اړه الله فرمایلي دي: (من عسل مُّصَفًّى)، یعنې له هر ډول ناپاکۍ او ککړتیا څخه به پاک وي کوم چې عادتا په شهدو کې وي.

٧. د جنت د اوسیدونکو لپاره بل نعمت هغه د جنت خوراکونه او میوې دي، په صحیح حدیث کې راغلي چې د جنتیانو لپاره به په جنت کې لومړۍ مېلمستیا د کب (ماهي) ځیګر وي، یعنې د ځیګر شاوخوا ځایونه چې هغه ډېر خوندور وي، دا خبره د ثوبان رضي الله عنه په حدیث کې چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مولى وو؛ راغلې، یو یهودي عالم د رسول الله ﷺ خوا ته راغې؛ څه پوښتنې یې کولې، او د ځینو مسلو په اړه یې ازمیښت کولو، په دې حدیث کې راغلي چې یهودي وپوښتل: "جنتیان چې کله جنت ته داخل شی، د هغوی به لومړۍ مېلمستیا څه وي؟ "رسول الله ﷺ وفرمایل: "د کب (ماهي) د ځیګر زیاتي برخه به د هغوی میلمستیا وي". بیا هغه یهودي وپوښتل: " له دې وروسته به د دویو خوراک څه وي؟" رسول الله ﷺ وفرمایل: "د جنت غویي به ورته ذبح کړل شي، چې د جنت له وښو به یې خوراک کولو". یهودي بیا وپوښتل: "د جنتیانو څښاک به څه وي؟" رسول الله ﷺ وفرمایل: "څښاک به یې د جنت له سلسبیل چینې څخه وي ... د حدیث تر آخیره پورې". [2]

د جنتیانو د خوراک او مېوو په اړه ډېر نصوص دي، چې دا ځای د هغې ټولو د بیانولو نه دي، الله په دې آیت کې ځینې رایوځای کړي دي:

﴿وَأَمْدَدْنَاهُم بِفَاكِهَةٍ وَلَحْمٍ مِّمَّا يَشْتَهُونَ﴾

او مونږ به دوی ته ور زیاتې کړو، نورې مېوې او هغه غوښې چې د دوی زړه یې غواړي.

٨. اې مؤمنانو! د جنتیانو لپاره به په جنت کې تر ټولو ستر نعمت، هغه د الله لیدل وي، د صهیب رومي رضي الله عنه څخه روایت نقل دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "کله چې د جنت خلک جنت ته داخل شي، الله به ورته ووایي: نور څه غواړئ چې دریې کړم؟ هغوی به ووایي: آیا زمونږ مخونه دې روښانه نه کړل؟ آیا مونږ دې جنت ته داخل نه کړو؟ او له اور څخه دې ونه ساتلو؟ بیا

(١) انظر تفسير الطبري والسعدي.

(٢) رواه مسلم (٣١٥).

به پرده پورته کړل شي؛ کوم څه چې جنتیانو ته ورکړل شوي وي؛ په هغه ټولو کې به جنتیانو ته د الله د ذات د لیدلو څخه بل څخه ډېر خوښ نه وي". [١]

٩. اې مسلمانانو! د جنت نعمتونه به زیاتیږي خو ختمیږي به نه، د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "په جنت کې به یو بازار وي، چې هره جمعه به جنتیان ورځي، د شمال له لورې به باد راوالوځي، او د دوی په مخونو او جامو به وگرځي؛ نو جنتیان به نور هم ښکلي شي، کله چې خپلو کورونو ته لاړ شي؛ ښکلا به یې لا ډېره شوي وي، نو د کورنۍ خلک به ورته ووایي: قسم په الله چې تاسو زموږ د نه شتون په موده کې لا ښکلي او ډېر ښایسته شوي یاست! جنتیان به د خپلې کورنۍ خلکو ته ووایي: قسم په الله چې تاسو هم زموږ د نه شتون په موده کې ښکلي او ښایسته شوي یاست". [٢]

بارک الله لي ولکم فی القرآن العظیم، ونفعني وإیاکم بما فیه من الآیات والذکر الحکیم.

دویمه خطبه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام علی من لانبي بعده، أما بعد: اې د الله بندگانو! له الله څخه ووېرېږئ او په دې پوه شئ چې د جنت نعمتونه ډېر مختلف او متفاوت دي، په دې خبرې د دلالت لپاره د مغیره بن شعبه رضي الله عنه حدیث چې له رسول الله ﷺ څخه روایت دی؛ بسنه کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې موسی علیه السلام له خپل رب څخه پوښتنه وکړه: "اې ربه! د ادنې جنتي مقام به څنگه وي؟ " الله ورته وفرمایل: "دا به هغه تن وي، چې د ټولو جنتیانو څخه به وروسته جنت ته داخل شي، ورته وبه ویل شي: جنت ته داخل شه. هغه به ووایي: اې ربه! زه به څنگه داخل شم، حال دا چې ټول ځایونه او برخې جنتیانو اخیستې دي. ورته به وویل شي: آیا غواړې چې د دنیا د پادشاهانو په اندازه ملکیت درکړل شي؟ هغه به ووایي: راضي یم، اې زما ربه! ورته وبه ویل شي: ستا لپاره د هغې په اندازه، بیا د هغې په اندازه، بیا د هغې په اندازه، او بیا د هغې په اندازه ملکیت شو، په پنځم ځل به دا تن ووایي: راضي یم، اې زما ربه! بیا به ورته وویل شي: دغه او ترڅنگ د دې لس برابره نور، دا ټول ستا ملکیت شو، او ورسره څه چې ستا زړه غواړي او په څه چې دې سترگې خوږیږي؛ ستا شول. هغه تن به ووایي: "راضي یم، اې زما ربه!

بیا موسی علیه السلام پوښتنه وکړه: اې ربه! د اعلی جنتي مقام به په جنت کې څنگه وي؟ الله ورته وفرمایل: "دا هغه کسان دي چې ما غوره کړي دي، خپل ولیان مې گرځولې، او عزتونو ته به هیڅ

(١) رواه مسلم (١٨١).
(٢) رواه مسلم (٢٨٣٣).

تغییر ورنه رسیږي، د دویو لپاره به داسې نعمتونه وي چې سترګو لیدلي نه دي، غوږونو یې صفت اورېدلي نه دي، او د انسان په زړه کې یې خیال هم تېر شوی نه دي.[١]

اې د الله بندګانو! د جنت او د هغې د نعمتونو په اړه ډېرې خبرې دي، څوک چې غواړي د جنت او د هغې د صفاتو اړوند، او همدارنګه د جنتیانو د صفاتو اړوند پوهه او معلومات ترلاسه کړي؛ نو د ابن قیم الجوزیه رحمه الله کتاب «حادي الأرواح إلى بلاد الأفراح» دې وګوري.

١٠. اې مؤمنانو! جنت او دوزخ الله پیدا کړي دي، او اوس موجود دي، په دې خبره دلیل د قرآن کریم دا آیت دی:

﴿وَسَارِعُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ أُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِينَ﴾

او تاسو له یو بل نه تلوار کوئ هغه (مغفرت) بخښنې ته چې د خپل رب له جانبه ده او داسې جنت ته چې د هغه پلن والی د اسمانونو او د ځمکې (په اندازه) دی، د پرهېزګارانو لپاره تیار کړی شوی دی.

په دې آیت کې شاهد: ﴿أُعِدَّتۡ﴾ کلمه ده، چې "تیاره شوې" په معنا سره دی.

د حدیثو څخه دلیل دا دی چې رسول الله ﷺ بلال رضي الله عنه ته وفرمایل: په مسلمانۍ کې ما ته ستا هغه ډېر هیله بښوونکی عمل وښایه؛ ځکه په جنت کې مې له خپل ځانه مخکې ستا د خپو غږ واورېد[٢].

او دا چې جنت الله پاک له مخکې څخه پیدا کړي، دلیل په دې خبره د رسول الله حدیث دي چې فرمایلي یې دي: "زه جنت ته داخل کړای شوم؛ نو هلته مې د ملغلرو ګمبدي ولیدلې، چې خاوره یې د مشکو وه".[٣]

او په دې خبره دلیل چې جهنم هم الله د مخکې نه پیدا کړی، دا آیت دی:

﴿وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ﴾

او له هغه اور نه ځان وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی.

په دې آیت کې شاهد: ﴿أُعِدَّتۡ﴾ کلمه ده، چې د "تیاره شوې" په معنا سره دی.

په حدیثو کې دي چې رسول الله ﷺ عمرو بن لحي ولید چې خپل کولې یې په دوزخ کې په ځان پسې کش کولې، ځکه هغه لومړنۍ تن وو چې د ابراهیم علیه السلام دین یې بدل کړ او بتان یې د عربو جزیرې ته راوړل.[٤]

---

(١) رواه مسلم (١٨٩).

(٢) رواه البخاري (١١٤٩) ومسلم (٢٤٥٨) عن أبي هريرة رضي الله عنه، واللفظ لمسلم.

(٣) قطعة من حديث الإسراء الطويل الذي رواه مسلم (١٦٣) عن أنس بن مالك رضي الله عنه.

(٤) انظر حديث أبي هريرة الذي رواه البخاري (٣٥٢١) ومسلم (٢٨٥٦).

همدارنگه رسول الله ﷺ هغه شئه په اور کې ولیده چې د یوې پیشۍ له امله ورته عذاب ورکول کیده، ځکه چې پیشې ته یې نه خوراک ورکولو، او نه یې پرېښوده، د ځمکې حشرات به یې خوړل.[1]

۱۱. اې د الله بندگانو! جنت او دوزخ به د تل لپاره باقي پاتې وي، نه ختمیږي او نه له مینځه ځي، د دې خبرې دلیلونه په قرآن او سنت کې واضحه دي، ځکه په څو ځایونو کې په جنت د مؤمنانو او په دوزخ د کفارو د تل پاتې کیدو ذکر راغلی دی، او څوک چې وایي جنت او دوزخ به له مینځه لاړ شي، د هغوی خبره ضعیفه او د اعتبار وړ نه ده، ځکه دا د شکاره نصوصو مخالفت دی، الله خلکو ته په داسې طریقې خطاب کړي چې هغوی پرې پوهېږي؛ نو لازمه ده چې نصوص لکه څنگه چې راغلي دي، همغسې پرته له تحریف او تکلف څخه ومنل شي.

اې د الله بندگانو! دا لس مسائل دي، چې په جنت ایمان لرلو کې داخل دي، هر مؤمن باید دا مسائل زده کړي، څو جنت یې په یاد وي، د عمل لپاره هڅه وکړي او له سستي څخه ځان وساتي.

اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه او په آخرت کې نېکي راکړه، او موږ د دوزخ له عذابه وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم تسليما كثيرا

(۱) انظر حديث ابن عمر الذي رواه البخاري (۲۳٦٥) ومسلم (۲۲٤۲).

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ٨/٥
(د جهنم حالت)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل يې ياد وساتئ، اطاعت يې وکړئ او د نافرمانۍ څخه يې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره يې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمايي:

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو! په تېرو خطبو کې د قیامت د ورځې په اړه ځینې موضوعات ذکر شو، لکه په شپېلۍ کې پوک وهل، د قیامت د ورځې د وېرووونکي حالتونه، د مخلوقاتو بیا ژوندي کېدل، د محشر میدان ته د خلکو راټولېدل، د اعمالو حساب او جزا، او د جنت نعمتونه، نن د الله په مرسته، د دوزخ په حالاتو خبرې کوو، چې الله دې مونږ ټول ترې وساتي.

١. اې د الله بندګانو! په قیامت ایمان کې په جنت او دوزخ ایمان لرل هم شامل دي، دغه دواړه ځایونه د مخلوقاتو لپاره ابدي کورونه دي، جنت بیا د نعمتونو کور دی چې الله د مؤمنانو لپاره تیار کړی دی، او دوزخ د عذاب ځای دی چې الله دوه ډوله خلکو ته تیار کړی دی، کفار او د هغو مؤمنانو لپاره چې کبیره ګناهونه يې کړي وي.

٢. اې مؤمنانو! مؤمنانو ته په دوزخ کې د عذاب د ورکولو حکمت دا دی چې له ګناهونو پاک شي، بیا يې الله جنت ته داخل کړي، ځکه چې جنت پاک ځای دی، او د هغه چا داخلېدل ورته مناسب دي چې پاک وي، ګناهونه بیا نجاست او پلتي ده؛ نو لومړی له هغې ځان پاکول واجب دي، چې دا د الله حکمت دی، خو کله الله د خپل فضل له مخې د مؤمنانو کبیره ګناهونه، پرته له عذاب ورکولو؛ بخښي، الله فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ﴾

بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره دې (څوك) شريك كړی شي او هغه بخښي هغه (ګناه) چې له دې (شرك، يا كفر) نه كمه وي د چا لپاره چې وغواړي.

كه چا ته الله معافي وكړي؛ نو هغه يې فضل او مهرباني ده، او كه يو چا ته عذاب وركوي؛ نو هغه يې عدل او انصاف دی، او كافر ته په عذاب وركول كې حكمت د هغې ذلت او سپكاوی دي، نه د هغې پاكي ده، ځكه چې كفر يې د اصل نه دي، هغه په اور سره نه ختميږي؛ نو كافر به د تل لپاره په اور كې پاتې وي، الله دې تر پې مور ټول وساتي.(١)

٣. دوزخ داسې عذابونه لري چې د انسان په ذهن كې نه راځي. الله فرمايي:

﴿إِنَّآ أَعۡتَدۡنَا لِلظَّٰلِمِينَ نَارًا أَحَاطَ بِهِمۡ سُرَادِقُهَاۚ وَإِن يَسۡتَغِيثُواْ يُغَاثُواْ بِمَآءٖ كَٱلۡمُهۡلِ يَشۡوِي ٱلۡوُجُوهَۚ بِئۡسَ ٱلشَّرَابُ وَسَآءَتۡ مُرۡتَفَقًا﴾

بېشکه مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار كړی دی چې له دغو نه د هغه پردې چاپېره شوي دي ـ او كه دوی (له تندې نه) فرياد وكړي (نو) په داسې اوبو سره به يې فرياد رسي وشي لكه زوې (د تيلو خټ) چې مخونه به وريتوي، بد دی دغه مشروب او دغه بد ځای دی د اوسېدلو.

او الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَعَنَ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَأَعَدَّ لَهُمۡ سَعِيرًا ٦٤ خَٰلِدِينَ فِيهَآ أَبَدٗاۖ لَّا يَجِدُونَ وَلِيّٗا وَلَا نَصِيرٗا ٦٥ يَوۡمَ تُقَلَّبُ وُجُوهُهُمۡ فِي ٱلنَّارِ يَقُولُونَ يَٰلَيۡتَنَآ أَطَعۡنَا ٱللَّهَ وَأَطَعۡنَا ٱلرَّسُولَا۠﴾

بېشکه الله په كافرانو لعنت كړی دی او د دوی لپاره يې سخت لمبې وهونكی اور تيار كړی دی، په داسې حال كې چې په ده كې به همېشه وي، تل ترتله، دوی به نه كوم دوست (كارسازی) مومي او نه مددګار، په هغې ورځ كې چې د دوی مخونه به په اور كې اړولی راړولی شي ـ، دوی به وايي: ای كاشكي مونږ! د الله اطاعت كړی وی او د رسول اطاعت مو كړی وی.

٤. كافران به د تل لپاره په دوزخ كې پاتې وي، ليكن ګناهګار مؤمنان به په دوزخ كې - كه چيرته ورته الله بښنه ونه كړي - تر يو معلوم وخته به په دوزخ كې وي، د كړو ګناهونو په اندازه به عذاب وركول كيږي، لكه د ژبې او شرمګاه ګناهونه، د خپلولې د پرېكولو ګناه، ناروا شيان اوربدلو ګناه، ناروا مال خوړلو ګناه او داسې نور ګناهونه، ليكن د دوزخ اور به د سجدو ځايونو نه سوزوي، په دې كې د لمانځه ځانګړی عزت او شرف دي، او د عذاب شدت به مختلف وي، څوك به ګيټيو پورې په اور كې وي، څوك به تر زنګونانو پورې وي، څوك به تر تشو پورې وي، او څوك به تر مری

(١) انظر "أضواء البيان" في الكلام على تفسير قوله تعالى في سورة الجاثية (ولهم عذاب مهين)، الآية: ٩، وانظر كذلك "دفع إيهام الاضطراب" في خاتمة كلامه على قول الله تعالى: (قال النار مثواكم إلا ماشاء الله)، الأنعام: ١٢٨.

پورې په اور کې وي[١]، دا په دې خبره دلالت کوي چې عذاب به مختلف وي په چا به کم او په چا به زيات وي، کله چې دويو ته د اور څخه خپله برخه عذاب ورکړل شي، بيا به د اور څخه په داسې حال کې راويستل شي، چې پوستکي به يې سوځيدلې وي، او هډوکې به يې ښکاري، بيا به د جنت په اول کې يو نهر وي چې هغې ته به ورداخل کړل شي، چې هغې ته (ماء الحياة) ويل کيږي، بدونونه به يې داسې راجوړ شي، لکه څرنگه چې يو دانه چې د خټو او زگ ډکو اوبه کې راشنه شي، کله چې گناهگار مسلمانان د گناهونو څخه پاک شي، بيا به جنت ته داخل کړل شي.[٢]

٥. دوزخ د لوی ابادۍ، د سختې وېرې او سختې گرمۍ ځای دي، د هغه د لوی ابادۍ بيان د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په حديث کې شوی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "دوزخ به په داسې حال کې راوړل شي چې اويا واگي به لري، او هر واگې سره به يې اويا زره ملايکې وي، چې هغوی به يې راکشوي". [٣]

٦. د دوزخ وېروونکی منظر د الله په دې قول کې بيان شوی دی:

﴿إِنَّهَا تَرۡمِي بِشَرَرٖ كَٱلۡقَصۡرِ﴾

بېشکه دغه (اور) داسې سرې سکروټې ولي (غورځوي)، لکه اوچتې مانۍ.

د اور بڅرکې به د «قصر» په څېر وي، قصر د قَصَرة جمعه ده، چې د ونې د تنې بيخ ته وايي[٤]، د اور هغه بڅرکي چې په هوا کې به پورته کيږي، د ونې د بيخ د تنې په اندازه به وي، الله دې موږ ټول ورڅخه وساتي.

٧. د دوزخ د اور د شدت او سختۍ په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "ستاسې د دې نړۍ اور د دوزخ د اور له اويا برخو څخه يوه برخه ده". صحابوو پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! يوازې دا اور کافی وو کنه. رسول الله ﷺ وفرمايل: "د دوزخ اور د دنيا د اور څخه په نهو شپېتو برخو زيات شوی دی، او هره يوه برخه يې د دنيا د اور په څېر ده"[٥]

٨. اې مسلمانانو! دوزخ اوه دروازې لري، چې له هرې دروازې به معلومه برخه خلک داخليږي، الله فرمايي:

﴿وَإِنَّ جَهَنَّمَ لَمَوۡعِدُهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٤٣ لَهَا سَبۡعَةُ أَبۡوَٰبٖ لِّكُلِّ بَابٖ مِّنۡهُمۡ جُزۡءٞ مَّقۡسُومٌ﴾

او بېشکه جهنم، خامخا د دوی د ټولو د وعدې ځای دی، د هغه اوه دروازې دي، د هرې دروازې لپاره به تقسيم (بېله) کړی شوې برخه وي له دوی نه.

---

(١) رواه مسلم (٢٨٤٥) عن سمرة بن جندب، رضي الله عنه.

(٢) انظر "صحيح البخاري" (٧٤٣٧،٧٤٣٩) ومسلم (١٨٢) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(٣) انظر «صحيح مسلم» (٢٨٤٢).

(٤) انظر تفسير الآية عند ابن جرير الطبري في «تفسيره».

(٥) رواه البخاری (٣٢٦٥) ومسلم (٢٨٤٣) عن أبي هريرة رضي الله عنه، واللفظ للبخاري.

٩. د دوزخيانو خوراک به يو له بله سره مختلف وي، لکه څرنگه چې د خپلو گناهونو د مقدار او کيفيت له مخې يې هر چاته ببلابېل عذابونه ورکول کيږي، د ځينې دوزخيانو خوراک به غسلين وي، هغه مواد چې د دوزخيانو له زخمونو څخه به راوځي، الله فرمايلي دي:

﴿وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنْ غِسْلِينٍ﴾

او نه څه طعام، سوا له غِسلين (د دوزخيانو د زخمونو د وينې او زوې) نه.

د ځينو دوزخيانو خوراک به ضَريع وي، ضريع هغه وچ بوټی دی چې په دنيا کې د څارويو لپاره هم مناسب نه دی، الله فرمايي:

﴿لَّيْسَ لَهُمْ طَعَامٌ إِلَّا مِن ضَرِيعٍ﴾

د دوی لپاره به طعام نه وي مگر له اغزنې ترخې ونې نه

د ځينو دوزخيانو خوراک به زَقُّوم وي، زقوم بيا د دوزخ يوه ونه ده چې ډېر بد منظر او بد خوند لري. الله فرمايي:

﴿أَذَٰلِكَ خَيْرٌ نُّزُلًا أَمْ شَجَرَةُ ٱلزَّقُّومِ ﴿٦٢﴾ إِنَّا جَعَلْنَٰهَا فِتْنَةً لِّلظَّٰلِمِينَ ﴿٦٣﴾ إِنَّهَا شَجَرَةٌ تَخْرُجُ فِىٓ أَصْلِ ٱلْجَحِيمِ ﴿٦٤﴾ طَلْعُهَا كَأَنَّهُۥ رُءُوسُ ٱلشَّيَٰطِينِ ﴿٦٥﴾ فَإِنَّهُمْ لَءَاكِلُونَ مِنْهَا فَمَالِـُٔونَ مِنْهَا ٱلْبُطُونَ﴾

ايا دغه د مېلمستيا په لحاظ غوره دي، يا د زقوم ونه، بېشکه مونږ دغه (ونه) د ظالمانو (مشرکانو) لپاره فتنه (او عذاب) ګرځولې ده، بېشکه دغه داسې ونه ده چې د دوزخ په ښخ کې راوځي، د دغې وړې، ګوياکې هغه د شيطانانو سرونه دي، پس بېشکه دوی به خامخا له هغې نه خوړونکي وي، نو له هغې نه به د خپلو خټو ډکوونکي وي.

١٠. د دوزخيانو څښاک به ګرمې اوبه وي، چې د سر د پاسه به وربانديې تويولی شي، په ګرمو اوبو سره به ورته د بدن د باندې او او د بدن په داخل کې عذاب ورکول کيږي، پوستکي به يې ويلې او کولمې به يې ټوټې ټوټې شي، الله فرمايلي دي:

﴿فَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ يُصَبُّ مِن فَوْقِ رُءُوسِهِمُ ٱلْحَمِيمُ ﴿١٩﴾ يُصْهَرُ بِهِۦ مَا فِى بُطُونِهِمْ وَٱلْجُلُودُ﴾

نو هغه کسان چې کافران شوي دي د دوی لپاره به د اور جامې پرې کړی شي، د دوی د سرونو له پاسه به ګرمې ايشېدلې اوبه اچولی شي،) په دغو (اوبو) سره به هغه څه (کولمې) خوړلې کړی شي چې د دوی په ګېډو کې دي او څرمنې (د دوی هم) .

او بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿وَسُقُوا۟ مَآءً حَمِيمًا فَقَطَّعَ أَمْعَآءَهُمْ﴾

او په دوی ډېرې ګرمې اوبه ورځښولی شي، نو د دوی کولمې به ټوټې ټوټې کړي

د ځښاک نور ډولونه هم شته چې په دوزخیانو به څکولی شي، چې الله فرمایلي دي:

﴿هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ٥٧ وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ﴾

دغه اېشېدلې اوبه او زوې دي، نو دوی دې دا وڅکي، او بل (عذاب) دی له دغه قسم نه، څو قسمه.

غَسَّاق هغه مایعات دي چې د دوزخیانو د سوځېدلو پوستکو څخه به رابهېږي.

١١. اې د الله بندګانو! د دوزخ تر ټولو سپک عذاب هغه دي چې د یو تن د پښو د لاندې به دوه سکروټې کیښودل شوي وي، چې د هغې له امله به یې مغز جوش کوي او خوټېږي به. (١)

١٢. د قیامت په ورځ به د درې ډولـه خلکو عذاب تر هرچا سخت وي، د فرعون د کورنۍ، چې هغه عبارت له فرعون او د هغه د پیروانو څخه ده، بل د هغه چا چې المائدې د معجزې څخه یې انکار کړي، او بل د منافقانو، په مخکنو خبرو دلیل دا آیتونه دي:

﴿وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

او په هغې ورځ کې چې قیامت قایم شي (نو ملایکو ته به وویل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ

او دا قول د الله تعالی:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بَعۡدُ مِنكُمۡ فَإِنِّيٓ أُعَذِّبُهُۥ عَذَابٗا لَّآ أُعَذِّبُهُۥٓ أَحَدٗا مِّنَ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾

نو په تاسو کې چې چا له دې نه بعد کفر وکړ، نو بېشکه زه هغه لره عذاب ورکوونکی یم، داسې عذاب، چې په مخلوقاتو کې هېڅ یو کس ته هم هغه (شان) عذاب نه ورکوم

او د منافقانو په اړه الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ فِي ٱلدَّرۡكِ ٱلۡأَسۡفَلِ مِنَ ٱلنَّارِ﴾

بېشکه منافقان د اور تر ټولو لاندینۍ طبقه کې دي او ته به کله هم د هغوی لپاره څوك مدد کوونکی ونه مومې.

١٣. په دوزخ به دوه ډولـه خلک ورتیریږي، مؤمنان او منافقان، څرنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَإِن مِّنكُمۡ إِلَّا وَارِدُهَاۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ حَتۡمٗا مَّقۡضِيّٗا﴾

او نشته دی په تاسو کې هیڅوك مګر ده ته واردېدونکی دی دغه (واردېدل) ستا د رب په ذمه یقیني او فیصله کړی شوي دي.

الله پاک چې د چا ساتنه کول غواړي، اور به ورته ونه رسېږي، بلکې د صراط پل د پاسه به تیر شي، هیڅ ډول تکلیف به ورته ونه رسېږي، او چا ته چې الله د عذاب ورکولو اراده ولري، چې هغه ګناهګار مؤمنان او منافقان دي، نو د صراط پر پُل چې کومې کنډې اویزانې دي، هغه به یې راګیر

(١) رواه البخاری (٦٥٦١) ومسلم (٢١٣) عن النعمان بن بشير رضي الله عنه.

کړي، او اور ته به يې وغورځوي، ليکن مؤمنانو ته به د خپلو کړو ګناهونو په اندازه عذاب ورکړل شي، بيا به جنت ته داخل کړل شي، او منافقان به د تل لپاره په اور کې وي، دا د الله پاک ددې آيت معنا ده:

﴿وَّنَذَرُ ٱلظَّٰلِمِينَ فِيهَا جِثِيًّا﴾ (١)

او ظالمان (کافران) به په دغه (دوزخ) کې په ګونډو پراته پرېږدو

د جثيا معنا په ګونډو ناستې ته وايي، چې دا تر ټولو ناوړه او بدترينه ناسته ده، يو انسان داسې نه کيني، مګر کله چې وربانديې يو مصيبت رانازل شي. (٢)

١٤. کافران به ډلې ډل جهنم ته بوتلل کيږي، لکه څنګه چې الله فرمايلي دي:

﴿وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًا﴾

او کافران شوي کسان به دوزخ ته ډلې ډلې روان کړی شي، تر هغه پورې چې کله دوی دغه (دوزخ) ته راشي. د زمرا معنا ده ډلې ډلې.

١٥. دوزخيان به دوزخ ته تږي بوتللی شي، الله فرمايلي دي:

﴿وَنَسُوقُ ٱلْمُجْرِمِينَ إِلَىٰ جَهَنَّمَ وِرْدًا﴾

مجرمان به په خپلو نښو سره پېژندلی شي، نو (د مجرمانو) وچولي او قدمونه به ونيولی شي

"ورد" په اصل کې اوبو ته د تلو مانا لري، او اوبو ته د تندې په وخت کې تلل کيږي، نو له دې امله د الورد اسم اطلاق يې په هغه تږي ډلې باندې وکړو.

١٦. دوزخيان به داسې نښې ولري چې د دوزخ ملائکې به يې د هغه نښو څخه پيژني، چې کله يې وپيژني؛ نو د تندي د ويښتو او د خپو د قدمونو څخه به راونيسي، او په سختۍ سره به يې اور ته وغورځوي، الله دې مورِ او تاسې ترې وساتي، الله فرمايلي دي:

﴿يُعْرَفُ ٱلْمُجْرِمُونَ بِسِيمَٰهُمْ فَيُؤْخَذُ بِٱلنَّوَٰصِى وَٱلْأَقْدَامِ﴾

مجرمان به په خپلو نښو سره پېژندلی شي، نو (د مجرمانو) وچولي او قدمونه به ونيولی شي.

بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَىٰ نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا﴾

هغه ورځ چې دوی به د دوزخ اور ته تېل وهلی شي، سخت تېل وهل

د يدعون معنا چې په زور او سختۍ سره به يې بوځي.

١٧. اې د الله بندګانو! دوزخيانو ته د عذاب به مختلفې طريقې وي، چې يو طريقه يې دا ده چې په اور کې به يې مخونه راښکلی شي، الله فرمايي:

---

(١) انظر للفائدة، ما قاله الشنقيطي رحمه الله في تفسير الآية المتقدمة من سورة مريم.

(٢) انظر تفسير ابن جرير للآية الكريمة.

﴿يَوْمَ يُسْحَبُونَ فِي ٱلنَّارِ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ ذُوقُواْ مَسَّ سَقَرَ﴾

په هغې ورځ کې چې دوی به په خپلو مخونو په اور کې راښکلی شي (او ویلی به شي چې) تاسو د دوزخ رسېدل وڅکئ.

بله طریقه د دوزخیانو د عذاب دا ده چې د اور جامې به ورته واغوندلی شي، لکه مخکني آیت کې چې الله فرمایلي دي:

﴿فَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ قُطِّعَتْ لَهُمْ ثِيَابٌ مِّن نَّارٍ﴾

د دوی لپاره به د اور جامې پرې کړی شي.

او نانزړو کمیسونه به وي چې په اور به ګرم شوي وي، ورته به واغوستل شي:

﴿سَرَابِيلُهُم مِّن قَطِرَانٍ﴾

د دوی قمیصونه به د نانزړو وي

سرابیل کمیسونو ته وایي، او قطران، هغه نانزړو ته وایي چې په اور ویلې شوې وي.

بله طریقه د دوزخیانو د عذاب دا ده چې د اوسپنې په څټکونو به وهل کیږي، څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَلَهُم مَّقَٰمِعُ مِنْ حَدِيدٍ﴾

او د دوی (د وهلو) لپاره د اوسپنو څټکونه دي.

په عربي کې مقامع د مقمعة جمع ده، چې دا د یو داسې اوسپنیز شکل دی چې د کړۍ په څیر راتاو وي، د فیل لپاره هم کارول کیږي چې په سر وربانديې وهل کیږي، په آیت کې یې مانا لویه او درنه اوسپنه ده -چې په اوسني وخت کې ورته "څټک" وایي- د دوزخ ساتونکي ملایک به پرې دوزخیان وهي، الله دې ترې مور وساتي.

١٨. دوزخ به د کافرانو په لیدو غوسه کیږي، او ساه به اخلي چې هغې ته زفیر او شهیق وایي، شهیق ساه اخیستل او زفیر ساه ایستلو ته وایي، الله فرمایلي دي:

﴿إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ سَمِعُواْ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾

کله چې هغه (اور) دوی لره له ډېر لرې ځای نه ووینې، نو دوی به د هغه خوټکېدل او غورېدل واورې.

اور چې کله کافران ووینې، همدغه کافران به د محشر په ورځ د جهنم غوسه ووینې، چې هغه د جهنم د خوټیدو اواز دی، او همدارنګه به د ساه اخیستلو او ایستلو (زفیر او شهیق) اوازونه هم واورې، چې ددې په نور حقیقت الله پوهیږي.

د شهیق دلیل دا آیت دي:

﴿إِذَآ أُلْقُواْ فِيهَا سَمِعُواْ لَهَا شَهِيقًا وَهِيَ تَفُورُ ۝٧ تَكَادُ تَمَيَّزُ مِنَ ٱلْغَيْظِ﴾

کله چې دوی په ده کې وغورځول شي دوی به د ده (لکه د خر) بد اواز واوري، په داسې حال کې چې دا به خوټکېږي، نژدې به وي چې دی له غصې نه ټوټې شي.

نزدې به وي، چې جهنم د ډېرې غوسې له امله ټوټه ټوټه شي، الله دې ترې مونږ وساتي.

١٩. د دوزخ اور به کله سړېږي، اوکله به سخت تیزېږي، الله فرمایلي دي:

﴿كُلَّمَا خَبَتۡ زِدۡنَٰهُمۡ سَعِيرٗا﴾

هر کله چې (د جهنم اور) غلی شي، (نو) مونږ به دوی ته لمبې وهونکی اور ورزیات کړو.

٢٠. دوزخ سره د ډکیدو وعده شوې، څرنگه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَلَٰكِنۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ مِنِّي لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ﴾

او لېکن زما له جانبه دغه خبره ثابته (او لازمه) شوې ده چې زه به جهنّم خامخا ضرور له پېریانو او انسانانو، ټولو نه ډکوم

اې د الله بندګانو! دا د دوزخ په اړه یوه ګټوره مقدمه ده، چې هر مسلمان ته پکار دي چې پرې پوه شي، تر څو له دې خطرناک ځای څخه په ویره کې وي، الله دې مونږ ټول له دوزخ څخه وساتي. آمین!

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

٢١. الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، اما بعد: **ای د الله بندګانو! د الله څخه وویریږئ، او پوه شئ چې دوزخ له اوس هم شته، الله پیدا کړی دي، او دې حقیقت ته اشاره د الله په دې قول کې شوې ده:**

﴿وَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِيٓ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ﴾

او له هغه اور نه ځان وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار کړی شوی دی.

په دې آیت کې شاهد د "أُعدَّت" لفظ دي، او دا د دې خبرې څرګندونه کوي چې دوزخ لا له وړاندې موجود دی.

په حدیثو کې دي چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عمرو بن لُحَي ولید چې په جهنم کې یې خپلې کولې په ځان پسې کشولې، دا هغه لومړنی کس و چې د ابراهیم (عليه السلام) دین یې بدل کړو او بتان یې د عربو جزیرې ته راوړل. [1]

(١) انظر حديث أبي هريرة الذي رواه البخاري (٣٥٢١) ومسلم (٢٨٥٦).

رسول الله (صلى الله عليه وسلم) په جهنم کې يوه ښځه وليدله چې د يوې پيشۍ له امله ورته عذاب ورکول کيده، هغې ښځې به پيشۍ ته خواړه نه ورکول او نه يې په خپله مخه پرېښوده حتى چې د ځمکې حشرات به يې خوړل. (١)

اى د الله بندگانو! دا شل خبرې دي چې په دوزخ د ايمان او دوزخ ته د داخليدونکو خلکو د صفاتو اړوند دي، هر مؤمن لپاره اړين دي چې دا زده کړي، تر څو د دوزخ ياد د تل لپاره ولري، چې د نيکۍ په کارونو کې هڅه کوونکى وي، او له ګناهونو او سستۍ څخه ځان وساتي.

اې الله! موږ په تاسره د قبر او د جهنم د عذاب څخه پناه غواړو، د ژوند او مرګ د فتنې څخه پناه غواړو، د دجال د فتنې څخه پناه غواړو، اې الله! موږ له تا څخه جنت غواړو، او د هغه وينا او عمل توفيق غواړو چې موږ جنت ته نږدې کوي، او په تا پورې پناه غواړو د اور څخه، او د هغه وينا او عمل څخه هم پناه غواړو چې موږ اور ته نږدې کوي. اې زموږ ربه! موږ ته په دنيا کې خير راکړه او په آخرت کې خير راکړه او د دوزخ له عذاب څخه مو وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه وسلِّم تسليما كثيرا.

(١) انظر حديث ابن عمر الذي رواه البخاري (٢٣٦٥) ومسلم (٢٢٤٢).

په آخرت د ایمان لوازمات - برخه ٨/٦
(د قیامت د ورځې ځینې صحنې)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ﴾

اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

- **اې د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل یې یاد وساتئ، اطاعت یې وکړئ او د نافرمانۍ څخه یې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره یې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمایي:**

﴿أَفَحَسِبْتُمْ أَنَّمَا خَلَقْنَٰكُمْ عَبَثًا وَأَنَّكُمْ إِلَيْنَا لَا تُرْجَعُونَ ﴿١١٥﴾ فَتَعَٰلَى ٱللَّهُ ٱلْمَلِكُ ٱلْحَقُّ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې د الله بندګانو! تېره خطبه کې مو د آخرت په ورځ د ایمان د ځېنو غوښتنو په اړه خبرې وکړې، چې هغه عبارت دي د شپېلۍ په پوک باندې ایمان لرل، د قیامت د ورځې په وېرونکو حالاتو ایمان لرل، د مخلوقاتو په بیا راژوندي کېدو او د محشر میدان ته د ټولو خلکو په راټولېدو ایمان لرل، په جزا او حساب ایمان لرل، د جنت په نعمتونو او د جهنم په حالتونو ایمان لرل او نن ورځ د الله په اذن سره، د قیامت د ورځې د ځېنو صحنو په اړه خبرې کوو.

١. د آخرت په ورځ د ایمان له غوښتنو څخه دا ده چې د قیامت د ورځې په ځینو صحنو ایمان لرل، چې یو د هغې صحنو څخه هغه د عملنامو ویش دي، چې خلکو ته به ورکول کیږي، ځېنو کسانو ته به خپله عملنامه په ښي لاس ورکول کیږي، چې دوی د استقامت خاوندان دي، او جنت ته د تللو مستحق دي، ځېنې نورو ته به بیا عملنامه په چپ (کین) لاس ورکول کیږي، چې هغه کافران دي، مؤمنان به خپله عملنامنه په خوشحالۍ سره اخلي، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ ﴿١٩﴾ إِنِّى ظَنَنتُ أَنِّى مُلَٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾ فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾ فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾ قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾ كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَآ أَسْلَفْتُمْ فِى ٱلْأَيَّامِ ٱلْخَالِيَةِ﴾

نو هر چې هغه څوک دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) د ده په ښي لاس کې ورکړی شوه، نو دی به وایي: چې واخلئ! وړما عمل نامه ولولئ، بېشکه ما دا یقین کاوه چې زه به خامخا له خپل حساب سره مېلاوېدونکی یم، نو دغه (کس) به په خوشاله ژوند کې وي، په اوچت جنت کې، چې د هغه مېوې به نژدې وي، تاسو ښه په مړې سره خورئ او څښئ، د غهو عملونو په بدل کې چې تاسو په تېرو شویو ورځو کې مخکې لېږلي وو.

کافر ته به خپله عملنامه په کین لاس او د شا له لورې څخه ورکول کیږي، ځکه چې نوموړي په دنیا کې د الله کتاب شا ته ګرځولې وه؛ نو له دې امله به ورته عملنامه د شا له لورې ورکول کیږي، دا د دویو لپاره برابره بدله ده، کافر به خپله عملنامه د خپګان او ژړا سره په داسې حال کې اخلي، چې د خپلو اعمالو په نتیجه به خفه وي، الله فرمایلي دي:

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾ وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾ يَٰلَيْتَهَا كَانَتِ ٱلْقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾ مَآ أَغْنَىٰ عَنِّى مَالِيَهْ ﴿٢٨﴾ هَلَكَ عَنِّى سُلْطَٰنِيَهْ﴾

او هر چې هغه کس دی چې ده ته خپل کتاب د ده په چپ لاس کې ورکړی شي، نو دی به وایي: اې کاشکې ما ته زما کتاب (عمل نامه) نه وی راکړی شوې، او زه نه وی خبر شوی چې زما حساب څه دی، اې کاشکې چې هغه (مرګ) فیصله کوونکی وی، زما مال زما هیڅ په کار رانغی، له ما نه زما بادشاهي برباده شوه.

او الله فرمایلي دي:

﴿وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ وَرَآءَ ظَهْرِهِۦ ۝١٠ فَسَوْفَ يَدْعُواْ ثُبُورًا ۝١١ وَيَصْلَىٰ سَعِيرًا ۝١٢ إِنَّهُۥ كَانَ فِيٓ أَهْلِهِۦ مَسْرُورًا ۝١٣ إِنَّهُۥ ظَنَّ أَن لَّن يَحُورَ ۝١٤ بَلَىٰٓ إِنَّ رَبَّهُۥ كَانَ بِهِۦ بَصِيرًا﴾

او هر چې هغه څوک دی چې هغه ته خپل کتاب (عمل نامه) له خپلې شا نه وروسته ورکړی شي، نو دی به ژر هلاکت ته چغې کړي، او د دوزخ بل اور ته به ننوځي، بېشکه دی په ځپل اهل کې خوشاله و، بېشکه ده یقین کړی و چې دی به له سره بېرته (الله ته) ونه ګرځي، ولې نه! بېشکه د ده رب ده لره تل ښه لیدونکی و.

۲. اې د مؤمنانو ټولیه! د قیامت د صحنو څخه بله صحنه هغه د جهنم په مینځ باندې د صراط پل ټرل دي، دا ښویېدونکی او لوېدونکی ځای دی؛ چې پښې پرې ښویېږي او ټینګې پرې نه پاتې کېږي، په دې پل باندې کنډې، کږې او تیرې اوسپنې دي، او پراخه قوي غنې به وي، چې په سر به یې بله تاو شوې غنه وي، لکه څنګه چې په نجد کې پیدا کیږي، او سعدان ورته وایي.

بیا به خلک په پل صراط تېر شي، د محمد صلی الله علیه وسلم امت به لومړۍ هغه امت وي چې په دې پل به ورتېر شي، په پل صراط تیریدونکي خلک په درې ډولو ویشل شوي دي:

لومړی ډله: هغه کسان دي چې بې له کوم زیان او سختۍ به په بشپړې سلامتۍ سره په کامیابۍ سره تېر شي، چې دا به کامل مؤمنان وي چې د الله اطاعت یې کړی، او د ګناهونو یې ځان ژغورلی دی.

دویمه ډله: هغه کسان دي چې کنډې به یې لږ څه زخمي کړي، مګر له رانیولو او جهنم کې د غورځولو څخه به بچ پاتې شي او په صراط پل به تېر شي، دا به هغه مؤمنان وي چې ګناهونه به یې دومره نه وي چې د دوزخ مستحق وګرځي، بلکې دغه زخمي کیدل به د هغوې لپاره په اخرت کې سزا وي، او بیا به ورته الله نجات ورکړي.

دریمه ډله: به هغه کسان وي چې کنډې به راونیسي او په زور سره به یې دوزخ ته وغورځوي، دا به هغه مؤمنان وي چې د خپلو نافرمانیو او لویو ګناهونو له کبله به د دوزخ مستحق ګرځېدلي وي، دویو ته به د خپلو کړو ګناهونو په اندازه عذاب ورکړل شي، بیا به د الله په رحم سره له اور څخه راوېستل شي.

همدارنګه به منافقان هم په پل صراط ورتېرېږي، مګر کنډې به یې راونیسي، د دوزخ تل کې به یې واچوي، او د تل لپاره به د دوزخ په لاندې برخه کې وي.

او کافران به په هیڅ صورت د صراط په پل تېر نه شي، بلکې هغوی به د جهنم په مینځ باندې د صراط پل د جوړیدلو مخکې جهنم ته بوتلل شي، الله فرمایلي دي:

﴿وَسِيقَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ زُمَرًاۖ﴾

او کافران شوي کسان به دوزخ ته ډلې ډلې روان کړی شي.

الله پاک د فرعون په اړه فرمايلي دي:

﴿يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ﴾

د قيامت په ورځ به د خپل قوم په مخکې شي، نو اور ته به يې داخل کړي او بد ځای د ورتلو دی چې (دوی هغه ته) وروستلی شي.

هره ډله کافران به د هغه څه په لور لاړ شي چې په دنيا کې يې د هغې عبادت کاوه، لکه بوتان، لمر، سپوږمی، او د خپلو معبودانو سره به دوزخ ته واچول شي، دا شيان به هغوی ته د سراب (شگوگل) په څېر ښکاره شي، يو بل به سره ماتوي، او راغورځيږي به، بيا به له دې وروسته د صراط پل د جهنم په مينځ باندې ولگول شي، مؤمنان او منافقان به وربانديې تيريږي، څنگه چې موږ مخکې بيان وکړ[1].

اې د الله بندگانو! په صراط پل د خلکو د تيريدو سرعت د دوی په اختيار کې نه دی، او نه د دوی د بدنونو په قوت پورې کومه اړيکه لري، بلکې دا به د هغوی د اعمالو په اساس وي، په حديث کې راغلي: (خپل عملونه به يې پورې باسې).

نيکعمله به په ډېر سرعت سره وربانديې تېريږي، ځينې به د سترگو د رپ په څېر وربانديې تېريږي، ځينې به د بريښنا په څېر، ځينې به د باد په څېر، ځينې به د الوتونکو مرغانو په څېر، ځينې به د تيزو آسونو او اوښانو په څېر، او ځينې به د پلي تگ کوونکو په څېر تېريږي، حتی تر دې چې اخيري تن به په ځان ښويولو سره تير شي، او بدعلمه کسانو تگ به ډېر ورو وي، او که د اور مستحق وي، کنډې به يې راونيسي[2].

کلاليب (تېرې کنډې) به هغوی راونيسي او دوزخ ته به يې وغورځوي، که چيرته د دوزخ مستحق وو.

٣. اې مؤمنانو! د قيامت د صحنو څخه بله صحنه هغه د جنت او جهنم ترمينځ به د ځينو مؤمنانو ودرول وي، دا به هغه مؤمنان وي، چې په اور کې ورته د سزا ورکولو وروسته به د اور څخه راويستل شوي وي، د جنت او جهنم ترمينځ په پل باندې به ودرول شوي وي، تر څو يې له زړونو کينې، حسد او بدبختۍ پاکې شي، او جنت ته په داسې حال کې داخل کړل شي چې زړونه يې په بشپړه توگه پاک او صاف شوي وي.

امام بخاري رحمه الله د دې آيت په تفسير کې روايت نقل کړی:

---

(١) انظر «صحيح البخاري» (٧٤٣٧) ومسلم (١٨٢) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وكذلك «صحيح البخاري» (٤٥٨١) ومسلم (١٨٣) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه.

(٢) انظر دليل ما تقدم في صحيح البخاري (٧٤٣٧، ٧٤٣٩) وصحيح مسلم (١٨٢، ١٨٣).

﴿وَنَزَعۡنَا مَا فِي صُدُورِهِم مِّنۡ غِلٍّ﴾

او مونږ به راوباسو هغه کینه چې د دوی په سینو کې وي.

ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "مؤمنان به د دوزخ له عذابه خلاص شي، بيا به د جنت او دوزخ تر منځ په يو پل باندې ودرول شي، نو يو د بل په حق کې به چې کوم ظلمونه او حق تلفۍ په دنيا کې کړي وي، د هغې بدلې به يو بل ته ورکړي، کله چې دوی پاک شي، بيا به ورته جنت ته د ننوتلو اجازه ورکړل شي، قسم په هغه ذات چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم ساه د هغه په اختيار کې ده، چې هر تن به د دنيا د کور په پرتله په جنت کې خپل کور ښه پيژني. [1]

ابن تيميه رحمه الله فرمايي: "ناپاک نفسونو لپاره جنت چې پاک ځای دی او هيڅ ډول ناپاکي نه لري؛ مناسب نه دي، که کوم نفس کې ناپاکي وي، هغه به لومړی پاک کړل شي، ترڅو په جنت کې د اوسېدو وړ شي". [2] پای.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، و أستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

٤. الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، د الله څخه وويريږئ، اې د الله بندګانو! پوه شئ چې د قيامت له صحنو څخه يوه صحنه هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم شفاعتونه دي، چې دا ټول د لوی او ستر شفاعت پرته څلور شفاعتونه دي، د کوم بيان چې په تيره خطبه کې تير شو.

لومړی شفاعت د رسول الله صلى الله عليه وسلم به د مؤمنانو لپاره وي، چې جنت ته داخل شي، مومنان چې کله جنت ته راشي؛ نو د جنت دراوزې به بندې وي، په دغه وخت کې به رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنت دروازه وټکوي، د جنت ساتونکی به پوښتنه وکړي چې څوک يې؟ هغه به ورته ووايي: "زه محمد يم." نو ساتونکی به ورته ووايي: "ما ته امر شوی چې له تا مخکې بل هيچا ته دروازه خلاصه نه کړم. [3]

---

(١) رواه البخاري (٦٥٣٥).

(٢) انظر «فتاوى ابن تيمية» (٣٤٤/١٤)، بتصرف يسير واختصار.

(٣) رواه مسلم (١٩٧) عن أنس بن مالك رضي الله عنه.

انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: زه به په ټولو کې خلکو لومړی تن يم، چې د جنت په باره کې به شفاعت وکړم، او زه به په ټولو پيغمبرانو کې زيات پيروان ولرم.[۱]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به لومړنی تن وي چې جنت ته به داخليږي، او له هغې وړاندې به هيڅوک جنت ته داخل نه شي، دا د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د امت لپاره د لوړ مقام څرگندونه کوي، چې هغه او د هغه امت به له هر چا مخکې جنت ته داخليږي.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم **دويم شفاعت** به د هغو کسانو لپاره وي چې د قيامت په ورځ به ورسره هيڅ حساب نه کيږي، او مستقيم به جنت ته داخليږي، د دې شفاعت دليل د ابوهريرة رضي الله عنه اوږد حديث دی چې په هغې کې راغلي: اې محمده! د خپل امت هغه خلک چې حساب ورسره نه کيږي، د جنت له ښې درازې څخه داخل کړه[۲]. [۳]

د رسول الله صلى الله عليه وسلم **دريم شفاعت** د هغه ګناهګارو مومنانو لپاره به وي چې د ګناه له امله اور ته داخل شوي وي، چې هغوی د اور څخه رابهر شي، دې شفاعت ته رسول الله صلى الله عليه وسلم اشاره کړې ده، او فرمايلي يې دي: هر نبي ته يوه قبوله شوې دعا ورکړل شوې ده چې هغه يې وکړي، او زه غواړم خپله دعا د قيامت په ورځ د خپل امت لپاره شفاعت ته وساتم[٤]، همدارنګه د رسول الله صلى الله عليه وسلم بله وينا ده چې فرمايلي يې دي: زما شفاعت به د خپل امت د هغو کسانو لپاره وي چې د لويو ګناهونو مرتکب شوي وي[٥].

د رسول الله صلى الله عليه وسلم **څلورم شفاعت** د خپل تره، ابو طالب، لپاره به وي، تر څو عذاب ترې کم شي، ځکه نوموړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه دفاع کوله او د مشرکانو د اذيتونو څخه يې ساته، د عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روايت دی چې هغه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: تاسو به خپل تره ته څه ګټه ورسولی شئ؟ په الله مې د قسم وي، چې هغې به ستا ځانګړې پاملرنه کوله، او ستا له امله به نور ته غوسه کيدو. رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه به تر پڑکو پورې په عذاب کې وي، او که زه نه وی؛ نو هغه به د دوزخ په لاندې طبقې کې و[٦].

---

(۱) رواه مسلم (۱۹٦) واللفظ له، وأحمد (۱٤۰/۳)، والدارمي في المقدمة، باب ما أعطي النبي من الفضل.

(۲) زه وايم: په دې کې د هغوی د فضيلت خبرداری دی، ځکه چې جنت اوه دروازې لري، لکه څنګه قرآن کې دي (لها سبعة أبواب)، بيا د ښې دروازې څخه جنت ته د دويو داخليدل، دا د دويو د فضيلت څرگندونه کوي، او په اسلام کې د ښې لورې د پيل فضيلت هم معلوم دی.

(۳) رواه البخاری (٤۷۱۲).

(٤) رواه البخاري (٦۳۰٤) ومسلم (۱۹۸) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(٥) رواه الترمذي (۲٤۳٥)، وأبو داود (٤۷۳۹)، وأحمد (۲۱۳/۳) وصححه الألباني في المشكاة (٥٥۹۸ - ٥٥۹۹) عن أنس رضي الله عنه.

(٦) رواه البخاري (۳۸۸۳) ومسلم (۲۰۹) وأحمد (۲۰٦/۱).

دا څلور صحنې د قیامت د ورځې موږ بیانې کړې، چې د عملنامو ویش دي، په جهنم د صراط پل تړل دي، د جنت او جهنم ترمینځ پل باندې د مومنانو ودریدل دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم پنځه شفاعتونه[1] دي چې د قیامت په ورځ به یې کوي.

اې الله موږ ته په آخرت کې د خپل نبی محمد (صلى الله عليه وسلم) شفاعت راپه برخه کړه، اې الله موږ له تا څخه جنت غواړو، او د هر هغې وینا او عمل توفیق غواړو چې موږ جنت ته نږدې کوي، او د اور څخه پناهي غواړو، او د هرې هغې وینا او عمل څخه هم پناهي غواړو چې موږ اور ته نږدې کوي.

اې الله موږ په خپلو ځانونو ډېر ظلم کړی دي، له تا پرته بل څوک ددې ښوونکی نشته، موږ ته د خپل طرف څخه ښښه وکړې، په موږ رحم وکړه، بېشکه ته ښښه کوونکی او مهربان ذات یې.

اې زموږ ربه! زموږ ټول ګناهونه موږ ته معاف کړه، که هغه واړه وي او لوی، که اولني وي او اخیرني او که ښکاره وي او که پټ.

اې ربه! موږ ته په دنیا او اخرت دواړو کې ښه بدله راکړه، او د اور د عذاب څخه مو وساته.

اللهم صل على نبينا محمد وآله وصحبه وسلِّم تسليما كثيرا

(١) انظر الكلام فيها في «تهذيب السنن» لابن القيم، كتاب السنة، باب في الشفاعة، (٢٢٦٩/٥)، الناشر: مكتبة المعارف - الرياض.

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ۸/۷
(د قیامت په ورځ د شفاعت ډولونه)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ښېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل یې یاد وساتئ، اطاعت یې وکړئ او د نافرمانۍ څخه یې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره یې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمایي:

﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَـٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥ فَتَعَـٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو! په تېرو خطبو کې مو د آخرت په ورځ د ایمان د ځېنو غوښتنو په اړه خبرې وکړې، چې هغه عبارت دي د شپېلۍ په پوک باندې ایمان لرل، د قیامت د ورځې په وېرونکو حالاتو ایمان لرل، د مخلوقاتو په بیا راژوندي کېدو او د محشر میدان ته د ټولو خلکو په راټولېدو ایمان لرل، په جزا او حساب ایمان لرل، د جنت په نعمتونو او د جهنم په حالتونو ایمان لرل او د قیامت د ورځې ځېنې صحنې، لیکن نن ورځ د الله په اذن سره، د قیامت په ورځ د شفاعت د ډولونو په اړه خبرې کوو.

اې د الله بندګانو! د قیامت په ورځ به د شفاعت کولو وړ خلک شفاعت کوي، چې شفاعت کوونکي په شپږ دي، پېغمبران چې رسول الله صلى الله عليه وسلم هم په دې کې شامل دی، او په رسول الله صلى الله عليه وسلم پورې تړلې د پنځه شفاعتونو په اړه خبرې مخکې وشوې، بل د شفاعت کوونکو څخه مومنان به وي، شهیدان به وي، ملایکې به وي، او قران به وي.

١. پیغمبران به د خپلو هغه پیروانو مومنانو لپاره شفاعت کوي چې د ګناهونو له امله اور ته داخل شوي وي، چې هغه د اور څخه رابهر شی، په دې خبره دلیل حدیث د جابر رضي الله عنهما دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: کله چې جنتیان او دوزخیان سره ببل کړل شي، جنتیان به جنت او دوزخیان به دوزخ ته لاړ شي، پیغمبران به راولاړ شي، شفاعت به وکړي، ورته به وویل شي: لاړ شئ، هر تن چې تاسو یې پېژنې هغه د اور څخه راوباسئ، په داسې حال کې به یې د اور څخه راوباسي چې پوستکې به یې سوځیدلې او هډوکې به یې ښکاري، بیا به د الحیات په نهر کې ولمبول شي، د نهر په غاړه به یې هغه سوځیدلي ځایونه روغ شي، د ثعاریر (کوچني ختکي) [١] په څیر به پاک او صفا د نهر څخه راووځي، پیغمبران به بیا شفاعت پیل کړي، بیا به ورته وویل شي: چې لاړ شئ، که داسې څوک مو هم پیدا کړ چې په زړه کې یې د قیراط[٢] په اندازه ایمان هم وي؛ د اور څخه یې راوباسئ. راوي وایي: ډېر خلک به د اور څخه راوباسي، بیا به دا پیغمبران شفاعت وکړي، الله به ورته ووایي: لاړ شې، که داسې څوک مو هم پیدا کړ چې په زړه کې یې د خردلې[٣] په اندازه ایمان هم وي؛ د اور څخه یې راوباسئ. [٤]

---

(١) ثعاریر: کوچني ختکي ته وایي، وجه د مشابهت یې داسې ده، چې ختکی ډېر زر وده کوي، دغه مؤمنان به هم زر روغ شي

(٢) قیراط: د وزن واحد دی، چې نن ورځ د څلور د غنمو دانو سره برابر دی. انظر: المعجم الوسیط.

(٣) خردل: یوه بوټي ده چې دانه یې په خوړو کې د خوند لپاره کارول کېږي، چې یوې دانې ته یې(خردله) ویل کېږي، او دا د کوچني والي د مثال لپاره کارول کېږي. انظر: المعجم الوسیط.

(٤) رواه البخاري (٦٥٥٨)، وأحمد (٣/٣٢٥) واللفظ له.

بل دليل چې پيغمبران به د هغه مومنانو لپاره شفاعت کوي چې په اور کې به وي د حذيفه رضي الله عنه حديث دي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به ابراهيم عليه السلام ووايي: اې زما ربه! الله به ځواب ورکړي، ابراهيم عليه السلام به ورته ووايي: اې زما ربه! زما ټول اولاد دې وسوځولو، الله به ورته ووايي: د چا زړه کې چې د ذرې او وربشې به اندازه ايمان هم وي، هغه د اور څخه راوباسه. (١)

٢. **اې د الله بندګانو!** د قامت په ورځ دويم ډول **شفاعت به هغه مومنان کوي** چې په جنت کې به وي، او د هغه مومنانو لپاره به يې کوي چې په اور کې به وي چې له اور څخه رابهر شي، په دې دليل د ابو سعيد الخدري رضى الله عنه حديث دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: کله چې مؤمنان له دوزخه خلاص شي، قسم په هغه ذات چې زما ساه د هغه په لاس کې ده، مومنان به دې د خپلو هغه ورونړو مومنانو لپاره چې په اور کې به وي، د الله څخه ډېر په سختۍ سره سوالونه وکړي، الله ته به ووايي: اې زمونږ ربه! دوى به زمونږ سره روژې نيولې، مونځونه او حجونه به يې کول. الله به ورته ووايي: تاسو چې څوک پېژنئ هغه د اور څخه رابهر کړئ، دغه مومنان چې د نورو مومنانو د راويستلو لپاره به اور ته ورشي، خو اور به هغوى نه سوځوي، داسې خلک به د اور څخه راوباسي چې اور به يې تر نيمايي پنډيو او يا زنګونانو پورې رسېدلى وي، بيا به دغه مومنان ووايي: اې زمونږ ربه! د چا په اړه چې دې مونږ ته اجازت کړى وو؛ له هغوى هيڅوک پاتې نه شول. بيا به ورته الله ووايي: بيرته اور ته ورشئ، که داسې څوک مو وموند چې د دينار په اندازه خير يې په زړه کې وي، هغه هم د اور څخه راوباسئ، ډېر خلک به نور هم راوباسي، بيا به دا مومنان الله ته ووايي: اې زمونږ ربه! تا چې مونږ ته په څه امر کړى وو، مونږ يو تن هم پرېنښود.

بيا به ورته الله ووايي: بيرته اور ته ورشئ، که داسې څوک مو وموند چې د نيم دينار په اندازه خير يې په زړه کې وي، هغه هم راوباسئ، ډېر خلک به نور هم د اور څخه راوباسي، بيا به دا مومنان الله ته ووايي: اې زمونږ ربه! تا چې مونږ ته په امر کړى وو، مونږ يو تن هم پرېنښود.

بيا به ورته الله ووايي: بيرته اور ته ورشئ، که داسې څوک مو وموند چې د ذرې په اندازه خير يې په زړه کې وي، هغه هم راوباسئ، ډېر خلک به نور هم راوباسي، بيا به دا مومنان الله ته ووايي: اې زمونږ ربه! مونږ د خير خاوندان په اور کې پرېنښودل.

ابو سعيد خدري رضي الله عنه به ويل، که تاسو ته د دې حديث په روايت کې زه رېښتونى نه ښکارم، نو دا آيت ولولئ:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَظۡلِمُ مِثۡقَالَ ذَرَّةٖۖ وَإِن تَكُ حَسَنَةٗ يُضَٰعِفۡهَا وَيُؤۡتِ مِن لَّدُنۡهُ أَجۡرًا عَظِيمٗا﴾ (٢)

---

(١) رواه ابن حبان (٧٣٧٨)، وقال الشيخ شعيب الأرناؤوط في تحقيقه عليه: إسناده صحيح على شرط الشيخين.

(٢) رواه البخاري (٧٤٣٩) ومسلم (١٨٣)، واللفظ لمسلم.

بېشکه الله د یوې ذرې په اندازه (هم) ظلم نه کوي او که دا (ذره) یوه نېکي وي، نو هغه به یې دوه چنده کړي او هغه ته به له خپل جانب نه ېبخي لوی اجر ورکړي.

۳. **اې د الله بندګانو!** د قیامت په ورځ به دریم ډول شفاعت د **ملایکو شفاعت** وي، دا به په جهنم کې د ګناهګارو مؤمنانو لپاره وي، چې د جهنم څخه رابهر شي، له دې وروسته به الله د خپل کرم له امله ځینې خلک د شفاعت پرته له اور څخه راوباسي، او په دې خبره دلالت د الله پاک دا وینا کوي: ملایکو شفاعت وکړو، پیغمبرانو شفاعت وکړو، مؤمنانو شفاعت وکړو، اوس یوازې تر هر چا زیات مهربانه رب پاتې شو (او په بل روایت کې دي: یوازې زما شفاعت پاتې شو) الله به د اور څخه یو قبضه راواخلي، داسې خلک به د اور څخه راوباسي چې هېڅکله یې نېک عمل نه دی کړی، دا به سکاره شوي وي، بیا به یې د جنت په سر کې الحیات نهر کې ولمبوي، د نهر څخه به داسې راووځي لکه څرنګه چې تخم د خاورو او ختو په مینځ کې پاک او صاف راپورته کیږي[۱].

د جابر رضي الله عنه په حدیث کې دي، چې الله وایي: اوس زه د خپل علم او رحمت له مخې خلک راوباسم. هغه زیاتوي: ځومره خلک یې چې د جهنم څخه رابهر کړي دي، دابه د هغې څو ګونه زیات او بیا د هغې څو چنده وي، د دویو په مریو به لیکل شوي وي «عتقاء الله»، بیا به جنت ته داخل شي، دویو ته به جنتیان جنمهیین وایي[۲].

۵. **اې د الله بندګانو!** د قیامت په ورځ څلورم ډول شفاعت د **شهیدانو شفاعت** دی چې د خپلو مؤمنانو وروڼو لپاره به یې کوي، په دې دلیل د مقدام بن معدیکرب رضي الله عنه حدیث دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د شهید ته د الله له طرفه شپږ ځانګړتیاوې ورکړل شوي دي:

په لومړی وینې تویېدو سره؛ بښل کیږي، په جنت کې خپل ځای وینې، د قبر له عذاب څخه ژغورل کیږي، له لویې وېرې (فزع اکبر) څخه به په امن کې وي، د وقار تاج به ورته په سر ایښودل کیږي چې یو یاقوت یې د ټولې نړۍ څخه غوره دی، ۷۲ حورې به ورته په نکاح ورکړل شی، او د ۷۰ خپلوانو لپاره به شفاعت کوي[۳].

۵. **اې د الله بندګانو!** پنځم ډول شفاعت د قیامت په ورځ هغه د **ماشومانو شفاعت** دی چې د خپل مور او پلار لپاره به یې کوي، دا به هغه ماشومان وي چې تر بلوغ مخکې مړه شوي وي، په دې خبر دلیل د ابو هریره رضي الله عنه دي حدیث دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د کوم مسلمان مور او پلار چې درې ماشومان بلوغ ته له رسېدو مخکې مړه شي، مګر الله به یې په خپل فضل او رحمت سره جنت ته داخل کړي، دغو ماشومانو ته به وویل شي

---

(۱) رواه البخاري (۷٤۳۹)، ومسلم (۱۸۳) واللفظ له، عن أبي سعيد، وما بين القوسين من لفظ البخاري.

(۲) رواه أحمد (۳۲٥/۳)، وصححه محققو «المسند»، وقالوا: إسناده صحيح على شرط مسلم.

(۳) رواه الترمذي (۱٦٦۳) وابن ماجه (۲۷۹۹) وأحمد (۱۳۱/٤)، وصححه الألباني في «الجنائز»، ص ٥۰، ط سنة ۱٤۱۲ هـ

چې (جنت ته داخل شئ) هغوی به ووایي تر څو چې زمونږ مور او پلار نه وي داخل شوي، تر هغې مونږ نه داخلیږو. بیا به ورته وویل شي: تاسې او ستاسې مور او پلار ټول جنت ته داخل شئ[1].

٦. **اې د الله بندګانو!** د قیامت په ورځ شپږم ډول شفاعت هغه د مؤمنانو لپاره د **قرآن شفاعت** دی، په دې خبره دلیل د ابو امامه الباهلي رضي الله عنه حدیث دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: قرآن ولولئ ځکه قرآن به د لوستوونکو لپاره د قیامت په ورځ شفاعت کوي، زهراوین (البقرة او آل عمران) سورتونه ولولئ، ځکه چې دا دواړه سورتونه به د قیامت په ورځ راشې ګویا چې دا دوه وریځې، یا دوه سیوري او یا د مرغانو دوه ډلې دي چې خپلې وزرې به یې خلاصې پریښې وي، او د خپل لوستونکو څخه به دفاع کوي[2].

- اې د الله بندګانو! دا شپږ ډوله شفاعتونه دي چې د قیامت په ورځ کې به ترسره کیږي، دا به د هغه مومنانو لپاره ګټور وي چې اور ته داخل شوي وي، په دې سره به یې الله د اور څخه رابهر کړي، او د هغه مومنانو لپاره هم ګټور دی چې جنت ته د داخلیدو په وخت کې اور ته داخل شوي نه وي.
- بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، د الله څخه وویریږئ، او پوه شئ چې دغه شفاعتونه چې ذکر شوي، د هر چا لپاره نه دي، بلکې یوازې هغه څوک به ترې ګټه واخلي چې په هغوی کې د شفاعت شرطونه پوره شوي وي، الله یوازې د هغو کسانو په اړه شفاعت قبلوي چې دغه شرطونه یې پوره کړي وي، او که نه؛ نو شفاعت به یې ونه منل شي، دغې شفاعت ته (ثابت شفاعت) ویل کیږي، یعنې هغه شفاعت چې هرومرو به واقع کیږي، شفاعت دوه شرطونه لري چې هغه دا دي:

لومړی شرط شفاعت کوونکې ته د الله له طرفه د شفاعت کولو اجازت به وي، او دلیل په دې شرط باندې د الله پاک دا آیت دی:

﴿مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ﴾

څوک دی هغه کس چې د ده په وړاندې به سفارش کوي، مګر د ده په اجازت سره؟

وقوله تعالى:

---

(١) رواه النسائي (١٨٧٥)، وأحمد (٥١٠/٢)، وصححه الألباني في «صحيح الجامع» (٥٧٨٠).

(٢) رواه مسلم (٨٠٤) وأحمد (٢٤٩/٥).

﴿وَلَا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ عِندَهُۥٓ إِلَّا لِمَنۡ أَذِنَ لَهُۥۚ﴾ [۱]

او د غه (الله) په نیز شفاعت نفع نه رسوی مگر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) د هغه لپاره اجازت ورکړي.

دویم شرط هغه دا دي چې الله به د شفاعت غوښتونکې څخه راضي وي، د دې شرط دلیل د آیت دی:

﴿وَلَا يَشۡفَعُونَ إِلَّا لِمَنِ ٱرۡتَضَىٰ﴾

او دوی شفاعت نشي کولی مگر د هغه چا لپاره چې هغه (الله) ترې راضي وي او دوی خاص د هغه له هیبته وېرېدونکي دي.

بل آیت دی:

﴿يَوۡمَئِذٖ لَّا تَنفَعُ ٱلشَّفَٰعَةُ إِلَّا مَنۡ أَذِنَ لَهُ ٱلرَّحۡمَٰنُ وَرَضِيَ لَهُۥ قَوۡلٗا﴾

په دغې ورځ کې به شفاعت فایده نه رسوي مگر هغه چا ته چې د هغه په حق کې رحمن اجازت وکړي او دغه (الله) د ده په خبره راضي شوی وي.

الله په خپل کتاب کې دغه دواړه شرطونه په دې آیت کې په یو ځای سره راجمع کړي دي:

﴿وَكَم مِّن مَّلَكٖ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ لَا تُغۡنِي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ أَن يَأۡذَنَ ٱللَّهُ لِمَن يَشَآءُ وَيَرۡضَىٰٓ﴾

او په آسمانونو کې څومره ډېر ملایک دي چې د دوی سفارش هېڅ شي ته نفع نه ورکوي مگر وروسته له دې چې الله اجازت ورکړي هغه چا ته چې یې وغواړي او (د هغه په شفاعت) راضي شي.

او د دې خبرې ثبوت چې شفاعت یوازې د الله د رضا وروسته کېدای شي، دا دی چې ابراهیم علیه السلام به خپل پلار آزر لپاره شفاعت وکړي، مگر الله به یې شفاعت قبول نه کړي ځکه چې هغه د مشرکانو له ډلې څخه وو، سره له دې چې شفاعت کوونکی ابراهیم علیه السلام، د الله خلیل دی.

اې د مؤمنانو ټولیه! باید پوه شو چې الله د بنده څخه هغه وخت راضي کیږي، چې په توحید یې عمل کړی وي، یعنې ټول عبادات یې یوازې د الله لپاره خالص کړي وي، لکه لمونځ، دعا، قرباني، نذر او داسې نور، لکه څنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ابوهریره رضي الله عنه د پوښتنې په جواب کې فرمایلي وو: د قیامت په ورځ به ستا شفاعت تر ټولو زیات مستحق څوک وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به زما د شفاعت تر ټولو زیات مستحق هغه څوک وي چې د زړه له اخلاصه یې «لا إله إلا الله» کلمه ویلي وي[۲].

---

(۱) نصَّ القرآنُ في واحدٍ وعشرينَ موضعا على نفيِ حصولِ الشفاعةِ يوم القيامةِ إلا بإذن الله سبحانه وتعالى، انظر «المعجم المفهرس لألفاظ القرآن الكريم»، مادة شفع.

(۲) رواه البخاري (۹۹) وأحمد (۳۷۳/۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ما د شفاعت دعا د خپل امت لپاره د قیامت ورځ ته ساتلې، څوک چې په توحید وفات شوي وي، او شرک یې نه وي کړی، دا دعا به هغو ټولو ته ورسیږي ان شاءالله[1].

دا حدیثونه او دې ته ورته نور حدیثونه په دې خبره دلیلونه دي چې که هر څوک غواړي چې د قیامت په ورځ د شفاعت کوونکو د شفاعت څخه برخمن شي، هغه دې خپل ټول عباداتونه د الله لپاره خالص کړي.

کوم خلک چې په شرک کې اخته شوي، لکه د مخلوقونو څخه دعا غوښتل، د هغوی لپاره قرباني او نذر کول او داسې نور اعمال کوونکو لپاره به هیڅوک شفاعت ونه کړي، اگر که هغه ښه اعمال هم ترسره کړي وي، بیا هم که چیرته یو تن ورله شفاعت هم وکړي، او دا شفاعت کوونکی پیغمبر صلی الله علیه وسلم ولې نه وي؛ خو شفاعت به یې قبول نه شي، ځکه شرک د شفاعت د قبلیدو مانع کار دی.

اې الله! موږ ته د آخرت په ورځ د شفاعت کوونکو شفاعت رانصیب کړې، اې الله! موږ له تا څخه جنت غواړو، او د هر هغې وینا او عمل توفیق غواړو چې موږ جنت ته نږدې کوي، اې الله مو د اور څخه پناهي غواړو، او د هر هغې وینا او عمل د توفیق څخه هم پناه غواړو چې موږ اور ته نږدې کوي، اې الله! موږ ته ستا محبت راکړې او د هر هغه عمل محبت راکړې چې موږ تا ته نږدې کوي.

اې الله! موږ پر خپلو نفسونو ډېر ظلم کړی دی، ستا پرته بل هیڅوک د ګناهونو بښوونکی نشته؛ نو موږ ته له خپل طرفه بښنه وکړه، پر موږ رحم وکړه، بېشکه ته ډېر بښوونکی او رحم کوونکی ذات یې.

اې زموږ ربه! زموږ ټول ګناهونه که هغه لوی دي او که واړه، لومړي دي او که اخیري او که ښکاره دي او که پټ؛ مو ته یې بښنه وکړه، اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا او اخرت کې نیکه برخه راکړې، او د اور د عذاب څخه مو وساتې.

اللهم صل على نبينا محمد وآله وصحبه وسلم تسليما كثيرا

(۱) رواه الترمذي (۳٦۰۲)، وقال حديث حسن صحيح.

د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې - برخه ۸/۸
(فتنه قبر، او د هغې په عذابونو او نعمتونو ایمان لرل)

إن الحمدلله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، واشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کې مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ښکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد، تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ او تل یې یاد وساتئ، اطاعت یې وکړئ او د نافرمانۍ څخه یې ځانونه وژغورئ، پوه شئ چې الله د خپل شریعت په رالیږلو، په خپلو پرېکړو او په سزا ورکولو کې حکیم دی، د الله له حکمت څخه دا هم ده چې د مخلوقاتو لپاره یې وروستۍ ورځ ټاکلی چې د خپلو پیغمبرانو په ژبو د ورسپارل شوو مسؤولیتونو بدلې ورکړي، الله فرمایي:

﴿أَفَحَسِبۡتُمۡ أَنَّمَا خَلَقۡنَـٰكُمۡ عَبَثٗا وَأَنَّكُمۡ إِلَيۡنَا لَا تُرۡجَعُونَ ١١٥ فَتَعَـٰلَى ٱللَّهُ ٱلۡمَلِكُ ٱلۡحَقُّۖ﴾

ایا نو تاسو ګمان کوئ چې بېشکه مونږ تاسو بس عبث پیدا کړي یئ او دا چې بېشکه تاسو به مونږ ته نه راوستل کېږئ، نو ډېر اوچت دی الله چې حق بادشاه دی، نشته دی هېڅ حق معبود مګر هغه دی، د عزتناك عرش رب دی.

اې مؤمنانو، په تېرو خطبو کې مو د آخرت په ورځ د ایمان د ځېنو غوښتنو په اړه خبرې وکړې، چې هغه عبارت دي د شپېلۍ په پوک باندې ایمان لرل، د قیامت د ورځې په وېرونکو حالاتو ایمان لرل، د مخلوقاتو په بیا راژوندي کېدو او د محشر میدان ته د ټولو خلکو په راټولېدو ایمان لرل، په جزا او حساب ایمان لرل، د جنت په نعمتونو او د جهنم په حالتونو ایمان لرل او د قیامت د ورځې ځېنې صحنې، د شفاعت ډولونه، لیکن په ننۍ خطبه کې د الله په اذن سره فتنه قبر، او د هغې په عذابونو او نعمتونو ایمان لرلو اړوند خطبه وړاندې کوو.

- **اې د الله بندګانو!** فتنه د پوښتنې او آزموینې معنی لري، او فتنه قبر د مرګ وروسته د انسان ځخه د رب، دین او پیغمبر په اړه چې کومې پوښتنې کیږي، هغې ته فتنه قبر وایي. که انسان نیک او صالحه وي، الله به ورته د سم ځواب ویلو توان ورکړي، او که چیرته بې دینه، او فاسد وي، د سم ځواب ورکولو توفیق به ونه لري؛ نو عذاب به ورکړل شي، الله دې تري مونږ وساتي.
په قبر کې د مړي (میت) ځخه د پوښتنې کولو په اړه درې حدیثونه شتون لري:

- **لومړی حدیث:** امام بخاري د قتاده ځخه روایت نقل کوي چې انس بن مالک رضي الله عنه وایې، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: انسان چې کله په قبر کې کېښودل شي، او راغلي خلک تري لاړ شي، مړی د هغوی د پښو آواز (کشار) اوري، بیا ورته دوه ملایکې راشي، په قبر کې یې کینوي، ورته ووایي: ته د دې سړي په اړه څه وایي، یعنې محمد ﷺ ؟ مؤمن به ورته ووایي: «زه ګواهي کوم چې هغه د الله بنده او رسول دی» بیا به ورته وویل شي: «په جهنم کې دې خپل ځای وګوره، الله درته ددې په بدل کې په جنت کې ځای درکړ، هغه دواړه ځایونه به وګوري. ملایک به د منافق او کافر ځخه پوښتنه وکړي: ته د دې سړي په اړه څه وایي؟ هغه به ووایي: «زه خو نه پوهیږم، ما به هغه څه ویل چې خلکو به ویل» بیا به ورته وویل شي: «خپله هم نه پوهېدلې، او نه دې زده کړه کوله» بیا به د اوسپنو په څټکو ووهل شي، داسې چیغه به وکړي چې د انسانانو او پیریانو پرته نور موجودات چې د قبر په خوا کې[1] وي، هغوی به چغې واوري[2].

- بل حدیث هغه د براء بن عازب رضي الله عنه ځخه نقل شوي: مؤمن چې کله دفن شي، له هغې وروسته ورته دوه ملایک راځي، په قبر کې یې کینوي، بیا ترې دا ملایک پوښتنې کوي: ستا رب څوک دی؟ هغه ځواب ورکوي: زما رب الله دی، بیا ترې پوښتنه کوي: دین دې څه دی؟هغه ځواب

---

(۱) ابن حجر رحمه الله په «فتح الباري» کې وایي، چې د (من یلیه) مطلب حیوانات دي، ځکه د ابوهریره رضي الله عنه حدیث په کې دي، کوم چې په «البزار» کې روایت شوی دی، وایي: دا غږ به له انسانانو او پیریانو پرته نور ټول څاروي اوري.
(۲) رواه البخاري (۱۳۷٤).

ورکوي: زما دین اسلام دی، بیا ترې پوښتنه کوي: تاسو ته کوم پیغمبر درلیږل شوی وو؟ هغه به ځواب ورکړي: محمد رسول ﷺ رالیږل شوی وو، بیا به ترې پوښتنه وکړي: څنگه دې (دا پیغمبر) وپیژندو؟ هغه به ځواب ورکړي: د الله کتاب مې ولوست، ایمان مې ورباندې راوړ، او ریښتنی مې وگڼلو. بیا به په آسمان کې یو آواز وشي، وایي به چې: زما بنده ریښتیا وویل، جنتي فرش او جامې ورته واچوئ او د جنت دروازه ورته پرانیزئ، راوي وایي: د جنت هوا او خوشبو به ورته راځي، او د سترگو د دید په اندازه به ورته قبر پراخه کړل شي. بیا راوي وایي: بیا به ورته د ښکلي مخ خاوند راشي، چې ښایسته جامې او خوږ بوی به لري، ورته به ووایي: خوشحاله اوسه، دا هغه ورځ ده چې له تاسو سره یې وعده شوې وه. مومن مړی به ورته ووایي: ته څوک یې؟ ستا مخ د خیر مخ دي. هغه به ورته ووایي: زه ستا نیک عمل یم. مړی به ووایي: «اې زما ربه! قیامت ژر راوله، تر څو زه خپل کور او مال ته لاړ شم.

بیا یې د کافر په اړه وویل: کافر ته به هم دوه ملایکې راشي، په قبر کې به یې کینوي، ملایکې به ترې پوښتنه وکړي، چې ستا رب څوک دی؟ کافر به ورته ووایي: ها، ها، زه خو نه پوهیږم. بیا به ترې پوښتنه وکړي: دین دې څه دی؟ هغه به ووایي: ها، ها، زه خو نه پوهیږم. بیا به ترې پوښتنه وکړي: تاسو ته څوک درلیږل شوی وو؟ هغه به بیا ځواب ورکړي: ها، ها، زه خو نه پوهیږم. له آسمانه به یو آوازکوونکی آواز وکړي، چې زما بنده دروغ وویل، د اور فرش ورته واچوئ، او د جهنم دروازه ورته پرانیزئ، چې د اور تودوخه به ورته راځي، قبر به ورباندې راتنگ شي، ترڅو چې هډوکې به یې یو په یو بل کې ننوځي، یو بد مخه، بدبوه او ناوړه جامې لرونکی تن به ورته راشي، دې کافر ته به ووایي: په هغه څخه خوشحاله شه چې تا خفه کوي، دا هغه ورځ ده چې له تاسو سره یې وعده شوې وه. هغه به ورته ووایي: ته څوک یې؟ هغه به ورته ووایي: زه ستا ناکاره عمل یم. کافر به ووایي: اې زما ربه! قیامت مه راوله[1].

- **اې د الله بندګانو!** دریم دلیل چې په قبر کې به د مړي څخه پوښتنې کیږي، امام بخاري په خپل "صحیح" کې له اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها څخه روایت نقل کړي، او هغه د خپلې خور عایشې رضی الله عنها څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: ... ما ته وحي وشوه چې په تاسو به په قبر کې فتنه راځي، چې د دجال د فتنې په څیر او یا دې ته نږدې فتنه به وي، یو تن به تاسو ته راشي، او له تاسو به وپوښتي: ددې انسان په اړه څه پوهیږي؟ مؤمن به ورته ځواب ورکړي: دا محمد ﷺ، د الله رسول دی، موږ ته یې دلایل او سمې لارښوونې راوړې دي، موږ هغه ومنلې، ایمان مو ورباندې راوړ او پیروي مو ورله وکړه. ورته به وویل شي: اې نیک انسانه ویده شه، موږ پوهیدو چې ته په خپله خبره کې ریښتنی یې. خو منافق او شکي انسان - راوي وایي زه

---

(١) أخرجه الإمام أحمد في «مسنده» (٤/٢٨٧) في حديث طويل، وأبو داود (٤٧٥٣)، وصحح إسناده محققو «المسند» وقالوا: رجاله رجال الصحيح، وكذا صححه الألباني كما في «صحيح الجامع» (١٦٧٦) و «مشكاة المصابيح» (١٦٣٠)

نه پوهيږم چې اسماء رضی الله عنها منافق وويلو او مرتاب (شکي) يې وويلو- به ورته ووايي: زه نه پوهيږم، ما چې څه د خلکو څخه اوريدل، هغه به ما هم ويل[۱].

دا درې واړه حديثونه په دې خبره دلالت کوي چې په قبر کې به د مړي څخه پوښتنې کيږي، مؤمن ته به الله د سم ځواب ورکولو توان ورکړي، لکه څرنگه چې قرآن مجيد کې راغلي دي:

﴿يُثَبِّتُ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱلۡقَوۡلِ ٱلثَّابِتِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَفِي ٱلۡأٓخِرَةِۖ﴾

الله هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی په ثابته خبره باندې مضبوطوي، په دنيايي ژوند کې او په اخرت کې. خو کافر يا منافق به ځواب نه شي ورکولی، الله به ورسره د هغوی د عملونو مطابق چلند وکړي.

- **اې د مؤمنانو ټولیه!** د آخرت په ورځ د ايمان سره يوه بله خبره ترڵ شوې ده چې هغه د قبر عذابونه او نعمتونه دي، او په دې باندې دليل د زيد بن ثابت رضي الله عنه دی چې د رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «کنه، تاسو به دا مړي بيا نه دفن کولی، ما به د الله څخه غوښتې وي چې تاسو ته د قبر عذاب واوروي، کوم چې زه اورم. بيا يې خلکو ته مخ وگرځاوه، او داسې يې وفرمايل: د الله څخه د قبر د عذاب نه پناهي وغواړئ، صحابو وويل: مورږ په الله سره د قبر د عذاب نه پناهي غواړو. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د الله څخه د قبر د عذاب نه پناهي وغواړئ، صحابو وويل: مورږ په الله سره د قبر د عذاب نه پناهي غواړو، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په الله څخه د ښکاره او پټو فتنو څخه پناهي وغواړئ. صحابو وويل: مورږ په الله سره د ښکاره او پټو فتنو څخه پناهي غواړو. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دجال د فتنې څخه پناهي وغواړئ. صحابو وويل: مورږ په الله سره د دجال د فتنې څخه پناهي غواړو[۲].
- **اې د الله بندګانو!** د قبر عذاب به دوه ډوله خلکو ته ورکول کيږي چې هغه ګناهګار مومنان او کافران دي، د اولنۍ خبرې (چې ګناهګارو مومنانو ته به د قبر عذاب ورکول کيږي) دليل د ابن عباس رضي الله عنهما څخه راويت دي، چې هغه فرمايلي دي: «رسول الله ﷺ د دوو قبرو په خوا تېر شو، بيا يې وفرمايل: دا د دواړو قبرونو خاوندان په عذاب کې دي، دويو ته عذاب د داسې لوی کار له امله نه ورکول کيږي، چې دوی ترې خپل ځانونه نه شول ساتلی، يو تن په دې دواړو کې هغې به چغلي کوله، او بل تن به خپل ځان د تشو بولو څخه نه ساته»[۳].

چغلي او د تشو بولو څخه ځانه پاک نه ستاتل، لوی ګناهونه دي، د دې ګناهونو مرتکبينو ته به د خپلو کړو ګناهونو مطابق د قبر عذاب ورکول کيږي؛ ځکه چې قبر د بدلې ځای دی.

- په دې خبره دليل چې کافرانو ته به د قبر عذاب ورکول کيږي د قرآن کريم دا آيت دليل دي:

---

(۱) أخرجه البخاري (۱۰۵۳)، والشك في اللفظين من عند هشام بن عروة.

(۲) رواه مسلم (۲۸٦۷).

(۳) رواه البخاري (۲۱٦) ومسلم (۲۹۲)، واللفظ لمسلم.

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ فِي غَمَرَٰتِ ٱلۡمَوۡتِ وَٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ بَاسِطُوٓاْ أَيۡدِيهِمۡ أَخۡرِجُوٓاْ أَنفُسَكُمُۖ ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ عَذَابَ ٱلۡهُونِ بِمَا كُنتُمۡ تَقُولُونَ عَلَى ٱللَّهِ غَيۡرَ ٱلۡحَقِّ وَكُنتُمۡ عَنۡ ءَايَٰتِهِۦ تَسۡتَكۡبِرُونَ﴾

او که چېرې ته ووينې کله چې ظالمان د مرګ په سختيو کې (ګېر) وي او ملايکو خپل لاسونه وراوږده کړي وي (او ورته وايي) تاسو خپلې ساه ګاني راوباسئ، نن ورځ به تاسو ته د سپکوونکي عذاب سزا درکولی شي، په سبب د هغې ناحقه وينا چې تاسو به په الله باندې تپله، او وئ تاسو چې د ده له ايتونو څخه مو تکبر کاوه.

بل آيت دی:

﴿ٱلۡيَوۡمَ تُجۡزَوۡنَ﴾

نن ورځ به تاسو ته سزا درکولی شي.

دا آياتونه دليل دی چې هغوی ته به فوراً عذاب ورکول کيږي.

الله پاک د د آل فرعون په اړه فرمايلي دي:

﴿ٱلنَّارُ يُعۡرَضُونَ عَلَيۡهَا غُدُوّٗا وَعَشِيّٗاۚ وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

(د دوزخ) اور (چې دی) دوی هغه ته هر سبا او هر بېګاه وړاندې کاوه شي او په هغې ورځ کې چې قيامت قايم شي (نو ملايکو ته به وويل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.

د دې آيت له مخې «غدوًا وعشيًا» دا ښيي چې د قيامت نه مخکې د کافرو عذاب موجود دی، ځکه الله پاک د دې څخه وروسته فرمايي:

﴿وَيَوۡمَ تَقُومُ ٱلسَّاعَةُ أَدۡخِلُوٓاْ ءَالَ فِرۡعَوۡنَ أَشَدَّ ٱلۡعَذَابِ﴾

او په هغې ورځ کې چې قيامت قايم شي (نو ملايکو ته به وويل شي:) تاسو ال فرعون لره تر ټولو سخت عذاب ته ننباسئ.

الله پاک د هغه عذاب چې د قيامت د قائميدو مخکې او کوم چې به په قيامت کې وي، د دواړو ترمينځ فرق کړی دی.

- **اې د الله بندګانو! د قبر نعمتونه به بيا د رښتنې مؤمنانو لپاره وي، الله فرمايلي دي:**

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ قَالُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُ ثُمَّ ٱسۡتَقَٰمُواْ تَتَنَزَّلُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَبۡشِرُواْ بِٱلۡجَنَّةِ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ﴾

بېشکه هغه کسان چې (په رښتيا) يې ويلي دي: زمونږ رب الله دی، بيا ټينګ ولاړ وي (، نو) په دوی ملايك نازليږي چې تاسو مه وېرېږئ او مه غمګين کېږئ او تاسو د هغه جنت زېرى واخلئ چې تاسو سره به يې وعده کولی شوه.

په دې آيت کې وجه د دليل هغه د الله پاک دا وينا ده چې د ملايکو په ژبه به مومنانو ته ويل کيږي، (ابشروا بالجنة)

دا به ورته د مرگ او د بدن څخه د روح د وتلو پر مهال ویل کیږي، د مرگ او د بدن څخه د روح د وتلو پرمهال د جنت زیری ورکېدل؛ دا یو نعمت دی، چې په دې آیت کې دا شاهد دی.

- په قبر کې د نعمتونو په اړه، دا آیت دلیل دی:

﴿فَلَوۡلَآ إِذَا بَلَغَتِ ٱلۡحُلۡقُومَ ﴿٨٣﴾ وَأَنتُمۡ حِينَئِذٖ تَنظُرُونَ ﴿٨٤﴾ وَنَحۡنُ أَقۡرَبُ إِلَيۡهِ مِنكُمۡ وَلَٰكِن لَّا تُبۡصِرُونَ ﴿٨٥﴾ فَلَوۡلَآ إِن كُنتُمۡ غَيۡرَ مَدِينِينَ ﴿٨٦﴾ تَرۡجِعُونَهَآ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿٨٧﴾ فَأَمَّآ إِن كَانَ مِنَ ٱلۡمُقَرَّبِينَ ﴿٨٨﴾ فَرَوۡحٞ وَرَيۡحَانٞ وَجَنَّتُ نَعِيمٖ﴾

نو ولې یې نه (راګرځوئ) کله چې ساه ستوني ته ورسېږي،او په دغه وخت کې تاسو ګورئ، او مونږ ده ته له تاسو نه ډېر نژدې یو او لېکن تاسو نه وینئ، نو ولې یې نه (راګرځوئ) که تاسو محکومان نه یئ، (نو ولې) دغه ساه (نه) راګرځوئ ـ که تاسو رښتیني یئ، نو که چېرې (دغه مړی) له مقربینو څخه وي،نو (د ده لپاره) راحت او ښه رزق او له نعمتونو ډك جنت دی.

په دې آیت کې وجه د دلالت هغه راحت، خوشبو او د جنت نعمتونه دي، دا به هغه وخت وي، چې کله ساه د انسان مړی ته ورسیږي، آیت هم په دې خبره دلالت کوي، او له دې آیت څخه یوه بله خبره څرګندیږي، چې د نعمتونو پېل هغه به د انسان د مرګ سره وي، چې دا به د قبر لومړی نعمت وي.

- په قبر کې د نعمتونو په اړه، بل دا آیت دلیل دی:

﴿كَذَٰلِكَ يَجۡزِي ٱللَّهُ ٱلۡمُتَّقِينَ ﴿٣١﴾ ٱلَّذِينَ تَتَوَفَّىٰهُمُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ طَيِّبِينَ يَقُولُونَ سَلَٰمٌ عَلَيۡكُمُ ٱدۡخُلُواْ ٱلۡجَنَّةَ بِمَا كُنتُمۡ تَعۡمَلُونَ﴾

همدارنګه الله متقیانو ته بدله ورکوي، هغه کسان چې ملایك یې (روح) قبض کوي، په دې حال کې چې هغوی پاك وي، دوی به (ورته) وایي: په تاسو دې سلام وي، تاسو جنت ته داخل شئ، په سبب د هغو عملونو چې تاسو به کول.

په دې آیت کې وجه د دلالت هغه د ملائکو لخوا مؤمنانو ته د مرګ پر مهال د جنت بشارت او زیری ورکول دي: (ادخلو الجنة).

- د مؤمن د ساه د قبض کولو مخکې به نومورې ته د نعمتونو بشارت او زیری ورکول کیږي، دلیل په دې خبره دا آیت دی:

- ﴿يَٰٓأَيَّتُهَا ٱلنَّفۡسُ ٱلۡمُطۡمَئِنَّةُ ﴿٢٧﴾ ٱرۡجِعِيٓ إِلَىٰ رَبِّكِ رَاضِيَةٗ مَّرۡضِيَّةٗ ﴿٢٨﴾ فَٱدۡخُلِي فِي عِبَٰدِي ﴿٢٩﴾ وَٱدۡخُلِي جَنَّتِي﴾

اې اطمینان نیوونکیه نفسه! ته وګرځه خپل رب ته، په داسې حال کې چې خوشاله او راضي کړی شوی به یې، نو ته زما په بنده ګانو کې داخل شه، او زما جنت ته ننوځه.

- **اې د الله بندګانو! د احاديثو مطابق هم دا خبره ثابته ده چې د مؤمن د ساه د قبض کولو مخکې به هغې ته د نعمتونو بشارت او زيرى وركول كيږي، لكه څنګه چې دا خبره د براء بن عازب رضي الله عنه په حديث کې - چې مخکې بيان شو- ذكر شوې ده، چې په حديث کې دى: مؤمن چې كله په قبر کې د دوو ملايكو پوښتنو ته ځوابونه وركړي، ملايكې به ورته ووايي: (اې پاكه روحه! د الله ببښنې او رضامندى ته ووځه)، روح به خوشاله شي، او په اسانۍ سره به ووځي، بيا به د آسمان له لورې يو آواز وشي چې زما بنده ريښتيا وويل، جنتي فرش او جامې ورته واچوئ، او جنت نه ورته دراوزه خلاصه كړئ، چې د هغې له لارې به ورته خوشبو راځي، او د سترګو د ديد په اندازه به يې قبر پراخه شي، بيا به ورته د ښكلي مخ خاوند راشي، چې ښايسته جامې او خوږ بوى به لري، ورته به ووايي: خوشحاله اوسه، دا هغه ورځ ده چې له تاسو سره يې وعده شوې وه. دا مومن به ورته ووايي: ته څوک يې؟ ستا مخ د خير مخ دي. هغه به ورته ووايي: زه ستا نيک عمل يم. مړى به ورته ووايي: «اې زما ربه! قيامت ژر راوله، تر څو زه خپل كور او مال ته لاړ شم.**[1]
- **اې د الله بندګانو! دا د قرآن او سنت څخه په فتنه قبر، د قبر په نعمتونو او عذابونو قاطع او يقيني دليلونه دي، له دې به يوازې له حقيقت څخه مخالف انسان انكار كوي.**
- بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **اې د الله بندګانو د الله څخه وويريږئ، او پوه شئ چې په آخرت ورځ د ايمان لرلو ګټې فائدې او ګټې دي**[2]**، چې مهمې يې دا دي:**

لومړى: **د نيكو كارونو په كولو کې رغبت او حرص كول، په دې اميد چې په آخرت کې ورته ثواب وركړل شي.**

دويم: **د ګناه كارونو څخه ويره كول، له دې ويرې چې په دغه ورځ راته سزا رانه كړل شي.**

دريم: **مؤمن ته د دنياوي خوندونو په فوت كېدو، تسليت وركول دي، چې په بدل کې به يې مؤمن ته په اخرت کې نعمتونه او بدلې وركړل شي.**

---

(١) أخرجه الإمام أحمد في «مسنده» (٤/٢٨٧) في حديث طويل، وأبو داود (٤٧٥٣)، وصحح إسناده محققو «المسند» وقالوا: رجاله رجال الصحيح، وكذا صححه الألباني كما في «صحيح الجامع» (١٦٧٦) و «مشكاة المصابيح» (١٦٣٠)

(٢) دا زياته برخه د «شرح ثلاثة الأصول» د ابن عثيمين رحمه الله د كتاب څخه راخيستل شوې، ص ١٠٥.

څلورم: د الله پاک عدل پیژندل، چې الله خپلو بندگانو ته د هغوې په عملونو سزا ورکوي، که عمل یې نیک وي؛ ښه بدله به ورکړي، او که عمل یې بد وي، بده بدله به ورکړي.

پنځم: د الله پاک حکمت پیژندل، چې بندگان یې بې هدفه نه دي پیدا کړي، بلکې د یو لوی حکمت لپاره یې پیدا کړي دي، چې هغه عبادت دی، نیکي کول دي، او له بدیو ځان ساتل دي، او بیا به په اخرت کې ورسره په دې کارونو حساب کوي.

اې الله! مورِ په تاسره د قبر او جهنم د عذاب څخه پناه غواړو، د مړو او ژوندو او د دجال د فتنې څخه پناه غواړو. اې الله! مورِ له تا څخه جنت غواړو، او د هر هغې وینا او عمل توفیق غواړو چې مورِ جنت ته نږدې کوي، اې الله مو د اور څخه پناهي غواړو، او د هر هغې وینا او عمل د توفیق څخه هم پناه غواړو چې مورِ اور ته نږدې کوي، اې الله! مورِ ته ستا محبت راکړې او د هر هغه عمل محبت راکړې چې مورِ تا ته نږدې کوي. اې الله! مورِ پر خپلو نفسونو ډېر ظلم کړی دی، ستا پرته بل هیڅوک د ګناهونو بښوونکی نشته؛ نو مورِ ته له خپل طرفه بښنه وکړه، پر مورِ رحم وکړه، بېشکه ته ډېر بښوونکی او رحم کوونکی ذات یې. اې زمورِ ربه! مورِ ته په دنیا او اخرت کې نیکه برخه راکړې، او د اور د عذاب څخه مو وساتې.

اللهم صل على نبينا محمد وآله وصحبه وسلِّم تسليما كثيرا.

د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حقوقو اړوند خطبې
د شهادة ان محمد رسول الله د تحقق شرطونه، او د هغې نواقض

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

- **ای مسلمانانو!** د الله تعالی څخه ووېرېږئ، د هغه د عذاب څخه ځان وساتئ، اطاعت یې وکړئ او نافرماني یې مه کوئ؛ او پوه شئ چې د «شهادة أن محمد رسول الله» دا گواهي یوازې هغه وخت گټوره ده، چې اته شرطونه ولري[1]:

لومړی: د شهادت په معنی پوهېدل، په دې خبره ایمان لرل چې هغه د الله له لوري ریښتی پیغمبر دی.

دویم: د هغه رسالت او پیغمبرې د زړه څخه منل، شک او تردد ورکې نه کول، په دې خبره دلیل دا آیت دی:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ ثُمَّ لَمْ يَرْتَابُوا﴾

بشکه مومنان خو هغه کسان دي چې په الله او د هغه په رسول یې ایمان راوړی دی، بیا یې شك نه دی کړی.

دریم: په باطن او ظاهر دواړو کې هغه ته تسلیمېدل، یعني د رسول ﷺ اطاعت کول، هغه ته د تسلمیدو دلیل دا آیت دی:

﴿وَمَنْ يُسْلِمْ وَجْهَهُ إِلَى اللَّهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَى وَإِلَى اللَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ﴾

او هغه څوك چې خپل مخ الله ته وسپاري، په دې حال کې چې نېکي کوونکی وي، نو یقینًا ده په ډېرې مضبوطې کړۍ باندې منګولې ښخې کړي دي، او خاص الله ته د ټولو کارونو انجام دی.

څلورم: د هغه رسالت په بشپړه توګه منل؛ که یو څوک د شهادت د لوزاماتو څخه د کوم یو څه څخه انکار وکړي، دا شهادت یې ناقض او سم نه دی.

---

(۱) انظر: "أعلام السنة المنشورة لاعتقاد الطائفة الناجية المنصورة"، تأليف الشيخ حافظ الحكمي، ص ۳۹، الناشر: دار المؤيد - الرياض.

پنځم: په اخلاص سره گواهي کول؛ د گواهي کوونکي قصد یوازې الله ته ځان نږدې کول، چې ضد یې شرک دی، د هغې څخه ځان ساتل، داسې نه چې د گواهۍ څخه یې موخه د دنیا گټه ترلاسه کول وي، لکه څرنگه منافقان دا کار کوي.

شپږم: گواهۍ یې صادقه وي؛ چې په دروغو گواهي نه وي، دلیل په دې خبره دا آیت دی:

﴿ وَلَقَدْ فَتَنَّا الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَلَيَعْلَمَنَّ اللَّهُ الَّذِينَ صَدَقُوا وَلَيَعْلَمَنَّ الْكَاذِبِينَ﴾

او یقیناً یقیناً مونږ هغه کسان ازمایلي وو چې له دوی نه مخکې وو، نو خامخا ضرور به الله هغه کسان معلوموي (ظاهروي) چې رښتیني دي او خامخا ضرور به دروغجن معلوموي.

او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «هر هغه څوک چې په زړه نه، یعنې په ریښتیا سره دا گواهي ورکړي چې د عبادت حقدار یو الله دي، او محمد ﷺ د الله رسول دی؛ الله به یې د جهنم په اور حرام کړي.[1]

اوم: خپله هم د پیغمبر په نبوت گواهي کول، او د هغه خلکو سره مینه کول، چې هغوی هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په نبوت گواهي کوي، او د مخالفینو سره کرکه ولري.

اتم: د گواهۍ د مخالفو کارونو څخه انکار کول، او ځان ترې لیرې ساتل، دا گواهي بیا پنځه نواقض یعنې ماتوونکي لري، چې الله پاک دې مونږ ټول په هغې کې د واقع کیدو څخه وژغوري.

ای مؤمنانو! د «شهادت ان محمد رسول الله» نواقض یا د گواهۍ ماتوونکي پنځه دي:

لومړی ناقض او ماتوونکی: هغه اته شرطونه چې مخکې ذکر شول، یو یا زیات نه منل؛ نو دې سره شهادت باطلېږي.

دویم ناقض: د دین د ښکاره خبرو څخه انکار کول، لکه د رسول الله ﷺ د پیغمبرۍ څخه انکار، یا د محمد ﷺ د بشریت څخه انکار کول، یا په امت باندې د هغې د حقوقو څخه انکار کول، یا له دې انکار کول چې هغه د ټولو پیغمبرانو خاتم (وروستی) نه دی، یا له دې انکار کول، چې د هغه رسالت د هغه څخه د مخکې ټولو شریعتونو ناسخ نه دي، یا له دې انکار کول، چې هغه پوره او مکمل دین امت ته نه دی رسولی، یا له دې انکار کول چې د هغه رسالت عام یعنې انسانانو او پیریانو ته نه دی، یا د اسلام له ارکانو څخه انکار کول، یا د هغه څه څخه انکار کول، چې حرامولی یې په دین کې ښکاره او څرگند دی، لکه د شرابو، غلا، زنا او ورته نورو منکراتو حرامولی.

دریم ناقض: رسول الله ﷺ ته اذیت رسول، که دا اذیت د هغه ﷺ په ژوند کې وي یا تر وفات وروسته وي، لکه د هغه په ذات باندې طعن لگول، یا دا طعن د هغه په صداقت، عقل او عفت (پاکلمنۍ) باندې لگول، دا ټول عملونه د شهادت ان محمد رسول الله ﷺ، د گواهۍ سره ښکاره مخالفت دی، ځکه د قرآن د هغه عقیدې مخالفت دی، چې پیغمبر ﷺ الله په ټولو بندگانو کې غوره کړي و.

---

(۱) رواه البخاري (۱۲۸) عن معاذ بن جبل رضي الله عنه.

د هغه چا په کفر دلیل چې رسول الله ﷺ ته اذیت رسوي، دا آیت دی:

﴿وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ﴾

او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی.

لعنت یعنې د الله د رحمت څخه شړلو ته وایي، او الله پاک چې څوک له خپل رحمت څخه وشړي، هغه له کافر پرته بل هیڅوک نشي کیدای.

اې مؤمنانو! رسول الله ﷺ ته د اذیت رسولو له ډولونو څخه یې یو هم، په هغه پورې استهزاء (ملنډې) کول دي، که دا په ارادې سره ملنډې کول وي، او که د ټوکې په بڼه وي، او د داسې کس پر کفر باندې دلیل د التوبې سورت دا آیت دي:

﴿ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ قُلْ أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِئُونَ ﴿٦٥﴾ لَا تَعْتَذِرُوا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ إِيمَانِكُمْ ﴾

او قسم دی که ته له دوی نه پوښتنه وکړې (، نو) خامخا به وایي: مونږ خو یواځې مشغولتیا او لوبې کولې، ته (ورته) ووایه: ایا تاسو په الله او د هغه په ایتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟ عذرونه (بهانې) مه جوړوئ، یقینًا تاسو له خپل ایمان راوړو نه وروسته کافران شوي یئ.

شیخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: بېشکه الله او د هغه د رسول پورې ملنډې کول کفر دی، چې مرتکب یې له دین څخه وځي، ځکه چې د دین بنسټ د الله، د هغه د دین، او د هغه د رسولانو پر تعظیم ولاړ دی، او استهزاء له دې تعظیم سره ښکاره مخالفت دی، او له دې اصل سره ستر مخالفت لري.

څلورم ناقض: په هغو چارو کې واقع کېدل چې د اسلام له مبطلاتو (دین له منځه وړونکو) کارونو څخه وي، لکه: د الله سره په عبادت کې شرک کول، دا عقیده لرل چې د رسول الله ﷺ نه پرته د بل چا طریقه یا تګلاره غوره ده، یا دا ګمان کول چې د بل چا حکم د رسول الله ﷺ له حکم څخه ښه دی، لکه کوم خلک چې د طواغیتو حکمونه، د رسول الله په حکم غوره ګڼي، لکه یو څوک د کمونیزم یا دیموکراسۍ نظام د اسلامي نظام څخه غوره ګڼي؛ نو داسې کس کافر دی.

په دې حکم کې دا هم شاملیږي یو رسول الله صلی الله علیه وسلم په یو کار امر کړی وي، هغه بد وګڼل شي، یا د الله په دین، یا ثواب، یا سزا پورې ملنډې وشي، یا په جادو باندې اخته شي، یا د دین څخه مخ وګرځوي، نه پرې ځان پوهوي، او نه پرې عمل کوي[1].

ای مؤمنانو! پنځم او وروستی ناقض د دې خبرې څخه انکار کول چې محمد ﷺ د الله رسول دی، یعنې د رسول الله ﷺ په هکله غلو (زیاتی) کول دي، د هغه په تعظیم کې له هغه حده یاتی کول،

(۱) رواه البخاری (۳٤٤٥).

رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې او د وفات څخه وروسته هم خلک له غلو څخه منع کړي دي، تر څو خلک د هغه په هکله مبالغه ونه کړي، زمونږ پیغمبر د خپل امت لپاره څومره خیر خوا و، له رسول الله ﷺ څخه د غلو نه د ځان ساتنې په اړه لس حدیثونه روایت دي، یو له هغه حدیثو څخه د عمر بن الخطاب رضي الله عنه حدیث دی، چې فرمایي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل، چې ویل یې: «ما مه لوړوئ لکه څنګه چې نصارٰاو عیسی ابن مریم لوړ کړ، زه یواځې بنده یم؛ نو ما ته د الله بنده او د هغه رسول وایئ[1].

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندګانو! د الله څخه وویریږئ، د رسول الله ﷺ په اړه غلو (زیاتی) **دوه ډولونه لري:** یو یې هغه دی چې انسان ورسره د اسلامه وځي، او بل یې هغه دی چې د اسلامه ورباندې نه وځي، چې د لومړي څخه په درجه کې کم دی.

- د هغه غلو مثالونه چې مسلمان له اسلامه وباسي، دا دي: رسول الله ﷺ ته د عبادت کوم ډول خاص کول، لکه له هغه دعا غوښتل، یا د الله د ځانګړو صفاتو څخه کوم یو صفت رسول الله ته منسوب کول، لکه د باران راورول، د رزق تدبیر کول، یا د غیبو علم لرل؛ نو دا ټول باطل او کفر دي، او د رسول الله ﷺ په حق کې له تر ټولو سترو او لویو غلو د مثالونو څخه دا هم دي، لکه څرنګه چې الله تعالى فرمایلي دي:

﴿قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِي نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ﴾

ته ووایه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك یم او نه د نقصان مګر هغه چې الله یې وغواړي او که چېرې زه په غیبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خیر حاصل کړی و او ما ته به هېڅ تکلیف نه و رارسېدلی.

او هغه غلو چې مسلمان له اسلامه څخه نه باسي، هغه بدعت دی، کوم چې کفر ته نه رسېږي، خو دا عمل انسان د هغه غلو لومړي ډول چې له اسلامه ویستل دي، هغې ته رسوي، لکه د رسول الله ﷺ په جاه (مرتبې) قسم کول، د هغه په ذات وسیله نیول، د هغه میلاد یعنې کلیزه لمانځل، د هغه په اړه دا عقیده لرل، چې هغه د نور څخه پیدا دی، بله دا عقیده لرل چې الله پاک دا نړۍ د هغه د پاره پیدا کړې ده، یا د هغه د قبر لپاره سفر کول، او د رسول الله ﷺ قبر ته سفر کولداسې یو عمل دی چې ډېر

(۱) انظر النهاية فى غريب الحديث.

خلک يې کوي، او فکر کوي چې دا نيکي ده، حال دا چې دا بدعت دی، ځکه دا داسې عمل دی چې شريعت پرې امر نه دی کړی، بلکې منع يې ترې کړې ده.

رسول الله ﷺ فرمايلي: «تاسې سفر مه کوئ، مگر درې جوماتونو ته سفر وکړئ، مسجد الحرام، مسجد الاقصی، او زما دا مسجد (مسجد نبوي ترې مراد دی)» يعنې په دې حديث کې رسول الله ﷺ خلک راوبلل، چې د زړه قصد بايد دا وي چې مسجد نبوي ته سفر وکړي، نه د نبي ﷺ قبر ته سفر وکړي.

نو که څوک د رسول الله ﷺ د قبر د زيارت لپاره سفر کوي؛ نو دا عمل يې ناسم او مردود دي، بلکې داسې يو کار دی چې شريعت يې په کولو تاکيد نه دی کړی، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «چا چې په دين کې داسې يو عمل وکړ چې موږ يې د کولو امر نه وي کړی؛ هغه عمل يې مردود دی».

نو کله چې يو مسلمان مسجد نبوي ته لاړشي او هلته لمونځ وکړي، نو مطلب او مقصد يې پوره شو، له دې وروسته بيا کولای شي چې د رسول الله ﷺ د قبر زيارت وکړي، په رسول الله ﷺ او د هغه په دواړو ملگرو سلام وکړي، همداراز کولای شي چې د قباء مسجد ته ولاړ شي او هلته دوه رکعته لمونځ وکړي، لکه څنگه به چې رسول الله ﷺ کول، او همدا راز، کولای شي چې د بقيع د هديرې زيارت هم وکړي او هلته د دفن شو مړو؛ لپاره دعا وکړي، همدا شان د احد د شهيدانو هديرې ته ولاړ شی، او هغوی ته دعا وکړي، لکه څنگه چې نورو هديرو ته د پند اخېستلو او دعا لپاره خلک زيارت کوي.

اې مسلمانانو! د رسول الله ﷺ د تعظيم اړوند، خلک درې ډوله دي:

لومړی ډله: هغه خلک دي چې د غفلت او بې‌پروايۍ له امله د رسول الله ﷺ حق نه ادا کوي، لکه د هغه سره محبت لرل، وفاداري کول، اطاعت يې کول، درناوي يې کول، او تعظيم يې کول، دا ډله خلک په دوه برخو ويشل شوي دي:

١. په گناهونو او غفلت کې اخته خلک دي، چې د رسول الله ﷺ له اطاعت څخه مخ اړوي.
٢. او دويمه برخه يې هغه افراطي په بدعاتو کې اخته صوفيه باطنيه دي، کوم چې اوليا او قطبونه له رسول الله ﷺ څخه لوړ گڼي.

دويمه ډله: په غلو کې اخته خلک دي، کوم چې د رسول الله ﷺ په شان کې غلو کوي، چې دا ډله خلک د لومړۍ ډلې خلکو مخالف خلک دي، بلکې دا هغه کسان دي چې رسول الله ﷺ له خپل هغه مقام څخه لوړوي کوم چې الله ورته ټاکلی دي، بلکې د بندگۍ حق ورته ورکوي، کوم چې په بندگانو د الله حق دي، لکه دعا، نذر، ذبحه او داسې نور، يا پيغمبر ته صفتونه ورکوي، کوم چې په الله پورې ځانگړي دي، لکه د غيبو علم او داسې نور، دا افراطي غلو بيا ډېر کله په قبرپرستو کې ليدل کېږي.

دريمه ډله: د حق پيروان او لارويان دي، د منځنۍ لارې خلک دي، چې رسول الله ﷺ سره محبت لري، وفاداري ورته لري، د هغه شرعي حقونه ادا کوي، د هغه په حق کې له غلو څخه ځان لېرې ساتي، الله دې موږ له همدې ډلې خلکو څخه وگرځوي، او د همدوې په لارې دې موږ ته ثبات راکړي.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او ځلورو خلیفه ګانو څخه، او همدارنګه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذلیل کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه، او د خپلو موحدو بندګانو مرسته وکړه.

اې الله مور پر خپل هیواد کې په امن کړه، زمور حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار یې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین ته عزت ورکړي، په خپل رعیت باندې مهربانه کړه، اې الله څوک مور، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان یې کړه، او د هغه چل د هغه په ځاړه کې واچوه.

اې الله له مور څخه ګراني، وباګاني، سود، زنا، زلزلې، مصیبتونه، ښکاره او پټې ناوړه فتنې په ځانګړي ډول زمور له هیواد، او د ټولو مسلمانانو د هیوادونو څخه لیرې کړې، اې زمور ربه! مور په دنیا کې نیکي راکړه، او په اخرت کې هم نیکي راکړه، او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.

سبحان ربنا رب العزة عما یصفون، وسلام علی المرسلین، والحمد لله رب العالمین

په پیغمبر ﷺ باندې د ایمان لرلو، تقاضا او غوښتنې

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

اې مسلمانانو! د الله ویره خپل ځان ته لازم وګرځوئ، د هغه څارنه کوئ، اطاعت یې کوئ، نافرماني یې مه کوئ، او پوه شئ چې الله (جل جلاله) په خپلو بندګانو باندې د ستر رحمت له مخې، یو پیغمبر راولېږه، چې له دوی څخه و، هغه پر دوی باندې د الله آیاتونه لوستل، زړونه یې ورته پاکول، او د کتاب او حکمت پوهه یې ورته زده کوله؛ حال دا چې دوی له پخوا څخه په ښکاره ګمراهی کې پراته وو، د محمد ﷺ پر نبوت او رسالت باندې ایمان لرل، د پنځلسو خبرو تقاضا او غوښتنه کوي:

تر هر څه لومړی دا چې د رسول الله ﷺ نوم او نسب وپېژنو، نوم يې محمد بن عبد الله بن عبد المطلب بن هاشم بن عبد مناف بن قصی بن كلاب بن مرة بن لؤي بن غالب بن فهر بن مالك بن النضر بن كنانة بن خزيمة بن مدركة بن إلياس بن مضر بن نزار بن مَعد بن عدنان، عدنان بيا د اسماعيل عليه السلام له اولادې څخه و، او اسماعيل عليه السلام بيا د ابراهيم عليه السلام زوی و، خو دومره پوهېدل هم بسنه كوي چې زمونږ د پيغمبر نوم محمد بن عبد الله دی، او د قريشو له قبيلې څخه دی.

د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه كوي، چې د هغه د نبوت په دلائلو ايمان ولرو، او د هغه د نبوت دلائل زيات دی، تر ټول ستر يې د قرآن كريم نزول، د سپوږمۍ چاودل، د ونې تنه چې د هغه د فراق له كبله يې وژړل، د طعام تسبيح، د گوتو څخه د اوبو راوتل، د لږ خوراک زياتوالی، او د غيبي خبرو خبر وركول دی.

د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه كوي، په دې خبره ايمان لرل چې هغه نبي او رسول دی، او د الله له لوري رالېږل شوی دی، او د هغه رسالت ريښتنی دی.

د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه كوي، چې هغه د ټولو پيغمبرانو وروستی پيغمبر دی، او د هغه په راتگ سره رسالت پای ته ورسيد، لكه څنگه چې الله فرمايي:

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾

محمد ﷺ ستاسو په سړيو كې د هيڅا پلار نه دی او لېكن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړۍ) ختموونكی دی.

د ثوبان رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «زما په امت به كې په دريش درواغ ويونكي وي، او هر يو به د نبوت دعوی كوي، ليكن زه تر ټولو وروستی پيغمبر يم، او له ما څخه وروسته بل نبی نه راځي»(1).

د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «زما او له ما څخه د مخكې پيغمبرانو داسې مثال دی، لكه يو تن چې ښايسته كور جوړ كړي، ليكن د دې كور په يو گوټ كې يوه خښته پاتې وي، كله چې خلك د دې كور څخه راتاويږي، د دې كور صفتونه كوي، او وايي: كاش چې دغه ځای خښته كيښودل شوی وی؟ رسول الله صلى الله عليه و سلم وفرمايل: زه هغه خښته يم، او زه تر ټولو پيغمبرانو وروستی پيغمبر يم»(2).

(١) رواه أبو داود (٤٢٥٢) وأحمد (٢٧٨/٥)، وصححه الألباني، وكذا محققو "المسند"، وقالوا: على شرط مسلم.

(٢) رواه البخاري (٣٥٣٥) ومسلم (٢٢٨٦).

د پیغمبر ﷺ پر نبوت ایمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې دا ایمان باید ولرو چې د هغه شریعت، د مخکنیو شریعتونو ناسخ او پای ته رسوونکی دی، لکه د موسی او عیسی (علیهم السلام) شریعتونه، او پر هغې ټولو برلاسی دی، لکه څنگه چې الله فرمایي:

﴿ وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ الْكِتَابِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ ﴾

او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی.

نو له دې امله د اسلامي شریعت پرته په نورو باندې عمل کول روا نه دی.

د پیغمبر ﷺ پر نبوت ایمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د هغه د نبوت وروسته، د اسلام پرته بل هیڅ دین الله ته مقبول نه دی، او دلیل په دې خبره دا آیت دی:

﴿ وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴾

اوخوك چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هیڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی.

او له نبي ﷺ څخه هم روایت دی چې فرمایلي یې دي: «قسم دی په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح د هغه په لاس کې دی، څوک چې زما په اړه واوري، که هغه یهودي وي یا نصراني، او زما په رسالت ایمان را نه وړي، نو هغه به د اور والاو څخه وي»[1].

د پیغمبر ﷺ پر نبوت ایمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې مونږ دا ایمان ولرو چې هغه الهي پیغام په بشپړ ډول خلکو ته رسولی، امت یې د حق پر روښانه لاره پرې ایښې، چې د ورځې په شان رون دی، الله فرمایلي دي:

﴿ الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ ﴾

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دین مکمل کړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دین په توګه خوښ کړو.

او په احادیثو کې د بخاري او مسلم روایت دی، چې مسروق وایي، زه د عائشې رضی الله عنها په حضور کې وم، هغې وفرمایل: «ابا عائشه! درې خبرې دي، چې که څوک یې یوه هم ووایي، نو پر الله یې لوی درواغ او تهمت پورې کړ...، یوه له هغه دا ده چې څوک ووایي: رسول الله ﷺ د قرآن څه برخه پټه کړې ده؛ نو هغه پر الله لوی درواغ وترړل»، الله تعالی فرمایلي دي:

---

(۱) رواه مسلم (۱۵۳) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ﴾ ()

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوي دي او که ته (دا کار) ونه کړې، نو تا د هغه (الله) پېغام نه دی رسولی.

د ابوذر رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: «محمد ﷺ مونږ په داسې حالت کې پرېښودو چې اسمان کې به یوې مرغۍ وزرونه هم وښورول، هم مونږ ته به یې یو څه راښودل»().

د نبي ﷺ سره په حجة الوداع کې شاوخوا څلوېښت زره صحابه حاضر وو، رسول الله ورته وفرمایل: «زه تاسو ته داسې څه پرېږدم، چې که پرې کلک ودرېږئ، هېڅکله به ګمراه نشئ: د الله کتاب. که له تاسو څخه زما په اړه پوښتنه وشي؛ نو څه به وایئ؟ هغوی وویل: «مونږ دا شاهدي او ګواهي ورکو، چې تا مونږ ته دین رارسولی دی، د رسالت حق دې ادا کړی دی، او زمونږ خیرخواهي دې لټولې ده».

نبي ﷺ خپله ګوته د آسمان په لورې پورته کړه او درې ځله یې وویل: «اې الله ته ګواه شه، اې الله ته ګواه شه، اې الله ته ګواه شه»().

٨ ـ د پیغمبر ﷺ پر نبوت ایمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د هغه رسالت عام دی، چې هغه د انسانانو او پیریانو دواړو لپاره راستول شوی، الله فرمایلي دي:

﴿ قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُمْ جَمِيعًا ﴾

ته ووایه: ای خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د الله (رالېږل شوی) رسول یم.

او بله ځای یې فرمایلي دي:

﴿ وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ ﴾

او مونږ ته نه یې لېږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت.

پیریانو ته د رسول الله ﷺ د اسلام د دعوت د بلنې یادونه په الجن سورت کې شوې ده، ځینې پیریان پیغمبر ﷺ ته راغلل، او اسلام یې ومنلو، په دې اړه بیا د الاحقاف سورت دا آیاتونه نازل شول:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا

(١) رواه البخاري (٤٨٥٥) ومسلم (٢٨٧، ١٧٧)، واللفظ لمسلم.

(٢) رواه أحمد (١٥٣/٥)، وحسنه محققو "المسند".

(٣) أخرجه مسلم (١٢١٨) عن جابر رضي الله عنهما.

بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُمْ مِنْ ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُمْ مِنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ﴾

او هغه وخت (یاد کړه) چې مونږ تا ته د پېریانو یوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري، نو کله چې دوی ده (قرآن) ته حاضر شول، نو ویې ویل: چوپ شئ! نو کله چې (د قرآن تلاوت) تمام کړی شو (نو) دوی خپل قوم ته بېرته وګرځېدل، په داسې حال کې چې وېرووونکي وو، دوی وویل: ای زمونږ قومه! بېشکه مونږ داسې کتاب واورېده چې له موسیٰ نه وروسته نازل کړی شوی دی، په داسې حال کې د هغو (کتابونو) تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې وو۔، حق ته او نېغې (سمې) لارې ته ښوونه کوي، ای زمونږ قومه! تاسو د الله د بلونکي وینا قبوله کړئ او په ده ایمان راوړئ، چې هغه (الله) تاسو ته ستاسو ځینې ګناهونه وبخښي او تاسو له ډېر دردوونکي عذاب نه خلاص (او بچ) کړي.

رسول الله ﷺ دا رسالت د خپل رب په امر سره ټولو انسانانو ته ورسولو، خپل خپلوانو ته يې بلنه ورکړه، د فارس، روم، حبشې او نورو پاچاهانو ته يې ليکونه ولېږل، پيرانو ته يې بلنه وکړه، او جهاد يې وکړ، ترڅو د دعوت لاره هواره شي، بيا صحابه کرام هم په همدغې لارې روان شول، د قرآن او سنت ساتنه يې وکړه، د مرتدينو پر ضد يې مبارزه وکړه، په درواغو د نبوت د دعوا کوونکو سره يې جګړې وکړې، هيوادونه يې فتحه کړل، شام، مصر، مغرب او خراسان يې فتحه کړل، پر هر ځای کې يې توحيد خپور کړ، بتان يې ونړول، او اسلام ته يې ستر خدمتونه وکړل. چې د تاريخ او حديثو په کتابونو کې خوندي دي، الله دې پر دوی رحم وکړي او کوم څه چې دوی د راتلونکو نسلونو لپاره وکړل، رب دې د قيامت په ورځ د ميزان په تله کې ورته حساب کړي.

۹ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې په دې خبره ايمان لرل چې د نبي ﷺ تګلاره په ټولو تګلارو کې غوره ده، او لارښوونې يې په ټولو لارښوونو کې تر ټولو غوره دي، د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ به په خطبه کې ويل: «تر ټولو غوره خبرې د الله کتاب دی، او تر ټولو غوره لارښوونې د محمد ﷺ دي. او تر ټولو بده خبره، هغه په دين کې د ځانه نوي جوړ شوي کارونه دي، او هره بدعت ګمراهي ده»[1].

۱۰ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د هغه حقوق ادا شي، د هغه تصديق وشي، د شريعت پيروي يې وشي، هغه څه عملي شي چې هغه پرې امر کړی، او له هغو کارونو ډډه وشي چې هغه ترې منع کړې ده، همداراز، د نبي ﷺ سره مينه لرل، هم د ايمان برخه ده.

(١) رواه مسلم (٨٦٧) عن جابر رضي الله عنهما.

١١ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د نبي ﷺ بشريت منل، چې هغه بشر دی، د عبادت وړ نه دی، پيغمبر دی، درواغجن به نشي ګڼل کيدای، الله فرمايلي دي:

﴿سُبْحَانَ الَّذِی أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى﴾

هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصىٰ ته بوتلو.

د عمر رضی الله عنه څخه روايت دی، وايي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلی دي، چې فرمايل يې: «ما داسې مه لوړوی لکه څنګه چې عيسايانو د مريم زوی لوړ کړی و(يعنې زما په اړه مبالغه مه کوئ). زه يوازې بنده يم، نو ما ته د الله بنده او رسول ووايئ»(١).

الله پاک خپل نبی ته وايي:

﴿قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ أَنَّمَا إِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ﴾

ته (دوی ته) ووايه: بېشکه همدا خبره ده چې زه يواځې ستاسو په شان بشر يم، ما ته وحي کولی شي چې بېشکه ستاسو معبود يواځې يو معبود دی.

د پيغمبر ﷺ په بشريت باندې ايمان لرلو سره دا خبره تړلې ده، چې هغه او نور ټول پيغمبران د الوهيت او ربوبيت ځانګړتياوې نه لري، الله پاک خپل نبی ته امر کړی چې دا پيغام خلکو ته ورسوه:

﴿قُلْ لَا أَمْلِكُ لِنَفْسِی نَفْعًا وَلَا ضَرًّا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ وَلَوْ كُنْتُ أَعْلَمُ الْغَيْبَ لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ وَمَا مَسَّنِيَ السُّوءُ إِنْ أَنَا إِلَّا نَذِيرٌ وَبَشِيرٌ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ﴾

ته ووايه: زه د خپل ځان لپاره نه د نفعې مالك يم او نه د نقصان مګر هغه چې الله يې وغواړي او که چېرې زه په غيبو عالم وَی (، نو) ما به خامخا ډېر خير حاصل کړی و او ما ته به هېڅ تکليف نه و رارسېدلی، زه نه يم مګر وېرووونکی او زېری ورکوونکی د هغه قوم لپاره چې ايمان راوړي.

له دې او د دې په خير له نورو آياتونو څخه معلوميږي، چې پيغمبر ﷺ او همدارنګه باقی نور پيغمبران، د آلوهيت او ربوبيت کومه ځانګړتيا نه لري، نه په غيبو پوهيږي، نه په کائناتو کې تصرف لري، نه دعاوې قبلوي، بلکې زمونږ په خير د الله بندګان دي، بلکې الله دوی په نبي ګرځولو سره ځانګړي کړي دي.

١٢ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې په هغه څه ايمان لرل چې د هغه د سيرت، ښايسته اخلاقو، جهاد او د دين په نشر کې چې په کوم مشکلاتو صبر کړی، په دې آړه په ټولو صحيحو روايتونو ايمان لرل.

---

(١) رواه البخاري (٣٤٤٥) واللفظ له، وأحمد (٢٣/١)، والدارمي (٢٧٨٧).

١٣ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د نبي ﷺ د جسمي (خَلقي) او اخلاقي صفاتو باندې ايمان لرل دی، لکه لوړتيا، شکل، مزل، ښايسته روښانه مخ، او عجيبه پيدايښت، او همدارنگه هغه ستر اخلاق چې له دې پرته الله پاک په بل چا کې نه دی، راجمع کړي، لکه رښتينولی، امانت، رحم، عفوه، صله رحمي، او نور اخلاق دا هغه ځانگړتياوې وې، چې علماوو پرې بېلابېل کتابونه ليکلي دي.

١٤ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د نبي ﷺ ذاتی او شرعی ځانگړتياو باندې ايمان لرل، د ذاتی ځانگړتياو څخه لکه د نبوت مهر، چې د هغه د ښي اوږې شاته، يوه بوټه راوتلې د غوښې ټوټه وه، چې د پاسه ورباندې ويښتان و، چې د کوترې د هگۍ په اندازه يې حجم درلود، او همدارنگه بله ذاتی ځانگړنه يې دا وه چې د هغه سترگې به ويده وې، خو زړه به يې ويښ و؛ بله ذاتی ځانگړنه يې دا وه چې د بدن خوله، ويښتان او لعاب يې مبارک و.

همدا راز، يې شرعي ځانگړتياوې هم لرلې، لکه د هغه څخه ميرات نه وړل، صدقه پر ده او د هغه پر اهل بيتو حرامه ده؛ هغه ته د وصال روژه روا وه، له څلورو زياتې ښځې ورته روا وې؛ بله ځانگړنه يې دا وه چې کومې ښځې به ورته خپل ځان هبه کړ، د پيغمبر ﷺ سره يې نکاح صحيح وه، کوم ځای چې وفات شي، هملته به خښولې شي، او داسې نورې ځانگړتياوې.

١٥ ـ د پيغمبر ﷺ پر نبوت ايمان لرل بل د دې خبرې تقاضا اوغوښتنه کوي، چې د نبي ﷺ په عصمت ايمان لرل، هغه په پنځو شيانو کې معصوم و:

هغه په دعوت کې د خطا، تيروتنې، او د دين پټ ساتلو کې معصوم و، دليل په دې دا آيت دی:

﴿وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى﴾

او دی له خپل خواهش نه خبرې نه کوي، نه دی دا (قرآن) مگر وحي چې (ده ته) وحي کول شي.

بل ځای الله فرمايلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾

ای رسوله! ته ورسوه هغه څه چې تا ته د خپل رب له جانبه نازل کړی شوي دي او که ته (دا کار) ونه کړې، نو تا د هغه (الله) پېغام نه دی رسولی او الله تا له خلقو نه بچ ساتي.

په شرک کې د واقع کيدو څخه معصوم و، يعنې د شرک څخه ساتلی شوی و، او دا عصمت يې د نبوت د ورکړې څخه مخکې هم و، ثابت نصوص په دې دلالت کوي چې هغه هيڅ وخت بوت ته نه سجده کړي، نه يې لمس کړی دی، او نه داسې نور شرکي کارونه کړي، کوم چې قريشو کول، بلکې الله پاک يې په فطرت سره پيژندلی و، په يوازې ځان به حرا غار ته تللو او هلته به يې عبادت کاوه، په دغه توحيد

کې يې کوم ناشنا والی نشته، ځکه الله ترې د شيطان برخه دوه ځلې لرې کړې وه، لومړي ځل چې کله کوچنی و، او بل ځل جې کله لوی و، چې د شق الصدر پيښه ورته وايي.

له لويې ګناه څخه ساتل شوی و، د هغه سيرت د نبوت څخه مخکې او د نبوت څخه ورسته په دې خبره ګواه دی، هيڅ وخت يې شراب نه دې څښلې، نه يې د پردی ميرمنې لاس قدرې لمس کړی دی، نه يې درواغ ويلي دي؛ نو لويه يعنې کبيره ګناه به ترې څنګه واقع شي، چې هغه خپله صحابو ته ويلي دي: خبردار، «په الله قسم چې زه له تاسو ډير له الله څخه ويريږم»[1].

قرطبی رحمه الله وايي: د امت په اجماع سره پيغمبران د کبيره او صغيره ګناهونو څخه چې په هغې کې بد اخلاقي وي، بچ ساتلی شوی دی، يعنې معصوم دی.

بل عصمت يې د نسب کرامت دی چې له فحاشۍ خوندي ساتلی شوی دی، الله پاک زمونږ د پيغمبر نسب د زنا څخه پاک ساتلي دي، په نسب کې يې د زنا له لارې هيڅ اختلاط نه دی راغلی، نه يې د پلار او نه يې د مور د نسب له لورې څخه، بلکې کوم نسل چې پيدا شوی، هغه د نکاح له لارې پيدا شوی، لکه څرنګه نکاح چې اسلام کې ده[2].

په دې باندې دليل د رسول الله ﷺ وينا ده، چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت نقل دی زما پلرونه د زنا له لارې يو بل سره نه دې يوځای شوی، يعنې تل الله پاک زه د پاک رحمونو څخه بل ته انتقال کړی يم، کوم ځای چې نسلونه سره جلا کيږي، الله پاک زه په دواړو کې د هغه غوره نسل څخه ګرځولی يم [3].

بل عصمت د رسول الله ﷺ هغه د بدو اخلاقو څخه پاک ساتل دي، د رسول الله ﷺ د اخلاقو په اړه خبرې به ډيرې اوږدې شي، بلکې په دې خبره به يې بسنه وکړ، چې داسې ښه صفت نه شته، مګر الله پاک په خپل نبی کې پيدا کړی و، او داسې بد خوی نشته، مګر الله ترې زمونږ پيغمبر خوندی ستاتلی و، په دې باب کې زمونږ لپاره دا آيت پوره دی:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾

او بېشکه چې ته يقينًا په ډېرو لويو اخلاقو باندې (فايز) يې.

دا ټول پنځلس غوښتنې دي، په رسول الله ﷺ باندې د ايمان لرلو، الله دې مونږ ته توفيق راکړي چې دا ټول ايماني حقايق عملي کړو، الله پاک دې مونږ د هغه خلکو له ډلې وګرځوي، چې په ريښتني ډول يې په پيغمبر ﷺ ايمان راوړی وي، د هغه مرسته او درناوی يې کړي وي، د هغه راوړې رڼا پسې روان وي، بېشکه دغه خلک کاميابه دی.

---

(١) رواه البخاري (٥٠٦٣).

(٢) بتصرف يسير من "معارج القبول" للحكمي، باب مولده (صلى الله عليه وسلم)، ص (١٠٥١)، الناشر: دار ابن القيم - الدمام.

(٣) أخرجه أبو نعيم في "دلائل النبوة"، الفصل الثاني - ذكر فضيلته بطيب مولده وحسبه ونسبه.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **اې د الله بندگانو! د الله څخه وويرېږئ، ځان پوه کړي، چې د دې غوښتنو پوره کول، او په دې ايمان لرل، په حقيقت د شهادة آن محمدا رسول الله، د شهادت پوره والی دی، ځکه ايمان يوازې په ظاهري ښايست، ادعاوو او خوبونو نه ترلاسه کېږي، بلکې ايمان هغه دی چې زړه ته ورننوځي او عمل يې تصديق او پخلی وکړي.**

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: ستاسو لپاره د جمعې ورځ غوره ورځ ده، په دې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوی، او په دې ورځ کې وفات شوی، په دې ورځ باندې شپلۍ ووهلی شي، او په دې ورځ به انسانان بيا راژوندې کړل شي، په ما باندې زيات درود ووايي، ځکه ستاسو درود ما ته رارسيږي(١).

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولېږه، او د هغې له صحابو او څلورو خليفه ګانو څخه، او همدارنګه د تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي، ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذليل کړه، ستا او ستا د دين دښمنان نست و نابود کړه، او خپل موحد بندګانو مرسته و کړه.

اې الله مور په خپل هيواد کې په امن کړه، زمور حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار يې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين ته عزت ورکړي، په خپل رعيت باندې مهربانه کړه، اې الله څوک مور، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان يې کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

اې الله! په تاسره پناهي غواړو چې د نعمت د زوال څخه، د روغتيا د بدلون څخه، د ناګهانه مصيبت، او د ټول هغه کارونو څخه چې تا خفه کوي.

---

(١) رواه أحمد (٨/٤) وغيره، وصححه الألباني في "صحيح أبي داود"، ومحققو "المسند" برقم (١٦١٦٢).

اې الله موږ د برگي، لیونتوب، جذام او داسې نورو مرضونو څخه وساته، اې الله موږ رمضان میاشت ته ورسوه، اې الله موږ د رمضان میاشت ته ورسوه، اې الله موږ د رمضان میاشت ته ورسوه،.

اې ربه! موږ ته په دنیا نیکی راکړه، په اخرت کې هم نیکی راکړه، او د اور د عذاب څخه مو وژغوره.

اې د الله بندگانو! بېشکه الله په عدل، احسان، خپلوانو ته په ورکړه، د فحشا، منکر او ظلم څخه د ځان ساتنې، په اړه نصیحت کوي، د الله ستر ذات یادوئ، الله به تاسو یاد کړي، د الله په نعمتونو شکر وباسې، الله به یې درته زیات کړي، د الله یاداښت ډېر لوی دی، کوم کارونه چې تاسو کوي الله پرې خبر دی.

د پیغمبر ﷺ د ستر مقام لرلو لس دلیلونه

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ېښکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو د الله څخه وویرېږئ، او دا وپېژنئ چې الله تعالی دا امت په دې وناز‌اوه چې د خپل مخلوق تر ټولو غوره بنده یې د دې امت لپاره پېغمبر وټاکه، او هغه محمد ﷺ دی، چې په ټولو انسانانو کې غوره انسان و، هم په اخلاقو، علم او عمل ټولو کې غوره انسان و، له همدې امله په ټوله دنیا، که هغه انسانان دی، پیریان دي، آن تر دې چې حیوانات هم دي، پر ټولو یې اغېز وکړ، دی په ریښتینې معنا یو ستر انسان و، چې نه مخکې او نه به په راتلوونکي کې د هغه په څیر انسان راشي.

د رسول الله ﷺ عظمت کوم ځانگړي اړخ پورې محدود نه دی، بلکې د هغه عظمت د ژوند ټولو اړخونو ته شامل دي، چې د هغه په لوړ او ستر مقام له سلو زیات بېلابېل دلیلونه شته، چې ځینې له هغو دا دي:

١ - د الله پاک له لورې په ټولو انسانانو کې ددې ټاکنه او غوره کول چې د رسالت د مسؤولیت ترسره کړي، الله پاک وفرمایلي دي:

﴿وَأَرْسَلْنَاكَ لِلنَّاسِ رَسُولًا﴾

او (ای نبي!) ته مونږه د خلقو لپاره رسول لېږلی یې.

٢ - د پیغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دلیل دا دی، چې الله ورته نبوت او رسالت دواړه ورکړی و.

٣ - د پیغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دلیل دا دی، چې د اولوالعزم پیغمبرانو له ډلې دی، او الوالعزم پیغمبران بیا پنځه دي: نوح، ابراهیم، موسی، عیسی او محمد علیهم الصلاة والسلام، چې الله پاک یې په قرآن کریم په دوه ځایونو کې احزاب سورت، او بل په شوری سورت کې یادونه کړې ده، لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنْكَ وَمِنْ نُوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ﴾

او کله چې مونږ له نبیانو نه د دوی پخه وعده واخیسته او له تا نه او له نوح او ابراهیم او موسی او د مریمې له زوی عیسی نه.

او بل ځای الله فرمایلي دي:

﴿شَرَعَ لَكُمْ مِنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلَا تَتَفَرَّقُوا فِيهِ﴾

هغه تاسو لپاره هغه دین مقرر کړی دی چې د هغه وصیت یې نوح ته کړی و او هغه چې مونږ تا ته وحي کړی دی او هغه چې مونږ د هغه وصیت ابراهیم او موسی او عیسی ته کړی و، چې تاسو دین قایم کړئ او په ده کې مه مختلف کېږئ.

٤ - د پیغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دلیل دا دی، چې د الله له لورې ورته د نبوت ډېرې نښې ورکړل شوې دي، ابن القیم رحمه الله د خپل کتاب «إغاثة اللهفان» [1] په پای کې یادونه کړې چې دا نښې له زرو زیاتې دي، او دا د الله رحمت دی پر خپلو بندگانو، څو دا نښې د نبوت د حقانیت په اثبات کې پوره قانع کوونکي او حجت قائموونکي وي.

٥ - د پیغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دلیل دا دی، چې الله پاک ورته تل پاتې نښه ورکړې چې تر قیامته به پاتې وي، او هغه قرآن کریم دی، د پخوانیو پېغمبرانو معجزې د هغوی له وفات سره ختمې شوې دي، خو قرآن کریم بیا ترڅو چې ځمکه او مخلوقات آباد وي، یوه دایمي او تلپاتې معجزه ده، د

(١) ص ١١٠٧، تحقيق علي حسن عبدالحميد، ط دار ابن الجوزي - الدمام.

ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «د پېغمبرانو له ډلې هر يو ته داسې معجزه ورکړل شوې وه چې خلقو پرې ايمان راوړی، خو ما ته چې څه راکړل شوي، چې هغه الهي وحي ده، او زه اميد لرم چې د قيامت په ورځ به زما پيروان تر ټولو زيات وي»().

٦ - اې مسلمانانو! د پيغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دليل دا دی، چې الله تعالى خپل غوره کتاب - قرآن مجيد - پر ده نازل کړ، دا کتاب د نورو ټولو کتابونو په پرتله غوره دی، هم د سبک او اسلوب له پلوه، هم د ښايسته شريعت له لورې چې پکې راغلی دی، او هم له دې اړخه چې دا الهي کتاب د هر ډول تحريف او بدلون څخه محفوظ دی.

قرآن دا هم څرګندوي چې الله تعالى پر خپل خوږ پېغمبر ﷺ غوره شريعت نازل کړی، يو داسې شريعت چې نه يوازې د پخوانيو آسماني کتابونو د ښايسته شريعتونو مجموعه ده.

٧ - د پيغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دليل دا دی، چې د هغه سنت هم وحي ده، چې د شريعت تفصيلات ورکې دي.

٨ - د پيغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دليل دا دی، چې له ده څخه مخکې هر پېغمبر خاص خپلې ډلې ته لېږل شوی و، خو رسول الله ﷺ ټول انسانانو او جناتو ته رالېږل شوی دی، الله فرمايلي دي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا كَافَّةً لِلنَّاسِ بَشِيرًا وَنَذِيرًا﴾

او ته نه يې لېږلی مونږ مګر د ټولو خلقو (انسانانو) لپاره زېرى ورکوونکى او وېروونکى.

او بله ځای فرمايي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾

او مونږ ته نه يې لېږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت.

پيريانو چې کله د رسول الله صلى الله عليه وسلم دعوت ومنلو، الله پاک يې په اړه فرمايي:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ﴾

او هغه وخت (ياد کړه) چې مونږ تا ته د پېريانو يوه ډله راوګرځوله، چې قرآن به اوري،

تر هغې پورې چې وايي :

﴿ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ ﴾

ای زمونږ قومه! تاسو د الله د بلونکي وينا قبوله کړئ او په ده ايمان راوړئ،

په دې آيت کې چې کوم "د الله داعي" ياد شوی، هغه همدغه محمد رسول الله ﷺ دی، کوم وخت چې پيريانو د هغه د قرآن تلاوت واورېد.

(١) رواه البخاري (٤٩٨١) ومسلم (١٥٢)، واللفظ لمسلم.

او رسول الله ﷺ فرمايي: هر پېغمبر خاص خپل قوم ته رالېږل شوی و، خو زه هر تور او سور (يعنې ټول بشر) لپاره رالېږل شوی يم().

په دې حديث کې "تور او سور" نه مطلب ټول انسانان دي، ځکه عرب د سپين پوستو خلکو لپاره هم "احمر" وايي().

۹ - د پيغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دليل دا دی، چې په دې سره يې د نبوت او ورسالت لړۍ پای ته ورسوله، ځکه ورته "خاتم النبيين" وايي، الله تعالى فرمايي:

﴿ مَا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِنْ رِجَالِكُمْ وَلَكِنْ رَسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾

محمد ﷺ ستاسو په سړيو کې د هيڅا پلار نه دی او لېکن د الله رسول دی او د نبيانو (د لړۍ) ختموونکی دی.

او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «زما او د پخوانيو پېغمبرانو مثال د هغه سړي په څېر دی، چې يو ښکلی کور يې جوړ کړی وي، خو د يوې خښتې ځای خالي وي. خلک راشي، د کور ښايست ته حيران وي، خو ووايي: دا يوه خښته ولې ځای پرځای کړل شوې نه ده؟ نو زه همدا خښته يم، او زه د پېغمبرانو وروستی يم»().

۱۰ - د پيغمبر ﷺ د ستر او لوی مقام بل دليل دا دی، چې الله تعالى د ده نوم ته لوړ او ستر کړی دی، لکه څرنگه چې الله پاک فرمايلي دي:

﴿وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ﴾

او تا لپاره مو ستا ذکر اوچت کړ.

الله تعالى د توحيد د شهادت په جمله کې د ده نوم داخل کړی دی: «أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدا رسول الله» هر وخت چې د الله نوم يادېږي، ترڅنگ يې د محمد ﷺ نوم راځي، هغه په اذان، اقامت، خطبو، لمونځونو، تشهد، دعاوو، او اذکارو کې يادېږي. د رسول الله ﷺ نوم د ځمکې پر مخ په هر گوټ يادېږي، د هېڅ يو انسان دومره يادونه نه کېږي، او نه ورباندې دومره زيات درود وويل کېږي، لکه څومره چې محمد ﷺ يادېږي او درود ورباندې ويل کېږي، څرنگه چې حسان بن ثابت رضي الله ويلي دي:

ألم تر أن الله أخـــــلد ذكره ... إذا قال في الخمس المؤذن أشهـد

وضم الإله اسم النبي إلى اسمه ... إذا قال في الخمس المؤذن أشهد

وشق له من اسمه ليجـــله ... فذو العرش محمود وهذا محمـــد

---

(١) رواه مسلم (٥٢١) عن جابر بن عبدالله رضي الله عنهما.

(٢) قال ابن الأثير رحمه في "جامع الأصول" (٢٣٢/٦)، تحقيق: عبدالقادر الأرناؤوط، ط ١، سنة ١٤٣٢ هـ، الناشر: دار ابن كثير - دمشق.

(٣) رواه البخاري (٣٥٣٥)، ومسلم (٢٢٨٦) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

آیا تا نه دي لیدلي چې الله تعالی د خپل نبي یاد تلپاتې کړی؟ کله چې مؤذن پنځه وخته اذان کې أشهد وایي، الله تعالی د خپل نوم سره د نبي نوم مل کړی، کله چې مؤذن وایي أشهد، د هغه نوم یې د خپل نوم څخه ویستی، ځکه د عرش څښتن محمود دی، او دا محمد دی.

اې مسلمانانو! دا لس ځلې د رسول الله ﷺ د لوړ مقام دلالت کوي، او دا ځلې ډېرې زیاتې دي، لکه مخکې مو چې وویل، له سلو زیاتې دي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندګانو! د الله څخه وویرېږئ، پوه شئ چې تر ټولو ناوړه او بده خبره هغه ده چې څوک د رسول الله ﷺ د ذات سپکاوی کوي، که هغه د ښکنځلو له لارې وي، او که د ده پر عزت او پاک ځلنې باندې طعن کول وي، چې دا کار معمولاً هغه کسان کوي چې د اسلام او مسلمانانو سره کینه لري، په داسې خلکو دالله پاک دا وینا پوره صادقه ده:

﴿ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْأَبْتَرُ ﴾

بېشکه ستا دښمن هم هغه بې بنیاده (او لاولده) دی.

بېشکه ستا دښمن، هغه څوک چې تا (او ستا راوړی حق) نه غواړي، دی له هر خیره محروم، پرې شوی او بې‌اثره دی.

له الهي تدبیرونو څخه دا هم ده، چې کله د اسلام سره دښمني کوونکي هر ځل پر اسلام یا پېغمبر ﷺ برید وکړي، د دوی له قومونو څخه لا زیات خلک اسلام کې داخلیږي، تر څو اصل حقیقت له اصلي سرچینو له لارو وپېژني، او د مسلمانانو دعوتي فعالیتونه هم په دغه هېوادونو کې لا زیات شي، چې له دې سره د اسلام د خپراوي لپاره نوي فرصتونه رامنځته کېږي، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَمَكَرُوا مَكْرًا وَمَكَرْنَا مَكْرًا وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ﴾

او دوی مکر وکړ، خاص مکر کول او مونږ هم تدبیر وکړ خاص تدبیر کول، په دې حال کې چې دوی نه پوهېدل.

د دې سربیره مسلمانانو ته پکار ده چې بیدار وي! کفار دا هڅه کوي چې مسلمانان په حرکت راولي، تر څو له عقل او حکمت پرته په تاوتریخوالي، توندخوی، تخریب او بې‌منطقه عمل لاس پورې کړي، کله چې مسلمانان دا ډول عکس العمل وښیي، نو دوی بیا خپلو قومونو ته وایي (وګورئ، دا دی د اسلام او مسلمانانو واقعي څېره) بیا دا منفي صحنې د خپل رسنیو له لارې خپروي، تر څو خلک له اسلام څخه واړوي؛ نو ډېر احتیاط پکار دی! دا نه ده پکار چې بې فکره او احساساتي خلک دې په داسې فتنو کې مخکښ او مشران کړی شي، بلکه دا واجب دي چې صبر وشي، خپل نفس کنټرول شي،

او دا کار د علم او بصیرت خاوندانو ته وسپارل شي، چې د داسې پېښو څخه باید د دعوت، وضاحت او د شبهاتو د ردولو لپاره گټه واخیستل شي، تر څو دښمنانو ته د شر جوړولو فرصت ورنه کړل شي، او د الله له لورې دا امتحان او ازموینه په یوه الهي انعام او بدلې بدل کړل شي، الله تعالى فرمایلي دي:

﴿وَلَا يَسْتَخِفَّنَّكَ الَّذِينَ لَا يُوقِنُونَ﴾

او تا دې له سره سپك نه کړي هغه کسان چې (په اخرت) یقین نه لري.

- ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: ستاسو لپاره د جمعې ورځ غوره ورځ ده، په دې ورځ آدم علیه السلام پیدا شوی، او په دې ورځ کې وفات شوی، په دې ورځ باندې شپلی ووهلی شي، او په دې ورځ به انسانان بیا راژوندې کړل شي، په ما باندې زیات درود ووایي، ځکه ستاسو درود ما ته رارسیږي[1].

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او څلورو خلیفه ګانو څخه، او همدارنګه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذلیل کړه.

اې الله! زموږ هیوادونه په امن او امان کې وساته، زموږ حاکمان اصلاح کړه او هغوی د هدایت په لاره روان کړه.

اې الله له موږ څخه ګراني، ویا، سود، زنا، زلزلې، امتحانونه او ناوړه فتنې لرې کړې، هغه که ښکاره وي او که پټې وي، په ځانګړي ډول زموږ له هیواد څخه، او په عامه توګه د ټولو مسلمانانو له هیوادونو څخه یې لرې کړې، اې د مخلوقاتو ربه.

اې الله! ته د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق ورکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین ته عزت ورکړي، او په خپل رعیت یې رحمت وګرځوه.

اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا او آخرت دواړو کې ښه برخه راکړې، او موږ د دوزخ د عذاب نه وساتې.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو ستر حق د هغه اطاعت دی

(١) رواه أحمد (٨/٤) وغيره، وصححه الألباني في "صحيح أبي داود"، ومحققو "المسند" برقم (١٦١٦٢).

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانو! د الله تعالی څخه وويرېږئ، او ځان پوهه کړئ، الله پاک دا امت په يو ستر نعمت نازولی، چې په ټولو مخلوقاتو يې د دې امت لپاره، غوره تن چې محمد ﷺ دی، پيغمبر او رسول ټاکلی دی، هغه په ريښتيا سره په اخلاقو، علم او عمل کې په ټولو مخلوقاتو کې غوره انسان دی، الله ورته د خيراخواهی امر کړی و، لکه څنګه چې د تميم داری رضي الله عنه څخه روايت دی، چې نبي کريم ﷺ وفرمايل:

دين خيرخواهي دی، مورِ تريِ وپوښتل: (دين) د چا لپاره (خيرخواهي ده)؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: د الله، دهغه د كتاب، پيغمبر، د مسلمانانو د مشرانو او عامو خلكو لپاره خيرخواهي ده.[1]

امام نووي رحمه الله د (النصيحة) د معنا په اړه د ځينو علماوو د خبرو لنډيز په داسې ډول بيان كړی دی:

د رسول الله ﷺ لپاره نصيحت دا دی چې د هغه د رسالت تصديق كول، څه يې چې بيان كړي، په هغې ايمان لرل، د هغه امر او نهي ته غاړه ايښودل، په ژوند او له وفات وروسته د هغه سره مرسته كول، د هغه سره دښمني كوونكو سره دښمني كول، او له هغه چا سره محبت كول، چې له هغه سره محبت لري، د هغه حق لوی ګڼل، او درناوی يې كول، د هغه تګلاره او سنت راژوندي كول، د هغه شريعت ته خلک رابلل او په خلكو كې خپرول، او د هر ډول تور او شک څخه يې پاک ساتل، بلكې د هغې زده كولو ته خلک هڅول، په معاناګانو كې يې ژور فكر كول، په زده كړه او نورو ته ښوونه كې يې نرمي كول، د سنتو درناوی يې كول، د لوستلو پر مهال يې ادب كول، له علم پرته د هغه په سنتو كې له چا سره بحث نه كول، او د هغه سنتو ته د منسوبو علماوو درناوی كول، د هغه اخلاق او اداب ځان كې راوستل، د اهل بيتو او صحابوو سره مينه لرل، د هغه خلكو څخه ځان لېرې ساتل چې په دين كې نوې بدعتونه راپيدا كوي، يا د صحابوو توهين كوي.[2]

اې مسلمانو ! د رسول الله ﷺ سره سرته خيرخواهي دا چې د هغه اطاعت وكړل شي، لكه څنګه چې د علماوو په خبرو كې مخكې بيان شول، دا به ولې ستره خيراخواهي نه وي چې الله پاک د خپل اطاعت ترڅنګ د پيغمبر ﷺ د اطاعت ذكر كوي، او خپلو بندګانو ته يې اعلان كړی، چې چا د رسول الله ﷺ اطاعت وكړ، هغه د الله اطاعت وكړ، الله تعالى فرمايي:

﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا﴾

چا چې د رسول اطاعت وكړ، نو يقينًا هغه د الله اطاعت وكړ او څوك چې (له اطاعت نه) وګرځېده، نو ته مونږه پر هغوی باندې څارونكی (نګهبان) نه يې لېږلی.

دا ځكه چې رسول الله ﷺ دا دين د الله له لوري راوړی دی، هغه د الله له لورې استازې او پيغام رسوونكی دی، او له خپل ځانه يې هيڅ نه دي راوړي، الله پاک خپل پيغمبر ته فرمايلي:

﴿ قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ ﴾

ته (دوی ته) ووايه: بېشكه همدا خبره ده چې زه يواځې ستاسو په شان بشر يم، ما ته وحي كولی شي.

الله پاک په قرآن كې په درې دېرشو ځايونو كې د رسول الله ﷺ په اطاعت امر كړی دی(۳)، چې څه آياتونه دا دي:

---

(۱) رواه مسلم برقم (٥٥).

(۲) شرح النووي على صحيح مسلم.

(۳) قال شيخ الإسلام رحمه الله: وقد أمر الله بطاعته في أكثر من ثلاثين موضعا من القرآن، وقرن طاعته بطاعته، وقرن بين مخالفته ومخالفته، كما قرن بين اسمه واسمه، فلا يذكر الله إذ ذكر معه. "مجموع الفتاوى" (١٠٣/١٩).

﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ﴾

او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ.

بل دا آیت دی:

﴿وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَإِنَّمَا عَلَى رَسُولِنَا الْبَلَاغُ الْمُبِينُ﴾

(ای نبي!) ته ووایه: د الله اطاعت کوئ او د (هغه د) رسول، بیا که دوی وګرځېدل، نو بېشکه الله له کافرانو سره مینه نه کوي.

بل دا آیت دی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَأَنْتُمْ تَسْمَعُونَ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی! تاسو د الله او د هغه د رسول حکم منئ او له دې (اطاعت) نه مه ګرځئ، په دې حال کې چې تاسو اورئ.

او بل دا آیت دی:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللَّهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ﴾

اې هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو.

همدارنګه د رسول الله ﷺ په اتباع، اطاعت، د هغې د هدایت پر لارې باندې د تګ، د هغه سنت راخپلول، او د هغه د امر او نهی منل شامل دي، د اطاعت اړوند ګڼ حدیثونه نقل دي، لکه د ابو هریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما ټول امت به جنت ته ځي، مګر هغه خلک به نه ځي چې جنت ته د تلو څخه انکار وکړي، صحابوو وویل: اې د الله رسوله! دا خلک به څوک وي، چې جنت ته د تلو څخه به انکار کوي؟ هغه ورته وویل: چا چې زما اطاعت وکړ، هغه به جنت ته ځي، او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د جنت ته د تلو څخه انکار وکړ. (١)

همداراز د رسول الله ﷺ څخه په بل روایت کې نقل دي: چا چې زما اطاعت وکړ، هغه د الله اطاعت وکړ، او چا چې زما نافرماني وکړه، هغه د الله نافرماني وکړه. (٢)

په بل حدیث کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زه چې تاسې له کوم څه څخه منع کړم؛ نو له هغې ځان وساتئ، او چې کله درته د یو کار د کولو امر وکړم، په هغې د خپل توان په اندازه عمل وکړئ. (٣)

له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما دې په هغه ذات قسم وي، چې زما روح د هغه په لاس کې دی، تاسې ټول به هرومرو جنت ته ځئ، مګر هغه خلک به نه ځي، چې جنت ته د تلو څخه انکار وکړي، او د الله د اطاعت څخه یې مخ داسې ګرځولی وي،

(١) رواه البخاري (٧٢٨٠).

(٢) رواه البخاري (٧١٣٧)، ومسلم (١٨٣٥).

(٣) رواه البخاري (٧٢٨٨)، ومسلم (١٣٣٧).

لکه څرنگه چې اوښ د خپل مالک څخه مخ واړوي. یو تن وویل: اې د الله رسوله! آیا داسې څوک به هم وي چې جنت ته د تلو څخه انکار وکړي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چې زما اطاعت کړی وي، جنت ته به لاړ شي، او چا چې زما نافرماني کړي وي، هغوی به جنت ته د تلو څخه انکار وکړي. (۱)

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه

الحمد لله كفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **اې د الله بندګانو! له الله څخه وویرېږئ، او ځان پوه کړئ، چې د رسول الله ﷺ په اطاعت کې دا خبره هم شامله ده، چې د اختلاف په صورت کې پیغمبر ﷺ ته رجوع کیږي، الله فرمایلي دي:**

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمْ فِئَةً فَاثْبُتُوا وَاذْكُرُوا اللَّهَ كَثِيرًا لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ ﴿٤٥﴾ وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې تاسو د کومې (کافرې) ډلې سره مخامخ شئ، نو ثابت قدم اوسئ او الله ډېر زیات یادوئ، د دې لپاره چې تاسو کامیاب شئ او تاسو د الله او د هغه د رسول اطاعت کوئ او په خپل مینځ کې جګړه مه کوئ (کنې) نو بې زړه به شئ او ستاسو زور به لاړ شي او صبر کوئ، بېشکه الله د صبر کوونکو ملګری دی.

امام ابن القیم رحمه الله وایي: ټول خلک پر دې خبره متفق دي، چې الله ته رجوع یعنې د هغه کتاب ته رجوع ده، او رسول الله ﷺ ته رجوع یعنې د هغه په ژوند هغه ته رجوع وه، او د وفات وروسته د هغه سنتو ته رجوع ده. (۲)

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: په تاسو غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده، په دې ورځ کې ادم علیه السلام پیدا شوی، او په دې ورځ وفات شوی دی، په دې ورځ به ټول خلک د قبرونو څخه راپورته کړل شي، او په دې ورځ به ټول ژوندی مخلوقات مړه شي، په ما باندې ډیر درود وایئ، ځکه ستاسې درود ما ته

---

(۱) رواه ابن حبان (۱۹٦/۱-۱۹۷) برقم (۱۷)، ورجاله رجال مسلم، والحديث له شواهد تقويه كحديث أبي هريرة المتقدم، وحديث أبي هريرة الذي رواه أحمد (۳٦۱/۲) وغيره، وسنده على شرط الشيخين كما قال الحافظ في "الفتح"، شرح حديث (۷۲۸۰). باختصار من حاشية الشيخ شعيب على الحديث أعلاه.

(۲) "إعلام الموقعين"، فصل في تحريم الإفتاء في دين الله بالرأي المتضمن لمخالفة النصوص.

رارسيږي،[1] اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې درود او سلامونه راولیږه، له صحابو او څلورو راشدو خلیفه ګانو، د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته تر ې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذلیل کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه، او د خپلو موحدو بندګانو مرسته وکړه.

اې الله مورږ په خپل هیواد کې په امن کړه، زمورږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار یې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین ته عزت ورکړي، په خپل رعیت یې مهربانه کړه، اې الله څوک چې مورږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان یې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

اې الله له مورږ، زمورږ له هیواد او د ټولو مسلمانانو د هیوادونو څخه ګراني، وباګاني، سود، زنا، زلزلې، مصیبتونه، ښکاره او پټې ناوړه فتنې لیرې کړې.

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنیا کې نیکې بدلې راکړه، او په اخرت کې هم نیکې بدلې راکړه، او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.

اې د الله بندګانو! بېشکه الله په انصاف، ښیګڼې، او خپلوانو ته په ورکړه امر کوي، او له بې حیایی، بدیو او ظلم څخه منع کوي، الله تاسو ته نصیحت کوي، ددې لپاره چې پند ترې واخلئ، د الله یادوئ، الله به تاسې یاد کړی، د الله د نعمتونو شکر کوئ، نعمتونه به دربانديې ډېر کړي، د الله یاد تر هغه څه لوړ دی، کوم څه چې تاسې کوئ په هغه ټولو الله خبردار دی.

(١) رواه النسائي (١٣٧٣)، وأبو داود (١٠٤٧)، وابن ماجه (١٠٨٥)، وأحمد (٨/٤)، وصححه الألباني في "صحيح أبي داود"، ومحققو "المسند" برقم (١٦١٦٢).

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو دا چې له نافرمانۍ یې ځان وساتل شي

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله ﷻ څخه وویرېږئ، اطاعت یې وکړئ او سرغړونه یې مه کوئ، او ځان پوه کړئ، چې د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو دا دی، چې د هغې د نافرمانۍ څخه ځان وساتل شي، د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ په اړه سخت خبرداری په قرآن کې راغلی دی، لکه څنګه چې الله فرمایي:

﴿وَمَنْ يَعْصِ اللَّه وَرَسُولَهُ وَيَتَعَدّ حُدُودَهُ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيهَا وَلَهُ عَذَابٌ مُهِينٌ﴾

او چا چې د الله او د هغه د رسول نافرماني وکړه او د هغه (الله) له حدونو نه مخکې تېر شو، نو هغه (الله) به يې اور ته داخل کړي، چې په هغه کې به همېشه وي او د هغه لپاره سپکوونکی عذاب دی.

بل آيت دی:

﴿وَمَنْ يَعْصِ اللَّه وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلّ ضَلَالًا مُبِينًا ﴾

او څوك چې د الله او د هغه د رسول نافرماني کوي، نو يقينًا دغه (کس) گمراه شو، ښکاره گمراه کېدل.

بل آيت دی:

﴿وَيَوْمَ يَعَضُّ الظّالِمُ عَلَى يَدَيْهِ يَقُولُ يَا لَيْتَنِي اتَّخَذْتُ مَعَ الرَّسُولِ سَبِيلًا﴾

او (یاده کړه) هغه ورځ چې ظالم به په خپلو دواړو لاسونو خوله لگوي، په داسې حال کې چې وايي به: ای کاشکې! ما له رسول سره (نېغه) لار نیولې وی.

بل آيت دی:

﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾

او هغه څوك چې له رسول سره مخالفت وکړي، وروسته له دې نه چې هغه ته نېغه لار ښه څرگنده شوه، او د مومنانو له لارې نه غير د بلې (لارې) تابع شي (، نو) مونږ به دغه (کس) هغه څه ته وروگرځوو چې دی ورته ورگرځېدلی دی او جهنم ته به يې داخل کړو او هغه د ورتلو بد ځای دی.

بل آيت دی:

﴿ فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴾

نو هغه کسان دې ووېرېږي چې د هغه (رسول) له حکم نه مخالفت کوي، له دې نه چې دوی ته څه افت ورسېږي، يا دوی ته ډېر دردوونکی عذاب ورسېږي.

ابن کثير رحمه الله د دې آيت په تفسير کې وايي: يعنې د رسول الله ﷺ د امر مخالفت کوونکي دې ووېرېږي، او دا امر، د رسول الله ﷺ لاره، طريقه، سنت، او شريعت دی؛ نو د انسانانو ټولې ويناگانې او عملونه به د رسول الله ﷺ د ويناگانو او عملونو سره موازنه کيږي، که وينا او عمل يې د رسول الله ﷺ د وينا او عمل موافق وي؛ نو قبولولی به شی، او که مخالف وي؛ نو رد کولی به شی، دا که هر څوك او هرڅومره د لوړ مقام خاوند وي، لکه څنگه چې په بخاری، مسلم او د حديثونو په نورو کتابونو کې روايت دي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې داسې عمل وکړ چې زمونږ د لارښوونې مطابق نه وي؛ نو هغه مردود او ناسم دی، څوك چې د رسول الله ﷺ له شريعت څخه ظاهراً يا باطناً سرغړونه کوي، بايد په ځان ووېرېږي، چې په فتنه کې به اخته شي - يعنې د زړه فتنه، لکه کفر، نفاق يا بدعت - يا دا چې په دنيا کې به پرې عذاب نازل شي، لکه يا به ووژل شي، يا به حد وربانديې تطبيق

شي، يا په زندان کې قيد شي، او يا داسې نورو سزاګانو سره به مخ شي. [تر دې ځايه د ابن کثير رحمه الله وينا په لږ تصرف سره پای ته ورسيده]

اې مسلمانانو! د رسول الله ﷺ د نافرمانۍ څخه د ځان ساتلو امر، يوازې په قرآن کې نه، بلکې په احاديثو کې هم راغلی، لکه دا حديث چې رسول الله ﷺ فرمايي: کله چې زه تاسې د يو څه څخه منع کړم؛ نو د هغې د کولو څخه ځان وساتئ، او کله چې درته د يو څه د کولو امر وکړم؛ نو بيا د خپل توان په اندازه په هغې باندې عمل وکړئ.(۱)

د رسول الله ﷺ نافرماني کول، د اخرت نه وړاندې په دنيا کې هم د عذاب د نازليدو لامل ګرځي، دا خبره د سلمه بن الأكوع رضي الله عنه په حديث کې ده، چې يو سړي د رسول الله ﷺ په وړاندې په کين لاس خوراک کاوه؛ نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: "په ښي لاس خوراک کوه"، هغه وويل: زه يې نه شم کولای، رسول الله ﷺ ورته وويل: (الله دې درته هيڅ توان نه درکوي، دا کار يې يوازې د کبر له امله کولو) راوي وايي: هغه سړي بيا خپل لاس هېڅکله خپلې خولې ته نه شو وړلای(۲)

همداراز سعيد بن المسيب بن حزن(۳) د خپل پلار څخه روايت کوي، چې کله زما پلار د رسول الله ﷺ حضور ته ورغی، رسول الله ﷺ ترې وپوښتل: ستا نوم څه دی؟ ورته يې وويل: حزن، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ستا نوم سهل شو، زما پلار ورته وويل: زه خپل هغه نوم نه بدلوم کوم چې زما پلار پرما ايښی دی. سعيد بن المسيب وايي: له هغه وخته تل زمونږ په کورنۍ کې ستونزې او سختۍ وي.(٤)

دې خبرې ته اشاره ده، چې د رسول الله ﷺ د مشورې مخالفت د برکت له منځه تلو او د آسانتيا څخه د محرومېدو سبب ګرځي.

له ابو حميد الساعدي رضي الله عنه څخه روايت دی، چې وايي: مونږ له رسول الله ﷺ سره د تبوک غزا ته لاړو، کله چې تبوک ته ورسېدو، رسول الله ﷺ وفرمايل: "خبر اوسئ! ډېر ژر دی، چې سخت باد به روالوځي؛ نو هېڅوک دې د خپل ځای څخه نه ولاړيږي، او چا سره چې اوښ وي، هغه دې وترې، روای وايي: اوښان مو وترل، سخت باد روالوت، يو سړی ودرېد؛ نو باد هغه واخېست او د طي په غره کې يې وغورځاوه. (٥)

اې مسلمانانو! د رسول الله ﷺ نافرماني، په څلورو ډوله ده، چې واړه ګناهونه، لويې ګناهونه، بدعتونه، او کفر دی.

---

(۱) رواه البخاري (۷۲۸۸)، ومسلم (۱۳۳۷) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(۲) رواه مسلم (۲۰۲۱).

(۳) (حزن) د نون په سکون سره، سخت او غليظ ته وايي، چې ضد يې (سهل) دی، لکه څنګه چې په حديث کې دي: اللهم لا سهل إلى ما جعلته سهلا، وانت تجعل الحزن إن شئت سهلا.

(٤) رواه البخاري (٦١٩٠).

(٥) رواه البخاري (١٤٨٢)، ومسلم (١٣٩٢).

د لويو گناهونو تشريح دا ده، چې دا هغه گناهونه دي چې د مرتکب په اړه يې لعنت، د الله غضب، د دوزخ وعده، يا د دنيا يو حد ټاکل شوی وي. دا ډول کس به د آخرت په ورځ د الله تر مشيئت لاندې وي، که وغواړي عذاب به ورکړي، او که وغواړي ښښنه به ورته وکړي؛ نو له دې کبله، لازمه ده چې په لويو گناهونو کې د واقع کيدو څخه ځان وساتو، الله تعالى فرمايي:

﴿إِنْ تَجْتَنِبُوا كَبَائِرَ مَا تُنْهَوْنَ عَنْهُ نُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ وَنُدْخِلْكُمْ مُدْخَلًا كَرِيمًا﴾

که چېرې تاسو له هغو غټو گناهونو نه ځان وساتئ، چې تاسو ترې منع کولی شئ (، نو) مونږ به له تاسو نه ستاسو (واړه) گناهونه لرې کړو او ډېر د عزت ځای ته به مو داخل کړو.

د لويو گناهونو له بيلگو څخه غلا ده، شراب څښل دي، سود خوړل دي، زنا کول دي، د صله رحمې پرېکول دي، د ښځو اړوند، خپل زيب او سينگار نورو خلکو ته ښکاره کول او داسې نور کارونه دي، ددې ټولو کارونو په اړه يا په دنيا کې حد ټاکل شوی، او يا يې د مرتکب لپاره په آخرت کې سزا ټاکل شوې، او يا دواړه حالته لري، چې په دنيا او آخرت دواړو کې ورته سزا ټاکل شوې ده.

اې د الله بندگانو! واړه گناهونه بيا هغه دي، چې نه خو په دنيا کې پرې حد ټاکل شوی، او نه هم په آخرت کې ورته ځانگړې سزا بيان شوې ده. (١)

دې خبرې ته توجه پکار ده، چې که يو انسان پر کوچنۍ گناه دوام وکړي او توبه ترې و نه باسي؛ نو دا گناه بيا په لويو گناهونو بدليږي، د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسې له وړو گناهونو څخه هم ځانونه وساتئ، ځکه کله چې واړه گناهونه په يو انسان کې راجمع شي؛ نو هغه انسان بيا برباد وي"، بيا رسول الله ﷺ د دې داسې مثال ورکړ: چې څه خلک وي، او يوې دښتې ته لاړ شي، کله چې د خوراک وخت پرې راشي؛ نو هر يو سړی په خپله مخه ځي، ترڅو لرگي راوړي، تر دې چې ډېر لرگي سره راټول کړي، بيا اور بل کړي، او خپل خواړه پرې پاخه کړي".(٢)[تر دې ځايه د ابن مسعود رضي الله عنه وينا ختمه شوه]

همداراز، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه په صحيح قول سره نقل دي، چې فرمايي: په گناه هميشوالي سره هېڅ گناه کوچنۍ نه پاتې کېږي، او له استغفار سره هېڅ گناه لويه نه پاتې کېږي. (٣)

اې د الله بندگانو! او کفر بيا هغه دی، چې انسان د اسلام د نواقضو مرتکب شي، لکه د الله نه پرته د بل چا عبادت کول، که هغه پيغمبران وي، وليان وي، يا د يو قبر څښتن وي، يا د الله يا د هغه د رسول ﷺ سپکاوی کول وي، يا د دين پورې ملنډې وي، يا د اسلام د څرگند او ضروري اصولو څخه انکار کول وي، لکه په الله باندې د ايمان لرلو څخه انکار کول، يا د مثال په ډول د شرابو حرمت نه

---

(١) مجموع فتاوى ابن تيمية، (١٢٧/٤-١٢٦) وگوره، دا قول يې ابن عباس، ابو عبيد ا لقاسم بن سلام، امام احمد او نورو علماو ته منسوب کړی، بيا يې ويلی دي: دا قول په ټولو کې ښه قول دی.

(٢) رواه أحمد (٦٥٠/١١-٦٥١)، وقال محققو "المسند": حسن لغيره.

(٣) رواه ابن جرير

منل، یا دا عقیده لرل چې د رسول الله ﷺ د شریعت بل غوره شریعت شته، یا د جادو مرتکب کیدل، یا د کافرانو سره د مومنانو په ضد کې مرسته کول.

هغه کارونه چې له املې یې انسان په کفر کې واقع کیږي، ډیر دي، فقهاؤو د فقه په کتابونو کې په باب المرتد کې بیان کړي دي، دا کوم چې مونږ بیان کړل، دا یې یو څو بیلگې دي.

اې د الله بندگانو! او بدعت بیا په لغت کې نوښت، او نوې څه جوړولو ته وایي، او په شریعت کې بیا په دین کې د ځانه عبادتونه او عقیدې جوړول، چې په شریعت کې کوم ثبوت ونه لري.

په عباداتو کې د بدعې کارونه ځینې بیلگې دا دي: د لمانځه وروسته ټول په جمع تسبیح ویل، د جُمعې د لمانځه وروسته د ماسپښین لمونځ کول، د رسول الله ﷺ د پیدایښت ورځ، او د معراج شپه لمانځل، او داسې نور کارونه چې ځینې خلک یې د دې لپاره کوي، چې ځان پرې الله ته نږدې کړي، لیکن حال دا دی چې په دې کارونو سره د الله څخه نور هم لیرې کیږي، ځکه دا کارونه الله پاک نه دي روا کړي، رسول الله ﷺ داسې کارونو ته ګمراهي ویلي ده، لکه څرنګه چې په حدیث کې راغلي: "هر بدعت ګمراهي ده.(١)

نو لازم ده چې مونږ د الله د کتاب او د هغه د رسول ﷺ په سنتو منګولې ولګوو، او په هغه طریقه د الله بندگي وکړو، چې مونږ ته یې روا کړې ده، د رسول الله ﷺ له هر ډول نافرمانۍ څخه چې هر ډول باعث وي ولرې؛ باید ځان ترې وساتو، چا چې د الله په کتاب او د رسول الله ﷺ په سنتو منګولې ولګولې، هغه نجات وموند، او څوک چې د قرآن او سنت څخه ښلارې او منحرف شو؛ هغه هلاک شو، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:

"ما له ځان وروسته تاسو ته دوه شیان پریښې دي، تر هغه وخته چې دا دواړه تاسې کلک رانیولي وي؛ نو هیڅ وخت به ښلارې نه شئ، چې هغه یو د الله کتاب دی، او بل زما سنت دي". (٢)

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم من كل ذنب، فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندگانو! د الله څخه وویریږئ، او ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر کار، امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

(١) رواه مسلم (٨٦٧) من حيث جابر رضي الله عنهما، ورواه أحمد (١٢٦/٤-١٢٧) وغيره عن العرباض بن سارية رضي الله عنه، والحديث صححه الألباني رحمه الله.

(٢) رواه الخطيب في "كتاب الفقيه والمتفقه" (٢٧٤/١) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه الألباني في "صحيح الجامع" (٣٢٣٢).

بېشكه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو كسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: په تاسو غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده، په دې ورځ كې ادم عليه السلام پيدا شوی، او په دې ورځ وفات شوی دی، په دې ورځ به ټول خلک د قبرونو څخه راپورته كړل شي، او په دې ورځ به ټول ژوندی مخلوقات مړه شي، په ما باندې ډير درود وايئ، ځكه ستاسې درود ما ته رارسيږي.[1]

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راوليږه، د هغه له صحابو، څلورو راشدو خليفه گانو، او د تابعينو او هغه څوک چې په نيكيو كې د دوی پيروي كوي؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت وركړه، شرک او مشركان سپک او ذليل كړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه كړه، او د خپلو موحدو بندگانو مرسته وكړه.

اې الله مورږ په خپل هيواد كې په امن كړه، زمورږ حاكمان اصلاح كړ، په سمه لار يې روان كړه، او د ټولو مسلمانانو حاكمانو ته توفيق وكړه چې ستا كتاب حاكم كړي، دين پرې عزتمن كړه، په خپل رعيت يې مهربانه كړه، اې الله څوک مورږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان يې اخته كړه، او د هغه چل د هغه په غاړه كې واچوه.

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنيا كې نيكې بدلې راكړه، او په اخرت كې هم نيكې بدلې راكړه، او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

(١) رواه النسائي (١٣٧٣)، وأبو داود (١٠٤٧)، وابن ماجه (١٠٨٥)، وأحمد (٨/٤)، وصححه الألباني في "صحيح أبي داود"، ومحققو "المسند" برقم (١٦١٦٢).

د صحابو درناوی د اهل سنت و الجماعت د عقیدې یو بنسټ دی (د صحابه کرامو ځانگړتیاوې رضي الله عنهم)

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله څخه ووېرېږئ، او دا احساس ولرئ چې الله زموږ د هر څه څارونکی دی، اطاعت یې وکړئ، او سرغړونه یې مه کوئ. پوه شئ! چې د اهل‌السنت والجماعت له بنسټیزو اصولو څخه دا ده چې د رسول الله ﷺ اصحابو ته درناوی ولرل شي، احسان ورسره وشي، حقونه یې وپېژندل شي، د هغوی اقتداء وشي، ښه صفتونه یې وشي، د ښښې دعا ورله وشي، کوم څه چې د صحابو په خپل مینځ کې تېر شوي؛ سکوت ترې وشي، له هغوی سره د دښمني کوونکو سره دښمني وپالل شي، کوم روایتونه چې د تاریخ‌لیکونکو، ناپېژاندو راویانو، روافضو او بدعتي ډلو له خوا نقل شوي - او د اصحابو توهین پکې شوی وي -هېڅ ډول باور وربانديې ونه شي، ځکه چې اصحاب هغه څوک دي چې هېڅ یو تن یې باید په بدو یاد نه شي، او نه وربانديې کوم عیب پورې شي، بلکې نېکۍ، فضایل، او د دوی د ښه سیرت یادونه وشي، او له دې پرته له نورو شیانو نه باید سکوت وشي. [1]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: "د اهل‌السنت والجماعت له اصولو څخه دا دي چې زړونه او ژبې یې باید د رسول الله ﷺ د اصحابو په اړه پاکې وي، لکه څنگه چې الله فرمایلي:

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾

او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي ـ؛ دوی وایي: ای زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو وروڼو ته چې زمونږ نه یې په ایمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کینه) مه پیدا کوه چې ایمان یې راوړی دی ـ ای زمونږه ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی یې.

د صحابو رضي الله عنهم څوارلس ځانگړتیاوې

(١) باختصار وتصرف يسير من «الشفا» للقاضي عياض، الفصل السادس: ومن توقيره وبره توقير أصحابه وبرهم.

١ .اې مؤمنانو! له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله هغوی په ټولو انسانانو کې د خپل پيغمبر ﷺ د ملگرتيا لپاره غوره کړل، چې رسول الله ﷺ په دنيوي ژوند کې خپله وويني، د هغې د خولې څخه خبرې واوري، شريعت او ديني امور يې له هغه څخه زده کړل، او د هغه په لاس يې روزنه وشوه، کوم نور او هدايت چې رسول الله ﷺ ته ورکړل شوی و، په غوره توگه يې خلکو ته ورساوه.

٢ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې رسول الله ﷺ ورسره مينه او محبت لرلو.

٣ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې د صحابو لپاره ستر اجر دی، ځکه دوی د رسول الله ﷺ ترڅنگ د اسلام د نشر او دعوت په لار کې جهاد وکړ؛ نو د دوی به په هغه اندازه ثواب څومره خلک چې د دوی له لارې هدايت ته رسېدلي دي؛ لکه څرنگه دا څرگنده معلومه ده، چا چې چا ته د هدايت بلنه ورکړه، څومره خلکو يې چې پيروي وکړه، د هغو د ثواب په اندازه به دده ثواب وي، پرته له دې چې د هغوی د ثوابونو څه کم شي".

٤ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، چې دوی قرآن او سنت ياد وساتل، خلکو ته يې ورسول، او د دوی په وسيله قرآن او سنت د نړۍ گوټ گوټ ته ورسيد، چې دا به د قيامت د قيامه پورې وي.

٥ .اې مسلمانانو! بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې الله پاک د دوی سره صفت او ستاينه کړې ده، بلکې د دوی يادونه يې په تورات، انجيل او قرآن کې کړې ده، د مغفرت او لوی اجر وعده يې ورسره کړې ده، لکه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾

محمد د الله رسول دی ـ او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مينځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي ـ، ته به دوی وينې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي ـ، د دوی (د دينداری) نښې د دوی په مخونو کې دي ـ د سجدو له اثر نه ـ، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجيل کې د دوی مثال دی ـ، لکه هغه فصل چې خپل تېغ راوباسي، بيا هغه قوي کړي، بيا هغه (فصل، تېغ) پېر او کلك شي بيا دغه (فصل) په خپلو پنډيو (او بېخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېندارانو (کروندګر) په تعجب کې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره کافران په غصه کړي، الله له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی او نېك عملونه يې کړي دي، چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښنې او د ډېر لوی اجر وعده کړې ده.

قرطبي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: "دا یو مثال دی چې الله پاک د رسول الله ﷺ د صحابو په اړه بیان کړی دی، مقصد دا چې د دوی شمېر به په لومړیو کې لږ وي، خو ورو ورو به ډېر شي او نور به زیاتوالی ومومي، رسول الله ﷺ چې کله دین اسلام ته د خلکو بلنه په داسې حال کې پیل کړه، چې ډیر کمزوری و، یو یو کس به یې دعوت قبولو، تر هغې چې پیاوړی شو، لکه د کښت بوټی چې له تخم اچولو وروسته کمزوری ښکاري، خو ورو ورو پیاوړی کېږي، تر دې چې ډډ یې غټ شي او ځانګې یې پراخې شي؛ نو دا تر ټولو غوره، څرګند او سم مثال دي".

٦ . اې د الله بندګانو! بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې الله تعالی د دویو سره د تقوی کلمه پیوسته کړه، او اعلان یې وکړ چې دوی له هر چا زیات د تقوی اهل او وړ دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَى وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا﴾

او په دوی پورې یې د تقویٰ خبره لازمه (ټینګه) کړه او دوی د دغې ډېر حقدار او د دغې اهل وو.

یعنې الله تعالی هغوی د تقوی په کلمې چې هغه (لا إله إلا الله) ده، سره یاد کړل، د تقوی حقونه او په هغې عمل کول یې وربانديې واجب وګرځول، هغویو هم دا کلمه ومنله، په سمه ډول یې وربانديې عمل وکړ، بیا یې د دې خبرې اعلان وکړي، چې دوی له چا زیات د تقوی اهل دي، او دوی د دې اهل دي چې په تقوی سره یې ستاینه وشي، ځکه هغه خیر د دویو په زړونو درلود، یوازې یو الله ته معلوم دي.

٧ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې الله پاک اعلان کړی، چې کوم خلک د رسول الله ﷺ او د صحابو په څیر ایمان ولري، نو هغوی به پر سمه لار وي. الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾

نو که دوی هغه شان ایمان راوړي څنګه چې تاسو په دې (کتاب) ایمان راوړی دی، نو یقینًا دوی سمه لاره وموندله.

او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بني اسرائیل په دوه او اویا (٧٢) فرقو ووېشل شول، او زما امت به په درې او اویا (٧٣) فرقو ووېشل شي، ټول به دوزخ ته لاړ شي پرته له یوه ډلې څخه". صحابه کرامو وپوښتل: ای د الله رسوله! دا کومه ډله ده؟ هغه ورته وفرمایل" :دا هغه ډله ده، چې په کومه لار زه او زما صحاب دي، په هغې روان وي". [1]

په دې حدیث کې نبی کریم ﷺ دا څرګنده کړه چې امت به یې په درې اویا (٧٣) ډلو ووېشل شي، او یوازې هغه ډله به نجات وموميې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او د هغه د صحابو په تګلاره

(١) رواه الترمذي (٢٨٣٢)، وصححه الألباني.

روانه وي، که هغه په عقیده کې وي او که په شریعت کې وي -الله دې مورِ هم له هماغو کسانو څخه وگرځوي - او دا حدیث دا څرگندوي چې صحابه په سمې او حقې لارې روان وو.

٨ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله پخپله د هغوی په اړه د "ریښتینو مؤمنانو" گواهي کړې ده، او الله تعالی پخپله گواه پوره دي، الله تعالی فرمایي:

﴿ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی او مدد یې کړی دی، همدغه کسان په حقه مومنان دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر د عزت رزق دی.

٩ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله تعالی په دوه آیتونو کې په ښکاره توگه له صحابو څخه خپل رضایت څرگند کړی دی، او هغه دا آیاتونه دي:

﴿ وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾

او له مهاجرینو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نېکۍ سره یې د دوی پیروي کړې ده، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي او هغه، د دوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، همدا ډېره لویه کامیابي ده.

بل آیت دا دي:

﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا﴾

یقینًا یقینًا الله له مومنانو نه راضي شو کله چې دوی له تا سره د ونې لاندې بیعت کاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوی په زړونو کې وو، بیا هغه په دوی اطمینان نازل کړ او دوی ته یې په عوض کې نژدې بری ورکړ.

١٠. اې د الله بندگانو! بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې دوی په امت کې په دین باندې تر هر چا زیات پوهیدل، په کوم څه چې دوی اجماع کړې وي، هېڅا ته روا نه ده چې خلاف یې وکړي، ځکه هغوی د نبي کریم ﷺ تر مستقیمې روزنې لاندې روزل شوي وو، د وحي نزول یې له نږدې لیدلی و. نبي کریم ﷺ خبر ورکړی دی چې د دوی له جملې څخه څلور مقدم کسان، یعني خلفاء راشدین، د پیروي وړ دي، نو څوک چې وروسته راځي، باید د دوی پیروي وکړي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "زه تاسو ته وصیت کوم چې له الله څخه وویریږئ، د خپل مشره امر واورئ او اطاعت یې وکړئ، که څه هم ستاسې امیر یو گودِ معذوره غلام ولې نه وي، ځکه له ما

وروسته چې څوک دنیا ته راځي، ډېر اختلافات به ووینې: نو تاسې زما او زما د راشدو خلیفه گانو سنت او لار راونیسئ، په هغې ټینګ پاتې شئ، د ژامو په غاښونو یې کلک راونیسئ، ځان په دین کې له نوو کارونو له جوړولو وژغورئ، ځکه په دین کې هر نوې څه راپیدا کول، بدعت دی، او هر بدعت بیا ګمراهي ده". [١]

١١ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې الله تعالی خپل پیغمبر ته د صحابه کرامو سره د مشورې امر کړی دی، لکه څنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾

او له دوی سره په کار کې مشوره کوه، بیا چې کله ته پخه اراده وکړې، نو په الله باندې توکل کوه، یقینًا الله له توکل کوونکو سره مینه کوي.

١٢ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې الله تعالی د امت وروسته راتلونکو ته امر کړی چې د صحابه کرامو لپاره دعا وکړي، او خپل زړونه له دوی سره له کینې پاک وساتي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾

او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي ـ؛ دوی وایي: ای زمونږ ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو وروڼو ته چې زمونږ نه یې په ایمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کینه) مه پیدا کوه چې ایمان یې راوړی دی ـ ای زمونږ ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی یې.

١٣ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې رسول الله ﷺ خبر ورکړی چې هغه نسل چې صحابه کرام پکې وو، د امت تر ټولو غوره نسل دی. نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: "غوره خلک زما پیړۍ ده، بیا د هغې وروسته پیړۍ ده او بیا د هغې وروسته پیړۍ ده". [٢] د مسلم په روایت کې دی: "غوره خلک هغه دي، چې زه ورکې پیغمبر وټاکل شوم".

١٤. بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې د صحابه کرامو ثوابونه د نورو په پرتله څو چنده زیات دي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "زما صحابه مه سپکئئ، که څوک له تاسو څخه د (اُحد) غره په اندازه سره زر هم صدقه کړي، د هغوی د یوه مُد (یوه لپه) یا نیم مُد (نیمه لپه) ثواب ته به ونه رسېږي". [٣]

---

(١) رواه ابن حبان (١٧٩/١) واللفظ له، وأبو داود (٤٦٠٧)، والترمذي (٢٦٧٦)، وابن ماجه (٤٢)، وأحمد (١٢٦/٤ - ١٢٧)، وغيرهم، والحديث صححه الألباني رحمه الله.

(٢) رواه البخاري (٢٦٥٢) ومسلم (٢٥٣٣) عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه.

(٣) رواه البخاري (٣٦٧٣)، ومسلم (٢٥٤١) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، وفي الباب عن أبي هريرة رضي الله عنه، رواه مسلم (٢٥٤٠)

د دوی دواړو صدقو ترمینځ دا لوړ اجر د زیات اخلاص او د ریښتنې نیت له امله دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الأيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه - د صحابه کرامو ترمنځ د فضیلت درجه بندي

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **د الله بندگانو! له الله څخه وېرېږئ، او پوه شئ چې صحابه کرام رضي الله عنهم یو د بل پر وړاندې د فضیلت درجې لري، د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې د نبي کریم ﷺ تر وفات وروسته تر ټولو غوره انسان ابو بکر (رضي الله عنه) دی، بیا عمر، بیا عثمان، بیا علي (رضي الله عنهم) دی، مهاجرین بیا د انصارو په پرتله وړاندې کولی شي، ځکه مهاجرین د اسلام په منلو کې له نورو مخکې وو، بیا انصار راغلل، نبي ﷺ او مهاجرینو ته یې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه.**

اهل سنت هغه کسان غوره ګڼي چې د فتح مکې نه یې مخکې خپل مال او ځان د الله په لار کې مصرف کړي وي، دا کسان غوره دي له هغو کسانو چې تر فتحې وروسته یې مال او ځان د الله په لار کې مصرف کړی وي، دوی پر دې هم ایمان لري چې الله تعالی په بدر غزا کې برخه اخیستونکو ته ویلې وو: "اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم"، یعنې: "هر څه چې کوئ؛ کوئ یې، ما درته بښنه کړې ده"، او دوی تقریباً څه د پاسه درې سوه تنه وو. او په دې هم ایمان لري چې هغه چا چې د رضوان د ونې لاندې بیعت کړی وي؛ جهنم ته به نه داخلېږي، چې دوی تر یو زر او څلورسوه زیات کسان وو، همداراز، هغه صحابه چې رسول الله ﷺ ورته د جنت زېری ورکړی، اهل سنت والجماعت هم دوی ته د جنت زېری ورکوي، لکه لس صحابه کرام او داسې نور.

په امت د صحابه کرامو د حقونو لنډیز

ای مؤمنانو! د صحابه کرامو پر مورِ څلور ستر حقوق دي:

١ . دوی سره محبت کول او له دوی څخه خپل رضایت څرګندول.

٢ . دا عقیده لرل چې صحابه د رسول الله ﷺ څخه وروسته د امت تر ټولو غوره خلک دي.

٣ . کوم څه چې د دوی ترمینځ پیښ شوي، له هغې څخه ځان ساتل.

٤ . د صحابو څخه دفاع کول، د هغو خبرو څخه چې بدعتیانو په صحابو پسې ویلي دي، لکه روافض او یا د هغې د لارې تعقیبوونکی خلک.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او څلورو خلیفه ګانو څخه، او همدارنګه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته تر ې راضي شه.

اې د الله بندګانو! بېشکه الله پاک په عدل، احسان، خپلوانو ته په ورکړه امر کړی دی، او د فحشا، منکراتو او ظلم څخه منع کړې ده، د یاداشت لپاره تاسو ته نصیحت کوي، تاسو ستر الله یاد کړي، هغه به تاسې یاد کړي، د الله ذکر ډېر ستر دی، الله ستاسې په ټولو کارنو خبر دی.

د صحابو درناوی د اهل سنت و الجماعت د عقیدې یو بنسټ دی
(د صحابه کرامو ځانګړتیاوې رضي الله عنهم)

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله څخه ووېرېږئ، او دا احساس ولرئ چې الله زموږ د هر څه څارونکی دی، اطاعت یې وکړئ، او سرغړونه یې مه کوئ. پوه شئ! چې د اهل‌السنت والجماعت له بنسټیزو اصولو څخه دا ده چې د رسول الله ﷺ اصحابو ته درناوی ولرل شي، احسان ورسره وشي، حقونه یې وپېژندل شي، د هغوی اقتداء وشي، ښه صفتونه یې وشي، د ښېنې دعا ورله وشي، کوم څه چې د صحابو په خپل مینځ کې تېر شوي؛ سکوت تري وشي، له هغوی سره د دښمني کوونکو سره دښمني وپالل شي، کوم روایتونه چې د تاریخ‌لیکونکو، ناپېژاندو راویانو، روافضو او بدعتي ډلو له خوا نقل شوي - او د اصحابو توهین پکې شوی وي -هېڅ ډول باور وربانديې ونه شي، ځکه چې اصحاب هغه څوک دي چې هېڅ یو تن یې باید په بدو یاد نه شي، او نه وربانديې کوم عیب پورې شي، بلکې نېکی، فضایل، او د دوی د ښه سیرت یادونه وشي، او له دې پرته له نورو شیانو نه باید سکوت وشي.[1]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: "د اهل‌السنت والجماعت له اصولو څخه دا دي چې زړونه او ژبې یې باید د رسول الله ﷺ د اصحابو په اړه پاکې وي، لکه څنګه چې الله فرمایلي:

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾

او د هغو کسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت کوونکو او انصارو) نه وروسته راغلي دي ـ؛ دوی وایي: ای زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وکړه او زمونږ هغو وروڼو ته چې زمونږ نه یې په ایمان سره سبقت (او ړومبی والی) کړی دی او ته زمونږ په زړونو کې د هغو کسانو لپاره هېڅ بغض (او کینه) مه پیدا کوه چې ایمان یې راوړی دی ـ ای زمونږه ربه! بېشکه ته ډېر نرمي کوونکی، بې حده رحم کوونکی یې.

---

(۱) باختصار وتصرف يسير من «الشفا» للقاضي عياض، الفصل السادس: ومن توقيره وبره توقير أصحابه وبرهم.

د صحابو رضي الله عنهم څوارلس ځانګړتياوې

۱ .اې مؤمنانو! له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله هغوی په ټولو انسانانو کې د خپل پيغمبر ﷺ د ملګرتيا لپاره غوره کړل، چې رسول الله ﷺ په دنيوي ژوند کې خپله وويني، د هغې د خولې څخه خبرې واوري، شريعت او ديني امور يې له هغه څخه زده کړل، او د هغه په لاس يې روزنه وشوه، کوم نور او هدايت چې رسول الله ﷺ ته ورکړل شوی و، په غوره توګه يې خلکو ته ورساوه.

۲ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې رسول الله ﷺ ورسره مينه او محبت لرلو.

۳ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې د صحابو لپاره ستر اجر دی، ځکه دوی د رسول الله ﷺ ترڅنګ د اسلام د نشر او دعوت په لار کې جهاد وکړ؛ نو د دوی به په هغه اندازه ثواب څومره خلک چې د دوی له لارې هدايت ته رسېدلي دي؛ لکه څرنګه دا څرګنده معلومه ده، چا چې چا ته د هدايت بلنه ورکړه، څومره خلکو يې چې پيروي وکړه، د هغو د ثواب په اندازه به دده ثواب وي، پرته له دې چې د هغوی د ثوابونو څه کم شي".

۴ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، چې دوی قرآن او سنت ياد وساتل، خلکو ته يې ورسول، او د دوی په وسيله قرآن او سنت د نړۍ ګوټ ګوټ ته ورسيد، چې دا به د قيامت د قيامه پورې وي.

۵ .اې مسلمانانو! بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې الله پاک د دوی ښه صفت او ستاينه کړې ده، بلکې د دوی يادونه يې په تورات، انجيل او قرآن کې کړې ده، د مغفرت او لوی اجر وعده يې ورسره کړې ده، لکه چې الله تعالى فرمايلي:

﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الْإِنْجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُمْ مَغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾

محمد د الله رسول دی ـ او هغه کسان چې له ده سره دي، په کافرانو باندې ډېر سخت دي، په خپل مينځ کې ډېر مهرباني کوونکي دي ـ، ته به دوی وينې چې رکوع کوونکي، سجده کوونکي دي، له الله نه فضل او رضامندي غواړي ـ، د دوی (د دينداری) نښې د دوی په مخونو کې دي ـ د سجدو له اثر نه ـ، دغه په تورات کې د دوی مثال دی او په انجيل کې د دوی مثال دی ـ، لکه هغه فصل چې خپل تېغ راوباسي، بيا هغه قوي کړي، بيا هغه (فصل، تېغ) پېړ او کلک شي بيا دغه (فصل) په خپلو پنډيو (او بېخونو) ودرېږي، په داسې حال چې زمېنداران (کروندګر) په تعجب کې اچوي، د دې لپاره چې په دغو سره کافران په غصه کړي، الله له هغو

کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی او نېک عملونه یې کړي دي، چې دغه (اصحابان) دي؛ د بخښنې او د ډېر لوی اجر وعده کړې ده.

قرطبي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: "دا یو مثال دی چې الله پاک د رسول الله ﷺ د صحابو په اړه بیان کړی دی، مقصد دا چې د دوی شمېر به په لومړیو کې لږ وي، خو ورو ورو به ډېر شي او نور به زیاتوالی ومومي، رسول الله ﷺ چې کله دین اسلام ته د خلکو بلنه په داسې حال کې پیل کړه، چې ډېر کمزوری و، یو یو کس به یې دعوت قبولو، تر هغې چې پیاوړی شو، لکه د کښت بوټی چې له تخم اچولو وروسته کمزوری ښکاري، خو ورو ورو پیاوړی کېږي، تر دې چې ډډ یې غټ شي او څانگې یې پراخې شي؛ نو دا تر ټولو غوره، څرگند او سم مثال دي".

٦ . اې د الله بندگانو! بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا چې الله تعالی د دویو سره د تقوی کلمه پیوسته کړه، او اعلان یې وکړ چې دوی له هر چا زیات د تقوی اهل او وړ دي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَأَلْزَمَهُمْ كَلِمَةَ التَّقْوَى وَكَانُوا أَحَقَّ بِهَا وَأَهْلَهَا﴾

او په دوی پورې یې د تقوىٰ خبره لازمه (ټینگه) کړه او دوی د دغې ډېر حقدار او د دغې اهل وو.

یعنې الله تعالی هغوی د تقوی په کلمې چې هغه (لا إله إلا الله) ده، سره یاد کړل، د تقوی حقونه او په هغې عمل کول یې وربانديې واجب وگرځول، هغویو هم دا کلمه ومنله، په سمه ډول یې وربانديې عمل وکړ، بیا یې د دې خبرې اعلان وکړي، چې دوی له چا زیات د تقوی اهل دي، او دوی د دې اهل دي چې په تقوی سره یې ستاینه وشي، ځکه هغه خیر د دویو په زړونو درلود، یوازې یو الله ته معلوم دي.

٧ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې الله پاک اعلان کړی، چې کوم خلک د رسول الله ﷺ او د صحابو په څیر ایمان ولري، نو هغوی به پر سمه لار وي. الله تعالی فرمایلي دي:

﴿فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا﴾

نو که دوی هغه شان ایمان راوړي څنگه چې تاسو په دې (کتاب) ایمان راوړی دی، نو یقینًا دوی سمه لاره وموندله.

او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بني اسرائیل په دوه او اویا (٧٢) فرقو ووېشل شول، او زما امت به په درې او اویا (٧٣) فرقو ووېشل شي، ټول به دوزخ ته لاړ شي پرته له یوه ډلې څخه". صحابه کرامو وپوښتل: ای د الله رسوله! دا کومه ډله ده؟ هغه ورته وفرمایل" :دا هغه ډله ده، چې په کومه لار زه او زما صحاب دي، په هغې روان وي". [1]

(١) رواه الترمذي (٢٨٣٢)، وصححه الألباني.

په دې حدیث کې نبی کریم ﷺ دا څرگنده کړه چې امت به یې په درې اویا (۷۳) ډلو ووېشل شي، او یوازې هغه ډله به نجات وموميِ چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د هغه د صحابو په تگلاره روانه وي، که هغه په عقیده کې وي او که په شریعت کې وي -الله دې مورِ هم له هماغو کسانو څخه وگرځوي - او دا حدیث دا څرگندوي چې صحابه په سمې او حقې لارې روان وو.

۸ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله پخپله د هغوی په اړه د "ریښتینو مؤمنانو" گواهي کړې ده، او الله تعالى پخپله گواه پوره دي، الله تعالى فرمايي:

﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ﴾

او هغه کسان چې ایمان یې راوړی دی او هجرت یې کړی دی او د الله په لاره کې یې جهاد کړی دی او هغه کسان چې ځای یې ورکړی دی او مدد یې کړی دی، همدغه کسان په حقه مومنان دي، د دوی لپاره بخښنه او ډېر د عزت رزق دی.

۹ . بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، هغه دا ده چې الله تعالى په دوه آیتونو کې په ښکاره توگه له صحابو څخه خپل رضایت څرگند کړی دی، او هغه دا آیاتونه دي:

﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾

او له مهاجرینو او انصارو نه هغه وړاندیني اولني (ایمان لرونکي) او هغه کسان چې په نېکۍ سره یې د دوی پیروي کړې ده، الله له دوی نه راضي شوی دی او دوی له هغه نه راضي شوي دي او هغه، د دوی لپاره داسې جنتونه تیار کړي دي چې د هغو له لاندې وَلې بهېږي، چې دوی به په هغو کې تل ترتله وي، همدا ډېره لویه کامیابي ده.

بل آیت دا دي:

﴿ لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ فَعَلِمَ مَا فِي قُلُوبِهِمْ فَأَنْزَلَ السَّكِينَةَ عَلَيْهِمْ وَأَثَابَهُمْ فَتْحًا قَرِيبًا ﴾

یقینًا یقینًا الله له مومنانو نه راضي شو کله چې دوی له تا سره د ونې لاندې بیعت کاوه، پس ده ته هغه څه معلوم وو چې د دوی په زړونو کې وو، بیا هغه په دوی اطمینان نازل کړ او دوی ته یې په عوض کې نژدې برى ورکړ.

۱۰. اې د الله بندگانو! بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې دوی په امت کې په دین باندې تر هر چا زیات پوهیدل، په کوم څه چې دوی اجماع کړې وي، هېڅا ته روا نه ده چې خلاف یې وکړي، ځکه هغوی د نبي کریم ﷺ تر مستقیمې روزنې لاندې روزل

شوي وو، د وحي نزول يې له نږدې ليدلی و. نبي كريم ﷺ خبر ورکړی دی چې د دوی له جملې څخه څلور مقدم كسان، يعني خلفاء راشدين، د پيروي وړ دي، نو څوک چې وروسته راځي، بايد د دوی پيروي وکړي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "زه تاسو ته وصيت كوم چې له الله څخه وويريږئ، د خپل مشره امر واورئ او اطاعت يې وکړئ، كه څه هم ستاسې امير يو گوډ معذوره غلام ولې نه وي، ځكه له ما وروسته چې څوک دنيا ته راځي، ډېر اختلافات به ووينې: نو تاسې زما او زما د راشدو خليفه گانو سنت او لار راونيسئ، په هغې ټينگ پاتې شئ، د ژامو په غاښونو يې كلک راونيسئ، ځان په دين كې له نوو كارونو له جوړولو وژغورئ، ځكه په دين كې هر نوې څه راپيدا كول، بدعت دی، او هر بدعت بيا گمراهي ده". [1]

١١ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت كوي، دا ده چې الله تعالى خپل پيغمبر ته د صحابه كرامو سره د مشورې امر كړی دی، لكه څنگه چې الله فرمايلي دي:

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ﴾

او له دوی سره په كار كې مشوره كوه، بيا چې كله ته پخه اراده وكړې، نو په الله باندې توكل كوه، يقيناً الله له توكل كوونكو سره مينه كوي.

١٢ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت كوي، دا ده چې الله تعالى د امت وروسته راتلونكو ته امر كړی چې د صحابه كرامو لپاره دعا وكړي، او خپل زړونه له دوی سره له كينې پاک وساتي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِي قُلُوبِنَا غِلًّا لِلَّذِينَ آمَنُوا رَبَّنَا إِنَّكَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾

او د هغو كسانو لپاره دي چې له دوی (هجرت كوونكو او انصارو) نه وروسته راغلي دي ـ؛ دوی وايي: ای زمونږه ربه: ته مونږ ته مغفرت وكړه او زمونږ هغو وړونو ته چې زمونږ نه يې په ايمان سره سبقت (او ړومبی والی) كړی دی او ته زمونږ په زړونو كې د هغو كسانو لپاره هېڅ بغض (او كينه) مه پيدا كوه چې ايمان يې راوړی دی ـ ای زمونږه ربه! بېشكه ته ډېر نرمي كوونكی، بې حده رحم كوونكی يې.

١٣ . بل له هغو دلايلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت كوي، دا ده چې رسول الله ﷺ خبر ورکړی چې هغه نسل چې صحابه كرام پكې وو، د امت تر ټولو غوره نسل دی. نبي كريم ﷺ فرمايلي دي: "غوره خلک زما پيړۍ ده، بيا د هغې وروسته پيړۍ ده او بيا د هغې وروسته پيړۍ ده". [2] د مسلم په روايت كې دی: "غوره خلک هغه دي، چې زه ورکې پيغمبر وټاكل شوم".

---

(١) رواه ابن حبان (١٧٩/١) واللفظ له، وأبو داود (٤٦٠٧)، والترمذي (٢٦٧٦)، وابن ماجه (٤٢)، وأحمد (١٢٦/٤ - ١٢٧)، وغيرهم، والحديث صححه الألباني رحمه الله.

(٢) رواه البخاري (٢٦٥٢) ومسلم (٢٥٣٣) عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه.

۱۴. بل له هغو دلایلو څخه چې د صحابو په ستر مقام دلالت کوي، دا ده چې د صحابه کرامو ثوابونه د نورو په پرتله څو چنده زیات دي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "زما صحابه مه سپکنئ، که څوک له تاسو څخه د (أُحد) غره په اندازه سره زر هم صدقه کړي، د هغوی د یوه مُد (یوه لپه) یا نیم مُد (نیمه لپه) ثواب ته به ونه رسېږي". [1]

د دوی دواړو صدقو ترمینځ دا لوړ اجر د زیات اخلاص او د ریښتنې نیت له امله دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الأيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه - د صحابه کرامو ترمنځ د فضیلت درجه بندي

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **د الله بندګانو! له الله څخه وېرېږئ، او پوه شئ چې صحابه کرام رضي الله عنهم یو د بل پر وړاندې د فضیلت درجې لري، د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چې د نبي کریم ﷺ تر وفات وروسته تر ټولو غوره انسان ابو بکر (رضي الله عنه) دی، بیا عمر، بیا عثمان، بیا علي (رضي الله عنهم) دی، مهاجرین بیا د انصارو په پرتله وړاندې کولی شي، ځکه مهاجرین د اسلام په منلو کې له نورو مخکې وو، بیا انصار راغلل، نبي ﷺ او مهاجرینو ته یې پناه ورکړه او مرسته یې وکړه.**

اهل سنت هغه کسان غوره ګڼي چې د فتح مکې نه یې مخکې خپل مال او ځان د الله په لار کې مصرف کړي وي، دا کسان غوره دي له هغو کسانو چې تر فتحې وروسته یې مال او ځان د الله په لار کې مصرف کړی وي، دوی پر دې هم ایمان لري چې الله تعالی په بدر غزا کې برخه اخیستونکو ته ویلې وو: "اعملوا ما شئتم فقد غفرت لكم"، یعنې: "هر څه چې کوئ؛ کوئ یې، ما درته بښنه کړې ده"، او دوی تقریباً څه د پاسه درې سوه تنه وو. او په دې هم ایمان لري چې هغه چا چې د رضوان د ونې لاندې بیعت کړی وي؛ جهنم ته به نه داخلېږي، چې دوی تر یو زر او څلورسوه زیات کسان وو، همداراز، هغه صحابه چې رسول الله ﷺ ورته د جنت زېری ورکړی، اهل سنت والجماعت هم دوی ته د جنت زېری ورکوي، لکه لس صحابه کرام او داسې نور.

په امت د صحابه کرامو د حقونو لنډیز

ای مؤمنانو! د صحابه کرامو پر مورِ څلور ستر حقوق دي:

۱ . دوی سره محبت کول او له دوی څخه خپل رضایت څرګندول.

۲ . دا عقیده لرل چې صحابه د رسول الله ﷺ څخه وروسته د امت تر ټولو غوره خلک دي.

۳ . کوم څه چې د دوی ترمینځ پیښ شوي، له هغې څخه ځان ساتل.

---

(۱) رواه البخاري (۳٦۷۳)، ومسلم (۲٥٤۱) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، وفي الباب عن أبي هريرة رضي الله عنه، رواه مسلم (۲٥٤۰)

۴ . د صحابو څخه دفاع کول، د هغو خبرو څخه چې بدعتیانو په صحابو پسې ویلي دي، لکه روافض او یا د هغې د لارې تعقیبوونکی خلک.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغې له صحابو او څلورو خلیفه گانو څخه، او همدارنگه د تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي، ته ترې راضي شه.

اې د الله بندگانو! بېشکه الله پاک په عدل، احسان، خپلوانو ته په ورکړه امر کړی دی، او د فحشا، منکراتو او ظلم څخه منع کړې ده، د یاداشت لپاره تاسو ته نصیحت کوي، تاسو ستر الله یاد کړي، هغه به تاسې یاد کړي، د الله ذکر ډېر ستر دی، الله ستاسې په ټولو کارنو خبر دی.

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو د هغه د مېرمنو درناوی دی

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

اې مسلمانانو! له الله څخه ووېرېږئ، او دا احساس ولرئ چې الله زمونږ د هر څه څارونکی دی، اطاعت یې وکړئ او نافرماني یې مه کوئ، په دې خبره ځان پوه کړئ، چې د اهل السنت والجماعت د عقیدې له مهمو اصولو څخه یو اصل دا دی، چې د رسول الله ﷺ مېرمنو ته احترام، توقیر او عزت ولرل شي، بېشکه الله پاک هغوی ته لوړ مقام ورکړی دی، بلکې دوی ته یې د ټولو مؤمنانو د مورګانو حیثیت ورکړی دی، لکه څرنګه چې الله پاک فرمایي:

﴿النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ﴾

نبي (محمدﷺ) په مومنانو باندې د دوی له ځانونو نه زیات حقدار دی ـ او د ده ښځې د دوی میندې دي.

په دې آیت د هغوی د ستر عظمت، حرمت، احترام، درناوي او توقیر بیان دی، چې هر مسلمان باندې لازم دي چې دا حق یې وساتي، او د شریعت له مخې دا مسؤلیت په پوره توگه ادا کړي.
اې د الله بندگانو! یو له هغه کارونو څخه چې له امله یې د پیغمبر ﷺ د میرمنو ته احترام لرل واجب دی؛ دا ده، چې دوی د رسول الله ﷺ طریقې زده کړې دي او بیا یې اسلامي امت ته رانقل کړي دي، او په ځانگړي ډول عایشه رضی الله عنها، چې د ډېرو حدیثونو روایت یې کړی دی.
خدیجه رضی الله عنها د رسول الله ﷺ لومړۍ مېرمن وه، هغه به رسول الله ﷺ ته د تثبت او ډاډ ورکاوه، چې ته په کومه لاره یې دا حق ده، الله پاک به تا هېڅکله نه شرمنده کوي، دا خبرې مورِ ته له هغې پېښې راڅرگندیږي، کله چې جبرائیل لومړی ځل د وحي له پیغام سره رسول الله ﷺ ته راغی، رسول الله ﷺ له غار حرا څخه په داسې حال کې راستون شو، چې زړه یې لړزېده؛ نو خدیجې رضی الله عنها هغه ته ډاډ ورکړ، او بیا یې د خپل تره زوی ورقه بن نوفل ته یووړ، چې د جاهلیت په وخت کې په نصرانیت باندې و، ورقه بن نوفل ورته لا نور ډاډ هم ورکړ، او ورته ویې ویل، چې دا وحي ده چې د الله له لوري درته راغلې ده. [۱]
شیخ الإسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایي: د اهل السنت والجماعت له اصولو څخه دا دي، چې د رسول الله ﷺ له مېرمنو سره ـ چې د مؤمنانو مورگانې دي ـ محبت او درناوی ولرل شي، او په دې یقین ولري چې هغوی به په آخرت کې هم د رسول الله ﷺ مېرمنې وي، په ځانگړي ډول خدیجه رضی الله عنها، چې د ډېرو اولادونو مور ده، او له هر چا وړاندې یې ایمان راوړی، د رسول الله ﷺ ملاتړ یې کړی، او د پیغمبر ﷺ په نزد لوړ مقام لري.
او همدارنگه صدیقه بنت الصدیق، عایشه رضی الله عنها، چې رسول الله ﷺ د هغې په حق کې فرمایلي: د عایشې فضیلت پر نورو ښځو داسې دی، لکه څرنگه چې ثرید خوراک (ماته کړې او خوړینه غذا) په نورو خوارکونو غوره والي لري. [۲]
اې د الله بندگانو! بل هغه څه چې د پیغمبر ﷺ د میرمنو په ستر حق دلالت کوي، هغه د لمانځه په تشهد کې د دعا لپاره د هغوی ځانگړي یادونه ده، او دا څرگنده ده چې په هغې باندې د صلاة څخه مراد هغوی ته دعا کول دي، الله یې ستاینه کوي، او مقام یې لوړوي، د ابو حمید الساعدي رضی الله عنه څخه روایت دی، چې صحابه وویل: اې د الله رسوله، مورِ په تا څنگه درود ووایو؟
رسول الله ﷺ وفرمایل: داسې ووایئ: (اې الله! رحمت او برکت نازل کړه پر محمد ﷺ، او د هغه په مېرمنو او اولادونو، لکه څنگه چې تا رحمت نازل کړی وو پر ابراهیم علیه السلام او د هغه په کورنۍ باندې؛ او برکت وکړه پر محمد ﷺ، او د هغه پر مېرمنو او اولادونو، لکه څنگه چې تا برکت کړی وو پر ابراهیم علیه السلام او د هغې پر کورنۍ، بېشکه ته د ثنا وړ او د عظمت څښتن یې).

---

(۱) انظر القصة في صحيح البخاري (۳) وصحيح مسلم (۱٦۰).
(۲) انظر «مجموع الفتاوى» (۱٥٤/۳)، والكلام منقول من «العقيدة الواسطية»، والحديث رواه البخاري (۳۷٦۹) ومسلم (۲٤٤٦) عن أنس بن مالك رضي الله عنه.

اې د الله بندګانو! د پیغمبر ﷺ د میرمنو له حقونو څخه یو دا دي، چې هغو ته دعا کول، ښېنه ورله غوښتل، ښه صفتونه او د امت د نورو ښځو په پرتله د هغوی ډیر فضیلتونه یادول.
اې مؤمنانو! قرآن کریم دا خبره په صراحت سره بیان کړې، چې د رسول الله ﷺ مېرمنې پاکدامنې دي، لکه څنګه چې الله پاک فرمایي:

﴿ إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

بېشکه همدا خبره ده چې الله غواړي چې له تاسو نه، ای اهل بیتو! ګناه لرې کړي او تاسو پاک کړي، پاکول .
ابن جریر طبري رحمه الله وایي: بېشکه الله غواړي چې له تاسو څخه ـ ای د محمد ﷺ کورنۍ ـ بدۍ او فحشا لرې کړي، او تاسو پاک کړي، له هغو ناخوالو څخه، چې د الله نافرمانانه خلک پرې ککړ وي.
له دې امله د پیغمبر ﷺ په مېرمنو تور پورې کول، دا پیغمبر ﷺ ته ستر آزار او اذیت رسول دي، حال دا چې الله پاک دا کار حرام ګرځولی، او فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ يُؤْذُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَعَنَهُمُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَأَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُهِينًا﴾

بېشکه هغه کسان چې الله او د هغه رسول ته ایذا (او تکلیف) رسوي، الله په دوی لعنت کړی دی په دنیا او اخرت (دواړو) کې او د دوی لپاره یې سپکوونکی عذاب تیار کړی دی .
اې مسلمانانو! هغه څه چې د پیغمبر ﷺ د مېرمنو درناوی او احترام له مینځه وړي، هغه عقیده ده چې روافض یې لري، الله دې شرمېدلی او خوار کړي، بلکې دوی د منافقانو په نقش قدم پسې روان شول، او عایشه رضی الله عنها په زنا تورنه وي، او دا باطله عقیده د دین برخه ګڼي، حال دا چې دا کفر دی، الله دې تري مور وساتي، ځکه څوک چې عایشه رضي الله عنها په زنا تورنه وي، هغه د قرآن د النور سورت آیاتونه نه مني، کوم کې چې د هغې د پاکوالي اعلان دی، الله پاک فرمایلي دي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ جَاءُوا بِالْإِفْكِ عُصْبَةٌ مِنْكُمْ لَا تَحْسَبُوهُ شَرًّا لَكُمْ بَلْ هُوَ خَيْرٌ لَكُمْ لِكُلِّ امْرِئٍ مِنْهُمْ مَا اكْتَسَبَ مِنَ الْإِثْمِ وَالَّذِي تَوَلَّى كِبْرَهُ مِنْهُمْ لَهُ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١﴾ لَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ ظَنَّ الْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بِأَنْفُسِهِمْ خَيْرًا وَقَالُوا هَذَا إِفْكٌ مُبِينٌ﴾

بېشکه هغه کسان چې غټ دروغ یې راوړي دي، له هم تاسو نه یوه ډله ده، په دې (دروغو) د ځان لپاره د شر ګمان مه کوئ بلکې دا تاسو لپاره خیر دی، په دغو (بهتان ویونکو) کې د هر یو سړي لپاره هغه شی دی چې هغه ګټلی دی له ګناه نه او هغه کس چې د دغو (دروغو) لوی بار یې پورته کړی دی په دوی کې د ده لپاره ډېر لوی عذاب دی، کله چې تاسو دا (دروغ) واوربدل، نو ولې مومنو سړیو او مومنو ښځو په خپلو ځانونو باندې د خیر ګمان ونه کړ او دا یې ونه ویل چې دا ښکاره دروغ دي.
بیا الله پاک وفرمایل:

﴿ وَلَوْلَا إِذْ سَمِعْتُمُوهُ قُلْتُمْ مَا يَكُونُ لَنَا أَنْ نَتَكَلَّمَ بِهَذَا سُبْحَانَكَ هَذَا بُهْتَانٌ عَظِيمٌ ﴾

او كله چې تاسو دا (بهتان) واورېده (، نو) ولې تاسو ونه ويلې: مونږ ته جايز نه دي چې په دې خبره باندې خوله وخوځوو، تا لره پاكي ده (اى ربه!) دا ډېر لوى بهتان دى

ابن كثير رحمه الله وايي: ټولو علمأو په دې خبره اجماع كړې، چې څوک له دې آيت وروسته عايشې رضي الله عنها ته بد وايي، يا هغه تورنوي؛ نو هغه كافر دى، ځكه هغه له قرآن نه انكار كوي. [1]

اې د الله بندګانو! دا مختصرې فائدې دي، چې د رسول الله ﷺ د مېرمنو د درناوى، او د هغوى د احترام ضد كارونو په اړه، الله دې د پيغمبر ﷺ د ټولو ميرمنو څخه راضي شي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **اې د الله بندګانو! د الله څخه ووېرېږئ، او ځان پوه كړئ، چې د پيغمبر ﷺ مېرمنې هاغه دي، كومو سره چې رسول الله ﷺ نكاح كړې، چې شمېر يې يولس دى:**

١. **خديجه بنت خويلد رضي الله عنها.**
٢. **عائشة بنت أبي بكر الصديق رضي الله عنها وعن أبيها.**
٣. **سودة بنت زَمعة رضي الله عنها.**
٤. **حفصة بنت عمر بن الخطاب رضي الله عنها وعن أبيها.**
٥. **أم حبيبة، رملة بنت أبي سفيان رضي الله عنها وعن أبيها.**
٦. **أم سلمة، هند بنت أبي أمية بن المغيرة، القرشية رضي الله عنها.**
٧. **زينب بنت جحش رضي الله عنها.**
٨. **زينب بنت خزيمة الهلالية رضي الله عنها.**
٩. **جويرية بنت الحارث رضي الله عنها.**
١٠. **صفية بنت حيي بن أخطب رضي الله عنها.**
١١. **ميمونة بنت الحارث الهلالية رضي الله عنها.**

ځان پوه كړئ ـ الله دې په تاسو رحم وكړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر كړى دى، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشكه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

(١) «تفسير ابن كثير»، سورة النور: ٢٣.

او رسول الله ﷺ خپل امت ته ترغیب ورکړي چې د جمعې په ورځ په رسول الله ﷺ زیات درود ووایئ: بېشکه غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده، په دغه ورځ پر ما ډیر درود ووایئ، ځکه ستاسې درود ما ته رارسي.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، څلورو خلیفه ګانو، تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذلیل کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه، او د خپلو موحدو بندګانو مرسته وکړه.

اې الله مورږ په خپل هیواد کې په امن کړه، زمورږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار یې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین عزتمن کړه، په خپل رعیت یې مهربانه کړه، اې الله څوک چې مورږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان یې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

اې الله له مورږ څخه ګراني، وباګاني، سود، زنا، زلزلې، مصیبتونه، ښکاره او پټې ناوړه فتنې په ځانګړي ډول زمورږ له هیواد، او د ټولو مسلمانانو د هیوادونو څخه لیرې کړې، اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنیا کې نیکې بدلې راکړه، او په اخرت کې هم نیکې بدلې راکړه، او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.

اې د الله بندګانو! بېشکه الله د انصاف، ښېګڼې، او د خپلوانو د حق په ادا کولو امر کوي، له بې حیایی، بدیو او ظلم څخه منع کوي، الله تاسې ته نصیحت کوي، د دې لپاره چې پند ترې واخلئ، د الله لوی ذات یادوئ، هغه به تاسې یاد کړي؛ او د هغه د نعمتونو شکر وکړئ، هغه به یې درته نور هم زیات کړي؛ د الله یاد تر هر څه لوی دی، څه چې تاسې یې کوئ الله پرې ښه پوهیږي.

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو د هغه د خاندان درناوی دی

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

اې مسلمانانو! د الله (جل جلاله) څخه ویړ شئ، تقوی غوره کړئ، د هغه اطاعت وکړئ او سرغړونه یې مه کوئ، خبر اوسئ! چې د رسول الله ﷺ ځینې حقونه چې د اهل سنت والجماعت د عقیدې له مهمو اصولو څخه دي یو له هغې څخه د هغه د اهل بیتو درناوی لرل دي، د هغوی سره مینه لرل، مرسته او ملاتړ یې کول، او د رسول الله ﷺ هغه سپارښتنه چې د هغوی په اړه یې کړې، د هغې ساتنه او رعایت کول دی.

اې د الله بندګانو! د دې اصل (یعنې د اهل بیتو د احترام) دلایل ډېر دي، د زید بن أرقم رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي چې رسول الله ﷺ زمونږ ته د «خُم»[۱] په مقام کې خطبه وکړه. هغه د الله حمد او ثنا وکړه، نصیحت او وعظ یې وکړ، بیا یې وفرمایل: (أما بعد، اې خلکو! زه یو بشر یم، ډېر ژر دی چې د الله له لورې راته (د مرګ) استازې راشي او زه به یې بلنه ومنم، زه په تاسو کې دوه درانه څیزونه پرېږدم: یو یې د الله کتاب دی، چې هدایت او رڼا پکې ده، نو تاسو د الله کتاب ونیسئ، او پرې ټینګ شئ.

خلک یې وهڅول چې د کتاب الله راونیسي، بیا یې وفرمایل: او بل څه چې ما تاسو ته پریښې دي، هغه زما اهل بیت دي، د الله په نوم سره تاسې ته یادونه درکوم چې زما د اهل بیتو لحاظ وکړه، د الله په نوم سره تاسې ته یادونه درکوم چې زما د اهل بیتو لحاظ وکړه، د الله په نوم سره تاسې ته یادونه درکوم چې زما د اهل بیتو لحاظ وکړئ.

له زید څخه پوښتنه وشوه: اې زیده! اهل بیت څوک دي؟ آیا د هغه ښځې اهل بیت دي، او کنه؟ زید وویل: هو، د هغه ښځې د اهل بیتو برخه ده؛ خو اهل بیت هغه څوک دي، چې صدقه پرې حرامه ده.[۲]

ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایلي دي: د محمد صلی ﷺ د اهل بیتو حق مراعت کړئ،[۳] د هغه مقصد دا و چې د رسول الله ﷺ د خپلوانو احترام وکړئ، او د هغوی حقونه وساتئ.[٤]

د رسول الله ﷺ څخه د اهل بیتو فضیلت او مناقب په ګڼو احادیثو کې راغلي، دا احادیث د صحیحینو، سننو، مسانیدو او نورو حدیثو په کتابونو کې په تفصیل سره ذکر شوي دي.[٥]

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: د رسول الله ﷺ د خاندان لپاره په دې امت باندې داسې حق دی چې له هغوی سره په دغه حق کې بل څوک شریک نه دي، هغوی د امت له طرفه د ځانګړې مینې او ملاتړ مستحق دي، داسې مینه او ملاتړ چې نورو قریشي قبایلو ته نه دي ورکړل شوي، لکه څنګه چې قریش د نورو قبایلو په نسبت د زیات احترام او محبت مستحق دي، همداسې عرب د عجمو په نسبت د زیات احترام مستحق دي، دا د جمهور علماؤ نظر دی، چې عربو ته د غیر عربو په وړاندې فضیلت ورکوي، او قریشو ته په عربو کې فضیلت ورکوي، او بن هاشم ته په قریشو کې فضیلت ورکوي، دا هغه څه دي چې د امام احمد رحمه الله او نورو امامانو څخه په صراحت سره روایت شوي دي.[٦]

---

(۱) خم، د مکې او مدینې ترمینځ یو ځای دی، چې اوبه ورکې شتون لري.

(۲) رواه مسلم (۲٤۰۸)

(۳) رواه البخاري (۳۷۱۳)

(٤) انظر "فتح الباري" شرح الحديث المتقدم.

(٥) انظر "الصحيح المسند من فضائل آل بيت النبوة" لأم شعيب الوادعية، الناش: دار الآثار - صنعاء.

(٦) منهاج السنة النبوية (٥۹۹/٤).

ابن تيميه رحمه الله وروسته د واثله بن الأسقع رضى الله عنه حديث ذكر كړى، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله جل جلاله د اسماعيل عليه السلام له اولادې څخه كنانه غوره كړه، له كنانې څخه يې قريش غوره كړه، له قريشو څخه يې بنى هاشم غوره كړه، او له بنى هاشمه يې زه غوره كړم. (١)

اې مومنانو! د رسول الله ﷺ مېرمنې هم د قرآن په صريحو الفاظو د اهل بيتو برخه ګڼل شوي دي، لكه څنګه چې الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيُذْهِبَ عَنْكُمُ الرِّجْسَ أَهْلَ الْبَيْتِ وَيُطَهِّرَكُمْ تَطْهِيرًا﴾

ابن كثير رحمه الله وايي: دا آيت صريح دليل دى چې د نبي عليه الصلاة والسلام مېرمنې د اهل بيتو له جملې څخه دي، ځكه دا آيت د دوى په اړه نازل شوى دى.

اې مسلمانانو! د رسول الله ﷺ د اهل بيتو لپاره صدقه خوړل حرام دي، الله تعالى هغوى ته د لوړ مقام له امله پر هغوى صدقه حرامه كړې، ځكه صدقه د خلكو ظاهري او مالي چټلتيا ده، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د محمد ﷺ د خاندان لپاره د صدقې خوړل مناسب نه دي، ځكه چې دا د خلكو د ظاهر او مال چټلتيا ده. (٢)

هغه اهل بيت چې صدقه پرې حرامه ده، دوه ټبرونه دي: بني هاشم بن عبد مناف، او بني المطلب بن عبد مناف.

اې مومنانو! د اهل بيتو د درناوي له دليلونو څخه دا هم ده چې رسول الله ﷺ خپل امت لارښوونه كړې چې د لمانځه په تشهد كې په هغې باندې درود ووايي.

اللهم صل على محمد وعلى آل محمد، كما صليت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد.

اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد، كما باركت على إبراهيم وعلى آل إبراهيم، إنك حميد مجيد(٣)

نو آيا له دې دعا سره، چې موږ يې په هر فرض لمونځ كې وايو، د اهل بيتو درناوى تر دې هم لوړ څه مقام شته؟ بلكې دا ستر اعزاز او درنښت دى!

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندګانو، د الله څخه وويريږئ، او خبر اوسئ چې سلف صالحين زموږ لپاره د رسول الله ﷺ د اهل بيتو په درناوي كې تر ټولو غوره بېلګه ده، چې موږ ته يې وړاندې كړې ده، ابوبكر صديق رضي الله عنه فرمايلي دي: قسم دى په هغه

(١) رواه مسلم (١٠٧٢) وغيره .

(٢) رواه مسلم (١٠٧٢) عن عبدالمطلب بن ربيعة بن الحارث رضي الله عنه.

(٣) أخرجه البخاري (٢٣٧٠) ومسلم (٤٠٦) عن كعب بن عجرة رضي الله عنه.

ذات چې زما روح يې په واک کې دی! د رسول الله ﷺ د خپلوانو سره صله رحم کول، راته له خپلو خپلوانو سره د صله رحمې کولو را ته ډېره خوښه ده. (١)

اې مسلمانانو! اهل سنت والجماعت د رسول الله ﷺ د اهل بيتو سره دوستي او محبت کوي، او د هغوی لپاره ستر او لوړ مقام مني، نه لکه د رافضيانو په څير چې دعوه کوي چې يوازې موږ د اهل بيتو سره محبت کوونکي يو، او له موږ رافضيانو پرته نورو خلکو د اهل بيتو سره ظلم کړی دی، خو حقيقت بل شان دی:

رافضيان د اهل بيتو پر وړاندې ډېر سخت ظلم کړی دی، چې ساری نه لري، همدوی وو چې اهل بيت يې يوازې پرېښودل، دوکه يې کړل، او دوی د دې په درواغو د شهرت له امله د اهل بيتو زيات روايتونه رد شول، بيا رافضيان خپله دا دعوه کوي چې دوی د اهل بيتو سره مينه لري، خو دا مينه يې يوازې په څو کسانو پورې محدوده ده، خو اهل سنت والجماعت بيا پر سمه لار روان دي، چې د ټولو اهل بيتو سره مينه او وفاداري لري.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راوليږه، او د هغه له صحابو، څلورو خليفه ګانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه. اې الله موږ په خپل هيواد کې په امن کړه، زمونږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار يې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين عزتمن کړه، په خپل رعيت يې مهربانه کړه، اې الله څوک چې موږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان يې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

اې الله له موږ څخه ګراني، وباګاني، سود، زنا، زلزلې، مصيبتونه، ښکاره او پټې ناوړه فتنې په ځانګړي ډول زمونږ له هيواد، او د ټولو مسلمانانو د هيوادونو څخه ليرې کړې، اې زمونږ ربه! موږ ته په دنيا کې نيکې بدلې راکړه، او په اخرت کې هم نيکې بدلې راکړه، او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

---

(١) رواه البخاري (٣٧١٢)، ومسلم (١٧٥٩).

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه په هغې باندې درود او سلام ویل دي

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

- اې مسلمانانو! د الله (جل جلاله) څخه ویړ شئ، تقوی غوره کړئ، د هغه اطاعت وکړئ او سرغړونه یې مه کوئ، خبر اوسئ! چې د رسول الله ﷺ له حقونو څخه په هغه باندې درود او سلام کول دي، او همدارنگه د هغه لپاره د وسیلې او فضیلت دعا کول دي، چې الله پاک ورسره د مقام محمود وعده کړې چې هغې مقام ته یې ورسوي.

- په رسول الله ﷺ باندې د درودو ویلو معنا دا ده چې موږ له الله تعالی څخه غواړو چې په هغې باندې رحم وکړي، او لوړ مقام ورکړي، ځکه چې د "صلاة" لغوي مانا هم دعا ده؛ ځنگه چې الله تعالی فرمایلي دي:

وَصَلِّ عَلَيْهِمْ إِنَّ صَلَاتَكَ سَكَنٌ لَهُمْ

یعنې د هغوی لپاره دعا وغواړه، ځکه چې ستا دعا د هغوی لپاره آرام او رحمت دی.

او د الله له لورې په خپل پیغمبر باندې د درود معنا دا ده چې په هغې رحم کوي، او په آسمان کې یې د ملایکو په وړاندې ستاینه کوي.

او د ملایکو درود پر پیغمبر دا دی چې هغوی ورته د رحم دعا کوي او ثنا پرې وایي.

خلاصه دا چې د الله له لورې په خپل باندې د درود رالیږلو موخه د پیغمبر اکرام، ستر والی، محبت او ستاینه کول دي، د انسانانو او ملائکو له خوا درود دا دی چې له الله څخه دا غوښتنه کول چې پیغمبر ﷺ ته نور عزت، یاداښت، ستاینه او لوړ مقام ورکړي.

- اې مومنانو! په نبي ﷺ باندې د سلام ویلو معنا دا ده چې موږ له الله نه غواړو، نبي علیه السلام له هر ډول زیان، عیب، بدنامۍ څخه وساتي.

نو کله چې مونږ درود او سلام دواړه وایو، نو دا داسې دعا کول دي چې هر ډول خیر ته شامله ده، ابن کثیر رحمه الله د الاحزاب سورت د دې آیت په تفسیر کې وایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

مطلب دا دی: چې الله پاک خپلو بندګانو ته د خپل پیغمبر مقام او منزله په اسمان د خپلو په مجلس کې ذکر کوي، د مقربین ملائکو په وړاندې یې ستاینه کوي، ملائکې ورباندې درود وایي، بیا الله پاک د ځمکې خلکو ته امر وکړ چې په پیغمبر ﷺ باندې درود او سلام ووایئ، د دې لپاره چې د اسمان او ځمکې مخلوق د پیغمبر ﷺ ستاینه وکړي. [1]

---

(١) تفسير سورة الأحزاب، الأية ٥٦ .

- د الله بندگانو! كله چې يو څوک په رسول الله ﷺ درود وايي؛ نو درود او سلام دواړه سره يوځای ووایاست، يوازې دې په يوه باندې بسنه نه كوي، يوازې (صلى الله عليه) دې نه وايي، او نه دې يوازې (عليه السلام) وايي. دا خبره له دې آيت مباركه څخه اخيستل شوې ده:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

لكه څرنگه چې امام نووي او ابن كثير رحمهم الله ويلي دي. [1]

- اې مسلمانانو! پر نبي كريم ﷺ درود ويل واجب دي كله چې د هغه نوم واورئ، په دې اړه په دوه حديثونو ترهيب راغلى دى:

اول حديث: رسول الله ﷺ فرمايلي دي: بخيل هغه څوک دى چې زما نوم د هغه مخكې واخيستل شي؛ خو هغه پر ما درود ونه وايي. [2]

دويم حديث: د هغه سړي پوزه دې په خاورو الوده شي، چې زما نوم د هغ په مخكې ياد شي، او پر ما درود ونه وايي. [3]

- د الله بندگانو! درود په نبي ﷺ باندې ويل په ټولو حالاتو كې مستحب دي؛ خو په لسو ځانگړو ځايونو كې د درود په ويلو ډېر تاكيد شوى دى، هغه دا لس ځايونه دا دي:

لومړى ځای: په لمانځه كې په اخري تشهد كې درود ويل.

دويم ځای: د جنازې په لمونځ كې، د دوهمې تكبير وروسته درود ويل.

دريم ځای: په خطبو كې، لكه د جمعې، اختر، استسقاء او نورو خطبو كې درود ويل. ابن القيم رحمه الله وايي: د صحابوو رضى الله عنهم په زمانه كې به په خطبو كې پر نبي ﷺ درود ويل يو مشهور او معلوم عمل و. [4]

څلورم ځای: د جمعې به ورځ كې درود ويل، اوس بن ابى اوس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ستاسو له غوره ورځو څخه يوه ورځ د جمعې ده، پدې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوى، پدې ورځ وفات شوى، پدې ورځ به شپېلۍ ووهلى شي، او پدې ورځ به خلک بې‌هوشه شي؛ نو پر ما ډېر درود ووایاست، ځكه ستاسې درودونه ما ته رارسيږي. [5]

پنځم ځای: د مؤذن له اذان وروسته، په صحيح مسلم [6] كې راځي، عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې د مؤذن اذان واورئ، نو هغه الفاظ ووايې څرنگه يې چې مؤذن وايي، بيا پر ما درود ووایاست، ځكه هر څوک چې پر ما يو ځل درود ووايي، الله پرى لس ځله درود وايي.

---

(١) انظر كتاب " الأذكار"، باب صفة الصلاة على رسول الله صلى الله عليه وسلم، وتفسير القرآن العظيم، سورة الأحزاب، نهاية تفسيره للأية ٥٦.

(٢) رواه ابن حبان (١٨٩/٣)، والنسائي في "الكبرى" (٩٨٠٠)، كتاب عمل اليوم والليلة، باب من البخيل، والترمذي (٣٥٤٦)، والترمذي (٣٥٤٦)، وأحمد (٢٠١/١)، عن حسين بن علي بن أي طالب، وصححه الألباني، وقال الشيخ شعيب: إسناده قوي.

(٣) رواه الترمذي (٣٥٤٥) وأحمد (٢٥٤/٢)، عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه محققو «المسند»، وقال الألباني: حسن صحيح.

(٤) «جلاء الأفهام»، الموطن الخامس من مواطن الصلاة على النبي (صلى الله عليه وسلم)، ص ٤٤١ ، الناشر: دار عالم الفوائد.

(٥) رواه النسائي (١٣٧٣)، وأبو داود (١٠٤٧)، وابن ماجه (١٠٨٥)، وأحمد (٨/٤)، وصححه الألباني في «صحيح أبي داود».

(٦) رقم (٣٨٤).

شپږم ځای: په دعا کې درود ویل، له فضالة بن عبيد رضي الله عنه څخه روایت دی چې وایي: موږ د رسول الله ﷺ سره ناست وو، یو سړی راغی، لمونځ یې وکړ، بیا یې دا دعا وکړه: «اللهم اغفر لي وارحمني»، نو رسول الله ﷺ ورته وویل: اې لمونځ کوونکیه! کله چې لمونځ وکړي، کښینه، د الله حمد ووایه، بیا پر ما درود ووایه بیا دعا وکړه.

رواي وایي: بیا له دې وروسته بل سړي لمونځ وکړ، د الله حمد یې وویلو، بیا یې پر نبي صلى الله عليه وسلم درود ووایه،رسول الله ﷺ فرمایل: اې لمونځ کوونکیه! دعا وغواړه، دعا دې قبلیږي. (١)

همدارنگه له عمر بن خطاب رضي الله عنه څخه نقل دي، چې هغه به ویل: د انسان دعا د اسمان او ځمکې ترمنځ بنده پاتې وي، کله چې په رسول الله ﷺ درود ووایي، بیا پورته خیژي. (٢)

اووم او اتم ځای: مسجد ته د ننوتلو او د مسجد څخه د وتلو پر وخت دورد ویل، رسول الله ﷺ به چې کله مسجد ته داخلیده، پر ځان به یې درود او سلام ویلو، او بیا به یې ویل: اللهم افتح لي أبواب رحمتك. او چې کله د مسجد څخه وتلو، پر ځان به یې بیا درود او سلام وویلو، او بیا به یې ویل: اللهم افتح لي أبواب فضلك. (٣)

نهم ځای: د صفا او مروه تر منځ د سعي په وخت کې درود ویل، وهب بن الأجدع وایي: عمر بن الخطاب رضي الله عنه په مکه کې خلکو ته خطبه ورکوله، او ویې فرمایل: کله چې یو څوک حج ته راشي، نو طواف دې وکړي، بیا دې د مقام ابراهیم سره دوه رکعته لمونځ وکړي، بیا دې د صفا له غره پیل وکړي، او بیت الله ته دې مخامخ ودرېږي، اووه ځله دې تکبیرونه وایي، د هر تکبیر تر منځ دې د الله حمد او ثنا، او پر رسول الله ﷺ درود ووایي، د ځان لپاره دې دعاګانې وکړي، او په مروه کې دي هم همداسې کار وکړي. (٤)

لسم ځای: کله چې یو مجلس کې خلک سره کښېني، او تر جدا کېدو وړاندې درود ویل، له ابو هرېره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه مجلس چې خلک ورکې کښیني د الله ذکر او په رسول الله ﷺ درود ونه وایي، مګر د قیامت په ورځ به په دغه مجلس او ناست خفه وي، که الله وغواړي بښنه به ورته وکړي او که نه په دغې مجلس به یې راونیسي. (٥)

اې د الله بندګانو! دا لس ځایونه هغه دي چې په رسول الله ﷺ باندې په کې په درود ویلو ډېر تاکید شوی، سره له دې چې پر هغه درود ویل د ژوند په ټولو حالاتو کې مستحب عمل دي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

---

(١) رواه أبو داود (١٤٨١)، والترمذي (٣٤٧٧) واللفظ له، والنسائي (١٢٨٤)، وقال الترمذي: هذا حديث حسن صحيح، وصححه الألباني.

(٢) رواه الترمذي (٤٨٦)، وصححه الألباني رحمه الله.

(٣) انظر سنن الترمذي (٣١٤) وابن ماجه (٧٧١) ومصنف ابن أبي شيبة (٣٤١٢)، وصححه الألباني دون جملة المغفرة الواردة في تلك الروايات، انظر «صحيح الترمذي».

(٤) رواه البيهقي (٩٤/٥) (٩٣٤٣)، ورواه ابن أبي شيبة (١٤٥٠١) مختصرا، وحسنه صاحب «جامع الآثار الصحيحة عن أمير المؤمنين عمر بن الخطاب رضي الله عنه»، ص ١٥٩.

(٥) رواه أحمد (٤٨٤/٢)، والترمذي (٣٣٨٠)، وصححه محققو «المسند»، والألباني كما في «السلسة الصحيحة» (١٥٦/١).

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **اې د الله بندګانو! د الله څخه وويريږئ، ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:**

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، څلورو خليفه ګانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه. اې الله مونږ د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين عزتمن کړه، په خپل رعيت يې مهربانه کړه.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

په پيغمبر ﷺ د درودو ويلو فايدې او گټې

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرگ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

- اې مسلمانانو! د الله ﷻ نه وډار شئ، له نافرمانۍ يې ځان وساتئ، او د هغه اطاعت وکړئ، سرغړونه يې مه کوئ! پوه شئ، چې په پيغمبر ﷺ باندې درود ويل لس فايدې لري:

لومړۍ فايده: د الله ﷻ امر منل او د هغه حکم پوره کول دي، لکه څنګه چې الله ﷻ فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَـٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

دوهمه فایده: په لمانځه کې په رسول الله ﷺ باندې درود ویل، دا دعا ده، او دعا خپله یوه مستقل عبادت دی چې الله پرې امر کړی، او په دې سره انسان ته ثواب او نیکې بدلې ورکوي.

دریمه فایده: څوک چې په رسول ﷺ باندې یو ځل درود ووایي، الله ﷻ په پرې لس ځله رحمت نازلوي، لکه څنگه چې نبي ﷺ فرمایي: څوک چې پر ما یو ځل درود ووایي، الله به پرې لس ځله درود وایي. (۱)

څلورمه فایده: څوک چې په رسول الله ﷺ باندې یو ځل درود ووایي؛ لس درجې لوړتیا به ورته ورکړل شي، لس به ورته نېکۍ ولیکلی شي، او لس به یې ګناهونه وبښل شي، له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "څوک چې پر ما یو ځل درود ووایي، الله به پرې لس ځله رحمتونه نازل کړي، لس ګناهونه به یې وبښي، او لس درجې به یې لوړې کړي". (۲)

پنځمه فایده: د ګناهونو د بښنې او د دنیا او آخرت د اندېښنو څخه د لیرې والي سبب دي، أبيّ بن کعب رضي الله عنه وایي: "کله به چې د شپې دریمه برخه تېره شوه؛ نو رسول الله ﷺ راولاړ شو، او ویل به یې: اې خلکو، الله یاد کړئ، الله یاد کړئ، راجفه راغله، مرګ راغلی دی، مرګ راغلی دی. أبي رضي الله عنه وایي: ما ورته وویل اې د الله رسوله! زه په تا باندې ډېر درود وایم؛ نو څومره درود ویل ستا لپاره ځانګړي کړم؟ راته یې وفرمایل: څومره چې دې خوښه شي. بیا ما وویل: که څلورمه ځانګړې کړم؟ راته یې وفرمایل: څومره چې دې خوښه وي، که زیات یې کړې نو ستا لپاره غوره ده، بیا مې ورته ویل: چې نیمایي برخه ستا لپاره ځانګړې کړم؟ راته یې وویل: څومره چې دې خوښه وي، خو که زیات یې نو ستا لپاره غوره ده، بیا مې ورته وویل: چې دوه دریمې برخه یې که ستا لپاره ځانګړي کړم؟ راته یې وویل: څومره چې دې خوښه وي، خو که زیات یې کړې نو ستا لپاره غوره ده، بیا مې ورته وویل: او که ټول وخت ستا لپاره ځانګړی کړم؟ راته یې وفرمایل: 'که داسې دې وکړل، نو اندېښنې او غمونه به دې لیرې شي، او ګناهونه به دې وبښل شي". ترمذي دې حدیث ته حسن صحیح وایي. (۳)

شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله وایي: "أُبيّ به دعاوې کولې، هغه یې پریښودې، او ځای یې په رسول الله ﷺ درود ته ورکړ، الله ﷻ به یې د دنیا او آخرت اړتیاوې پوره کړې، کله چې یو تن یو ځل په رسول الله ﷺ باندې درود ووایي، الله به ورباندې لس ځله رحمت نازل کړي، او که چیرته د عام مومن لپاره دعا وغواړي؛ نو ملائکې پرې امین وایي، او د دې دعا په څیر دعا ورله غواړي؛ نو په

---

(۱) رواه مسلم (۳۸٤).

(۲) رواه النسائي في «السنن الكبرى» برقم (۱۲۲۱) وغيره.

(۳) رواه الترمذي (۲٤٥۷)، وإسماعيل القاضي في «فضل الصلاة على النبي (صلى الله عليه وسلم) » (۱٤) بنحوه، وأحمد (۱۳٦/٥) مختصرا، وحسنه الألباني رحمه الله كما في «الصحيحة» (۹٥٤).

رسول الله ﷺ درود ویل له هر څه غوره دي". [۱] تر دې ځایه د ابن تیمیه رحمه الله وینا پای ته ورسیده.

شپږمه فایده: په رسول الله ﷺ د درود ویلو له ګټو څخه دا هم ده چې درود ویل د شفاعت سبب دی، کله چې د درود سره د وسیله هم وغواړي، له عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی، وایې چې ما د رسول الله ﷺ څخه اوریدلي دي، چې فرمایل یې: "کله چې د مؤذن اذان واورئ، څه چې مؤذن وایي تاسې هم د هغه په شان کلمات وایئ، بیا په ما باندې درود ووایئ، ځکه څوک چې پر ما یوه ځل درود ووایي، الله به پرې لس ځله درود ووایي، بیا له الله څخه زما لپاره الوسیله وغواړئ، ځکه دا د جنت یوه داسې درجه ده چې یواځې یو بنده ته ورکول کېږي، او زه هیله لرم چې هغه بنده به ځه یم، نو څوک چې زما لپاره وسیله وغواړي، پر ما باندې یې شفاعت حلال شو. [۲]"

اوومه فایده: که دعا کوونکی مخکې له دعا څخه پر رسول الله ﷺ درود ووایي، نو دا د دعا د قبولېدو لامل ګرځي، له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه روایت دی، چې فرمایي: "د انسان دعا د آسمان او ځمکې ترمینځ اویزانه وي، نه پورته کېږي، تر څو چې پر رسول ﷺ درود ونه وایل شي[۳]

اتمه فایده: دا د دې لامل ګرځي چې د درود ویونکي دورد رسول الله ﷺ ته وړاندې کړل شي، لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي: "ستاسې درود پر ما وړاندې (پیش) کېږي[٤]". او همدا د بنده لپاره ستر عزت دی چې د هغه درود په رسول الله ﷺ باندې وړاندې کړل شي.

نهمه فایده: درود د مجلس د برکت، طهارت او صفاوالي سبب دی، او هغه مجلس چې پکې د الله ﷻ یاد او د نبي ﷺ درود نه وي، په هغه مجلس به د قیامت پر ورځ افسوس کولی شي، له ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "هغه خلک چې سره رایو ځای شی او د الله ﷻ ذکر او پر رسول الله ﷺ درود نه وایي، نو دا مجلس به د قیامت پر ورځ به د دوی لپاره د افسوس سبب وي، که الله وغواړي بښنه به ورته وکړي او که وغواړي عذاب به ورکړي". [٥]

لسمه فایده: درورد ویل د رسول الله ﷺ سره د مینې د دوام او زیاتوالي سبب دی، او دا د ایمان له شرطونو څخه دی ځکه هر کله چې یو بنده د خپل محبوب ذکر ډېر کړي، د هغه ښکلاوې په زړه کې راولي، نو محبت یې ورسره زیاتېږي، شوق یې ډېرېږي، او محبت یې په ټول زړه غلبه ترلاسه کوي، خو که له یادولو او ذکر نه یې غافله شي، نو محبت به یې کمېږي، او محبت کوونکي لپاره د خپل محبوب له لیدو پرته په بل څه زړه نه یخیږي.

---

(۱) «مجموع الفتاوى» (۱۹۳/۱).

(۲) رواه مسلم (۳۸٤).

(۳) رواه الترمذي (٤۸٦)، وصححه الألباني رحمه الله.

(٤) قطعة من حديث رواه أحمد (۸/٤) وغيره عن أوس بن أبي أوس رضي الله عنه، وصححه محققو «المسند» (۱٦۱٦۲).

(٥) رواه أحمد (٤۸٤/۲) وغيره، وصححه محققو «المسند» (۱۰۲۷۷)، والألباني كما في «السلسة الصحيحة» (۱٥٦/۱).

اې د الله بندګانو! دا لس سترې فايدې دي، چې په رسول الله ﷺ باندې په درود ويلو کې نغښتې دي، چې له کتاب "جلاء الأفهام في فضل الصلاة والسلام على خير الأنام ﷺ" څخه په لنډ ډول راغستل شوي دي، کوم چې د ابن القيم رحمه الله اثر دی.

● بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **اې د الله بندګانو! له الله ﷻ څخه وويرېږئ او پوه شئ چې په رسول الله ﷺ باندې په درود کې د هغه لپاره ده وسيلې، فضيلت او د «مقام محمود» دعا کول هم شامل دي، ځکه دا د رسول الله ﷺ لپاره د لوړتيا او ستاينې دعا په درود کې، په دې خبره دليل هغه د جابر بن عبدالله رضى الله عنهما روايت دی، چې چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې د اذان د اوريدو پر مهال دا دعا وويله:** (اللَّهُمَّ رَبَّ هذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ، آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ)؛ **نو د قيامت په ورځ يې شفاعت پر ما باندې حلال شو.** [1]

او د عبدالله بن عمرو بن العاص رضى الله عنهما څخه روايت دی، وايي ما د رسول الله ﷺ څخه اوريدلي ديو چې فرمايل يي: کله چې تاسو د مؤذن اذان واورئ، نو تاسو هم هماغه څه ووايئ کوم چې هغه وايي، بيا پر ما درود ووايئ، ځکه چې څوک پر ما يو ځل درود ووايي، الله ﷻ به پرې لس ځله درود ووايي، بيا زما لپاره له الله ﷻ څخه د وسيلې غوښتنه وکړئ، ځکه چې وسيله په جنت کې داسې مقام دی چې يوازې يو خاص بنده ته ځانګړی شوی، او زه هيله لرم چې هغه به زه يم، نو څوک چې زما لپاره د وسيلې دعا وغواړي، پر ما يې شفاعت حلال شو[2].

دا «وسيله» يو لوړ مقام دی چې په جنت کې نبی ﷺ ته ځانګړی شوی.

او «فضيلت» بيا عمومي خير، برکت او لوړوالی ته وايي.

او «مقام محمود» هغه ستايل شوی مقام دی چې ټول خلک به د هغه مقام خاوند ستايي، او دا هغه لوی شفاعت دی چې نبي کريم ﷺ به د قيامت پر ورځ د حشر د ميدان د خلکو لپاره کوي، تر څو حساب پيل شي، او دليل په دې خبره هغه د ابو هريرة رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «مقام محمود» شفاعت دی. [3]

---

(١) رواه البخاري (٦١٤).

(٢) د دې حديث تخريج مخکې شوې.

(٣) رواه أحمد (٤٧٨/٢)، وقال محققو «المسند»: حسن لغيره، وكذا رواه ابن جرير في تفسير سورة الإسراء، تفسير قوله تعالى (عسى أن يبعثك ربك مقاما محمودا)، آية ٧٩ .

او د حديث په پای کې چې فرمايي: «حلت له الشفاعة»، يعنې شفاعت به ورته روا شي؛ دا د عمل جزا ده، ځکه هغه بنده د رسول الله ﷺ لپاره دعا وکړه چې الله دې هغه ته مقام محمود ورکړي، نو هغه بنده د دې مستحق شو چې رسول الله ﷺ يې په حق کې شفاعت وکړي، ترڅو ګناهونه يې وبښل شي، او درجات يې لوړ شي.

اې الله مورږ هم د هغه خلکو له ډلې وګرځوه چې د پيغمبر ﷺ شفاعت مو نصيب شي.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل

کوم مسلمان چې په رسول الله ﷺ باندې ډير درود وايي، زړه به يې الله روښانه کړي، ګناهونه به يې وبښي، سينه به يې خلاصه کړي، کارونه به يې اسانه کړي؛ نو ډير درود وايئ، اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولېږه، او د هغه له صحابو، څلورو خليفه ګانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه، او خپل موحد بندګانو مرسته او کومک وکړه.

اې الله مورږ په خپل هيواد کې په امن کړه، زمورږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار يې روان کړه.

اې الله د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين عزتمن کړه، په خپل رعيت يې مهربانه کړه، اې الله څوک چې مورږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان يې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

په نبوي هجرت کې شپاړس درسونه

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: **تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.**

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرگ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد، اې مسلمانانو! د الله ﷻ څخه وويرېږئ، هر وخت يې څارنه او احساس کوئ، اطاعت يې کوئ او نافرماني يې مه کوئ.

پوه شئ! الله ﷻ خپل پيغمبر ﷺ هغه مهال راولېږه، چې د رسولانو سلسله د څه وخت لپاره بنده شوې وه، او بت پرستي د ځمکې پر مخ خپره شوې وه، حتی د مکې غونډې ځای چې په ټولو ځمکو کې غوره ځای او سيمه ده؛ هم له دې څخه خوندي پاتې نه وه.

رسول الله ﷺ لومړی خپل نژدې خپلوانو ته د الله د دين دعوت ورکړ، نو له هغوی لږ شمېر خلکو دا دعوت ومنلو، خو ډېرو يې رد کړ، دا دعوت د يو څه وخت لپاره په پټه روان وه، کافرو قريشو ورته

هېڅ پام نه کاوه، خو کله چې رسول الله ﷺ دا دعوت په ښکاره اعلان کړه، او د دوی بتان يې سپک کړل او وغندل؛ نو مشرکانو بل ډول چلند غوره کړ، تر څو خپل بتان وساتي او ننګه پرې وکړي.

هغوی رسول الله ﷺ ته د مال وړاندیز وکړ، چې شتمن يې کړي؛ د ښکلو ښځو د نکاح وړاندیز يې ورته وکړ؛ حتّی ورته ويې ويل چې مورِ به تا خپل مشر وګرځوو؛ او داسې وړاندیز يې هم ورته وکړ چې ته يو کال زمورِ دې خدايانو ته عبادت کوه، او مورِ به يو کال ستا رب ته عبادت کوو، خو رسول الله ﷺ دا ټول وړاندیزونه رد کړل، لکه څنګه چې الله ﷻ فرمايي:

﴿وَدُّوا لَوْ تُدْهِنُ فَيُدْهِنُونَ﴾

دوی خوښوي چې کاشکې ته نرم شې، نو دوی به هم نرم شي.

نو هغوی هغه مؤمنان چې زور يې پرې چلېده او تر شا يې څوک نه ول، سخت وځورول، هغوی ته يې ډېر دردناک عذابونه ورکړل، تر څو يې ببرته په زوره شرک ته را وګرځوي، او په دې کار سره نور خلک هم وډار کړي چې اسلام دين کې داخل نشي.

کله چې رسول الله ﷺ وليدل چې صحابه له سختو ازموينو سره مخ دي، او نه شي کولای چې ملاتړ يې وکړي، نو هغوی ته يې اجازه ورکړه چې حبشې ته هجرت وکړي؛ مسلمانانو دوه ځله هجرت وکړ: يو ځل د بعثت په پنځم کال، او بل ځل په لسم کال او له هغې وروسته يې بيا مدينې ته هجرت وکړ، چې رسول الله ﷺ هم ورپسې بيا هجرت وکړ، تر څو د اسلام دين خپور شي، او د الله عبادت په امن او ډاډمنه فضا کې ترسره شي.

اې مسلمانانو! څوک چې د رسول الله ﷺ پر هجرت ژور نظر واچوي، نو ډېر حکمتونه او ژور درسونه به ورکې ووينې، چې ځينې يې دا دي:

١ . د الله په لار کې خپل مال، وطن او خاندان قرباني کول، رسول الله ﷺ چې کله مکه پرېښوده، نو مکې ته يې مخ راوګرځو، او ويې فرمايل: قسم په الله! ته د الله په ځمکو کې تر ټولو او الله ته خوښه ځمکه يې، که زه له تا نه ايستل کيدای؛ نو هېڅکله به زه تا وتلی نه وی.[1]

٢ . په هجرت کې له درسونو څخه دا هم ده که چېرې په يو ځای کې درباندې د دعوت دروازې بندې شي، نو بل ځای ته لاړ شه، ترڅو هلته دعوت وکړي، کله چې رسول ﷺ د قريشو له هدايت څخه ناامېده شو، نو مدينې ته لاړ، تر څو هلته خلکو ته دعوت ورکړي.

٣ . په هجرت کې له درسونو څخه دا هم ده چې د ابتلاء (ازمېښت) سنت راڅرګندېدل، جنت ډېر قيمتي دی، او په آرامه بدن نه ترلاسه کيږي، بلکې د الله په اطاعت کې له سختيو او مبارزې وروسته ترلاسه کيږي، الله ﷻ فرمايلي دي:

﴿ أَمْ حَسِبْتُمْ أَنْ تَدْخُلُوا الْجَنَّةَ وَلَمَّا يَعْلَمِ اللَّهُ الَّذِينَ جَاهَدُوا مِنْكُمْ وَيَعْلَمَ الصَّابِرِينَ﴾

(١) رواه الترمذي (٣٩٢٥)، وصححه الألباني.

آیا تاسو دا ګمان کوئ چې تاسو به جنت ته داخل شئ، حال دا چې لا تر اوسه الله په تاسو کې هغه کسان نه دي معلوم (څرګند) کړي چې جهاد يې کړی دی، او د دې لپاره چې هغه صبر کوونکي معلوم کړي.

الله ﷻ ته دا هېڅ ګرانه نه وه چې له رسول الله ﷺ څخه اذیت او کړاوونه لرې کړي، او هغه له مکې نه مدینې ته په یوه لحظه کې انتقال کړي، لکه څنګه چې د اسرا په شپه بیت المقدس ته په براق ورسول شو، خو الله ﷻ وغوښتل چې خپل پیغمبر ﷺ وازمایي، تر څو هغه د خپل امت لپاره یو اسوه (الګو او نمونه) شي، او د خلکو صداقت ورته روښانه شي، او د الله ﷻ له لوري يې ثواب او اجر ډیر شي، او دعوتګرو ته زده کړه شي، چې د دعوت په لار کې د تکلیفو زغم او تحمل څنګه وکړي.

٤ . په هجرت کې له درسونو څخه دا هم ده چې **مادي اسباب برابرول**، رسول الله ﷺ د هجرت لپاره بشپړ ظاهري تیاری ونیو، خو تر هغه وخته يې هجرت ونه کړ، ترڅو چې الله ورته اجازه ورکړه، بیا يې د ملګرتیا لپاره امین ملګری د ځان سره ملګری کړ، چې هغه ابوبکر صدیق رضي الله عنه وو، او د مکې د حالاتو د مالوماتو لپاره يې د هغه زوی عبدالله بن ابوبکر وګومارە، د شیدو راوړلو لپاره يې خپل مولا عامر بن فهیره وکاراوه، چې د هغوی پسې به يې خپل رمه ګرځوله، د لارې ښوولو لپاره يې عبدالله بن اریقط، چې یو مشرک و، خو امین او د لارې ښه بلد و، استخدام کړ.

له اسبابو د استخدام څخه دا هم ده چې د مکې نه مدینې ته د تلو لپاره يې یوه داسې لاره غوره کړه چې خلک ورباندې تګ راتګ نه کوي، ترڅو د قریشو د لټون څخه ځانونه پټ وساتي.

له اسبابو له استخدام څخه دا هم ده چې درې شپې يې د مکې جنوب ته د «ثور» په غار کې تېرې کړې، او تر هغه پورې له غاره ونه وت، کله چې د قریشو لټون ختم شو.

له اسبابو له استخدام څخه دا هم ده چې د خپل د تګ راز يې له هېچا سره شریک نه کړ، پرته له هغه کسانو څخه چې مخکې یادونه وشوه.

نو د دې لسو تدابیرو له لارې موږ ته د نبوي سیرت نه دا درس راپه برخه کېږي، چې تدبیر، پلان جوړونه، او د اسبابو نیول څومره اړین دي.

٥ . د هجرت له درسونو څخه یو درس دا دي چې رسول الله ﷺ په **مادي اسبابو نیولو باندې اعتماد نه کولو**، بلکې د زړه نه يې په الله باندې توکل کړی وو، دلیل په دې خبره دا دي چې کله مشرکان غار ته ورسیدل، ابوبکر رضي الله عنه ورته وویل: «اې د الله رسوله! که له دوی نه یو يې هم خپلو پښو ته وکتلې؛ نو مونږ به وویني»، رسول الله ﷺ وفرمایل: «اې ابوبکر! ته د هغه دوو کسانو په اړه څه ګومان لرې، چې دریم يې الله دی؟ [1] الله تعالی هم په خپل کتاب کې فرمایلي:

(١) رواه البخاري (٣٦٥٣) ومسلم (٢٣٨١)، واللفظ لمسلم

﴿ إِلَّا تَنْصُرُوهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللَّهُ إِذْ أَخْرَجَهُ الَّذِينَ كَفَرُوا ثَانِيَ اثْنَيْنِ إِذْ هُمَا فِي الْغَارِ إِذْ يَقُولُ لِصَاحِبِهِ لَا تَحْزَنْ إِنَّ اللَّهَ مَعَنَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ سَكِينَتَهُ عَلَيْهِ وَأَيَّدَهُ بِجُنُودٍ لَمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَى وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴾

که تاسو د دغه (رسول) مرسته ونه وکړئ، نو یقینا الله د هغه مدد کړی دی کله چې دې کافران شویو خلقو په داسې حال کې ووښت چې دویم د دوو و، کله چې هغوی دواړه په غار کې وو، کله چې هغه خپل ملګري ته وویل: غم مه کوه، بېشکه الله زمونږ سره ملګری دی، نو الله په هغه باندې خپل تسکین نازل کړ او هغ یې په داسې لښکرو سره مضبوط کړ چې تاسو هغه نه دي لیدلي، او د کافران شویو خلقو کلمه یې تر ټولو ښکته کړه او د الله کلمه، همغه تر ټولو لوړه ده، او الله ښه غالب، ښه حکمت والا دی.

په همدې لاره کې سراقة بن مالک بن جعشم هم دوی رالاندې کړل، خو رسول الله ﷺ ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته وویل: «غم مه کوه، بېشکه الله له موږ سره دی. [1]

٦. هجرت موږ ته دا هم را زده کوي، چې د دعوت پر لاره کې صبر او ثبات ضروري دی، رسول الله ﷺ خپله امت ته دا درس ورکړ، چې د باطل پر وړاندې ودریږي، که څه هم باطل ظاهري قوت ولري، او وخت نا وخت برلاسی ومومي؛ خو عاقبت یوازې د مومنانو دی،

﴿ وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾

او په مونږه باندې د مومنانو مدد کول حق دي.

٧. هجرت کې بل درس دا هم دی چې دا یقین درلودل چې بری د متقیانو دی، که د هجرت پیل ته وګورو، داسې ښکاریده چې د دې دعوت پای به زوال او له مینځه تلل وي، ځکه چې د باطل پرستو او خقپالو ترمینځ د مادي قوت موازنه بلکل متفاوته وه، لیکن الله چې د چا سره ملګری وي، هغه په حقیقت کې برلاسی او پیاوړی دی، بیا د اتو کالو په تیریدو سره د هجرت پایله دا شوه چې مکه د اسلامي حاکمیت خاوره وګرځیده، اوسیدونکي یې مسلمانان شول، او بیا په ټوله نړۍ باندې د اسلام دین د خپریدو پلوشې خپرې شوي، که دې حالت کې فکر وکړو، په دې کې بشري توان او طاقت اغیزمنتیا نه بلکې د الله قوت او طاقت اغیزمن او موثر دی، او د الله دین هرومرو غالبه دی، ځکه د دین پیاوړتیا د الله له لوري څخه ده، او په الله پاک بل څوک برلاسی کیدای نه شي.

﴿ إِنْ يَنْصُرْكُمُ اللَّهُ فَلَا غَالِبَ لَكُمْ وَإِنْ يَخْذُلْكُمْ فَمَنْ ذَا الَّذِي يَنْصُرُكُمْ مِنْ بَعْدِهِ﴾

که چېرې الله ستاسومدد وکړي، نو بیا پر تاسو باندې هیڅوک غالب راتلونکی نشته او که چېرې تاسو (بې مدده) پرېږدي، نو څوک دی هغه کس چې له هغه (الله) نه بعچ به ستاسو مدد وکړي؟

---

(١) رواه البخاري (٣٦٥٣).

۸. په هجرت کې بل درس دا هم دی چې په دې خبره ځان پوهه کول چې **څوک د الله له پاره یو څه پریږدي، الله به دې هغې څخه غوره بدل ورکړي**، کله چې مهاجرینو خپل کورونه، مالونه او خپلوان پرېښودل، الله ورته له هغې غوره بدلې ورکړي، دنیا یې ورباندې فتح کړه، د شرق او غرب واکداران وگرځیدل، شام، فارس او مصر دروازې ورته پرانستل شوې، بیا له هغې وروسته مسلمانان د افریقا شمالي برخې فتحې کړي آن تر اندلسه پورې ورسېدل.

۹. په هجرت کې بل درس دا هم دی چې **څوک د الله لحاظ ساتي، الله یې پوره دی**، ساتنه به یې کوي، څوه چې د الله لپاره تقوی غوره کړي، الله به یې ساتنه وکړي، او د مشکل څخه د وتلو لپاره به ورته لار پرانیږي، کله چې د قریشو مشرانو د رسول الله ﷺ د نیولو، وژلو یا شړلو پرېکړه وکړه، الله تعالی یې ساتنه وکړه، د دښمن له چل څخه یې وژغوره، او له مکې څخه یې مدینې ته په عزت او بې له کوم تکلیفه ورسوه.

۱۰. د هجرت له درسونو څخه **د ابوبکر رضي الله عنه فضیلت څرگندیږي**، لکه څنگه چې رسول الله ﷺ هغه د هجرت په لاره کې د ځان سره ملگری کړ، او دا یې حقدار هم وو، هغه د رسول الله ﷺ څخه په هجرت کې د ملگرتیا غوښتنه وکړه، خو هغه یې وړاندیز ومانه، د ډیرې خوشالۍ څخه په ژړا شو چې د رسول الله ﷺ د سفر ملگری دی، سورلۍ یې تیاره کړه، کله به مخکې، کله به وروسته روان و، تر څو امنیت یې وساتي، خپله ټوله کورنۍ یې د الله په لار کې استعمال کړه، عبدالله چې زوی یې وو، د معلوماتو راوټولو لپاره، عامر بن فهیره چې غلام یې وو، د رمې د څروlو لپاره وگماره چې د شپې مهال رمه د هغوی خوا ته راولي، او شیدې وروباندې وڅکوي، کله به چې سبا شو عبدالله بن أبي بکر د عامر بن فهیره او د رمې د خپو نښانونه له مینځه وړل، لنډه دا چې ابو بکر صدیق رضي الله عنه خپل ځان، کورنۍ او مال په دې مبارکه لار کې قرباني کړل، الله دې تر راضي شي.

۱۱. د هجرت له درسونو څخه په هجرت کې **د سپڅو د رول اهمیت څرگندیږي**، او دا د اسماء رضي الله عنها د رول څخه معلومیږي چې په دې هجرت کې یې ادا کړی دی، هغه خپل «نطاق» چې د ملا بند و، دوه ټوټې کړ، په یوه یې د خوراک کڅوړه وتړله، په بله یې د اوبو مشک وتړلو، ځکه د «ذات النطاقين» په لقب یاده شوه. [۱]

کله چې ابوبکر صدیق رضي الله عنه ټول مال له ځان سره یووړ، د اسماء رضي الله عنها نیکه ابو قحافه چې نابینا و، ورته ویل: «پلار مو کور کې لکه چې هیڅ هم پرینښودل!» نو اسماء رضي الله عنها کاڼي راواخیستل، په هغه کڅوړه کې یې واچول چې ابو بکر صدیق رضي الله عنه به ورکې مال کیښود، بیا یې هغه کڅوړه به یوه ټوټه کې تاو کړه، بیا مې ورته وویل چې په دې کڅوړه باندې لاس

(۱) انظر «صحيح البخاري (۳۹۰۵)

کيږده، نو لاس يې ورباندې کيښود، ويې ويل: «ښه، چې دا پاتې وي، زمونږ لپاره بسنه کوي!» اسماء رضي الله عنها وايي: «په حقيقت کې هېڅ هم نه وو، خو ما غوښتل چې د نيکه زړه ارام شي». [1]

١٢. د هجرت له درسونو څخه بل درس هغه د **مدينې او د هغې د اوسيدونکو اوس او خزرج فضيلت څرگندېږي**، د اسلام څخه د مخه مدينه په نورو ځايونو د کم فضيلت درلودلو کې مشهوره نه وه، بلکې د رسول الله ﷺ او د هغه د صحابو د هجرت له امله، او دمدينې د خلکو د نصرت او مرستې له امله د فضيلت څخه برخمنه شوه.

١٣. د هجرت له درسونو څخه بل درس دا دي چې په دې سره **رد دې په هغه چا چې هغه دا گمان کوي چې محمد ﷺ د شهرت، مال او سلطنت غوښتونکی** و، حال دا چې د مال وړاندیز ورته شوی وو، سياسي او اقتصادي منصب ورته د ورکولو وړاندیز وشو، ليکن رسول الله ﷺ دا وړاندیزونه ټول رد کړل، که چيرته د هغه مبارک دا شيان هدف وی، نو دا به يې قبول کړی وی، او د مکې پاچا به وی، لکه څرنگه يې چې د مکې څخه مدينې ته د هجرت تکليف او خطر په خپل ځانه ومانه، خپل وطن، قبيله يې پريښوده، نو د هغې يوازنی هدف هغه توحيد وو، ترڅو خلک د د تيارو څخه د رڼا لور ته راشي.

١٤. د هجرت په درسونو کې يو لوی درس هغه د **هجرت مشروعيت دی**، چې دار الکفر څخه دار الاسلام ته هجرت کول دي، معنا دا چې مسلمان بايد له هغه ځايه چې دين نشي پلي کولی، هغه ځای ته ولاړ شي چيرته چې خپل دين ادا کولی شي، که څوک هجرت نه کوي، او د دين د اظهار وس نه لري، گناهگار بلل کېږي.

١٥. د هجرت له درسونو څخه دا ده چې په **هجرت کې چې کومې نښې راڅرگندې شوي**، هغه د رسول الله ﷺ په نبوت او رسالت دلالت کوي، لکه هغه څه چې د سراقة بن مالک رضي الله عنه سره وشول، کله يې چې هوډ کړی وو چې رسول الله ﷺ ونيسي، او د هغه په سر کيښودل شوې انعام ترلاسه کړي، خو د اس پښې يې تر زنگونو په ځمکې کې ښخې شوې. بيا رسول الله ﷺ ورته زيری ورکړ، چې د کسری پاچا د لاس بنگړي به په غنيمت کې راځي او هغه به ستا وي، ورته يې وويل: «سراقة! داسې ورځ به راشي چې د کسری پاچا د لاس بنگړي به دې په لاس وي!» [2] دا خبره بيا د عمر رضي الله عنه په خلافت کې پوره شوه.

١٦. د هجرت له درسونو څخه بل درس دا دی چې **د الله په لار کې د دعوت لپاره د هر فرصت څخه گټه پورته کړه**، رسول الله ﷺ د هجرت په لار کې چې کله په «کُراع الغميم» [3] کې په بريده بن الحصيب الأسلمي رضي الله عنه باندې ورتيريدو، چې هغه له خپل قوم سره و، دعوت يې ورته

---

(١) رواه أحمد (٣٥٠/٦)، وحسنه محققو «المسند» (٢٦٩٥٧)

(٢) انظر «دلائل النبوة» (٣٢٥/٦)، الناشر: دار الكتب العلمية

(٣) کُراع يعنې طرف ته وايي، او غميمُ دا د عسفان مخامخ يوه وادي ده.

وکړ، مسلمانان شول، او د شپې د ماخوستین لمونځ یې ورسره وکړ، په هماغه شپه یې د مریم سورت ځینې آیتونه ورته ورزده کړل. [1]

اې مؤمنانو! دا په نبوي هجرت کې شپاړس درسونه دي، د رسول الله ﷺ او د انبیاوو په سیرت کې ډېرې ګټې او درسونه دي، الله دې موږ ته توفیق راکړي، چې له دې درسونو ګټه واخلو، او عملي یې کړو.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې مسلمانانو! الله مو وښه، په شئ چې د هجرت د پېښې تعظیم دا نه دی، چې د هغې په مناسبت جشنونه ونیول شي، که څه هم په هغو کې د هجرت د عبرتونو او درسونو یادونه هم وي؛ بلکې په ځانګړي ډول د نبوي هجرت، او په عموم سره د نبوي سیرت تعظیم دا دی، چې د هغه ستر شخصیت ﷺ پیروي وشي، او له هغو بدعتونو او نویو رواجونو څخه ځان وساتل شي، چې هجرت پورې تړل شوي وي.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، څلورو خلیفه ګانو، تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه، او خپل موحد بندګانو مرسته او کومک وکړه.

اې الله موږ په خپل هیواد کې په امن کړه، زموږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار یې روان کړه.

اې الله د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین عزتمن کړه، په خپل رعیت یې مهربانه کړه، اې الله څوک چې موږ، اسلام او مسلمانانو ته د شر اراده لري، په خپل ځان یې اخته کړه، او د هغه چل د هغه په غاړه کې واچوه.

اې د الله بندګانو! بیشکه الله په عدل، احسان، خپلوانو ته په ورکړه امر کړي، او د فحشا، منکراتو او ظلم څخه یې منعه کړې ده، الله پاک په دې سره موږ ته پند کوي ترڅو دا په یاد ولرو، د الله ستر

(١) «البداية والنهاية»، أحداث سنة ٦٢ ، (٦١١/١١) ط دار هجر.

ذات یادونه کوئ، هغه به تاسې یاد کړي، د هغه د نعمتونو شکر ادا کوئ، نعمتونه به درباندې ډیر کړي، د الله یادښت ډیر دی، کوم څه چې تاسې کوئ الله پر ښه خبر دار دی.

د اسلام نواقض

لومړی ناقض: د الله سره شریک جوړول

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پربکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د ټولو الهي شریعتونو ګډ اصل دی چې عبادت به یوازې او یوازې د یو الله کولی شي

● اې د الله بندگانو! له الله څخه وډار شئ، درناوی او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، په دې خبره ځانه پوهه کړئ، چې د ټول آسماني شريعتونو پر دې خبرې اتفاق دي، چې عبادت بايد يوازې د يو الله وکړی شي، الله فرمايلي دي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَا مِن قَبۡلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِيٓ إِلَيۡهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعۡبُدُونِ﴾

او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مګر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ

بل ځای يې فرمايلي دي:

﴿فَٱعۡبُدِ ٱللَّهَ مُخۡلِصٗا لَّهُ ٱلدِّينَ﴾

نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دين هغه (الله) لره خالص کوونکی يې

شيخ عبد الرحمن السعدي رحمه الله د دې آيت په تفسير کې وايي[1]: يعنې خپل ټول دين يوازې الله ته خالص کړه؛ که هغه ښکاره شرايع وي او که پټ، که اسلام وي، ايمان وي او يا احسان؛ چې دا ټول يوازې الله ته ځانګړي کړل شي، او په دې سره د الله رضا ولټول شي، نه داسې کوم بل هدف.

د الله تعالى دا وينا:

﴿أَلَا لِلَّهِ ٱلدِّينُ ٱلۡخَالِصُۚ﴾

خبردار شئ! خاص د الله لپاره خالص دين دی

دا د اخلاص پر وجوب ټينګار او روښانه بيان دی، لکه څنګه چې الله تعالى د هر ډول کمال څښتن دی، او پر خپلو بندګانو له هر اړخه فضل او احسان لري، همدارنګه خالص او پاک دين هم يوازې د هغه حق دی؛ هغه دين چې له هر ډول ککړتياوو پاک وي، همدا هغه دين دی چې الله د ځان او خپلو غوره بندګانو لپاره يې خوښ کړي دي، او هغوی ته يې وربانديې د عمل کول امر کړی دی، دا دين په دې ولاړ دی چې بنده په خپل محبت، ويره، هيله او رجوع کې يوازې الله ته مخه کړي؛ هم د عبادت په ترسره کولو کې او هم د خپلو اړتياوو د پوره کېدو په غوښتنه کې، همدا اخلاص دی چې زړونه سموي او پاکوي کوي، خو که په عبادت کې له الله سره څوک شريک کړل شي، نو الله تعالى تر يې بېپروا دی، ځکه هغه د شريک له اړتيا څخه بالکل بېنيازه دی، شرک زړونه او روحونه فاسدوي، د دنيا او آخرت تاوان دی، او انسان تر ټولو سختې بدمرغۍ ته رسوي .پای.

له هغو اصولو څخه چې ټول آسماني شريعتونه پرې متفق دي هغه د شرک حرمت دی

(١) نومورې علامه، فقيه، مفسر دی، چې عبدالرحمن بن ناصر السعدي نوميږي، د ډېرو کتابونو ليکوال، او په دين پوهه شخصيت وو، په ١٣٧٦ هـ کال کې ومړ، بيوګرافي يې د هغه د شاګرد عبدالله بن عبدالرحمن البسام په لاس د (علماء نجد خلال ثمانية قرون) په کتاب کې ليکل شوې، او په نور کتابونو کې هم شته رحمه الله.

اې د الله بندګانو! په هغه څه چې ټول الهي شريعتونه پرې يوه خوله دي، هغه د الله سره په عبادت کې شرک کول حرام دي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ﴾

او يقينًا يقينًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانيانو ځنې شې

د شرک تعريف

- شرک په لغت کې دې ته وايي چې يو واحد شی له بل سره ګډ کړل شي، يعنې يو شی د دوو يا زياتو کسانو ترمنځ شريک وګرځول شي. لکه چې ته ووايې: فلانی او فلانی شريک شول[1]، نو دا وينا چې :(فلانی له الله سره شرک کوي) معنا يې دا ده چې د الله سره د هغه په ځانګړتياو کې شريک جوړل چې هغې کې هېڅوک د الله سره شريک کېدای نه شي؛ که هغه دغه ځانګړتياوې د الله د نومونو، صفتونو او افعالو پورې تړلې وي، او که دا چې يوازې الله د عبادت مستحق دی، او بل څوک نه که هغه انسان وي، که پېرۍ وي، که بې‌روحه شی وي، که قبر وي، او يا داسې نور څه وي.

انسانان ټول په توحيد عقيده وو، بيا د نوح عليه اسلام په قوم د صالحانو اړوند د غلو له امله شرک رامينځته شو

- اې د الله بندګانو! انسانان د آدم عليه السلام له وخته تر لسو پېړيو پورې ټول پر توحيد وو، بيا وروسته شرک پيدا شو، نو الله تعالى نوح عليه السلام راولېږه، تر څو خلک بېرته توحيد ته راوبولي، الله تعالى فرمايي:

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ﴾

ټول خلق (په شروع کې) يو امت و (بيا په کې ځيني کافر شول) نو الله نبيان راولېږل چې زېرى ورکوونکي او وېروونکي وو

ابن عباس رضي الله عنهما وايي: د آدم او نوح عليهما السلام ترمنځ لس پېړۍ وې، چې ټول خلک پر حق شريعت باندې وو، بيا يې اختلاف وکړو، نو الله تعالى زېرى او وېرونکوونکي پېغمبران راولېږل[2]، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ ٱلنَّاسُ إِلَّآ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَٱخۡتَلَفُواْۚ﴾

(١) لسان العرب، مادة: شرك.

(٢) رواه ابن جرير في تفسير سورة البقرة: ٢١٣.

او خلق نه وو مګر یو امت، بیا دوی مختلفه شول

یعنې خلک له هغه سم دین څخه واوښتل چې ورباندې وو، او په شرک اخته شول.

- اې مؤمنانو! له شرک وروسته د توحید لپاره لومړی رسول چې الله تعالی د ځمکې خلکو ته راولېږه، هغه نوح علیه السلام و. الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ كَمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَىٰ نُوحٖ وَٱلنَّبِيِّـۧنَ مِنۢ بَعۡدِهِۦۚ﴾

بېشکه مونږ تا ته وحي کړې ده، لکه څنګه چې مونږه وحي کړې وه نوح ته او له هغه نه پس (نورو) نبیانو ته

ابن کثیر رحمه الله وایي: خلک د آدم علیه السلام پر دین وو، کله یې چې د بتانو بندګي پیل کړه، نو الله تعالی نوح علیه السلام ورته راولېږه، او هغه د ځمکې خلکو ته لومړی رسول و[1]. پای

- د نوح علیه السلام د قوم شرک د صالحانو له بېحده درناوي څخه پیل شو، لکه څنګه چې په صحیح البخاري کې د ابن عباس رضي الله عنهما څخه د دې آیت په تفسیر کې روایت دی:

﴿وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمۡ وَلَا تَذَرُنَّ وَدّٗا وَلَا سُوَاعٗا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسۡرٗا﴾

او ویې ویل (خپلو خلقو ته): تاسو خپل معبودان مه پرېږدئ او تاسو مه پرېږدئ (عبادت د) وَد، او نه (د) سُواع او نه (د) یغوث او یعوق اونسر

هغه وایي: دا د نوح علیه السلام د قوم د نیکو، صالحو کسانو نومونه وو، کله چې مړه شول، شیطان د هغوی قوم ته وسوسه واچوله چې د هغوی د ناستې په ځایونو کې نښې (بتان) ودروي[2] او د هغوی په نومونو یې ونوموي، هغوی هم همداسې وکړل، خو هغه مهال یې عبادت نه کیده، کله چې دغه نسل ختم شو، علم له منځه ولاړ، نو بیا یې د هماغه نښو عبادت پیل کړ[3].

شرک د توحید په درې واړو ډولونو کې رامنځته کېږي

اې د الله بندګانو! په اسلام کې د شرک حرمت له هغو څرګندو او بدیهې مسایلو څخه دی چې هر مسلمان پرې پوهېږي، چې د اسلام له نواقضو څخه دی، څوک چې پکې واقع شي، هغه د اسلام څخه وځي او د کفر دایرې ته داخلیږي، که څه هم دغه تن به لمونځ هم کوي، روژه به هم نیسي او ځان به مسلمان هم بولي، د اسلام په نواقضو کې شرک تر ټولو ډېر واقع کېدونکی ناقض دی، او د الله کتاب د شرک د بدوالي او د مشرکینو د سزا په یادولو ډک دی، الله دې مونږ ټول ترې وساتي.

اې د مؤمنانو ټولیه! شرک د توحید په درې واړو ډولونو کې چې توحید ربوبیت دی، توحید الوهیت دی، او د اسماء او صفاتو توحید دي؛ واقع کېږي .

---

(١) تفسیر ابن کثیر، البقرة: ٢١٣، بتصرف یسیر.

(٢) په خپلو لاسونو باندې د دغه نیکانو خلکو د شکلونو په څیر بتان جوړ کړي، او بیا یې د ناستې په ځایونو کې ودروي، ترڅو چې خلک یې ووینې، شیطان هم له دې لارې څخه شرک داخل کړ.

(٣) رواه البخاري (٤٩٢٠).

په توحید ربوبیت کې د شرک د واقع کیدو مثال دا دی چې څوک دا عقیده ولري چې له الله سره بل څوک هم د کایناتو تدبیر کوونکی، یا له الله سره بل څوک رازق شته، یا له الله سره بل خالق، یا بل ژوندی کوونکی او یا بل مړوونکی څوک شته، څوک چې په دې عقایدو کې کومه عقیده لري؛ هغه مشرک دی، بلکې دا واجب دي چې د الله ټول افعال یوازې هغه پورې ځانگړي وبلل شي، او انسان ته روا نه ده چې د دې افعالو نسبت د الله څخه پرته بل چا ته ورکړي.

په په اسماؤ او صفاتو کې د شرک مثال دا دی لکه څنگه چې مسیلمه کذاب خپل ځان ته د «رحمٰن الیمامة(۱)» نوم ورکړی و، کوم چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په درو راڅرگند شوی وو، او د نبوت دعوه یې وکړه، او ځان ته به یې «رحمٰن» وایه، حال دا چې دا نوم د الله تعالی له ځانگړو نومونو څخه دی، چې یوازې هغه پورې ځانگړي او خاص دی.

او په صفاتو کې د شرک مثال دا دی چې د غیب علم ده ولري چې له الله پرته بل چا ته په داسې توگه منسوب کړل شي، چې بل څوک ورسره شریک دی، څوک چې دا عقیکوډگر، کاهنان او ورته خلک غیب پېژني، یا دا صفت نبي ﷺ ته منسوب کړيې څوک چې د غیب علم له الله پرته بل چا ته منسوب کړي، هغه مشرک دی. واجب دا دی چې د غیب علم یوازې الله ته ځانگړی وبلل شي، لکه څنگه چې الله تعالی خپل ځان په دې صفت ستایلی دی:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ﴾

ته (دوی ته) ووایه: هر هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په غیبو نه پوهېږي غیر له الله نه

توحید العبادت کې شرک، چې د بندگانو د عملونو سره تړاو لري، دا دی چې بنده د الله ترڅنگ بل څوک په عبادت کې شریک کړي، هر ډول عبادت وي؛ که دعا وي، که سجده، که ذبح، که نذر، که مینه، که ویره، که هیله، او که بل څه. څوک چې له دې عبادتونو څخه څه د الله پرته بل چا ته واړوي، هغه په لوی الله شرک کړی دی. الله تعالی خپل نبي ﷺ ته فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٦٥ بَلِ ٱللَّهَ فَٱعۡبُدۡ وَكُن مِّنَ ٱلشَّٰكِرِينَ﴾

او یقینًا یقینًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرك وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانیانو ځنې شې

او الله تعالی د دې امر کړی چې دعا یوازې هغه ته په خالص ډول وشي، فرمایي:

﴿فَٱدۡعُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ﴾

نو ته د الله عبادت کوه، په داسې حال کې چې دین هغه (الله) لره خالص کوونکی یې

(۱) یمامه د عربو په جزیره کې یوه منطقه ده، چې د عربو د جزیرې په مینځ کې موقعیت لري.

او نبي ﷺ فرمايلي دي: دعا پخپله عبادت دی[١]، الله تعالی نږدې درې سوه ځایه په قرآن کې د دې امر کړی چې دعا یوازې هغه ته وشي.
او ذبح په اړه هم الله تعالی امر کړی چې یوازې الله ته د نږدیکت لپاره دې ترسره کړي، لکه څرنگه یې چې خپل پیغمبر ته فرمایلي دي:

﴿فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنْحَرْ﴾

نو ته د خپل رب لپاره لمونځ کوه او قرباني کوه

او هم فرمایي:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ﴾

ته ووایه: بېشکه زما لمونځ او زما قرباني او زما ژوند او زما مرګ خاص د الله رب العلمین لپاره دي
او د «نسکي» معنا ذبح ده.

نبي ﷺ فرمایلي دي: الله لعنت کړی دی پر هغه چا چې د الله پرته بل چا ته ذبح کوي[٢]؛ نو پایله دا شوه چې څوک د الله پرته بل چا ته هر ډول عبادت وکړي، که هغه قبر وي، نبي وي، جادوگر وي، پېرۍ (جن) وي، یا بل هر څه؛ نو هغه مشرک دی. او دا که څوک دا عبادت د دې په پلمه کوي چې هغه واسطه ده، یا شفیع دی، یا د نږدېوالي وسیله ده، دا ټول باطل دلایل دي، او همدا د پخوانیو مشرکینو حجتونه وو. الله تعالی د هغوی په اړه فرمایي:

﴿وَٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِهِۦٓ أَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ إِلَّا لِيُقَرِّبُونَآ إِلَى ٱللَّهِ زُلْفَىٰٓ﴾

او هغه کسان چې له هغه نه غیر یې دوستان (کارسازي) نیولي دي (وایي:) مونږ د دوی عبادت نه کوو مګر د دې لپاره چې دوی مونږ الله ته نژدې کړي،

او فرمایي:

﴿وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنفَعُهُمْ وَيَقُولُونَ هَٰٓؤُلَآءِ شُفَعَٰٓؤُنَا عِندَ ٱللَّهِ﴾

او دوی له الله نه غیر د هغو څیزونو عبادت کوي چې نه دوی ته ضرر رسولی شي او نه دوی ته نفع رسولی شي او دوی وایي: دا د الله په وړاندې زمونږ سفارشیان دي،

او فرمایي:

﴿أَمِ ٱتَّخَذُواْ مِن دُونِ ٱللَّهِ شُفَعَآءَ قُلْ أَوَلَوْ كَانُواْ لَا يَمْلِكُونَ شَيْـًٔا وَلَا يَعْقِلُونَ﴾

بلکې ایا دوی له الله نه غیر شفاعت کوونکي نیولي دي، ته (دوی ته) ووایه: ایا (دوی به شفاعت کوي!) اګر که دوی په داسې حال کې وي چې نه د څه شي مالکان وي او نه عقل لري

---

(١) رواه أبو داود (١٤٧٩) ، والترمذي (٢٩٦٩) ، وغيرهما عن النعمان بن بشير رضي الله عنه ، وصححه الشيخ الألباني.
(٢) رواه مسلم (١٩٧٨) عن علي رضي الله عنه.

د قرآن په څرگندو نصوصو ثابته ده چې د واسطې او شفاعت په پلمه د الله پرته بل چا عبادت کول باطل دي. دغو خلکو خپل عمل په بل نوم ونوماوه، او خالق يې له مخلوق سره قياس کړ. هغوی وويل: لکه څنگه چې د دنيا پاچاهانو او مشرانو ته د واسطو او نږدې کسانو له لارې رسېږي، همداسې الله ته هم بايد د انبياوو، د صالحانو د قبرونو او د ملايکو له لارې ورسېږو، دا خبره عين شرک دی.

نو پايله دا ده چې شرک د توحيد په درې واړو ډولونو کې واقع کېدای شي او هغه فاسدوي: که هغه توحيد ربوبيت وي، که توحيد الاسماء والصفات وي او که توحيد العبادت وي؛ خو تر ټولو زيات شرک د عبادت په توحيد کې رامنځته کېږي.

اې د الله بندگانو! دا يوه ګټوره مقدمه ده د اخلاص او شرک د حقيقت د پوهېدو لپاره. څوک چې دا موضوع ښه درک کړي، د هدايت دروازه به ورته پرانيستل شي، تر څو د الله تعالی هغه موخه وپېژني چې انسانان يې د هغې لپاره پيدا کړي دي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

شرک د شپږو وجهو له مخې ډېر ناوړه او بد عمل دی

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده. اما بعد؛ اې د الله بندگانو !له الله تعالی وډار شئ، او پوه شئ چې د شرک بدوالی او ناوړتيا له شپږو څرگندو اړخونو څخه ښه روښانه کېږي: لومړی وجه: شرک تر ټولو ستره ګناه ده چې د الله تعالی نافرماني پرې شوې ده؛ ځکه دا د الله تعالی د حقونو سپکاوی دی، هغه حقونه چې د عبادت، عاجزی او بشپړې اطاعت په بڼه يوازې د هغه لپاره دي. شرک د رب جل جلاله د مقام کم ارزښته کول دي، او د رب العالمين په اړه د بدګومانی څرگند دليل دی. همدا لامل دی چې شرک د کبيره ګناهونو تر ټولو لويه ګناه ده. الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱفۡتَرَىٰٓ إِثۡمًا عَظِيمًا﴾

او څوك چې له الله سره شريك ونيسي، نو يقينًا هغه ډېره لويه ګناه راجوړه کړله

او هم فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلشِّرۡكَ لَظُلۡمٌ عَظِيمٌ﴾

بېشكه شرك يقينًا ډېر لوی ظلم دی

او له ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایي: ما پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! تر ټولو ستره ګناه کومه ده؟ هغه ﷺ وفرمایل: دا چې ته د الله سره شریک ونیسې او حال دا چې هغې ته پیدا کړي یې[1].

دویمه وجه: شرک د انسان ټول اعمال ضایع کوي او بې‌ارزښته یې ګرځوي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَلَوۡ أَشۡرَكُواْ لَحَبِطَ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ﴾

او که چېرې دوی شرک کړی وَی (، نو) خامخا به له دوی نه ضایع شوي وو هغه عملونه چې دوی کول

او الله تعالی خپل نبي ﷺ ته فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ أُوحِيَ إِلَيۡكَ وَإِلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكَ لَئِنۡ أَشۡرَكۡتَ لَيَحۡبَطَنَّ عَمَلُكَ وَلَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾

او یقینًا یقینًا تا ته وحي کړی شوې ده او هغو کسانو ته چې له تا نه مخکې وو (داسې چې) قسم دی که تا شرک وکړ (نو) ستا عمل به خامخا لازمًا برباد شي او ته به خامخا لازمًا له تاوانیانو ځنې شې

دریمه وجه: شرک هغه ګناه ده چې که څوک پرې ومري، الله تعالی یې نه بښي، او خاوند یې د تل لپاره په اور کې پاتې کېږي. الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَغۡفِرُ أَن يُشۡرَكَ بِهِۦ وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ وَمَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ ضَلَّ ضَلَٰلَۢا بَعِيدًا﴾

بېشکه الله نه بخښي دا چې له هغه سره شریك ونیول شي او بخښي هغه (ګناهونه) چې له دې (شرك، کفر) نه کم دي، د چا لپاره چې یې وغواړي، او څوك چې له الله سره شریك ونیسي، نو یقینًا هغه ګمراه شو په ډېرې لرې ګمراهۍ سره

او هم فرمایي:

﴿إِنَّهُۥ مَن يُشۡرِكۡ بِٱللَّهِ فَقَدۡ حَرَّمَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِ ٱلۡجَنَّةَ وَمَأۡوَىٰهُ ٱلنَّارُۖ وَمَا لِلظَّٰلِمِينَ مِنۡ أَنصَارٍ﴾

بېشکه خبره دا ده چې څوك له الله سره شریك نیسي، نو یقینًا په هغه باندې الله جنت حرام کړی دی او د هغه استوګنه اور دی او د ظالمانو لپاره هیڅوك مدد کوونکي نشته

څلورمه وجه: الله تعالی په قرآن کریم کې د شرک موضوع ډېره لویه او جدي ګرځولې ده، ترې یې سخت خبرداری ورکړی، د شرک کوونکي یې غندلي، او په آخرت کې یې د هغوی سپک او دردناک انجام بیان کړی دی.

---

(١) رواه البخاري (٦٨١١)، ومسلم (٨٦).

د «شرک» ټکی او د هغه ببلابېلې بڼې په قرآن کې تر سلو ډېر ځله تکرار شوې دي. همدارنگه نبي ﷺ هم په پاک سنت کې په ګڼو احادیثو کې د شرک څخه سخت وېرولي دي[١].

پنځمه وجه: انبیاء علیهم السلام او د هغوی رښتیني پیروان تل له شرک څخه په وېره کې وو، او د دې سخت احتیاط یې کاوه چې هسې نه پکې واقع شي. له دې جملې څخه د ابراهیم علیه السلام دا دعا ده:

﴿وَٱجۡنُبۡنِي وَبَنِيَّ أَن نَّعۡبُدَ ٱلۡأَصۡنَامَ﴾

ما او زما زامن د بتانو له عبادت نه لرې وساته

شپږمه وجه: د اسلام علماوو پر دې اتفاق کړی دی چې د الله تعالی په عبادت کې شرک کول له هغو اعمالو څخه دی چې انسان له اسلامه وباسي.

ابن تیمیه رحمه الله وایي: څوک چې ملایکې او انبیاء د واسطو په توګه ونیسي، هغوی رابولي، پر هغوی توکل کوي، او ترې د ګټو د راوستلو او د زیانونو د لیرې کولو غوښتنه کوي—لکه د ګناه بښنه، د زړونو هدایت، د ستونزو لرې کول او د اړتیاوو پوره کول—نو هغه د ټولو مسلمانانو په اجماع کافر دی[٢].

د خطبې پای

او وروسته، اې د الله بندګانو! دا یوه ګټوره مقدمه وه د توحید د سم درک او د هغه د ضد، یعنې شرک، د پېژندلو لپاره، او همدارنگه د دې لپاره چې له شرک او پکې له لوېدو څخه سخت خبرداری ورکړل شي.

الله تعالی دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې تر مرګه پورې پر توحید ثابت پاتې شو؛ ځکه څوک چې پر شریعت سم ولاړ وي او پر توحید مړ شي، هغه به بې‌له حساب او بې‌له عذابه جنت ته داخلېږي.

ځان پوهه کړئ، الله دې په تاسو ټولو رحم وکړي، بیشکه الله په یو لوی کار کولو امر کړی، چې فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

(١) انظر «مجموع فتاوى ابن تيمية (١/١٢٤)».

(٢) انظر «مجموع فتاوى ابن تيمية (١/١٢٤)».

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې سلام او درود راولیږه، د هغه د ملگرو خلفیه گانو، تابعینو او د قیامت تر ورځې پورې چې څوک راځې او د هغه په ښه ډول د هغې د لارې پیروي کوي؛ ته ترې راضي شه،

اې الله موږ له تاځخه د عزتمن ژوند، پراخه رزق او نیک عمل سوال کوو، اې زموږ ربه موږ ته په دنیا کې خوشالي راکړي، او په آخرت کې هم خوشالي راکړي، او د اور د عذاب څخه مو وژغورې.

سبحان ربنا رب العزة عما یصفون، وسلام علی المرسلین، والحمد لله رب العالمین. اللهم صل وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه.

دويم ناقض: څوک چې مشرکان کافر نه ګڼي، يا د هغوی په کفر کې شک کوي، او يا يې تګلاره سمه ګڼي

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالًا كَثِيرًا وَنِسَآءً ۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبًا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلًا سَدِيدًا ۝٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡ ۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

په الله ايمان لرل او په طاغوت کفر کول واجب دي

اې د الله بندګانو! له الله څخه وډار شئ، تعظيم او هغه اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، په دې خبره ځانه پوه کړئ چې د ټولو آسماني شريعتونو اتفاقي خبره دا ده چې توحيد اساس په دوو رکنونو ولاړ دی: لومړی رکن: د غير الله د عبادت څخه براءت او بيرزې ده چې الله ورته

طاغوت ویلی، دویم رکن: دا اقرار کول چې عبادت به یوازې د یو الله کولی شي، چې همدې ته توحید وایي، او چاې د مشرکانو د دین څخه براءت ونه کړو، په حقیقت کې هغې د طاغوت څخه براءت نه دی کړی، او نه یې هغه کفر ګڼلی دی، الله فرمایلي دي:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ﴾

نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو یقینًا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټینګه ونیوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته.

د آیت مفهوم دا دی چې څوک طاغوت کفر ونه ګڼي، هغې قوي رسۍ (عروة الوثقى) نه رانیولې چې هغه اسلام دین دی، ابراهیم علیه السلام هم د خپل قوم د دین څخه برائت اعلان وکړ، او داسې یې وویل:

﴿إِنَّنِي بَرَآءٞ مِّمَّا تَعۡبُدُونَ ٢٦ إِلَّا ٱلَّذِي فَطَرَنِي فَإِنَّهُۥ سَيَهۡدِينِ ٢٧ وَجَعَلَهَا كَلِمَةَۢ بَاقِيَةٗ فِي عَقِبِهِۦ لَعَلَّهُمۡ يَرۡجِعُونَ﴾

او (یاد کړه) هغه وخت چې ابراهیم خپل پلار او خپل قوم ته وویل: بېشکه زه له هغو (معبودانو) نه بېزاره یم چې تاسو یې عبادت کوئ، غیر له هغه ذات نه چې زه یې پیدا کړی یم، پس یقینًا هغه به ما ته خامخا هدایت وکړي، او هغه (ابراهیم) دغه (د توحید کلمه) په خپل اولاد کې باقي پاتې کېدونکې وګرځوله، د دې لپاره چې راوګرځي

طارق بن أشیم الأشجعي (رضي الله عنه) د رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: څوک چې «لا إله إلا الله» ووایي، او د الله څخه پرته په ټولو هغو چې د الله څخه پرته یې عبادت کیږي، کفر وګڼي؛ نو د هغه مال او وینه تویول حرام وګرځول شول، او نور حساب یې د الله سره دی[1].

د حدیث مطلب دا دی چې څوک ټول هغه چې د الله څخه پرته یې بندګي کیږي، کفر ونه ګڼي، مال او وینه یې مخفوظه نه ده، او له اور پرته به یې بل ځای نه وي.

مشرکانو ته کافر نه ویل د اسلام د نواقضو څخه دي، - او ددې یو څو وجې دا دي

اې دالله بندګانو! د دې قرآني بیان او نبوي خبر پر اساس چې څوک مشرکین کافر نه ګڼي، یا د هغوی په کفر کې شک کوي، یا د هغوی عقیده صحیح بولي، داسې کس په حقیقت کې په کفر کې دی او د اسلام د نواقضو څخه د یو ناقض مرتکب شوی دی،

اې د الله بندګانو! څوک چې د باطلو ادیانو پیروان کافر ونه ګڼي، په حقیقت کې دغه تن مسلمان نه دی، دا ځکه چې چا ته الله او د هغه رسول کافر ویلي وي، هغه کافر نه ګڼي، او نه د قرآن خبر

(١) رواه مسلم (٢٣).

او نه د رسول الله صلى الله عليه وسلم امر ريښتنى ګڼي، او څوک چې د الله او د رسول خبر ريښتنى نه ګڼي هغه کافر دى. الله دې مونږ د داسې حالت څخه وساتي.

بيا دا چې څوک مشرک کافر نه ګڼي، نو ددغې انسان په وړاندې ايمان او کفر سره برابر دي، چې د کفر او ايمان ترمينځ فرق نه کوي؛ نو په دې سره دا کافر دى[١].

اې د الله بندګانو! څوک چې کافر، کافر نه شميرې؛ نو دى پّ حقيقت کې داسلام او کفر ترمينځ فرق نه پيژني، حال دا چې دا خبره د دين د هغه ضروري خبرو څخه ده چې واضحه او څرګنده ده، قرآن کريم د کفر سخت انکار کړى او د کافرانو سزاوې يې په دنيا او آخرت کې بيان کړې دي. نو څوک چې کافر ته کافر نه وايي، هغه ته د مسلمان ويلو مستحق نه دى، تر هغې چې د اسلام او کفر ترمنځ څرګند توپير وپېژني، او د کفر له عقايدو څخه په زړه او ژبه بشپړه برائت اعلان کړي همدارنګه څوک چې هغه کسان کافر ونه ګڼي چې الله او رسول کافر بللي دي، نو په حقيقت کې يې هغه څه حلال ګڼلي دي چې الله حرام کړي دي؛ يعنې شرک. دا د الله د شرعي حکم سره ټکر دى، بلکې د هغه د حکم پر وړاندې درېدل دي. الله تعالى فرمايي:

﴿قُلْ تَعَالَوْاْ أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْۖ أَلَّا تُشْرِكُواْ بِهِۦ شَيْـًٔاۖ﴾

ته ووايه: تاسو راشئ چې زه ولولم هغه څه چې ستاسو رب پر تاسو باندې حرام کړي دي، دا چې تاسو له هغه سره هېڅ شى مه شريکوئ

ابن سعدي رحمه الله وايي: په چا چې شريعت د کفر حکم کړى وي، د هغه تکفير واجب دى؛ او څوک چې هغه کسان کافر ونه ګڼي چې الله او رسول کافر ګڼلي دي؛ نو هغه په دې سره کافر، د الله او رسول درواعجن ګڼونګى ګرځي، دا په هغه وخت دى چې د هغه کفر په شرعي دليل ثابت شوى وي[٢].

شيخ عبد العزيز بن باز رحمه الله وايي: څوک چې کافر ته کافر نه وايي، دى خپله د هغه په څېر دى؛ که پر هغه حجت تمام شي او دليل ورته روښانه کړل شي، بيا هم عدم تکفير ټينګار کوي، لکه څوک چې يهود، نصارى، کمونستان او ورته نور کسان کافر نه ګڼي، حال دا دهغوى کفر د لږ علم او بصيرت لرونکو باندې هم مبهم نه دى[٣].

شيخ صالح بن فوزان الفوزان حفظه الله وايي: څوک چې مشرکين کافر ونه ګڼي، هغه هم د هغوى په څير مرتد او کافر ګرځي؛ ځکه د هغه په نظر ايمان او کفر سره يو شان دي، او د دواړو ترمينځ توپير نه کوي[٤].

---

(١) قاله الشيخ صالح الفوزان حفظه الله في كتابه: «شرح نواقض الإسلام»، ص: ٧٩.

(٢) « الفتاوى السعدية »، ص: ٩٨.

(٣) «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة» (٤١٨/٧)، دار القاسم - الرياض.

(٤) «شرح نواقض الإسلام»، ص: ٧٩.

په طاغوت د کفر کولو اهمیت

اې د الله بندگانو! څرنگه چې په طاغوت د کفر کولو موضوع ډېره اهمیت لرونکې ده؛ نو په آیت کې په د ایمان لرلو مخکې په طاغوت د کفر کولو یادونه شوې، تر څو بنده په قوي رسۍ «عروة الوثقى» باندې ټینګ باتې شي، او دا خبره د الله په دې ایت کړې ده:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ﴾

نو چا چې له طاغوت (شیطان، بت) نه انکار وکړ او په الله یې ایمان راوړ، نو یقینًا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټینګه ونیوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته.

دا د دې اصل له مخې دی چې لومړی باید ځان له بدۍ پاک کړل شي (تخلیه)، بیا په نېکۍ سنبالېدل (تحلیه)؛ یعنې لومړی له شر څخه ځان پاکول، او بیا په خیر ځان ښکلی کول

په طاغوت باندې کفر کول په پنځو امورو سره کېږي

اې د الله بندگانو ! په باطلو دینونو باندې کفر کول په پنځو امورو سره کیږي، د هغوی د بطلان عقیده لرل، د هغوی عبادت پرېښودل، له هغوی څخه کرکه کول، د هغوی د پیروانو تکفیر کول، او له هغوی سره دښمني کول .دا ټول د الله تعالی له دې وینا څخه اخیستل شوي دي:

﴿قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ﴾

یقینًا تاسو لپاره یوه ښکلې طریقه په ابراهیم او په هغو کسانو کې ده چې له هغه سره ملګري وو کله چې هغوی خپل قوم ته وویل: بېشکه مونږ له تاسو نه او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله نه غیر عبادت کوئ، سخت بېزاره (او جدا) یو، مونږ پر تاسو باندې منکران شوي یو۔ او زمونږ په مینځ کې او ستاسو په منځ کې عداوت (دښمني) او بغض د تل لپاره څرګند (او واقع) شوی دی۔، تر هغه پورې چې تاسو په الله باندې ایمان راوړئ چې ایکي یواځې دی۔

په دې آیت کې درې ټکي په څرګنده ډول بیان شوي دي: د کافرانو څخه برائت، د هغوی له عمله (چې هغه د شرک ارتکاب دی) برائت، او د هغوی سره د دښمنۍ او کرکې اعلان.او د هغوی د معبودانو د عبادت د بطلان عقیده هم له آیت څخه په څرګنده توګه څرګندیږي؛ ځکه که د بطلان عقیده نه وای، نو دا درې واړه خبرو به تحقق نه وی مونډلې.

او د هغوی د معبودانو د عبادت پرېښودل د الله تعالی له دې وینا څخه اخیستل کېږي، چې د ابراهیم علیه السلام په اړه یې فرمایلي دي:

﴿وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ وَأَدۡعُواْ رَبِّي عَسَىٰٓ أَلَّآ أَكُونَ بِدُعَآءِ رَبِّي شَقِيّٗا﴾

او زه جدا کېږم له تاسو نه او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ، او زه خپل رب رابلم، امید دی چې زه به د خپل رب په رابللو سره بدبخته نشم

له کفر څخه برائت د انسان د ټولو اندامونو له لارې ترسره کیږي

په دغو دوو آیتونو کې یوه باریکه فایده دا ده چې له کفر څخه برائت د زړه، ژبې او عمل (جوارحو) له لارې ترسره کیږي. د زړه برائت دا دی چې له هغوی څخه کرکه وشي او د هغوی کفر په زړه کې ومنل شي، لکه څنګه چې فرمایي:

﴿كَفَرۡنَا بِكُمۡ﴾

مونږ پر تاسو باندې منکران شوي یو

د ژبې برائت بیا دا دی چې ابراهیم علیه السلام په ښکاره توګه په خپله ژبه خپل قوم ته وویل:

﴿كَفَرۡنَا بِكُمۡ﴾

مونږ پر تاسو باندې منکران شوي یو

او د اندامونو برائت بیا دا دی چې الله فرمایي:

﴿وَأَعۡتَزِلُكُمۡ وَمَا تَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ﴾

او زه جدا کېږم له تاسو نه او له هغو څیزونو نه چې تاسو یې له الله نه غیر بلئ

له کفر څخه براءت د کفر ټولو ډولونو ته شامل دی، یوازې په عبادت کې د شرک څخه براءت پورې منحصر نه دی

اې د الله بندګانو! له کفر څخه برائت یوازې په دې پورې محدود نه دی چې سړی یوازې په عبادت کې له شرک براءت وکړي؛ بلکې دا د کفر ټول ډولونو ته شامل دی، لکه: الله ته د نقصان نسبت کول، دین پورې ملنډې کول، په صحابه کرامو او امهات المؤمنین باندې طعن ویل، او یا دا ادعا کول چې جبرئیل علیه السلام په رسالت کې خیانت کړی، یا د نصاراو، یهودو او بودایانو دینونه حق ګڼل، او یا په نورو هغو کړنو کې واقع کېدل چې د امت په اجماع د هغوی مرتکب کافر ګڼل کیږي.

له دې وروسته، اې د الله بندګانو! له دې مقدمې څخه دا حقیقت روښانه شو چې د توحید او د هغه د ضد د پېژندنې علم څومره مهم دی، همدارنګه د توحید په چوکاټ کې د موالات (دوستۍ) معنا پیژندل، او د توحید له اضداو څخه براءت کول، په دې کارونو سره د انسان زړه مستقیم پاتې کیږي، ځکه ضد په ضد سره پیژندل کیږي، لکه څنګه چې چا ویلي دي:

فالضِّد یظهر حسنه الضد وبضِدها تتبین الأشیاء

د ضد حسن په بضد څرګندیږي، او د ضد له امله د شیانو وضاحت کیږي

ځوک چې شرک ونه پيژني هغه توحيد نشې پيژندلې، او ځوک چې له شرک ځخه براءت ونه کړي؛ نو هغه توحيد نه دی متحقق کړی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

د هغو کسانو حکم چې د مشرکانو په کفر کې شک کوي

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد، اې د الله بندګانو! له الله ځخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې ځوک د مشرکانو په کفر کې شک وکړي، هغه هم د هغوی په شان دی، لکه دا چې يو ځوک ووايي: (زه نه پوهېږم چې يهوديان کافران دي که نه)، يا ووايي: (نه پوهېږم چې نصاری کافران دي که نه)، يا ووايي: (نه پوهېږم هغه ځوک چې له الله پرته بل ځوک رابولي مسلمان دی که نه)، يا ووايي: (نه پوهېږم چې فرعون کافر و که نه)؛ نو دا کس هم کافر دی، د دې علت دا دی چې دا انسان د کفر د حق او باطل ترمنځ په شک کې دی؛ هغه په يقيني نه دي چې کفر باطل دي، سره له دې چې الله تعالى دا موضوع په خپل کتاب کې په بشپړه توګه روښانه کړې ده، چې کفر باطل دی؛ نو هغه ځوک چې له دې ځرګند بيان وروسته هم شک کوي، حقيقت دا دی چې هغه د قرآن پخ حکم ايمان نه لري.

همدارنګه، دې شک کوونکی په حقيقت کې اسلام دين نه دی پېژندلی؛ ځکه که يې اسلام پېژندلی وای، نو د هغه ضد—يعنې کفر—به ورته روښانه شوی وای. او ځوک چې اسلام نه پېژني، نو په هغې ځنګه د مسلمان حکم وشي؟!

شيخ سليمان بن عبدالله بن محمد بن عبدالوهاب رحمهم الله په خپل کتاب (أوثق عرى الإيمان) کې وايي: که ځوک د کافرانو په کفر کې شک وکړي، يا د هغوی له کفره ناخبره جاهل وي؛ نو د قرآن او سنتو دلايل به ورته واضحه کړل شي، که له هغې وروسته هم شک وکړي، نو هغه د علماؤ په اجماع سره کافر دی؛ ځکه چې ځوک د کافر په کفر کې شک وکړي، هغه پخپله کافر دی[1].

د هغو کسانو حکم چې د کافرانو دين او مذهب سم ګڼي

اې د الله بندګانو! ځوک چې د کافرانو دين او مذهب سم وبولي، هغه له شک کوونکي ځخه هم زيات ګمراه دی، او کفر يې تر شک کوونکي سخت دی؛ ځکه د ده ددې کار حقيقت دا دی چې دا د اسلام دين باطل ګڼي؛ کوم چې د کافرانو د دين بطلان اعلان کړی، د کفر دفاع کوي، بلکې خلک ورته رابولي او ملاتړ يې کوي، آن تر دې چې د خپربدو لاره ورته هواروي، الله دې ترې مور وساتي، لکه يو ځوک داسلام خلاف عقايد ښه وګڼي، لکه يهوديت، نصرانيت، اشتراکيت، سيکولريزم،

(١) ص: ١٣٥، من مجموع رسائله التي جمعها الشيخ د. الوليد بن بن الرحمٰن آل فريان حفظه الله، الناشر: دار عالم الفوائد.

یا داسې نورې د کفر عقیدې لرونکي ډلې، یا په خپل گمان سره وحدة الادیان یعنې د درې دینونو د یووالي رایوځای کول چې یهودیت، نصرانیت او اسلام دی، چې «ابراهیمي دینونو» په نوم یې یادوي، او خلک په باطلو خبرو تېرباسي، او وایي چې یهودیان او نصاری د موسی او عیسی پیروان دي، حال دا چې دا حق او باطل سره گډول دي؛ ځکه الله تعالی ټول پخواني دینونه د اسلام دین په راتگ سره منسوخ کړي دي، آن تردې که موسی او عیسی علیهما السلام ژوندي وای؛ نو حتمي به یې د اسلام پیروي کړې وای، حال دا چې هغوی دواړه په صحیح دین باندې ول، او وروسته د هغوی دینونه تحریف شول، د موسی علیه السلام دین هغه مهال تحریف شو چې کله تورات ورک شو، بیا یې د عزیر عبادت پیل کړ، او ویل یې عزیر د الله زوی دی، او د عیسی علیه السلام دین هغه مهال تحریف شو چې کله آسمان ته پورته کړل شو، خلکو بیا د صلیب عبادت پیل کړ، او ویل یې چې هغه د الله زوی دی، او الله د دریو څخه یو دی، آیا له دې ټولو وروسته بیا هم دا ویل چې یهودیت او نصرانیت صحیح دینونه پاتې شوې دي، او خلکو ته روا دی چې د هغې پیروي وکړي؟! هیڅکله نه، الله فرمایلی دي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ كَثِيرٗا مِّمَّا كُنتُمۡ تُخۡفُونَ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَيَعۡفُواْ عَن كَثِيرٖۚ قَدۡ جَآءَكُم مِّنَ ٱللَّهِ نُورٞ وَكِتَٰبٞ مُّبِينٞ﴾

ای اهل کتابو! یقینًا تاسو ته زمونږ رسول راغلی دی چې تاسو ته ډېر هغه څیزونه بیانوي چې تاسو به له کتابه پټول او له ډېرو څخه تېرېږي، یقینًا تاسو ته د الله له جانبه رڼا او روښانه کتاب راغلی دی

او بل ځای یې فرمایي دي:

﴿يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ قَدۡ جَآءَكُمۡ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمۡ عَلَىٰ فَتۡرَةٖ مِّنَ ٱلرُّسُلِ أَن تَقُولُواْ مَا جَآءَنَا مِنۢ بَشِيرٖ وَلَا نَذِيرٖۖ فَقَدۡ جَآءَكُم بَشِيرٞ وَنَذِيرٞۗ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ﴾

ای اهل کتابو! یقینًا تاسو ته زمونږ رسول، د رسولانو له وقفې نه پس راغلی دی، چې تاسو ته احکام بیانوي چې تاسو (بیا) دا ونه وایئ چې مونږ ته نه څوک زېرى ورکوونکی راغلی و او نه وېروونکی، نو (دا دی) یقینًا تاسو ته زېرى ورکوونکی او وېروونکی راغی او الله په هر شي باندې ښه قادر دی

او همدارنگه فرمایي:

﴿وَمَن يَبۡتَغِ غَيۡرَ ٱلۡإِسۡلَٰمِ دِينٗا فَلَن يُقۡبَلَ مِنۡهُ وَهُوَ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾

اوخوك چې له اسلام نه غېر (بل) دین غواړي، نو هېڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی

نو خلاصه دا چې څوک د کافرانو دینونه سم بولې، لکه یهودیت یا نصرانیت، هغه کافر دی، الله دې تړې موږ وساتي[۱].

روافضو سره د نزدیکت دعوت د مشرکانو د دین د ښه ګڼلو په حکم کې داخل دی

اې د الله بندګانو! ددې بل مثال هغه څوک هم دي چې روافضو سره د نږدیوالي دعوت او بلنه کوي، دا هغه خلک دی چې دین د قبرونو په عبادت، د آل البیت په عبادت، د نبوي سنتو په انکار، د صحابه کرامو په تکفیر، په دوه امانتدارو باندې په طعن چې یو د ملایکو امین (جبریل) او بل د امت امین (محمد ﷺ) دی، د قرآن په طعن، او د نبي ﷺ په عزت او عِرض باندې په بد ویلو ولاړ دی، نو څوک چې له دوی سره نږدېوالی غواړي او د هغوی دین ښه معرفي کوي، هغه په حقیقت کې له هغوی څخه برائت نه دی کړی، د هغوی په څیر دا هم کافر دی، ځکه چې د هغوی کفر او نافق ښه ګڼي، اګر خپله یې نه عملي کوي، الله دې موږ تړې وساتي.

د خطبې پای

اې د الله بندګانو! دا د توحید او د هغې ضد د پیژندنې لپاره، او په شرک د واقع کیدو څخه د ځان ساتنې لپاره ګټوره مقدمه ده، په کې ددې خبرې بیان هم دی چې یو مسلمان باندې واجب دي چې مشرکان کافر نه ګڼل، یا د هغې په کفر کې شک کول او یا د هغوې تګلاره سمه ګڼلو څخه دې ځان وساتي، بلکې دا درې واړه کارونه د اسلام د نواقضو څخه دی، په مسلمان واجب دی چې چا ته الله او د هغه رسول کافر ویلي وي، د هغوی په تکفیر باندې یقین ولرې، او په دې اړه یې په زړه کې شک او تردد ځای ونه لرې.

الله دې ټولو ته توفیق ورکړي چې تر مرګه پورې د توحید په لاره کې ثابت پاتې شي؛ ځکه څوک چې په شریعت سم ولاړ وي او په توحید مړ شي، هغه به پرته له حساب او عذاب نه جنت ته داخلیږي.

ځان پوهه کړئ، الله دې په تاسو ټولو رحم وکړي، بیشکه الله په یو لوی کار کولو امر کړی، چې فرمایلي یي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې سلام او درود راولیږه، د هغه د ملګرو خلفیه ګانو، تابعینو او د قیامت تر ورځې پورې چې څوک راځي او د هغه په ښه ډول د هغې د لارې پیروي کوي؛ ته ترې راضي شه،

---

(۱) انظر: «الإبطال لنظرية الخلط بين دين الإسلام وغيره من الأديان»، للشيخ بكر أبو زيد، رحمه الله، وكتاب «شرح نواقض الإسلام»، ص ۸۱، للشيخ صالح الفوزان، حفظه الله.

اې الله موږ له تاځخه د عزتمن ژوند، پراخه رزق او نیک عمل سوال کوو، اې زموږ ربه موږ ته په دنیا کې خوشالي راکړي، او په آخرت کې هم خوشالي راکړي، او د اور د عذاب څخه مو وژغورې.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين. اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

دریم ناقض: څوک چې دا عقیده ولري چې د رسول ﷺ له لارې پرته بله لاره تر هغه غوره ده، هغه په دې سره کافر شو؛ او څوک چې دا باور ولري چې د الله له حکم څخه د بل چا حکم غوره دی؛ لکه هغه کسان چې د طاغوتونو او بشري قوانینو حکم ته د الله پر حکم ترجیح ورکوي؛ نو دا هم په دې باور سره کافر شو

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إله إلا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاره تر ټولو لارو غوره او بشپړه ده

اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، تعظیم او اطاعت یې وکړئ او نافرماني یې مه کوئ، پوه شئ چې د شهادة أن محمدا رسول الله د لوازماتو څخه دا ده چې په دې خبره ایمان لرل چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاره د نورو ټولو لارو څخه غوره او بشپړه ده، هدی په لغت کې لارې او طریقې ته وایي، او په شریعت کې هغه لاره چې رسول صلی الله علیه وسلم غوره کړې وه، هغه په عقیده، عباداتو، معاملاتو، اخلاقو، قضا، سیاست او نورو ټولو برخو، چې په اړه یې په قرآن او سنت کې نص راغلی وی.

اې د الله بندګانو! د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاره تر ټولو غوره ده، ځکه دا لاره هغه مستقیم له الله جل جلاله څخه ترلاسه کړې ده، او دا لاره د ژوند ټول اړخونو ته شامله ده، که هغه عبادات دی، که اخلاقیات دي، سیاست دی، قضا ده او داسې نور ټولنیز، تعلیمي او تربیوي اړخونه دي.

دلیل په دې خبره چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لاره تر ټولو لارو غوره ده، د الله تعالد دا وینا ده:

﴿لَّقَدۡ كَانَ لَكُمۡ فِي رَسُولِ ٱللَّهِ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٌ﴾

یقینًا یقینًا تاسو لپاره په (کار د) رسول الله کې ډېره ښه اقتدا ده،

او رسول الله صلی الله علیه وسلم به په خپلو خطبو کې فرمایل چې: تر ټولو رښتینې خبرې د الله د کتاب دي، او تر ټولو غوره لار هغه د محمد صلی الله علیه وسلم لاره ده.

د عقیدې په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

اې د الله بندګانو! څوک چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم لار مطالعه کړي، وبه ویني چې دا تر ټولو غوره لار ده، د عقیدې په برخه کې چې کومه اسلامي عقیده رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله پلې کوله او خلکو ته ور وښوده، دا یوه بشپړه عقیده ده، چې انسان ته د ایمان ټول هغه بنسټونه چې ورته اړتیا لري؛ بیانوي په الله، ملائکو، کتابونو، رسولانو، آخرت او په تقدیر ایمان

دي، بلکې دا د پخوانيو انبياوو عقايد نوي کوي، د سالم عقل سره سمون هم لري، او له غلو او جفا څخه منع کوي.

د عبادت په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د عباداتو په برخه کې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاره تر ټولو نورو لارو بشپړه ده؛ نه پکې افراط شته او نه تفريط، نه رهبانيت او نه سستي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: دا دين اسانه دی، هېڅوک له دين سره په سختی مقابله نه کوي مگر دا چې دين پرې غالبېږي؛ نو سمه لاره ونيسئ، نږدې پاتې شئ، او زېری واخلئ[۱].

او رسول الله صلى الله عليه وسلم يو صحابي ته وويل چې هغه غوښتل چې ځان په عبادت باندې ستړی کړي، ورته وفرمايل: په تا باندې ستا د نفس هم حق دی[۲].

او کله چې ځينو خلکو وويل: چې زه به غوښه نه خورم، بل وويل: زه به واده ونه کړم، بل وويل: زه به هره ورځ روژه يم، بل وويل: زه به ټوله شپه عبادت کوم او نه به ويده کېږم؛ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: زه غوښه خورم، له ښځو سره نکاح کوم، روژه نيسم او ماتووم يې، د شپې عبادت هم کوم او هم ويده کېږم؛ نو څوک چې زما له سنتو مخ واړوي، هغه زما له ډلې څخه نه دی.[۳]

د اخلاقو په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د اخلاقو په باب کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم اخلاق تر ټولو بشپړ، لوړ او غوره اخلاق دي، او دا هېڅ د تعجب خبره نه ده؛ ځکه چې د هغه روزنه او تربيه خپله الله تعالى کړې ده، او هماغه رب جل جلاله د هغه د اخلاقو ستاينه کړې ده، چې فرمايي:

﴿وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾

او بېشکه چې ته يقينًا په ډېرو لويو اخلاقو باندې (فايز) يې

او څوک چې د رسول صلى الله عليه وسلم اخلاق د هغه له کورنۍ، صحابه‌وو او ګاونډيانو سره وڅېړي، نو دا حقيقت به ورته روښانه شي؛ ځکه هغه به تل په موسکا ليدل کېده، د عفوې او بښنې څښتن و، تر دې چې هغې يهودۍ ته يې هم بښنه وکړه چې په خوړو کې يې زهر ورته ايښي وو، او د همدې له امله بيا وفات شو، هغه پر خلکو ډېر مهربان و، حتى له خپلو د جګړې په حال کې د خپلو دښمنانو سره؛ نو هغه به له دې څخه منع کوله چې هغه کسان ووژل شي چې په جګړه کې برخه نه لري، لکه زاړه خلک، ښځې او ماشومان. هغه به د مال له لوټلو څخه منع کوله، له غلول

---

(۱) رواه البخاري (۳۹) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(۲) رواه أحمد (۲٦۸/٦) وغيره عن عائشة رضي الله عنها، وحسنه محققو «المسند» (۲٦۳۰۸)، وأصله في الصحيحين من حديث أبي جُحيفة رضي الله عنه وغيره من الصحابة.

(۳) رواه البخاري (٥۰٦۳)، ورواه مسلم (۱٤۰۱) بنحوه، عن أنس بن مالك رضي الله عنه.

(یعنې د غنیمت له وېش مخکې مال اخیستل) یې منع کوله، او غنیمتونه به یې د الله د حکم سره سم وېشل، هغه به د مثلې، خیانت او د عهد له ماتولو څخه منع کوله، د بندیانو په اړه به یې داسې چلند کاوه: ځینې به یې بې له بدل څخه ازادول، ځینې به یې وژل، ځینې به یې د مال په بدل کې خوشې کول، او ځینې به یې د مسلمانانو د بندیانو په بدل کې خلاصول، او دا ټول به یې د مصلحت او حکمت له مخې کول.

اې د الله بندګانو! د رسول الله صلى الله عليه وسلم ښکلي اخلاق حتی په تورات او انجیل کې هم یاد شوي دي. د عطاء بن یسار نه روایت دی، وایي: زه د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما سره مخامخ شوم، ما ورته وویل: ما ته له تورات څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم یو صفت بیان کړه، هغه راته وویل: سمه ده، چې زما دې په الله قسم وي، چې په قرآن کې یې کوم ځینې صفتونه دي، په تورات کې هم په هغې صفتونو یې ستاینه شوې ده،

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا﴾

ای نبي! بېشکه مونږ ته ګواه، او زېرى ورکوونکى، او وېرووونکى لېږلى یې

د جبریل په واسطه محفوظ کړل شوی دی، ته زما بنده او رسول یې، ما ته "متوکل" نومولی یې؛ نه توندخویه یې، نه سخت زړی، نه په بازارونو کې چیغې وهې؛ بدی ته په بدی ځواب نه ورکوې، بلکې ببښنه او عفوه کوې؛ او تر هغې به یې الله پاک نه وفات کوي، چې تر څو د هغې په وسیله کړه لاره سمه کړي، چې خلک ووایي: «لا إله إلا الله»، او په دې سره به زړونه سترګې، کاڼه غوږونه او تړلي زړونه پرانیستل شي[1].

د معاملاتو په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د الله د بندګانو! د معاملاتو په باب کې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاره تر ټولو بشپړه او جامع لاره ده؛ ځکه هغه د راکړې ورکړې ټول ډولونه بیان کړي دي، لکه پېر او پلور، کرایه، وکالت، پور او نور. او همدارنګه یې هغه معاملې هم روښانه کړي چې اقتصاد ته زیان رسوي، لکه ربا، غرر، رشوت او نور حرام ډولونه. ابن القیم رحمه الله په خپل کتاب «زاد المعاد» کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د معاملاتو په اړه مفصل بحث کړی، چې نږدې اتیا مخه پرې ځانګړې شوي دي.

د سیاست په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د سیاست په باب کې هم د رسول الله صلى الله عليه وسلم لاره تر ټولو بشپړه وه؛ هغه به د دنیاوي چارو په اړه له اهلِ نظر او امانتدارو خلکو سره مشوره کوله، او کله به یې له خپلو مېرمنو سره هم مشوره کوله، لکه د بدر، خندق او حدیبیې په پېښو کې، چې له همدې امله به سم تصمیم ته

(١) رواه البخاري (٢١٢٥).

رسېده، او پايله به يې بريا او نصرت و. هغه به له کافرانو سره ټړونونه او سوله کوله، د هغوی له استازو سره به يې ښه چلند کاوه، او که کوم کافر به ورغی، نو هغه به يې تر خپل امن ځايه رسولو، هغه به د خپلو ټړونونو وفادار و، له خيانت او دوکې څخه پاک و، که څه هم کله کله به له مقابل لوري خيانت کېده، او له دې سره سره به يې بښنه کوله؛ کله چې يې مکه فتحه کړه، او ټول واک د هغه په لاس کې شو، نو د مکې خلک يې ټول وبخښل، حال دا چې همدوی هغه ځوروونکی و، له خپل وطنه يې ايستلی و، او پر هغه او د هغه پر ملګرو يې سخت ظلمونه کړي وو، خو سره له دې، هغه هغوی ټول معاف کړل، حال دا چې که يې غوښتل، کولای يې شول له هغوی څخه انتقام واخلي، پرته له دې چې څوک پرې ملامت کړي.

د قضاء په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د قضاء په باب کې د رسول الله ﷺ لار تر ټولو عادلانه او بشپړه لار وه. ابن القيم رحمه الله په خپل کتاب «زاد المعاد في هدي خير العباد» کې د قضاء په برخه کې د رسول الله ﷺ د تګلارې اړوند شاوخوا پنځه سوه مخونه ځانګړي دي.

د طب په برخه کې د رسول ﷺ د لارې غوره والی

د طب په برخه کې هم د رسول الله ﷺ لار تر ټولو بشپړه او هر اړخيزه وه. ابن القيم رحمه الله په خپل کتاب «زاد المعاد» کې د زړونو او بدنونو د درملنې په باب د رسول الله ﷺ د طريقې د بيان لپاره شاوخوا څلور سوه مخونه ځانګړي کړي دي.

ای د الله بندګانو! د کفارو له عقلمنو کسانو څخه هم ډېرو د رسول الله ﷺ د لارې د ښېګڼې ګواهي ورکړې ده، او ګڼ شمېر خلک يې مسلمانان شوي دي؛ ځکه هغوی پوه شول چې دا هر اړخيزه او کامل نظام د بشر له وسه پورته دی، او هېڅوک يې له خپله ځانه نشي راوړلی، مګر هغه څوک چې د خپل رب له لوري رالېږل شوی رسول وي.

ای د الله بندګانو! دا يوه ګټوره مقدمه ده چې دا حقيقت روښانه کوي چې د رسول الله ﷺ لار تر ټولو بشپړه او جامع لار ده. څوک چې دا خبره په سمه توګه درک کړي، نو د رسول الله ﷺ د محبت دروازه ورته پرانيستل کېږي او د هغه د لارې پيروي ورته اسانه کېږي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

د هر وخت او ځای سره د رسول الله ﷺ د لارې سمون

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا رسول بعده، أما بعد: ای د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د رسول الله ﷺ لار د هر وخت او هر ځای لپاره مناسبه ده؛ دا يوه ثابته

لار ده چې نه بدلېږي او نه تغير مومي. ځکه دا وحی ده چې له الله جل جلاله څخه راغلې ده، هغه ذات چې په علم، حکمت، رحمت او د خلکو لپاره د خير غوښتنې کې کامل دی. بيا دا لار رسول الله ﷺ خلکو ته ورسوله؛ نو دا د الله مستقيمه لاره او سم دين دی، هغه دين چې الله د خپلو بندگانو لپاره غوره کړی دی، او له دې پرته بل څه نه خوښوي.

دا عقيده لرل چې د رسول ﷺ له لارې پرته بله لاره تر هغه غوره ده، هغه په دې سره کافر شو؛ او څوک چې دا باور ولري چې د الله له حکم څخه د بل چا حکم غوره دی؛ لکه هغه کسان چې د طاغوتونو او بشري قوانينو حکم ته د الله پر حکم ترجيح ورکوي؛ نو دا هم په دې باور سره کافر شو

د پورته خبرو پر بنسټ؛ څوک چې دا عقيده ولري چې د رسول الله ﷺ له لارې پرته بله لار تر دې غوره ده، نو هغه کافر دی؛ ځکه په حقيقت کې يې د الله په حکمت او شريعت نيوکه کړې ده، لکه هغه څوک چې بشري نظامونه لکه سيکولريزم، ليبراليزم او ديموکراسي د اسلامي شريعت څخه غوره ګڼي، يا دا باور لري چې د انسانانو جوړ شوي قوانين د اسلام له شريعت څخه غوره دي، يا دا چې اسلام د اوسني عصر لپاره مناسب نه دی، يا دا چې د مسلمانانو د وروسته پاتې کېدو سبب ګرځېدلی، يا دا چې دين يوازې د انسان او د هغه د رب تر منځ په اړيکه کې محدودوي او د ژوند په نورو چارو کې يې نه غواړي، يا دا چې د الله احکام لکه د غل څخه د لاس پرې کول يا د واده شوي زناکار سنګسار کول د نن عصر سره مناسب نه ګڼي. او همدارنګه، که څوک دا عقيده ولري چې د معاملاتو، حدودو او نورو چارو کې د الله له شريعت پرته حکم کول روا دي، نو هغه کافر دی؛ ځکه هغه د مخلوق حکم د خالق پر حکم غوره بللی، د جاهليت حکم يې خوښ کړی، او طاغوت يې منلی او د الله او د هغه د رسول ﷺ پر حکم يې ترجيح ورکړې ده. او له طاغوت څخه يې انکار نه دی کړی، حال دا چې الله تعالی فرمايي:

﴿فَمَن يَكۡفُرۡ بِٱلطَّٰغُوتِ وَيُؤۡمِنۢ بِٱللَّهِ فَقَدِ ٱسۡتَمۡسَكَ بِٱلۡعُرۡوَةِ ٱلۡوُثۡقَىٰ لَا ٱنفِصَامَ لَهَاۗ وَٱللَّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾

نو چا چې له طاغوت (شيطان، بت) نه انکار وکړ او په الله يې ايمان راوړ، نو يقينًا ده ډېره مضبوطه کړۍ ټينګه ونيوله، چې هغې لره هېڅ پرېکېدل نشته، او الله ښه اورېدونکی، ښه پوه دی

او داسې کس هغه څه حلال ګڼلي چې الله په اجماع سره حرام کړي دي، او هر څوک چې د الله حرام حلال وګڼي، هغه د الله سره مخالفت کوونکی او د مسلمانانو په اجماع کافر دی[1].

ای د الله بندګانو! څوک چې د رسول الله ﷺ له اطاعت څخه مخ واړوي او د هغه له حکم څخه انکار وکړي، هغه له منافقينو څخه دی، نه له مؤمنانو څخه. الله تعالی فرمايي:

---

(١) انظر «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة» (١/ ١٣٢)، للشيخ ابن باز رحمه الله.

﴿وَإِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ إِذَا فَرِيقٞ مِّنۡهُم مُّعۡرِضُونَ﴾

او کله چې دوی الله او د هغه رسول ته راوبلل شي، د دې لپاره چې هغه د دوی په مینځ کې فیصله وکړي، ناڅاپه، په دوی کې یوه ډله مخ ګرځوونکې وي

ابن تیمیه رحمه الله ویلي دي: الله سبحانه و تعالی دا څرګنده کړه چې څوک د رسول الله ﷺ له اطاعت څخه مخ اړوي او د هغه له حکم څخه انکار کوي، هغه منافق دی، نه مؤمن. او مؤمن هغه دی چې وایي:

﴿سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ﴾

مونږ (حکم) واورېده او مونږ ومانه

نو یوازې د رسول الله ﷺ له حکم څخه په مخ اړولو او بل لوري ته د تګ په اراده سره نفاق ثابتېږي او ایمان له منځه ځي[1].

د خطبې پای

ځان پوهه کړئ، الله دې په تاسو ټولو رحم وکړي، بیشکه الله په یو لوی کار کولو امر کړی، چې فرمایلي یي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې سلام او درود راولیږه، د هغه د ملګرو خلفیه ګانو، تابعینو او د قیامت تر ورځې پورې چې څوک راځې او د هغه په سنه ډول د هغې د لارې پیروي کوي؛ ته تر راضي شه.

سبحان ربنا رب العزة عما یصفون، وسلام علی المرسلین، والحمد لله رب العالمین. اللهم صل وسلم علی نبینا محمد وآله وصحبه.

---

(۱) الصارم المسلول، ص ۳۸ ، تحقیق: محمد محي الدین عبد الحمید.

څلورم ناقض: د الله د دین سره بغض لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځي خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د دين سره مينه کول د ايمان له لوازمو څخه ده

اې د الله بندګانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، هغه لوی وګڼئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او پوه شئ چې د «لا إله إلا الله، محمد رسول الله» د شهادت له مهمو لوازمو څخه د الله تعالی سره مينه، د پيغمبر سره مينه، او د د دين اسلام سره مينه کول دي، دا ټول د دې ښه ده چې انسان په ريښتيني توګه دغه شهادتين منلي دي. الله تعالی فرمايي:

﴿قُلۡ إِن كُنتُمۡ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحۡبِبۡكُمُ ٱللَّهُ﴾

(ای نبي!) ته ووایه: که چېرې یې تاسو چې له الله سره مینه کوئ، بیا نو زما اتباع وکړئ، الله به له تاسو سره مینه وکړي.

اې د الله بندګانو! ریښتنی مؤمنان د دین اسلام سره مینه لري، د هغه له لارښوونو څخه سرغړونه نه کوي، بلکې هر هغه څه مني چې له الله او د هغه له رسول (صلی الله علیه وسلم) څخه راغلي وي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّمَا كَانَ قَوۡلَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ إِذَا دُعُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ لِيَحۡكُمَ بَيۡنَهُمۡ أَن يَقُولُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ٥١ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَيَخۡشَ ٱللَّهَ وَيَتَّقۡهِ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَآئِزُونَ﴾

بېشکه د مومنانو خبره خو همدا وي، کله چې دوی الله او د هغه رسول ته وبلل شي چې وایي: مونږ (حکم) واورېده او مونږ ومانه او همدغه خلق کامیاب (خلاصی موندونکي) دي، او هر څوک چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړي او له الله نه ووېرېږي او د هغه تقوىٰ اختیار کړي، نو همدغه خلق بری موندونکي دي.

مؤمنان په زړونو کې د الله د حکمونو په اړه هېڅ ډول تنګوالی نه احساسوي، الله تعالی فرمایي:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤۡمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيۡنَهُمۡ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَرَجٗا مِّمَّا قَضَيۡتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسۡلِيمٗا﴾

پس داسې نه ده، ستاپه رب مې دې قسم وي! دوی مومنان کېدی نشي تر هغه پورې چې دوی په خپل مینځ کې په پېښو جګړو کې تا فیصله کوونکی ومني، بیا په خپلو نفسونو کې ستا د کړې فیصلې په باره کې هېڅ تنګي ونه مومي او په ښو منلو سره یې ومني

مؤمنان په ظاهر کې له خپلو اندامونو او په باطن کې له خپلو زړونو سره د شریعت تابع وي، ځکه چې دوی د الله او د هغه د رسول (صلی الله علیه وسلم) په حکم راضي وي.

له عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه واورېدل چې فرمایل یې: «هغه کس د ایمان خوند وځکو، چې الله د خپل رب په توګه ومني، اسلام د خپل دین په توګه خوښ کړي، او محمد (صلی الله علیه وسلم) د خپل رسول په توګه ومني»[1].

نو انسان ته پکار ده چې شریعت ته یې خپله سینه پراخه وي، پرې راضي وي او مینه ورسره ولري، ځکه چې دا د هغه حکیم ذات له لوري نازل شوی چې شریعت یې له حکمتونو څخه ډک دی، د خپلو بندګانو په ګټو ښه پوه او پر هغوی مهربان دی. الله تعالی فرمایي:

﴿أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ﴾

(١) رواه مسلم (٣٤).

ایا هغه ذات به نه پوهېږي چې يې (هر څه) پيدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باريك بين، ښه خبردار دی

هغه لارې چارې چې د دين سره مينه راپيداکوي

اې د الله بندګانو! له هغو لاملونو څخه چې د دين سره مينه راپيدا کوي دا پوهه درلودل چې دا دين الله زمونږ لپاره شريعت ګرځولی دی، او هغه د خپلو بندګانو په ګټو ښه پوه او په خپلو احکامو کې حکيم او پر هغوی مهربانه دی.

بل له هغو لاملونو څخه چې د دين سره مينه راپيدا کوي، د دې دين ځانګړتياوې پېژندل دي، چې دا دين له پخوانيو شريعتونو څخه په ګڼو ځانګړتياوو ممتاز دی، چې دا د څلويښتو څخه زيات دی[1].

بل له هغو لاملونو څخه چې د دين سره مينه راپيدا کوي هغه دا باور درلودل چې څوک د دې دين سره مينه کوي، او ټينګ پرې ودرېږي، نجات به وموميِ، او څوک چې ترې واوړي، هلاک به شي.

بل له هغو لاملونو څخه چې د دين سره مينه راپيدا کوي په دې سوچ کول چې د نړۍ له بېلابېلو قومونو، رنګونو او علمي کچو خلک په زيات شمېر اسلام ته داخليږي، او بيا په ځانګړې ډول د اړيکو د وسايلو له پراختيا وروسته د ډېرو دينونو خلک اسلام کې داخليږی.

اې د الله بندګانو! بل له هغو لاملونو څخه چې د دين سره مينه راپيدا کوي په دې خبره پوهه لرل چې د دين ټولې لارښوونې ښې دي، او خير ته بلنه ورکوي، د عقل او سالم فطرت له مخې هر ښه کار ته هڅونه کوي او له هر بد کار څخه منع کوي. الله تعالى فرمايي:

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾

او په فيصله کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې يقين کوي!

او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَأْمُرُ بِٱلْعَدْلِ وَٱلْإِحْسَٰنِ وَإِيتَآيِٕ ذِى ٱلْقُرْبَىٰ وَيَنْهَىٰ عَنِ ٱلْفَحْشَآءِ وَٱلْمُنكَرِ وَٱلْبَغْىِ ۚ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾

بېشکه الله د انصاف کولو او احسان کولو او خپلوانو ته د ورکړې حکم کوي او له فحاشۍ او بدو کارونو او سرکشۍ نه منع کوي، هغه تاسو ته نصيحت کوي، د دې لپاره چې تاسو نصيحت قبول کړئ

شيخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله فرمايي: د شريعت لارښوونې د ښو کارونو، غوره اخلاقو او د بندګانو په ګټو امر کوي، عدالت، احسان، رحمت او خير ته بلنه ورکوي، او له ظلم، سرغړونې او بدو اخلاقو څخه منع کوي، هېڅ داسې د کمال خصلت او خوی نشته چې پيغمبرانو راوړی وي مګر دا چې اسلام يې تاييد کړی دی، او هېڅ داسې ديني او دنيوي خصلت به نه وي چې شريعت يې

---

(۱) يسر الله إعداد سلسلة خطب بعنوان «خصائص الشريعة الإسلامية»، وهي منشورة في شبكة المعلومات بهذا العنوان.

خپلولو ته بلنه ورکړې، او هېڅ داسې زیان او فساد به نه وي بلکې دا چې شریعت ترې منع کړې ده[١].

د دین سره بغض کول له اسلام له نواقضو څخه دي

اې د الله بندګانو! د ایمان له نواقضو یو ناقض دا هم دی چې د دین او یا د دین د یوې برخې سره بغض لرل، که هغه عقیده وي، عبادات وي، معاملات وي او یا سلوکیات وي، ځکه د دې سره د بغض نه د دې د نازلونکي چې الله دی، او یا د د دې د رانقل کوونکی چې محمد صلی الله علیه وسلم دی، د هغه سره بغض لازمیږي، او یا دا بارور رامینځته کوي چې دین حق نه دی، یا دا چې دین کې سعادت او اصلاح نشته، دا ټولې خبرې د الله په حکمت باندې اعتراض دی.

لکه څرنګه چې د دین سره بعض لرل د اسلام او ایمان له حقیقت سره ټکر لري، ځکه ایمان دا دی چې انسان الله ته تسلیم شي، د هغه اطاعت وکړي او د هغه په شریعت راضي وي.

د دین سره بغض کول د کافرانو او منافقانو صفت دی

اې د الله بندګانو! د حق سره بغض یا کرکه کول، د کافرانو او منافقانو صفت دی، الله تعالی فرمایي:

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فَتَعۡسٗا لَّهُمۡ وَأَضَلَّ أَعۡمَٰلَهُمۡ ٨ ذَٰلِكَ بِأَنَّهُمۡ كَرِهُواْ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأَحۡبَطَ أَعۡمَٰلَهُمۡ﴾

او هغه کسان چې کافران شوي دي، نو د دوی لپاره هلاکوالی دی او هغه (الله) د دوی عملونه ضایع کړي دي، دا ځکه چې یقینًا دوی هغه (قرآن) بد ګڼلی دی چې الله نازل کړی دی، نو هغه (الله) د دوی عملونه برباد کړل.

او فرمایي:

﴿وَنَادَوۡاْ يَٰمَٰلِكُ لِيَقۡضِ عَلَيۡنَا رَبُّكَۖ قَالَ إِنَّكُم مَّٰكِثُونَ ٧٧ لَقَدۡ جِئۡنَٰكُم بِٱلۡحَقِّ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَكُمۡ لِلۡحَقِّ كَٰرِهُونَ﴾

او دغه (دوزخیان) به اواز وکړي: ای مالکه! ستا رب دې مونږ مړه کړي، هغه (مالك) به ووایي: بېشکه تاسو (تل) ژوندي پاتې کېدونکي یئ، یقینًا یقینًا مونږ تاسو ته حق راوړی و او لېکن ستاسو زیاتره حق لره بدګڼونکي دي.

اې د الله بندګانو! د دین کرکه که په ټوله وي، یا ډېره برخه یې وي، یا حتی لږه برخه، دا ټول کفر او نفاق دی، ځکه ټول دین د الله له لوري دی.

---

(١) بتصرف يسير من «الدرة المختصرة في محاسن الدين الإسلامي»، ص ١٥، الناشر: دار العاصمة - الرياض.

اې د الله بندګانو! دا یوه ګټوره مقدمه ده چې د دې خبرې څرګندونه کوي چې د شریعت سره مینه کول واجب دي، ځکه دې سره مینه لرل په حقیقت ددې د نازلوونکي سره د مینه لرل دي، چې هغه الله پآک دي، څوک چې دا مقدمه باندې وپوهیدل، په هغه باندې د عمل او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لار باندې د ټینګ پاتې کیدو، دورازه راخلاصه شوه.

بارك الله لي ولكم في القآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه ، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

په دې زمانه کې د دین سره د بغض او په بغض د اخته خلکو عملي ببلګې

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد: **اې د الله بندګانو! له الله ووېرېږئ، د نبوي سنتو، د صحابو، امهات المؤمنین او حجاب سره بغض لرل، د بغض له ډولونو څخه دي، او دا د غوښتنه کول چې دین دې یوازې عباداتو لکه لمونځ، روژه او حج پورې محدود شي یا دا چې د معاملاتو او سیاست څخه دې جلا کړل شي، دا ټول د دین سره د بغض له ډولونو څخه دي، بلکې دا لوی نفاق له انواعو څخه هم ده، الله دې تر موږ وساتي.**

اې د الله بندګانو! په دې زمانه کې سیکولران او لیبرالان او د هغوی په څېر خلک په دې ناروغۍ اخته دي، دوی غواړي چې دین له ژوند څخه جلا کړي، بلکې دین یوازې په لمونځ، روژه او حج پورې منحصر کړي، او د معاملاتو او سیاست څخه یې جلا کړي، او دا ښکاره ثبوت دی چې دوی له دین سره مینه نه لري، ځکه که چیرته دوی له دین سره مینه لرلی نو ددې جلاکیدو غوښتنه به یې نه کوله، ځینې یې بیا دا غوښتنه ښکاره کوي، او ځینې نور یې له دین سره خپل بغض پټوي، چې دوی په دې سره منافقان ګرځیدلې دي، ایمان ښکاره کوي، او له دین سره بغض پټوي، الله دې موږ ته تر بچاو راکړي.

د دوی د انحرافاتو څخه دا هم ده چې د حجاب په خلاف دي، همدارنګه د هغه چا سره مخالفت کوي چې د میرمنو ولایت او د امارت د تحریم قائل وي، همدارنګه داسې قوانین رامینځته کوي چې له یوې له زیاتو میرمنو سره نکاح کول منع کوي، بلکې د نارینه او میرمنو ترمینځ په داسې کارونو کې د مساوات او برابرښت لپاره آواز اوچتوي چې الله ترمینځ فرق او توپیر کړي دی، لکه د بیلګې په ډول میراث، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر مخالفت او ددې بل لامل نشته بلکې دا چې دوی رزالت خوښوي او ښه کارونو سره بغض لري.

د دین سره بغض یو پټ مرض دی

اې د الله بندگانو! دا ناقض یو داسې مرض دی چې په زړونو کې پټ وي، نو د هر ژوندې زړه والا انسان باید خپل زړه وڅېړي، چې د شریعت په اړه کومه کرکه پکې نه وي، مخکې له دې چې هغه ورځ راشي چې پټې خبرې به څرگندې شي.

د خطبې پای

- ځان پوهه کړئ، الله دې په تاسو ټولو رحم وکړي، بیشکه الله په یو لوی کار کولو امر کړی، چې فرمایلي یې دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد صلی الله علیه وسلم باندې سلام او درود راولیږه، د هغه د ملگرو خلفیه گانو، تابعینو او د قیامت تر ورځې پورې چې څوک راځي او د هغه په سنه ډول د هغې د لارې پیروي کوي؛ ته تر راضي شه.

اې الله زمونږ زړونه د نفاق، عمل مو د ریا او سترگې مو له خیانت څخه پاکې کړه.

اې الله مونږ له تا څخه د عزت ژوند، پراخه او نیک عمل توفیق غواړو.

اې الله مونږ له تا څخه هر ډول خیر په اوس وخت او په راتلونکي کې غواړو.

اې الله زمونږ مریضانو ته شفا ورکړه، مړو باندې مو رحم وکړه، او له مصیبت زده څخه مو تکلیف لرې کړه.

اې الله زمونږ دین راسم کړه چې دا زمونږ د کارونو عصمت دی

اې زمونږ ربه مونږ داسې میرمنې او اولاد راکړې چې سترگې مو وربانديې یخې شي، او د متقیانو سربراه مو ورگڅوه.

اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه.

اې زمونږ ربه مونږ ته په دنیا او هم په اخرت کې نیکه برخه راکړې، او د اور د قبر د عذاب څخه وژغورې.

سُبْحَانَ رَبِّنَا رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

پنځم ناقض: په دين اسلام پورې ملنډې (مسخرې) کول

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰه إلا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د دين درناوی د ايمان له لوازمو څخه دی

اې د الله بندګانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، هغه لوی وګڼئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او پوه شئ چې د «لا إله إلا الله، محمد رسول الله» د شهادت د تحقق له مهمو لوازمو څخه دا دي: د الله تعالی، د هغه د رسول، او د هغه د دين، که هغه عقايد، عبادات، معاملات او که سلوکيات وي؛ درناوی کول. دا ټول د دې نښه ده چې انسان په ريښتينې توګه ايمان لري او په اخلاص

سره يې شهادتين منلي دي. الله تعالى ايمان د خپل ځان او د خپل رسول له درناوي سره يوځای ياد کړی دی، لکه څنگه چې فرمايي:

﴿إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ شَٰهِدٗا وَمُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٨ لِّتُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَرَسُولِهِۦ وَتُعَزِّرُوهُ وَتُوَقِّرُوهُ وَتُسَبِّحُوهُ بُكۡرَةٗ وَأَصِيلًا ٩﴾

بېشکه مونږ ته شاهچ او زېرى ورکوونى او وېروونکى لېږلى يې، د دې لپاره چې تاسو (اى خلقو!) په الله او د هغه په رسول ايمان راوړئ او د هغه (الله) مدد وکړئ او د هغه تعظيم وکړئ او سبا او بېگا د هغه تسبيح بيان کړئ.

په دين پورې ملنډې وهل د اسلام له نواقضو څخه دي

اې د الله بندگانو! دين اسلام ته د احترام نه لرلو يو ډول دا دى چې د الله د دين په شعايرو، رسولانو، ثواب، عذاب پورې ملندې وهل دي، څوک چې دا کار کوي، هغه په دې سره کافر کېږي؛ ځکه چې د دين سپکاوى کول په حقيقت کې د دې دين د مشرع سپکاوى دى، چې مشرع يې الله دى، او دا بيا ښکاره کفر دى، ځکه د الله په حق کې تعظيم واجب دى، نه د هغه تنقيص کول، څوک چې الله، پيغمبر او د دين اسلام په رښتينې ډول درناوى کوي، هغه به هېڅکله په دين پورې ملنډې ونه وهي، بلکې دا کار يوازې هغه څوک کوي چې هغه له زړه نه منافق وي، ښکاره خبره ده چې د د منافقت له مشهورو نښو څخه يې يوه په دين پورې ملنډې وهل دي؟

شيخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله فرمايي: په الله او د هغه په رسول پورې ملنډې وهل داسې کفر دى چې انسان له دين څخه وباسي؛ ځکه د دين بنسټ د الله، د هغه د دين او د هغه د رسولانو پر تعظيم ولاړ دى، او ملنډې وهل له دې بنسټ سره په بشپړه توگه په ټکر کې ده.[1]

په دين د ملنډو وهونکي په کفر شرعي دليلونه

اې د الله بندگانو! قرآن کريم د هغه تن چې دين اسلام پورې ملنډې وهي د هغه په کفر باندې صراحت کړئ، الله تعالى فرمايي:

﴿وَلَئِن سَأَلۡتَهُمۡ لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلۡعَبُۚ قُلۡ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمۡ تَسۡتَهۡزِءُونَ ٦٥ لَا تَعۡتَذِرُواْ قَدۡ كَفَرۡتُم بَعۡدَ إِيمَٰنِكُمۡۚ﴾

او قسم دى که ته له دوى نه پوښتنه وکړې(، نو) خامخا به وايي: مونږ خو يواځې مشغولتيا او لوبې کولې، ته (ورته) ووايه: ايا تاسو په الله او د هغه په ايتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟ عذرونه (بهانې) مه جوړوئ، يقينا تاسو له خپل ايمان راوړو نه وروسته کافران شوي يئ.

---

(١) «تيسير الكريم الرحمٰن في تفسير كلام المنان»، تفسير سورة التوبة: ٦٥ .

دا آیت څرگندوي چې که څوک د دین په کومه برخه ملنډې وهي—که هغه د الله ذات وي، قرآن وي، یا پیغمبر وي، هغه په دې سره کافر کېږي، برابره خبره ده که هغه دا په قصدي ډول وکړي یا یې په ټوکو سره وکړي.

ابن ابی حاتم د دې آیت په تفسیر کې د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت رانقل کړی چې یو سړي د تبوک په غزا کې وویل: موږ د خپلو قاریانو (مراد یې صحابه وو) په څېر داسې خلک نه دي لیدلي چې ډېر خوراک کوي، ډېر دروغ وایي او د جگړې پر مهال ډېر بزدل وي. یو بل سړي ورته وویل: ته دروغ وایې، ته منافق یې، زه به دا خبره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ورسوم. کله چې دا خبره رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته ورسېده، وحي نازله شوې وه. عبدالله بن عمر وایي: ما هغه سړی ولید چې د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) د اوښ له پالان سره نښتی و، ډبرې پرې لگېدې، او ویل یې: موږ خو یوازې خبرې کولې او ټوکې مو کولې! خو رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ورته فرمایل:

﴿قُلْ أَبِٱللَّهِ وَءَايَٰتِهِۦ وَرَسُولِهِۦ كُنتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ﴾

(ورته) ووایه: ایا تاسو په الله او د هغه په ایتونو او د هغه په رسول پورې استهزا او مسخرې کولې؟ عذرونه (بهانې) مه جوړوئ، یقینا تاسو له خپل ایمان راوړو نه وروسته کافران شوي یئ.

په دین اسلام پورې د ملنډو وهونکي په کفر د علماوو اجماع ده

اې مؤمنانو! په دین اسلام پورې د ملنډو وهونکي په کفر د علماوو ترمینځ اتفاقي خبره ده، شیخ سلیمان بن عبدالله بن محمد بن عبدالوهاب رحمه الله ویلي دي: څوک چې د الله په ذکر، قرآن او رسول پورې ملنډې وهي، په دې سره کافر کیږي، دا ځکه چې د ربوبیت او رسالت سپکاوی یې وکړ، او دا کار بیا د توحید سره په ټکر کې دي، له دې امله د امت علماؤ په دین پورې د ملنډې کوونکي په کفر باندې اجماع ده، څوک چې د الله، قرآن، رسول یا دین پورې ملنډې وهي، که ټوکې هم کوي؛ هغه کافر دی[1].

په دین پورې د ملنډو وهلو څخه وېره

اې مؤمنانو! د ژبې د تیروتنو څخه ځان وساتئ، ځکه ډېرى خلک د خپلې ژبې له امله اور ته داخلیږي. لکه څرنگه چې د معاذ بن جبل رضى الله عنه څخه روایت دى، چې وایي ما د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه پوښتنه وکړه، موږ چې کومې خبرې کوو، آیا الله په موږ په دې باندې رانیسي؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: « مور دې دربانديې وژاړه، اې معاذه! خلک به د خپلو ژبو له امله، چې په ژبو یې څه لو کړي؛ پرمخې به اور ته وغورځول شي؟!»[2]

---

(١) «تيسير العزيز الحميد في شرح كتاب التوحيد»، شرح باب: من هزل بشيء فيه ذكر الله أو القرآن أو الرسول.

(٢) رواه أحمد (٢٣١/٥) وغيره، وصححه محققو «المسند» بشواهده برقم (٢٢٠١٦).

او په بل حدیث کې دي: «انسان کله داسې خبره وکړي چې د الله د قهر سبب وي، خو هیڅ ارزښت ورته ورنه کړي؛ نو له همدې امله په جهنم کې وغورځي»[۱].

او په قرآن کې الله فرمایلي دي:

﴿وَيۡلٞ لِّكُلِّ هُمَزَةٖ لُّمَزَةٍ﴾

هلاکت دی د هر ډېر غیبت کوونکي، ډېر عیبت لګوونکي لپاره

او فرمایي:

﴿مَّا يَلۡفِظُ مِن قَوۡلٍ إِلَّا لَدَيۡهِ رَقِيبٌ عَتِيدٞ﴾

(دغه بنده) هیڅ خبره نه کوي مګر له ده سره خاضر ساتونکی دی.

په دین د ملنډو وهلو عملي بېلګې

اې د الله بندګانو! په علماؤ، مصلحینو او محتسبینو پورې ملنډې وهل، هم په دین پورې ملنډې وهل دي، ځکه علماء د پیغمبرانو وارثان او د دین حمله دي، ځوک چې کوم عالم لاندې ملنډې وهي، له دې امله چې دا عالم دي، په دې سره کافر کیږي، یا محتسب پورې ملنډې وهي، ځکه چې هغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوي، په دې سره کافر کیږي، بلکې واجب دا دي چې د علماؤ او محتسبینو احترام وکړل شي، ځکه الله یې په قرآن کې لوړ قدر بیان کړي، مؤمن ته پکار دي چې د هغه چا عزت ورکړي چې د الله او د رسول عزت کوي، الله فرمایلی دي:

﴿يَرۡفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡعِلۡمَ دَرَجَٰتٖ﴾

الله به په تاسو کې هغه کسان په درجو کې اوچتکړي چې ایمان یې راوړی دی او هغه کسان چې هغوی ته علم ورکړی شوی دی. او الله په هغو کارونو چې تاسو یې کوئ ښه خبردار دی.

او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: «په ربښتیا د عالم لپاره هغه ټول مخلوقات چې په اسمانونو او ځمکه کې دي، حتی د اوبو ماهیان هم ښښنه غواړي، د عالم فضیلت په عابد باندې داسې دی لکه سپوږمۍ چې په ټولو ستورو باندې کوم غوره والی لري، علما د انبیاوو وارثان دي، دینار او درهم یې په میراث کې نه دي ترلاسه کړي، بلکې علم یې ترلاسه کړی، او هر چا چې علم ترلاسه کړو، ګویا چې هغه پوره برخه ترلاسه کړه»[۲].

اې د مؤمنانو ټولیه! په دین پورې په ملنډو کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په تابعداری پورې خندا کول هم شامل دي، او له دې جملې څخه په ډیره، جامه د پنډیو څخه پورته ساتل، مسواک، حجاب پورې ملنډې وهل دي.

---

(۱) رواه البخاري (٦٤٧٨) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(۲) أخرجه أحمد (١٩٦/٥) وغيره، وقال محققو «المسند»: حسن لغيره.

دا هم په دین پورې له ملنډو څخه ده چې غیبې امورو پورې خندا کول، لکه جنت، اور، یا داسې ویل: چې جنت څه وي؟ اور څه وي؟ او یاداسې نور الفاظ.

ځینې عقیدوې خبرو پورې خندل، لکه د صحابو عدالت، د عائشې رضي الله عنها په عفت پورې ملنډې وهل، دا کفر دی، ځکه په دې سره د قرآن تکذیب کوي، بلکې الله د صحابو ستاینه کړې، چې ورضي عنهم، او دا ستاینه یې په التوبة[۱]، الفتح[۲] او الحشر[۳] سورت کې کړې ده، لکه څرنگه یې چې د عائشې رضي الله عنها لپآره د پاکدامنۍ او له هغه تهمتونو څخه چې منافقانو ورپورې کړي ول، براءت کړی دی، آیا له دې وروسته بیا هم دا روا ده چې یو تن دې راشې او هغه دې په صحابو پورې ملنډې وهي، او د پیغمبر په بستر دې طعن لگوي، گویا دوی داسې گمان کوي چې الله پآک د خپل نبی لپاره ناوړه او بې کاره میرمن غوره کړي؟ الله دې ترې مور وساتي.

همدارنگه، ملنډې یوازې په خبرو نه وي، بلکې په اشاره، سترگو رپولو، لاس ښورولو او نورو ننبو کې هم شاملې دي.

اې خلکو! ملنډې بیا په خبرو، یا په یو کار یا په کومه مجله کې په لیکلو او دا د ټولنیزو رسنیو له لارې هم ترسره کیږي، او همدارنگه غیر صریح ملنډې هم وي، لکه په سترگو یا لاس سره اشارې او یا ژبه له خولې راویستل او داسې نورو ډولونه هم دي[٤].

د ملنډو لپاره کوم ټاکلی حد نشته، چې لږ وي ښنه به ورته وکړل شي، بلکې لږ یې هم ډېرحسابیږي، الله دې ترې مور وساتي، چې هر ډول استهزاء وي.

د ملنډو وهونکو په وړاندې د مسلمان واکمنانو مسؤلیت

اې خلکو! څوک چې د الله، د هغه د رسول یا دین سپکاوی وکړي، د مسلمان حاکم له لورې د هغه سزا د هغه د وینې تویول دی.

اې د الله بندگانو! هر مسلمان ته پکار دي چې کله د الله، د رسول او د هغه د دین سپکاوی کیږي، منع یې کړي، او غلی دې نه پاتې کیږي، او یا دې له هغه مجلسه ووځي، ځکه الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَدۡ نَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أَنۡ إِذَا سَمِعۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكۡفَرُ بِهَا وَيُسۡتَهۡزَأُ بِهَا فَلَا تَقۡعُدُواْ مَعَهُمۡ﴾

او یقینا هغه (الله) پر تاسو باندې په کتاب کې (حکم) نازل کړی دی چې کله تاسو د الله ایتونه واورئ، چې په هغو پورې مسخرې کیږي، نو تاسو له هغوی (کفر او استهزا کوونکو) سره مه کښئ.

---

(۱) آية ۱۰۰ .

(۲) آية ۲۹ .

(۳) الآيات ۸ - ۹ .

(٤) قاله الشيخ حمد بن عتيق رحمه الله في كتابه «سبيل النجاة والفكاك».

نو اې د عقل خاونده! څوک چې د دين د سپکاوی لپاره په دنيا کې سره رايوځای کي، د دوی سزا دا ده چې په قيامت کې به په اور کې سره رايوځای شی - الله دې تري موږ وساتي.
اې د الله بندګانو! دا يوه مهمه مقدمه وه چې څرګندوي د شريعت درناوی واجب دی، بلکې د الله پيغمبر او د دين د حاملينو چې هغوی نيکان علماء دي درناوی واجب دی، ځوک چې ددې تګلارې خلاف کوي؛ نو هغه په لوی خطر کې دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

د دين سپکاوی په عام ډول د ټول کافرانو صفت دی؛ خو په ځانګړي ډول د يهودو او منافقانو

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد: **اې د الله بندګانو! پوه شئ چې د دين سپکاوی د يهوديانو صفت دی، چې الله پورې به خندنې کولې، او ويل به يې:**

﴿يَدُ ٱللَّهِ مَغۡلُولَةٌۚ﴾

د الله لاس تړل شوی دی

او داسې به يې ويل:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ فَقِيرٞ وَنَحۡنُ أَغۡنِيَآءُ﴾

بېشکه الله فقير دی او مونږه غنيان يو

او همدا ډول په مؤمنانو پورې مسخرې او خندنې کول د کافرانو صفت هم دی، چې الله پاک يې دې کار ته د جرم نسبت کړی دی، الله فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ أَجۡرَمُواْ كَانُواْ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ يَضۡحَكُونَ ٢٩ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمۡ يَتَغَامَزُونَ ٣٠ وَإِذَا ٱنقَلَبُوٓاْ إِلَىٰٓ أَهۡلِهِمُ ٱنقَلَبُواْ فَكِهِينَ ٣١ وَإِذَا رَأَوۡهُمۡ قَالُوٓاْ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ لَضَآلُّونَ﴾

بېشکه هغه کسان چې جرم (د کفر) يې کړی دی، دوی به په هغو کسانو پورې خندا کوله چې ايمان يې راوړی و، او کله چې به د دوی (مومنانو) په خوا کې تېرېدل (نو) په خپلو منځونو کې به يې سترګګونه وهل، او کله چې به دوی خپلو کورونو ته واپس کېدل (نو) خوشاله به واپس کېدل، او کله چې به دوی دغه (مسلمانان) وليدل (نو) ويل به يې: بېشکه دغه خلق يقينا ګمراهان دي.
او همدا ډول په مومنانو پورې مسخرې او خندنې کول د منافقانو صفت هم دی، او د منافقانو صفت دا دی چې ښکاره د ايمان دعوه کوي، او د شريعت سره چې کوم بغض لري، هغه يې پټ کړی وی، چې له دې جملې څخه سيکولران او ليبرالان او د دوی په څير نور خلک، چې دوی هغه خلکو پورې چې امر بالمعروف کوي، او نهي عن المنكر کوي، خندنې کوي، او همدا شان په حجاب، او په

هغه څه چې په حدیثو کې راغلې په هغې تداوي کول لکه د اوښ بولې، دې پورې خندنې کوي، د الله په فضل د دوی دا چلونه بریالي نه شول، د طبابت له اړخه ددې په اړه په غرب کې د طبې بحثونو ټولنو له لورې چې مسلمانان هم نه دي، وایي چې په دې باندې درملنه کول سم دي، لکه څرنگه چې په نبوي احادیثو کې راغلي دي.

د خطبې پای

الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایک په نبي درود وایي، ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبی) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل نبی محمد صلی الله علیه وسلم باندې درود او سلام نازل کړه.

اې الله! مورږ تا څخه ثابت او ارام ژوند، پراخ او دوامداره رزقونه او زیات او ګټور عمل توفیق غواړو.

اې الله! مورږ تا ته پناه راوړو له دې چې ستا نعمتونه له مورږ څخه له منځه ولاړ شي.

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنیا کې ښګیڼه راکړه، او په آخرت کې هم ښېګڼه راکړه، او د دوزخ له عذابه مو وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه

شپږم ناقض: سحر (جادو) کول

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بندگانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ. پوه شئ چې د پېغمبرانو د دعوت اصلي حقيقت دا دی چې عبادت يوازې د الله لپاره وشي، او کوم شيان چې دا اصل له مينځه وړي، له هغې ځان وساتل شي، تر ټولو ډېر پېښېدونکی انحراف چې دا صل له مينځه وړي، هغه شرک دی، يعنې په عباداتو کې توجه غير الله ته گرځول، لکه له غير الله څخه دعا غوښتل، د الله څخه پرته د بل چا په نوم ذبح کول، همدا ډول د غير الله په نوم نذر کول، د کعبې پرته د نورو ځايونو څخه لکه قبرونه او زيارتونو څخه طواف کول، او له همدې جملې څخه جادو هم دی چې د دې خطبې موضوع ده.

د جادو تعريف، ډولونه او بېلگې

اې د الله بندگانو! جادو هغه تعويذونه، دمونه، غوټې، درمل او لوگي دي چې د انسان په زړه، بدن او سترگو اثر کوي؛ انسان ناروغه کوي، يا يې وژني، يا په فکر او تصور کې باندې اثر کوي، او يا د دوو شريکانو ترمنځ جلاوالی راولي، لکه د مېړه او مېرمنې ترمنځ، او يا د تجارت شريکانو ترمنځ جلاوالی راولي او داسې نور[1].

•اې د الله بندگانو! جادو په دوه ډوله دی: حقيقي او خيالي. حقيقي جادو بيا درې ډولونه لري: لومړی ډول هغه دی چې په بدن اثر کوي، لکه ناروغي يا مرگ. دوهم ډول يې په زړونو اثر کوي، چې مېنه او کرکه راپيدا کوي، لکه هغه ميرمن چې خپل خاوند ورسره مېنه نه لري، ترمينځ يې مينه راپيدکول، او يا ددې برعکس، چې يو بل ته يې په ښه شکل ښکاره کول، چې دې ډول ته يې عطف ويل کيږي، يا دا خاوند ته خپله ميرمن چې مينه ورسره لري، ناخوښه وگرځوي، او يا ددې برعکس، چې يو بل ته يې په بده شکل ښکاره کړي، نو دې ته بيا صرف ويل کيږي، او دريم ډول يې بيا ريښتنی او حقيقي جادو دی، چې په فکر او تصور باندې اثر کوي، جادو شوی داسې گمان کوي چې يو کار مې کړي، او حقيقت کې يې هغه نه وي کړی، لکه د هغه جادو په څير چې لبيد بن اعصم يهودي په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې کړی وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم

---

(١) انظر «المغني»، كتاب المرتد، فصل في السحر، (٢٩٩/٩).

ته داسې خیال کیده چې دا کار ما کړی دی او حقیقت کې به یې هغه کار نه وو کړی، چې څو میاشتو پورې وربانديې دغه د جادو اثر وو[١].

•اې د الله بندګانو! جادوګر د خپل جادو لپاره له شیطانانو مرسته اخلي. کله چې جادوګر جادو کول غواړي، نو خپل نفس د شر او خباثت سره تیاروي کوم شر چې غواړي پر جادو شوي کس یې راولي، بیا د شیطاني ارواحو څخه مرسته اخلي، او په غوټو کې داسې پوک وهي چې لاړې ورسره مل وي، چې دې ته "نفث "ویل کېږي، چې په دې آیت کې یادونه شوی ده:

﴿وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ﴾

او له شره د هغو (جادوګرو) ښځو چې په غوټو کې پوکي وهونکې دي.

مراد له "النَّفَّاثَاتِ "څخه هغه نفسونه او ارواوې دي چې په غوټو کې پوک وهل کیږي، ځکه د جادو اثر د ناکاره نفسونو او شیطاني ارواحو له لوري وي، او اثر یې هم له همدې ځایه څرګندیږي. نو له دې بدو نفسونو څخه داسې ساه راوځي چې له شر او اذیت سره ګډه وي او له لاړو سره مل وي، او دا د شیطاني روح سره یو ځای د هغه کس د زیان سبب کېږي چې جادو پرې کېږي، او د الله د کوني او قدري اجازې په واسطه هغه ته جادو رسېږي ، لکه څنګه چې الله فرمایي:

﴿وَمَا هُم بِضَآرِّينَ بِهِۦ مِنۡ أَحَدٍ إِلَّا بِإِذۡنِ ٱللَّهِۚ﴾[٢]

او په دې (جادو) سره دوی هیڅا ته هم ضرر نه شو رسولی مګر د الله په حکم سره.

•اې د الله بندګانو! ځینې خلک جادوګر ته ورځي څو هغه ته جادو وکړي چې له خپلې کورنۍ یې واړوي، نو بیا داسې شي چې د یو وخت لپاره د خپلې مېرمنې او اولادونو په اړه هېڅ فکر نه لري، تر دې چې په دې موده کې په اسانۍ له هغوی ښکل شي چې کله د کار لپاره ترې لېرې ځي، او کله چې د ښېرته راتګ وخت نږدې شي، جادو ترې خلاص شي!

•اې د الله بندګانو! جادوګران خلک تېرباسي؛ کله ناکله چې چا ته ورشي، د قرآن څه آیتونه هم لولي، څو خلک وغولوي چې دا ښه خلک دي، او داسې فکر وکړي چې چې دا جادوګر د الله د ولیانو څخه دی، او خپل جادو ورته داسې ښکاره کړي چې دا یو خارق العاده کار دي، خو حقیقت دا دی چې دا ټول جادو وي، چې نه یې کول روا دي او نه ورته حاضرېدل روا دي، بلکې ځان ساتل او په هغې باندې رد کول واجب دي.

•اې د الله بندګانو! د خیالي جادو بیا یوه لار لري، او هغه دا چې په سترګو اثر کوي، په بدن، زړه او فکر اثر نه کوي. جادو شوی کس ټول شیان د اصل حقیقت خلاف ویني، حال دا چې شیان په خپل اصل وي اوبدل شوي نه وي. دا ډل جادو بیا د فرعون د جادوګرو له کار سره ورته دی چې له موسی علیه السلام سره یې کړی و، او دا هم د شیطان له کارونو څخه دی.

---

(١) القصة مذكورة في البخاري (٥٧٦٦) ومسلم (٢١٨٩).

(٢) انظر «بدائع الفوائد»، ص ٧٣٦ - ٧٣٧ ، تحقيق علي بن محمد العمران ، الناشر: دار عالم الفوائد - مكة.

•اې خلکو! خیالي جادو، په رښتیا واقع کېږي، د لیدونکي پر سترگو ریښتینی او ښکاره اثر کوي، خو په د لیدونکي څیز په حقیقت باندې اثر نه کوي، بلکې هغه په خپل اصل حقیقت پاتې وي، هغه نه بدلېږي مگر یوازې د الله په امر سره بدلیږي، ځکه چې د یو شي د خلقت بدلون له یوې بنې څخه بلې ته یوازې د الله خصوصیت دی، چې یوازې ذات دی او شریک نه لري .

•په اوسني وخت کې د خیالي جادو له بېلگو څخه هغه څه دي چې د "سرکس "یا پهلوانۍ لوبو په نوم یادیږي، چې پکې جادوگر خلکو ته داسې خیال ور اچوي چې شیان له خپل اصل څخه بدل ښکاري، خو دوی خپل کار جادو نه بولي څو خلک ترې ونه تښتي، بلکې ورته د لوبو او نمایش نوم ورکوي. خو ددې نوم بدلول حکم نه بدلوي، ځکه عبرت حقیقت له دی نوم له نه دی.

د خیالي جادو څخه دا هم دي چې یو څوک موټر په خپلو وېښتو راکاږي، بل تن اور خوري، درېیم ځان په اوسپنیزو سیخونو یا چرو وهي، یا خپله ژبه پرې کوي، بل د څاروي د شا له لارې ننوځي او له خولې یې راوځي، یا له خپلو جامو څخه مرغان راوباسي او داسې نور شیان، ځینې داسې هم دي چې موټر یې پر سینه د خلکو په وړاندې ګرځي، او داسې نور کارونه چې د انسان له وسه پورته دي. دا یا د شیطانانو په مرسته وي چې دا درونده کار ترسره کوي، یا د خلکو په سترگو کې داسې خیال اچول کېږي لکه مخکې چې بیان شو، او دا دواړه د جادوگر له خوا د شیطانانو په مرسته ترسره کېږي.

د جادو په حرمت او د جادوگر په تکفیر دلایل

•اې د الله بندګانو! په قرآن کریم کې د جادوګرو غندنه شوې ده، لکه د الله تعالی دا ویینا:

﴿وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّاحِرُ حَيۡثُ أَتَىٰ﴾

او جادوگر بری نه مومي هر چېرته چې راشي.

او همدارنگه:

﴿وَلَا يُفۡلِحُ ٱلسَّٰحِرُونَ﴾

حال دا چې جادوگر خو بری نه مومي

دا دواړه آیتونه په عمومي ډول د جادوگر لپاره د کامیابۍ نفی کوي، او دا یوازې د هغه چا لپاره وي چې په کفر کې واقع شوی وي[1].

همدارنگه د جادوګرو غندنه او بدي د موسی علیه السلام په ویینا کې هم راغلې ده:

﴿مَا جِئۡتُم بِهِ ٱلسِّحۡرُۖ إِنَّ ٱللَّهَ سَيُبۡطِلُهُۥٓۖ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُصۡلِحُ عَمَلَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ﴾

---

(١) انظر ما قاله العلامة الشنقيطي رحمه الله في تقرير مسألة كفر الساحر استدلالا بهذه الآية عند تفسير قوله تعالى ﴿ولا يفلح الساحر حيث أتى﴾ (سورة طه: ٦٩)

هغه څه چې تاسو راوړي دي، واقعي جادو دی، بېشکه الله به يې ژر تباه (بې اثره) کړي، بېشکه الله د فساد کوونکو کار نه جوړوي.

دا آیت ښکاره دلیل دی چې جادوگر په ځمکه کې فساد کوونکی دی.

•نو دا آيتونه د جادوگر پر کفر، د جادو پر حراموالي، او د خلکو لپاره د هغه پر لوی زیان دلالت کوي. له همدې امله نبي کريم (صلى الله عليه وسلم) جادو د هغو ګناهونو له ډلې ګڼلی چې انسان هلاکوي. له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل: د اوه هلاکوونکو کارونو څخه ځان وساتئ، صحابو ترې پوښتنه وکړه :چې دا کوم کارونه دي؟ ورته يې وفرمايل :د الله شريک نيول، او جادو.[1]...»

او له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمايل :هغه څوک زمونږ څخه نه دی چې بدفالي نيسي يا ورته بدفالي ونيول شي، يا کوډې وکړي او يا کوډګر ته لاړ شي، يا جادو وکړي يا د دې لپاره جادو وشي، او څوک چې کاهن ته لاړ شي او د هغه خبره رښتيا وګڼي، نو هغه پر هغه څه چې پر محمد (صلى الله عليه وسلم) نازل شوي دي، کافر شوی[2].

او د بيهقي په روايت کې له قتاده څخه نقل شوي چې کعب ويلي دي: الله تعالى فرمايلي: هغه څوک زما له بندګانو نه دی چې جادو وکړي يا ورله جادو وشي، يا کهانت وکړي يا ورته کهانت وشي، يا بدفالي ونيسي يا ورته فدفالي ونيول شي، بلکې زما بندګان هغه دي چې ايمان راوړي او پر ما توکل کوي[3].

•اې مؤمنانو! جادوګر ته د جادو لپاره تلل، کفر دی، د کفر وجه يې دا ده چې نوموړی د هغه په دې راضی دی، هم په خپل ځان او هم پر نورو باندې راضي دی .

•بلکې يوازې په جادو رضا کېدل کفر دی، که څه هم انسان يې پخپله ونه کړي، ځکه چې په کفر رضا کېدل خپله کفر دی. دا د هغه چا په شان دی چې د بتانو عبادت يا صليب ته سجده خوښوي، که څه هم يې د بتانو عبادت او صليب ته يې سجده نه وکړي، نو نوموړی په دې سره کافر دی، نو که څوک ووايي: زه نه جادو کوم، نه يې زده کوم او نه خلک پرې هڅوم، خو په خپل کور او ټولنه کې يې په په واقع کيدو له زړه راضي يم او انکار هم ترې نه کوم؛ نو دا هم کافر دی، ځکه چې په

---

(١) رواه البخاري (٢٧٦٦)، ومسلم (٨٩).

(٢) رواه البزار كما في «كشف الأستار» (٣٠٤٤)، و الطبراني في «الكبير» (١٦٢/١٨)، ولفظه: عن عمران بن حصين أنه رأى رجلا في عضده حلقة من صُفْرٍ (أي النحاس الأصفر)، فقال له: ما هذه؟ قال: نُعِـــتت لي من الواهنة. قال: أمَا إن مِتَّ وهي عليك وُكِلت إليها، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس منا من تطير أو تطير له ... الحديث. قال الهيثمي: رواه البزار ورجاله رجال الصحيح خلا إسحاق بن الربيع وهو ثقة. انظر «مجمع الزوائد» (١١٧/٥). ورواه البزار أيضًا عن ابن عباس رضي الله عنهما كما في «كشف الأستار» (٣٠٤٣)، وصححه الألباني في «صحيح الجامع الصغير» (٥٤٣٥) و «السلسلة الصحيحة» (٢١٩٥).

(٣) انظر «شعب الإيمان» (١١٧٦).

کفر رضا کفر دی، او څوک چې لږ تر لږه په زړه کې کفر رد نه کړي، نو په زړه کې يې ايمان نشته -الله دې تړې موږ وساتې -

جادوگر د ربوبيت او عبادت په توحيد کې شرک رايوځای کړی دی

•اې د الله بندگانو! دا جادوگران چې خيالي جادو کوي او بيا دا دعوه هم کوي چې دوی د حقيقتونو د بدلولو توان لري، په حقيقت کې يې دوه ډوله شرک سره يو ځای کړی دی: يو دا چې د کايناتو په چارو کې د تصرف دعوه کوي، او بل دا چې له غير الله څخه مرسته غواړي. لومړی د ربوبيت په توحيد کې شرک دی، او دوهم د عبادت په توحيد کې شرک دی، او دا دواړه لوی د گمراهۍ کارونه دي او شرک دی، د ربوبيت شرک يې دا دی چې دوی دعوه کوي چې حقيقتونه بدلوي، حق دا دی چې بدلون يوازې د الله په لاس کې دی، هغه د کايناتو يوازينی مدبر دی، او هماغه خالق دی چې د يو شي ښه له يوه جنسه بل ته اړوي، خو دا جادوگران دعوه کوي چې له الله سره شريک دي، حال دا چې دا دروغجن دي، ځکه هغه څه چې دوی يې د بدلون دعوه کوي، په اصل کې نه بدلېږي، بلکې کله چې جادو يې ختم شي، اغېزه يې له منځه ځي او خلکو ته حقيقت ښېرته څرگندېږي.

او په الوهيت کې شرک يې دا دی چې دوی له شيطانانو مرسته غواړي، هغوی ته سجده او قرباني کوي، آن تر دې چې کله ناکله د قرآن سپکاوی هم کوي ترڅو هغوی راضي کړي، ځکه شيطانان له دوی څخه يوازې کفر او فساد غواړي. نو جادوگر د هغه شيطان عبادت کوي چې ورسره مرسته کوي، او دا د هغه د کفر اصل دی، شيطان بيا د چادوگر له عبادته گټه اخلي، ځکه دا د يې هغه موخه ده چې له انسانانو يې غواړي، لکه څنگه چې الله فرمايي:

﴿أَلَمْ أَعْهَدْ إِلَيْكُمْ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعْبُدُواْ ٱلشَّيْطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ۝٦٠ وَأَنِ ٱعْبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٌ مُّسْتَقِيمٌ﴾

ای بني ادمو! ايا ما تاسو ته کلك حکم نه و کړی، داسې چې تاسو د شيطان عبادت مه کوئ. يقينًا هغه ستاسو ښکاره دښمن دی او داسې چې تاسو زما عبادت کوئ، دا نېغه لار ده.

نو د پورته دلايلو پر بنسټ، جادو د قرآن، سنت او د علماوو د اجماع له مخې حرام دی[1].

جادوگر له هغه شيطان چې په جادو کې مرسته ورسره کوي، او د عامو خلکو څخه څه گټه ترلاسه کوي؟

•اې د الله بندگانو! جادوگر له شيطان څخه ځينې گټې ترلاسه کوي، لکه دا چې شيطان هغه په ډېر سرعت سره ليرې ځايونو ته رسوي، او نور داسې کارونه هم کوي.

(١) انظر «مجموع الفتاوى» (١٧١/٣٥).

•او جادوګر بیا کمزورو اړمنو خلکو اړتیا څخه ګټه ترلاسه کوي، چې د مال په بدل کې ورته جادو ترسره کړي، او دا درې واړه -شیطان، جادوګر، او هغه څوک چې جادوګر ته ورځي -په حقیقت کې خپله دنیا او آخرت تباه کوي.

د جادوګرو په وړاندې د مسلمانانو او حاکمانو دنده

•اې د الله بندګانو! پر موږ واجب ده چې خلک له جادو او جادوګرو څخه وویروو، او اړوندو ادارو ته یې په اړه خبر ورکړو که چیرته کوم هیواد کې شریعت حاکم وي، یوازې دا بسنه نه کوي چې انسان پخپله جادوګر ته ولاړ نه شي، بلکې دا هم جایز نه دي چې د جادوګرو په مجلسونو کې ګډون وکړي، د هغوی شمېر زیات کړي او کار ته یې بازار پیدا کړي، حتی که دا کار د تلویزیون، فضایي چینلونو یا اپلیکیشنونو له لارې ولې نه وي، او یا که څه هم د تفریح، تجسس یا د هغوی د کار د کتلو په نیت هم وي.

•اې د الله بندګانو! پر جادوګرو او د هغوی په څېر کسانو د شرعي حد تطبیق د الله له لویو عبادتونو او الله ته د نزدې کوونکو کارونو څخه دی، ځکه هغوی په ځمکه کې فساد کوونکي دي، له أبو هريرة رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) وفرمایل :د ځمکې پر مخ د یو حد جاري کول د خلکو لپاره تر دې غوره دي چې څلوېښت سهار باران پرې وشي[1].

ابن تيمية رحمه الله ویلي دي: باید هر هغه څه له منځه یووړل شي چې د جادوګرو سره په جادو کې مرسته کوي، په لارو او کوڅو کې د کیناستو څخه منع شي، د کور خاوند دې خپل کور هغوی ته په کرایه نه ورکوي. دا د الله په لاره کې له غوره جهادونو څخه دی[2].

اې د الله بندګانو! د جادو څخه د ځان ساتنې د وجوب اړوند، او همدارنګه جادوګر او هر هغه څوک چې جادوګر ته د جادو لپاره راځي د هغوی په تکفیر یوه ګټوره مقدمه.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونعفني وإياكم بما فيه من البيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

له جادو څخه د ځان ساتنې لارې او د جادو د واقع کېدو وروسته یې د علاج اسباب

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او په هغه شئ چې له جادو څخه د ځان ساتنې له مهمو لارو څخه یوه لار دا ده چې انسان

---

(١) رواه ابن ماجه (٢٥٣٨)، وهو عند النسائي (٤٩١٩) بنحوه، وابن حبان (٤٣٩٨)، وأحمد (٣٦٢/٢)، وصححه الألباني في «السلسلة الصحيحة» (٢٣١).

(٢) انظر «مجموع الفتاوى» (٩٤/٣٥ - ٩٧)، باختصار وتصرف يسير.

ځان د سهار او ماښام په شرعي اذکارو سره خوندي وساتي .او که جادو واقع شي، نو د هغه د علاج لارې درې دي: **لومړی** او تر ټولو مهمه لاره دا ده چې د سهار او ماښام اذکار په پابندۍ سره وویل شي. **دوهمه لاره**، چې ډېره ګټوره ده، دا ده چې د جادو ځای معلوم شي، که په ځمکه کې وي، که په غره کې یا بل هر ځای کې، نو کله چې هغه پیدا شي او راویستل شي او له منځه یووړل شي، جادو ختمېږي . **دریمه لاره**، چې د هغه سړي لپاره ګټوره ده چې له خپلې مېرمنې سره د نږدېوالي توان ترې اخیستل شوی وي، دا ده چې د شنې سدر ونې اوه پانې واخلي، په ډبره یا بل شي یې وټکوي، بیا یې په یو لوښي کې واچوي او دومره اوبه پرې واچوي چې د غسل لپاره بس شي، او په دې اوبو کې دا آیتونه ولولي :آیة الکرسي، ﴿قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ﴾، ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾، ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ﴾، ﴿قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ﴾، او همدارنګه د جادو آیتونه چې په سورت الأعراف، سورت یونس او سورت طه کې راغلي دي .

بیا دې له دې اوبو درې ځله وڅښي او په پاتې اوبو دې غسل وکړي، نو په دې سره به ناروغي له منځه ولاړه شي، که الله وغواړي. او که اړتیا وي، دا کار څو ځله تکرارول هم ستونزه نه لري، تر څو چې ناروغي یې ختمه شي.

الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایک په نبي درود وایي، ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبی) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اللهم پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام ولېږه، او د هغه له ملګرو، راشدینو خلفاوو او نېکو امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته پورې په نېکۍ سره د هغوی پیروي کوي، راضي شه.

اللهم زموږ عقیده وساته، زموږ امنیت وساته، او زموږ روزي وساته .اللهم موږ تا ته پناه دروړو د بدو خلکو له شره، د فاسدو خلکو له مکره، او د شپې او ورځې له ناوړه پېښو څخه، پرته له هغه چې په خیر راشي، ای مهربانه!

زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه، او په آخرت کې هم نېکي راکړه، او موږ د دوزخ له عذابه وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه أجمعين

اوم ناقض: کهانت

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د غيبو د علم صفت يوازې د يو الله سره دی

ای د الله بندگانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر حالت کې يې ځارنه وکړئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني مه کوئ. پوه شئ چې د توحيد څخه دا ه ده چې د الله په نومونو او صفتونو کې يوازې وگڼل شي، او د هغې د صفتونو له جملې څخه يو صفت هغه د علم الغيب دی، دا خبره (چې يوازې الله په غيبو پوهېږي) په قرآن، سنت او د علماوو په اجماع ثابته ده.

د قرآن دليل : الله تعالی فرمايي:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ﴾

ته (دوی ته) ووايه: هر هغه څوك چې په اسمانونو او ځمكه كې دي په غيبو نه پوهېږي غير له الله نه.

د حديثو نه دليل: له ربيع بنت معوذ رضی الله عنها روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د يوې ماشومې څخه واوريدل: زمونږ په منځ كې داسې نبي شته چې د سبا په خبره هم پوهېږي.

نو رسول الله ﷺ ورته وويل دا خبره مه کوئ، د سبا خبره يوازې الله ته معلومه ده[1].

همدارنگه له ابن عمر رضی الله عنهما روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د غيبو کونجيانې پنځه دي، چې يوازې الله ته معلومې دي، چې سبا کې به څه کېږي، د مينديو په رحمونو (نس) کې څه دي، باران به کله راځي، انسان به په کومه ځمكه مري، قيامت به کله راځي[2].

نو د غيب علم يوازې د الله ځانگړنه ده، هېڅوک ورسره شريک نه دی—نه کوم نږدې ملايک او نه کوم پيغمبر، هر څوک چې دا دعوه وکړي چې دی يا بل څوک په غيبو پوهېږي، نو هغه الله او مخلوق سره شريک کړل په هغه څه کې چې هغه يوازې الله پورې ځانگړی دی، او د مخلوق سره

---

(١) رواه ابن ماجه (١٨٩٧)، وصححه الألباني رحمه الله، وأصله في البخاري (٥١٤٧).

(٢) أخرجه البخاري (٤٧٩٧).

يې مشابه کړه، او دا لوی شرک دی. د اهل سنتو يو لوی امام نعيم بن حماد رحمه الله ويلي دي : هر څوک چې الله د مخلوق سره مشابه کړي، نو هغه کافر شو.

د کاهن او عرّاف تعريف

ای د الله بندگانو! ځينې خلک داسې دعوه کوي چې دوی د غيب علم لري او د الله سره د هغه په ځانگړتياوو کې ځان شريکوي، دا خلک کاهنان او عرّافان دي.

کاهن: هغه چا ته ويل کيږي، چې په راتلونکې وخت کې د غيبياتو د پيژندنې دعوه کوي.

عراف: عام نوم دی چې کاهن، منجم، رمال او نور ټول پکې راځي، يعنې هغه کسان چې د غيب دعوه کوي، عراف بيا د مبالغې صيغه ده د عرف څخه.

شيخ ابن عثيمين رحمه الله وايي: کهانت د دروغو او بې بنسټه خبرو له لارې د پټو شيانو د معلومولو هڅه ده، او دا کار د جاهليت په زمانه کې د شيطانانو په مرسته کېده، شيطانان د آسمان خبرې غلا کولې او کاهنانو ته يې رسولې، هغوی به پرې دروغ زياتول او خلکو ته به يې ويل، کله به يې چې ځينې خبرې سمې راووتې، خلک پرې دوکه شول، بيا به يې د هرې پريکړې لپاره دويو ته رجوع کوله، چې په راتلونکې که به څه کيږي، له دې امله مورِ وايو: کاهن هر هغه جا ته ول کيږي، چې د مستقبل د غيبياتو په اړه خبرونه ورکوي.

کاهن څه ډول د غيبو دعوه کوي

اې مومنانو !کاهن د غيبو د دعوې لپاره يوه د دې دوو لارو څخه کاروي: **لومړی لار** هغه د شيطانانو څخه ترلاسه کوي، او هغه داسې چې شيطانان د آسمان څخه د ملايکو خبرې راغلا کوي، دليل په دې د بخاري روايت دی مرفوع د عائشې رضی الله عنها څخه: ملايک وريځو ته پورته کيږي، او د کوم څخه پريکړه چې اسمان کې وشي، شيطانان هغه راغلا کړي، او بيا يې کاهنانو ته ورسوي، سل نور درواغ ورسره دخپل ځانه نور وزيات کړي[1] .

کاهن د الله بندگانو! بيا دغه دروغ نورو خلکو ته ورسوي، کله يې چې کومه خبره ريښتنې وي؛ نو هغه غلا شوې وي.

دوهمه لاره چې کاهن پرې معلومات ترلاسه کوي، د پېريانو څخه مرسته اخيستل دي، له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې ځينو خلکو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه د کاهنانو په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه وفرمايل: «هغوی هېڅ حقيقت نه لري» صحابو ورته وويل: «ای د الله رسوله! هغوی کله کله داسې خبرې کوي چې رښتيا وي» نو هغه وفرمايل: «هغه يوه رښتينې کلمه وي چې پېرۍ يې (له اسمانه) غلا کړي، بيا يې د خپل ملگري (کاهن) په غوږ کې داسې واچوي لکه چرگه چې اواز وکړي، او بيا هغوی له هغې سره تر سلو زيات دروغ نور ورگډ کړي[2]»

---

(١) رواه البخاري (٣٢١٠).

(٢) رواه البخاري (٦٢١٣) ومسلم (٢٢٢٨)، واللفظ للبخاري.

دا ټول د دې خبرې څرگند ثبوت دی چې کاهنان له پیریانو سره اړیکه لري، کله چې یو انسان له کاهن سره اړیکه ونیسي او د خپل ورک شوي شي په اړه ترې پوښتنه وکړي، نو هغه شریر پیری د هغه ورک شي ځای کاهن ته وروښيي، بیا کاهن هماغه ځای انسان ته بیان کړي، خو له هغې سره به سل دروغ هم ور گډ کړي، کله چې انسان وگوري چې د دغه کاهن خبره او معلومات ریښتیا شي، نو بیا یې هره خبره ریښتیا گڼي، او بیا دا گمان کوي چې نوموړی د غیبو علم لري.

له هغو لارو څخه چې کاهن پرې معلومات تر لاسه کوي، یوه هم د پیري له «قرین» یا ملگري څخه مرسته اخیستل دي، هر انسان په پیریانو کې قرین او ملگری لري، چې ځینې یې د خبر خوا ته رابولي، او همدارنگه ځینې یې بیا شر ته رابولي، دا خبره په صحیح روایت کې له عبد الله بن مسعود رضي الله عنه څخه ثابته ده، چې وایي: رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: «ستاسې له هر یوه سره الله یو قرین له پیریانو څخه ګمارلی دی[۱]».

او په بل روایت کې راغلي: «له هغه سره د پیریانو او ملایکو څخه قرین دواړه ټاکل شوي دي[۲]». نو کاهنان له همدې ملگرو څخه مرسته اخلي، ځکه هغوی انسان ته د هغه د شخصي چارو خبر ورکولی شي—هغه څه چې قرین پرې خبر وي؛ لکه د هغه د کار ځای، د هغه د مېرمنې او مور نوم، د هغه د ښار نوم، د کور پته، او دې ته ورته نور معلومات[۳].

اې د الله بندګانو! کاهن د هغه شیطان عبادت کوي کوم سره چې اړیکه لري، او دا د هغه د خدمت په بدل کې کوي، او دا د شیطان موخه او هدف دی، چې د انسانانو د بې لارې کولو پرته بل هیڅ موخه او هدف نه لري، ځکه چې دا د دوی دنده او پیغام دی؛ نو جادوګر، کاهنان او عرّافان د دوی په جال کې ونښلي—هغوی د انسانانو له ډلې شیطانان دي، او هغه نور د پیریانو له ډلې شیطانان دي. موږ په الله تعالى سره د دوی له شره څخه پناه غواړو.

اې د الله بندګانو! له لطایفو څخه دا هم ده چې ځینې هغه کسان چې په شرعي رُقیه درملنه کوي او د جادوګرو او کاهنانو چلونه پېژني، وایي: که غواړې کاهن رسوا کړې، نو له هغه څخه د داسې شي پوښتنه وکړه چې ته خپله هم پرې نه پوهېږې؛ ځکه که ته پرې نه پوهېږې، نو ستا د جِنّي قرین به هم خامخا پرې نه پوهېږي، او په دې توګه به کاهن هیڅ ځواب ته ونه رسېږي. لکه دا چې له ځمکې څخه څو دانې تیږې راواخلې، په لاس کې یې ټینګې ونیسې، بیا له کاهن څخه وپوښتې: زما په لاس کې څو دانې تیږې دي؟ نو هغه به په دې وخت کې تېښته کوي او ځواب به ورنه کړي؛ ځکه ستا قرین له دې خبر نه دی، نو کاهن به ځواب له کومه راوړي؟!

---

(۱) رواه مسلم (۲۸۱٤).

(۲) المصدر السابق.

(۳) انظر ما قاله ابن حجر رحمه الله في «فتح الباري» ، شرح حديث (٥٧٥٨) ، وكذا ما قاله الشيخ سليمان بن عبد الله بن محمد بن عبد الوهاب رحمهم الله جميعًا في «تيسير العزيز الحميد» ، باب ما جاء في الكهان ونحوهم.

لنډه دا چې کاهنان په خپلو چارو کې پیریانو ته ورگرځي او د پېښو په اړه ترې پوښتنې کوي، هغوی بیا ورته ځینې خبرې ور اچوي. کله کله د کاهن خبره له تقدیر سره برابره شي، نو اورېدونکی گمان وکړي چې گواکي کاهن ته د غیبو څه راز څرگند شوی دی، او په همدې فتنه کې ولوېږي. ناپوه انسان دا کار د کشف او کرامت په توگه تعبیر کړي، او داسې انگیري چې دا کاهن د الله له دوستانو څخه دی، حال دا چې هغه د شیطان له دوستانو څخه وي. لکه څنگه چې الله تعالی په سورة الشعراء کې فرمایي:

﴿هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ٢٢١ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٖ ٢٢٢ يُلۡقُونَ ٱلسَّمۡعَ وَأَكۡثَرُهُمۡ كَٰذِبُونَ﴾

ایا زه تاسو ته خبر درکړم چې په چا باندې شیطانان راکوزېږي ؟دوی په هر ډېر دروغجن، سخت مجرم باندې راکوزېږي دوی غوږ ږدي (د ملایکو خبرو ته) او د دوی زیاتره دروغجنان دي

له هغه چا چې د غیبو د علم دعوه کوي نجومیان دي

ای د توحید خاوندانو! له هغو کسانو څخه چې د غیب د علم دعوه کوي، نجومیان هم دي. نجومي هغه څوک دی چې په خپل گمان د ستورو د حرکت له مخې د راتلونکو پېښو پېژندنه کوي؛ لکه د بادونو د لگېدو وختونه، د باران راتگ، د گرمي او یخني راڅرگندېدل، د بیو بدلون او داسې نور. دوی دا ادعا لري چې دا ټول د ستورو د خپل مدار په حرکت، د هغوی د یوځای کېدو او نښلېدو له لارې پېژني، او گواکي دا هر څه پر ځمکنیو چارو اغېز لري. دې ته د «تأثیر علم »ویل کېږي، او څوک چې دا دعوه کوي کله ناکله ورته «حازي »هم ویل کېږي. په دې حالت کې نجومي له ستورو سره خبرې کوي، نو شیطان ورته داسې انځورونه وړاندې کوي چې له مخې یې هغه پر یادو شویو شیانو استدلال کوي، او دا ټول له خرافاتو څخه دي.

ای د الله بندگانو! په نجوم کې دا هم شامل دي چې د (ابجد) توري د ستورو له حرکت سره وترې تر څو د راتلونکو پېښو په اړه پوهه تر لاسه کړي. همدا هغه څه دي چې ابن عباس رضي الله عنهما ورته اشاره کړې ده، کله چې یې ویلي: «ځینې خلک (ابجد) حسابوي او ستورو ته گوري، او زه داسې خلکو لپاره کومه د خیر برخه نه وینم »[1].

او د نجوم له نښو څخه دا هم دي چې ځینې منجم-فلکیان دا دعوه کوي چې د انسان د راتلونکي په اړه پوهېږي، او دا خبرې په ورځپاڼو او مجلو کې خپروي. هغوی وایي چې څوک چې د فلان ستوري (برج) لاندې زېږېدلی وي، لکه د عقرب برج، نو بخت به یې بد وي؛ او څوک چې د میزان په برج کې زېږېدلی وي، نو بخت به یې ښه وي، او همداسې نورې ادعاوې کوي.

---

(١) رواه عبد الرزاق في «مصنفه» برقم (١٩٨٠٥) واللفظ له، والبيهقي في «السنن الكبرى» (١٣٩/٨).

ای د الله بندگانو! د نجوم حکم د جادو (سحر) له حکم سره نږدې او ورته دی، ځکه د دواړو تر منځ گډ ټکی له شیطانانو سره اړیکه او مرسته ده. د دې خبرې دلیل د ابن عباس رضي الله عنهما حدیث دی، هغه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې د ستورو له علمه (د غیبو د پوهېدو لپاره) څه زده کړي، نو هغه د جادو یوه برخه زده کړه؛ او هر څومره چې زیات کړي، هماغومره (په گناه کې) زیاتېږي[۱]».

د «اقتبس »معنی ده: زده یې کړه او ترلاسه یې کړه. او «شُعبه من النجوم »یعنې د ستورو د علم یوه برخه، چې دې ته د «تأثیر علم »هم ویل کېږي؛ یعنې دا عقیده چې د ستورو حرکتونه د ځمکې پر پېښو اغېز لري. او د «فقد اقتبس شعبة من السحر »مطلب دا دی چې هغه کس د جادو له ډولونو څخه یوه برخه زده کړه. او د «زاد ما زاد »معنا دا ده چې هر څومره څوک د نجوم علم زده کړه کوي، هماغومره د جادو د زده کړه زیاتوي.

کاهنانو، عرافانو او نجومیانو ته د ورتگ د تحریم دلایل

ای د الله بندگانو! د اسلامي شریعت له ځانگړتیاوو څخه دا ده چې د شرک، خرافاتو او دروغو نفی کوي، له همدې امله یې د کاهنانو (غیب ویونکو او فالگرانو) ته ورتلل حرام کړي دي، ځکه چې د هغوی ته د ورتگ په نتیجه کې ډېر لوی دیني فسادونه رامنځته کېږي. همدارنگه شریعت سخت وعید بیان کړی د هغه چا لپاره چې عراف یا کاهن ته ورشي، که څه هم یوازې د پوښتنې لپاره ولې نه وي.

امام مسلم له صفیې رضي الله عنها له لارې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ځینو مېرمنو څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «څوک چې عراف ته ورشي او له هغه څخه د څه شي پوښتنه وکړي، د هغه د څلوېښتو شپو لمونځ نه قبلېږي[۲]».

په دې حدیث کې سخت وعید په هغه چا باندې راغلی چې چې یوازې د پوښتنې لپاره عراف ته ورشي، که څه تصدیق یې هم نه وي کړی، د داسې کس د څلوېښتو ورځو لمونځ نه قبلېږي، خو هغه په دې عمل سره کافر نه گرځي.

خو هغه څوک چې له کاهن یا عراف څخه پوښتنه وکړي او د هغوی خبرې رښتیا وگڼي او تصدیق یې هم وکړي، نو هغه کافر کېږي او د اسلام له دین څخه وځي. ځکه چې په تصدیق کولو سره یې دا باور وکړ چې هغوی د الله تعالی له ځانگړو صفتونو څخه په یوه صفت کې، یعنې د غیب په علم کې، له الله سره شریک دي. په دې توگه یې قرآن دروغ وباله، نو کفر یې وکړ—نعوذ بالله.

---

(۱) رواه أحمد (۳۱۱/۱)، وأبو داود (۳۹۰۵)، وابن ماجه (۳۷۲۶)، وحسنه الألباني كما في «الصحيحة» (۷۹۳).

(۲) رواه مسلم (۲۲۳۰).

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «څوک چې کاهن يا عراف ته ورشي او د هغه خبره ړښتيا وگڼي، هغه په هغه څه کافر شو چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي[1]».

او له عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «له موږ څخه نه دی هغه څوک چې بدفالی کوي يا د هغه لپاره بدفالی اخيستل کېږي، يا کاهني کوي يا د هغه لپاره کاهني کېږي، يا جادو کوي يا د هغه لپاره جادو کېږي. او څوک چې کاهن ته ورشي او د هغه خبرې ړښتيا وگڼي، هغه په هغه څه کافر شو چې پر محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوي دي[2]».

د هغو خلکو بيان چې په منځ کې يې کهانت ډېره خپرېږي

اى د الله بندگانو! هغه څوک چې په مينځ کې کهانت ډير خبرېږي، هغه صوفيان دی، د دوی اکثر شيخان کاهنان او عرافان وي، ځکه چې دوی د خپلو شيخانو لپاره د ولايت او کرامت دعوې کوي، او د غيبو د علم دعوی د دوی په نزد د ولايت او کرامت د مستلزماتو څخه ده، چې هغو ورته «کشف »وايي، د غيبو د علم دعوی ورته نه وايي، ترڅو د دوی کارونه رسوا نه شي.

اې د الله بندگانو! دا يوه ګټوره سريزه ده. پکې دا خبره شوې چې انسان بايد ځان له کاهنۍ څخه وساتي—که پخپله دا کار کوي، که ورسره ښکېل کېږي، او يا يې يوازې په زړه کې خوښوي. همدارنګه پکې دا هم بيان شوي چې کاهن، عراف، او هغه څوک چې هغوی ته ورځي، په کفر کې واقع کېږي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

د هغو چارو بيان چې له کهانت سره تړاو لري

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې د الله بندگانو !د الله څخه ووېرېږئ او پوه شئ چې له کهانت سره يو شمېر نور کارونه هم تړاو لري، لکه «الطَّرْق» دا هم د کوډګرۍ يو ډول دی چې پخوا عربانو به د خپلو ادعاوو له مخې د پټو شيانو د معلومولو لپاره کاراوه. «طرق» د لارې وهلو يا پرې تګ کولو ته وايي، يعنې څوک چې پر ځمکه تګ کوي. دوی

---

(۱) رواه أحمد (٤٢٩/٢) وغيره، وحسنه محققو «المسند».

(۲) رواه البزار كما في «كشف الأستار» (٣٠٤٤)، و الطبراني في «الكبير» (١٦٢/١٨)، ولفظه: عن عمران بن حصين أنه رأى رجلا في عضده حلقة من صُفْرٍ (أي النحاس الأصفر)، فقال له: ما هذه؟ قال: نُعِـــتت لي من الواهنة. قال: أمَا إن مِتَّ وهي عليك وُكِلت إليها، قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ليس منا من تطير أو تطير له ... الحديث. قال الهيثمي: رواه البزار ورجاله رجال الصحيح خلا إسحاق بن الربيع وهو ثقة. انظر «مجمع الزوائد» (١١٧/٥). ورواه البزار أيضًا عن ابن عباس رضي الله عنهما كما في «كشف الأستار» (٣٠٤٣)، وصححه الألباني في «صحيح الجامع الصغير» (٥٤٣٥) و «السلسلة الصحيحة» (٢١٩٥).

به پر ځمکه کرښې رسم کړي، لکه گواکې چې په هغې گرځي، بيا به هغه څوک چې ورغلی به وو، د دې کرښو له مخې به يې ورته د غيبو د علم خبرې په خپل گمان کولې.
له کهانت سره بل څه چې تړاو لري هغه« الرمل» دی، په دې کې کوډگر په شگو باندې د لاس په وسيله کرښې جوړوي، بيا دعوه کوي چې د همدې له لارې د غيبو په خبرو پوهېږي، او هغه ته «رمال »ويل کېږي.
همدارنگه بل هغه څه چې له کهانت سره تړاو لري د ډبرو اچول دي، کله چې له کوډگر څخه د کومې پېښې پوښتنه وشي، هغه څو کوچنۍ ډبرې راوباسي او په ځانگړي ډول يې غورځوي، بيا د خپلې دروغجنې دعوې له مخې د پوښتنې ځواب څرگندوي.
او په دې زمانه کې له همدې ډول کارونو څخه« زهر الطاوله »او« دومين »دي، چې د راتلونکي اټکل د هغو شمېرونو له مخې کوي چې پر زهر ليکل شوي وي. همدارنگه د «کوتشين لوستل »او د لوبيا د دانې په وسيله اټکل کول هم له همدې ډول کارونو څخه دي.
د کهانت له ډولونو څخه يو بل کار هغه« د فنجان لوستل» دي، يعنې د قهوې پياله. کوډگر هغه پاتې شوې قهوې ته گوري، پر ديوالونو يې کرښې جوړوي، بيا د هغې له مخې د راتلونکي خبرې کوي او دعوه کوي چې داسې به وشي او هغسې به وشي.
د کهانت له له ډولونو څخه بل هم «د اور لوستل» دي، چې کوډگر د سکرو او لمبو بنې ته گوري او دعوه کوي چې د راتلونکي پېښې به له همدې نه معلومېږي.
د کهانت له ډولونو څخه يو دا هم دی چې د لاس کرښې گوري. کاهن د لاس کرښو ته گوري—د هغو د تقاطع او اتصال ځايونو ته—او بيا وايي چې د انسان په ژوند کې به داسې او داسې پېښې وشي.»
د کهانت له ډولونو څخه« عيافه »هم ده، يعنې د مرغانو له حرکت نه ناسمې نښې اخستل. که مرغۍ ښي لوري ته والوزي، نو ښه فال يې گڼي، او که چپ لوري ته لاړ شي، بد فال يې گڼي. دا هم د کوډگرۍ يو ډول دی.
په دې کې شک نشته چې دا ټول باطل دی، ځکه مرغان د الله مخلوق دي، هغوی هېڅ تاثير او تدبير نه لري، بلکې الله تعالی هغوی ساتي او چلوي. لکه څنگه چې الله تعالی فرمايي:

﴿أَلَمۡ يَرَوۡاْ إِلَى ٱلطَّيۡرِ مُسَخَّرَٰتٖ فِي جَوِّ ٱلسَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا ٱللَّهُۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَٰتٖ لِّقَوۡمٖ يُؤۡمِنُونَ﴾

ايا دوی مرغانو ته نه دي کتلي چې د اسمان په فضا کې مسخر کړی شوي دي، دوی لره نه ساتي (له غورځېدلو نه) مگر الله، بېشکه په دې کې خامخا ډېرې نښې دي د هغو خلقو لپاره چې ايمان راوړي
او همدارنگه فرمايي:

﴿أَوَلَمْ يَرَوْاْ إِلَى ٱلطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا ٱلرَّحْمَٰنُۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيْءٍۭ بَصِيرٌ﴾

او ایا دوی د خپل (سر) له پاسه مرغانو ته نه دي کتلي، په داسې حال کې چې خپل وزرونه پرانستونکي وي او ټولوي يې، دوی (له پرېوتلو نه) نه راټينګوي مګر رحمن ذات، بېشکه هغه هر شي لره ښه ليدونکی دی

او له کهانت سره تړاو لرونکی بل عمل الطِّيَرَة ده، يعنې بدفالي اخيستل. دا هر ډول ناوړه ګومان ته ويل کېږي، که هغه له څه ليدل شوي شي څخه وي يا له اورېدلي شي څخه.

د "طيرة "اصل د مرغانو له لارې بدفالي نيولو ته وايي، پخوا به خلک مرغان الوځول؛ که به مرغی ښي لوري ته والوتله نو به يې ښه فال باله، او که چپ لوري ته به لاړه نو بد فال به يې باله. له همدې ځايه «طيرة »په لغوی اصل کې عيافه ته وايي.

وروسته دا معنا نوره هم پراخه شوه، تر دې چې خلکو به له ډېرو شيانو بدفالي اخيسته؛ له مرغانو، حيواناتو، انسانانو او حتٰی له شميرو څخه، د مثال په ډول د ګونګي، کارغه، د ۱۳ شمارې، ړوند، کوږ ستړګی او ګودډ انسان څخه بدفالي نيوله، کله به يې چې ړوند يا داسې بل مصيبت زده وليد، بيا به يې ويل :زما ننۍ ورځ خرابه او بده شوه، خپل دکان به يې بند کړ، نه به يې څه خرڅول او نه به يې اخيستل، چې په يقين سره به نن ورځ به ما ته مصيبت رارسيږی، ځينې وخت به يې ويل که د چا په ښي لاس کې خارښت پيدا شي نو دا به داسې او هاغسې کېږي، او که په چپ لاس کې به خارښت ورته پيدا شو، داسې کار به کيږي، او داسې نور کارونه هم وو چې دوی پرې بدفالي نيوله، حال دا چې الله تعالی په دې شيانو کې هېڅ ډول بدفالي نه ده ايښې، خو دوی به له ځانه ورته معنا ورکوله او خپل ورځ به يې په تشو وسو بدبخته ګڼله، په داسې حال کې چې الله تعالی دا شيان بد نه دي ګرځولي.

دا ډول فکر داسې ښکاري لکه هغوی چې د الله تعالی په پټو چارو کې ځان شريک ګڼي او ګومان کوي چې راتلونکی مصيبت له دې لارې څخه پيژني، او حال دا چې په حقيقت کې دا د داسې کارونو ناوړه کارونو د واقع کيدو اسبابو څخه نه دي .

بدفالي نويل حرام دي، بلکې شرک دی، په دې خبره دليل د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه حديث دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: چا چې د بدفالی له امله خپل کار پرېښود، هغه شرک وکړ. صحابه کرامو وپوښتل: د دې کار کفاره څه ده؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: داسې دې ووايي: اې الله! ستا له خير پرته بل خير نشته، ستا له تقدير پرته بل تقدير نشته، او له تا پرته بل معبود نشته[1].

ددې د بطلان بل دليل هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث هم دی :«نه ناروغي پخپله ليږدېدونکې ده، نه بد فال شته، نه د هامې (د مړو د روح د ګرځېدو باور) حقيقت لري، او

(۱) رواه أحمد (۲۲۰/۲)، وحسنه محققو «المسند».

نه هم د صفر (بدشگون) کوم حقیقت لري»؛ نو د "ولا طیرة "خبره ښکاره دلیل دی چې بدفالي حقیقت نه لري.

خلاصه خبره دا ده اې مومنانو! د کهانت ډولونه ډېر دي، خو ټول کاهنان یوه ګډه خبره لري: هغه دا چې د غیب د علم دعوه کوي. ځینې یې رښتیا له شیطانانو سره اړیکه لري، او ځینې یې یوازې خلک تېر باسي او دروغ وایي. الله دې مونږ د دوی له شره وساتي.

اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې چې الله تاسې ته په یو لوی کار امر کړی دی، الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایک په نبي درود وایي، ای هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبی) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اللهم پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام ولېږه، او د هغه له ملګرو، راشدینو خلفاوو او نېکو امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته پورې په نېکۍ سره د هغوی پیروي کوي، راضي شه.

اللهم زمونږ عقیده وساته، زمونږ امنیت وساته، او زمونږ روزي وساته

اللهم مونږ تا ته پناه دروړو د بدو خلکو له شره، د فاسدو خلکو له مکره، او د شپې او ورځې له ناوړه پېښو څخه، پرته له هغه چې په خیر راشي، ای مهربانه!

زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا کې نېکي راکړه، او په آخرت کې هم نېکي راکړه، او مونږ د دوزخ له عذابه وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه

اتم ناقض: د مسلمانانو پر وړاندې د کافرانو ملاتړ او مرسته

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

په الله باندې ايمان د مؤمنانو سره دوستي او مينه غواړي

اې د الله بندگانو! له الله تعالی څخه وويريږئ، او تل د هغه څار او مراقبت ته پام کوئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ. پوه شئ چې په الله باندې ايمان دا غوښتنه کوي چې له مؤمنانو سره دوستي، مينه او مرسته وشي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤْتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ﴾

او مومن سړي او مومنې ښځې د دوی ځينې د ځينو نورو دوستان دي، دوی د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي، دغه کسان (چې دي) ضرور به الله په دوی رحم وکړي، بېشکه الله ډير غالب، ښه حکمت والا دی

په الله باندې ايمان د کفر او کافرانو سره بغض غواړي، او د کافرانو سره د دوستۍ معنی څه ده

اې مؤمنانو! د ايمان له غوښتنو څخه دا هم ده چې له کفر او کافرانو څخه کرکه او تري بيزاري وشي. ځکه رښتينی مؤمن هغه څه خوښوي چې الله او د هغه رسول خوښ کړي وي، او هغه څه بد ګڼي چې الله او د هغه رسول بد ګڼلي وي، د دې ضد بيا د د کافرانو سره دوستي ده، چې دا د دنيا د ګټو لپاره له هغوی سره مينه کول دي؛ دا فسق دی او له لويو ګناهونو څخه شمېرل کېږي، خو داسې کفر نه دی چې انسان له اسلامه وباسي.

الله تعالی په قرآن کې په څو ځايونو کې د کافرانو له دوستۍ څخه منع کړې ده، له هغې جملې څخه دا آيت دی:

﴿لَّا يَتَّخِذِ ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡكَٰفِرِينَ أَوۡلِيَآءَ مِن دُونِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَلَيۡسَ مِنَ ٱللَّهِ فِي شَيۡءٍ﴾

او مومنان دې له (خپلو) مومنانو نه غیر کافرانو لره دوستان نه جوړوي، او څوك چې دا کار وکړي، نو نه دی (دغه کس) د الله (له ډلې) نه په هیڅ شي کې

او بل ځای فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو زما دښمنان او خپل دښمنان دوستان مه نیسئ، چې تاسو دوی ته مینه وروړاندې کوئ، حال دا چې دوی په هغه حق باندې کافران شوي دي چې تاسو ته راغلی دی.

د کافرانو سره د دوستۍ معنی او د هغې حکم

اې د الله بندګانو! د کافرانو سره «تولي» د مجرد موالات یعنې د هغوی سره د دوستۍ او اړیکو لرلو څخه زیات ژور مفهوم لري، کافرانو سره د تولي معنی دا ده چې انسان د هغوی مرسته او ملاتړ د مسلمانانو پر ضد وکړي؛ داسې چې که د اسلام او کفر تر منځ جګړه رامنځته شي، نو هغه د کافرانو په صف کې ودریږي، هغوی ته نصرت ورکړي او د مسلمانانو پر ضد د هغوی مرسته وکړي، که هغه په وسلو وي، یا په مال، یا په مشوره او پلان جوړونه کې وي، په دې نیت سره چې کفر پر اسلام غالبه شي. دا کار د اسلام له نواقضو څخه دی، الله تعالی دې مونږ ترې وساتي، او دلیل په دې دا آیت کریمه دی :

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾

او په تاسو کې چې چا له دغو (کفارو) سره دوستي وکړه، نو همدغه کسان ظالمان دي.

او د دې د کفروالي وجه دا ده چې دا کار د اسلام او د مسلمانانو له کرکې او دښمنۍ سره تړاو لري، حال دا چې الله تعالی د اسلام، د پیغمبر، د دین اسلام او مسلمانانو سره د مینې لرلو امر کړی دی، نو کله چې څوک د کافرانو مرسته کوي او د مسلمانانو پر ضد ودریږي، دا عمل د همدې الهی حکمونو خلاف او د هغې په ضد کې واقع کیږي .الله دې مونږ له داسې حالت نه وساتي.

شیخ الشنقیطي رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي:

﴿وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمۡ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ﴾

یعنې څوک چې له دوی سره دوستي او ملاتړ وکړي، نو هغه له هغوی څخه شمېرل کېږي، ځکه چې د هغوی په ملاتړ کې ورګډ شوی دی. او الله تعالی په بل ځای کې خرګنده کړې چې د هغوی

دوستي د الله د غضب او د دوزخ د تل پاتې عذاب سبب گرځي، او که څوک ایمان ولري نو د هغوی ملگرتیا نه کوي، (له لږ تصرف سره نقل شوی)

اې مؤمنانو! دا تصور نه شي کېدای چې یو مسلمان دې د بل مسلمان پر ضد د کافر سره مرسته وکړي، او دا کار یوازې د منافقانو او د هغوی په څېر کسانو څخه رامنځته کېږي، لکه ځینې هغه کسان چې د کافرانو هېوادونو ته هجرت کوي، هلته اوسېږي او د هغوی په پوځونو کې کار کوي، داسې خلک کله ناکله د وظیفوي مکلفیت په نوم د مسلمانانو پر ضد د کفارو په جگړو کې برخه اخلي. الله دې مورږ له داسې حالاتو وساتي[1].

د الله بندگانو! دا یوه ګټوره مقدمه ده چې په کې د مؤمنانو د دوستۍ واجبوالی، له کفر او کافرانو څخه بېزاري، او په اسلامي عقیده کې د «ولاء او براء» مفهوم واضح شوی دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

د کافر سره کرکه د هغه سره پر ظلم کولو دلالت نه کوي؛ ځکه اسلام د عدل دین دی

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، ای د الله بندگانو! د الله څخه وویریږئ او په شئ چې د کافر سره د دښمنۍ او کرکې درلودل دا معنا نه لري چې له هغه سره دې ظلم یا ناسم چلند وشي، یا د دهغوی سره سوداګري، اخیستل او خرڅول، اجاره، یا معاهدې او ټرونونو تعامل او داسې نور شیان حرام وګڼل شي، دا دواړه جلا خبرې دي؛ په معاملاتو کې عدل واجب دی، په چلند کې ښه سلوک او نیک اخلاق مطلوب دي، رسول الله ﷺ به له کافرانو سره، سره له دې چې له هغوی او د هغوی له دین څخه به یې کرکه درلوده، بیا هم په ښه توګه چلند کاوه، ان تر دې چې له هغوی سره به یې نرمي کوله که څه هم هغوی د جگړې بندیان به وو. دا د الله تعالی د دې قول د عملي کولو له مخې وو:

﴿وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا﴾

او دوی د هغه (الله) په مینه کې مسکین او یتیم او بندي ته طعام ورکوي

ای الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او له هغه څخه راضي شه، همدارنګه د هغه له اصحابو، د حق پر لاره روانو خلفاوو، او د دیني امامانو څخه راضي شه، او له تابعینو او د هغوی له نیکو پیروانو څخه تر قیامته پورې رضایت ولره.

ای الله! زمورږ عقیده وساته، زمورږ امنیت وساته، او زمورږ روزي وساته.

---

[1] انظر ما قاله ابن تيمية رحمه الله في الفتاوى (٢٨/٥٣٠-٥٣١).

ای الله! موږ دناکاره خلکو د شر، د مفسدینو له چلونو، د شپې او ورځې له ناڅاپي آفتونو څخه په تاسره پناه غواړو، پرته له هغه څه چې ستا له لورې د خیر لپاره راخې، اې ډېر رحم کوونکیه ربه!

اې الله! موږ ته له خپلې وېرې څخه هغه برخه راکړه چې موږ د ګناه څخه وساتي، او له خپلې اطاعت څخه هغه برخه راکړه چې موږ ستا جنت ته ورسوي، او له داسې یقین څخه مو برخمن کړه چې د دنیا ستونزې راته سپکې کړي.

ای الله! زموږ د ژوند تر پایه پورې د اوربدو، لیدو او قوتونو څخه برخمن وساته، او دا نعمتونه تر مرګه پورې راسره وساته.

اې الله! موږ له تا د هر خیر که عاجل وي او که په راتلونکې وخت کې وي؛ غوښتنه کوو، که موږ پرې پوهېږو او که نه پرې پوهېږو. او موږ په تاسره د هر عاجل او راتلونکې شر نه پناه غواړو، که موږ پرې پوهېږو او که نه پرې پوهېږو.

ای الله! موږ له تا جنت او د هغه عملونو توفیق غواړو چې موږ جنت ته نږدې کوي، او له تا د دوزخ او د هغه عملونو څخه لیرې والی غواړو چې چې دوزخ ته مو نږدې کوي.

زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې هم ښه ژوند راکړه او په آخرت کې هم ښه ژوند راکړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

سبحان ربنا رب العزة عما یصفون, وسلام علی المرسلین، والحمدلله رب العالمین.

اللهم صل وسلم علی نبینا محمد وآله وصبحه

نهم ناقض: د اسلامي شريعت څخه د وتلو د جواز عقيده لرل

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځي خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د اسلام شريعت د ټولو انسانانو او پېريانو لپاره دی

اې د الله بندګانو! له الله تعالی څخه وويريږئ، و تل د هغه څار او مراقبت ته پام کوئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ. پوه شئ چې د اسلام شريعت د ټولو مخلوقاتو لپاره که هغه انسانان وي او که پيريان وي؛ عام دی، او دا به د قيامت تر ورځې پورې همداسې وي. الله تعالی خپل پيغمبر ته فرمايلي دي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا﴾

ته ووايه: اى خلقو! بېشكه زه ستاسو د ټولو په طرف د الله (رالېږل شوى) رسول يم.

دلته د "الناس" كلمه انسانانو او پېريانو دواړو ته شامله ده.

او پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي :ما ته پنځه ځانگړنې راكړل شوې دي چې له ما مخكې هېڅا ته نه وې وركړل شوې، او له هغو څخه يې دا هم يادە كړه :پخوا به هر پيغمبر يوازې خپل قوم ته رالېږل كېده، خو زه ټولو خلكو ته رالېږل شوى يم[(١)].

الله له ټولو پيغمبرانو څخه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د تابعدارۍ ژمنه اخيستې كه دوى د هغه زمانه ومومي، او د هغه په شريعت كې به داخليږي .

اې مؤمنانو! الله تعالى له ټولو پيغمبرانو څخه ژمنه اخيستې وه چې كه دوى د محمد (صلى الله عليه وسلم) زمانه ومومي، نو بايد د هغه شريعت تعقيب كړي او مرسته يې وكړي. الله تعالى فرمايي:

﴿وَإِذۡ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلنَّبِيِّـۧنَ لَمَآ ءَاتَيۡتُكُم مِّن كِتَٰبٖ وَحِكۡمَةٖ ثُمَّ جَآءَكُمۡ رَسُولٞ مُّصَدِّقٞ لِّمَا مَعَكُمۡ لَتُؤۡمِنُنَّ بِهِۦ وَلَتَنصُرُنَّهُۥۚ قَالَ ءَأَقۡرَرۡتُمۡ وَأَخَذۡتُمۡ عَلَىٰ ذَٰلِكُمۡ إِصۡرِيۖ قَالُوٓاْ أَقۡرَرۡنَاۚ قَالَ فَٱشۡهَدُواْ وَأَنَا۠ مَعَكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ٨١ فَمَن تَوَلَّىٰ بَعۡدَ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٨٢ أَفَغَيۡرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبۡغُونَ وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ طَوۡعٗا وَكَرۡهٗا وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُونَ﴾

او كله چې الله د نبيانو (نه) پخه وعده واخيسته چې هر هغه څه چې زه يې تاسو ته له كتاب او حكمته دركړم، بيا تاسو ته يو رسول راشي چې د هغه څه تصديق كوونكى وي چې له تاسو سره دي (نو) تاسو به خامخا په هغه ايمان راوړئ او خامخا به د هغه مدد كوئ، (الله) وويل: ايا تاسو اقرار وكړ او په دې باندې تاسو زما درنه وعده قبوله كړه، هغوى وويل: مونږ اقرار وكړ، (الله) وويل: نو تاسو گواه شئ او زه (هم) تاسو سره له گواهانو ځنې يم، نو څوك چې له دې نه بعد وگرځېده، نو همدغه خلق فاسقان دي, ايا نو دوى د الله له دين نه غير (بل دين) غواړي، حال دا چې خاص هغه (الله) ته غاړه ايښې ده، هر هغه څه چې په اسمانونو او ځمكه كې دي، په خوښه، يا په ناخوښه، او خاص هغه ته به دوى وركرځولى شي.

همدارنگه، روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د عمر رضى الله عنه په لاس كې د اهل كتابو ځينې پاڼې وليدې، نو غصه شو او ويې فرمايل :قسم دى په هغه ذات چې زما روح د هغه په

---

(١) رواه البخاري (٣٣٥) ومسلم (٥٢١)، وفي الباب عن أبي هريرة، رواه مسلم (٥٢٣).

لاس کې دی، که موسی علیه السلام ژوندی وای، نو هغه ته به هم پرته له دې بله لار نه وه، مگر دا چې زما پیروي یې کړې وای[(١)].

او په صحیح حدیث کې راغلي چې عیسی بن مریم علیه السلام به د آخري زمانې په پای کې چې کله راکوز شي، نو د اسلام د شریعت پیروي به کوي او په همدې به فیصله کوي[(٢)].

د اسلامي شریعت د پخوانیو شریعتونو ناسخ دی

اې د الله بندگانو! اسلامي شریعت د پخوانیو شریعتونو ناسخ دی، یعنې هغه احکام چې له دې مخکې په شریعتونو کې راغلي وو، لغوه کوي، پرته له هغو چې قرآن یې تایید کړی وي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ﴾

او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی.

یعنې: اې رسوله! مونږ تا ته قرآن نازل کړی، چې ټول حق پکې دی، د پخوانیو کتابونو د رښتینولی شاهدي ورکوي چې هغه هم د الله له طرفه وو، سمې خبرې یې تاییدوي، تحریف شوې برخې یې ښکاره کوي، او د هغوی ځینې شریعتونه منسوخوي.

اسلامي شریعت د قیامت تر ورځې پورې پاتې کېدونکی دی

اې د الله بندگانو! اسلامي شریعت د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له بعثته تر قیامته پورې به دوام لري، دا د پخوانیو شریعتونو خلاف دی، ځکه هغه به موقتي وو، تر هغه وخته پورې به وو، چې نوی شریعت به راغی، او بیا به یې هغه پخوانی شریعت منسوخ کړ.

شریعتونه په اسلام، پیغمبران په محمد صلی الله علیه وسلم، او اسماني کتابونه په قرآن پای ته رسیدلي دي

لنډه خبره دا چې ټول شریعتونه په اسلام پای ته ورسیدل، د پیغمبرانو اختتام او پای په محمد صلی الله علیه وسلم سره وشوه، او د آسماني کتابونو پای په قران او د امت اجابت پای بیا په اسلامي امت سره شوی دی.

د اسلام څخه د وتلو د جواز عقیده درلودل، د اسلام له نواقضو څخه دي

اې د الله بندگانو! د پورته دلایلو پر بنسټ، اسلام ته داخلېدل او هغه ته غاړه ایښودل د دین له هغو څرگندو او ضروري کارونو څخه دي چې هېڅوک یې له ناپوهۍ څخه عذر نه لري، نو څوک چې

---

(١) رواه أحمد (٣٨٧/٣) عن جابر بن عبد الله الأنصاري رضي الله عنهما، وحسنه الألباني في «إرواء الغليل» (٣٤/٦).

(٢) انظر قصة نزول المسيح وقتله للدجال في «صحيح مسلم» (٢٨٩٧) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وكذا في (١٥٦) عن جابر بن عبد الله الأنصاري ضي الله عنهما، وكذا في (٢٩٣٧) عن النواس بن سمعان الكلابي رضي الله عنه.

دا گمان وکړي چې یو انسان کولی شي د اسلامي شریعت څخه ووځي، هغه کافر دی، که څه هم لمونځ به کوي، روژه به نیسي او ځان به مسلمان ګڼي، همدارنګه، که څوک ووایي چې انسان کولی شي د الله عبادت د یهودیت، نصرانیت یا بل هر دین له لارې وکړي، نو هغه کافر شوی دی -الله دې تړي مونږ وساتي -ځکه چې دا د الله له حکم سره مخالفت دی او د قرآن له څرګند بیان څخه انکار دی، د دې خبرې دلیل دا آیت دی:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ ٱلْإِسْلَٰمِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِى ٱلْءَاخِرَةِ مِنَ ٱلْخَٰسِرِينَ﴾

اوځوك چې له اسلام نه غیر (بل) دین غواړي، نو هیڅکله به له ده نه قبول نه کړی شي او دغه کس په اخرت کې له تاوانیانو څخه دی

ابن تیمیه رحمه الله وایي: محمد بن عبدالله صلی الله علیه وسلم د ټولو مخلوقاتو -انسانانو او پېریانو، عربو او عجمو، نږدې او لرې، پاچاهانو او رعیت، زاهدانو او نورو -ټولو لپاره د الله رسول دی. هغه د پیغمبرانو وروستی پیغمبر دی؛ له هغه وروسته بل پیغمبر نشته او نه د قرآن وروسته کوم بل کتاب راتلونکی شته، هغه وروستی پیغمبر دی، قرآن چې پرې نازل شوی، چې د پخوانیو کتابونو تصدیق کوونکی او پر هغو حاکم دی؛ نو څوک چې دا عقیده ولري چې مخلوقات کولی شي چې د الله اطاعت او پیروی څخه ځان وباسي؛ نو هغه کافر دی[1].

هغه رحمه الله دا هم ویلي: که څوک دا گمان وکړي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له لارې پرته نورې لارې تر هغې غوره دي، یا دا چې ځینې اولیاء کولی شي د محمد صلی الله علیه وسلم له شریعت څخه ووځي؛ نو دا کس کافر دی، او د توبې ایستلو وروسته باید سزا ورکړل شي[2].

د ځینو بېلارو ډلو یادونه چې په دې ناقض کې واقع شوي دي

اې د الله بندګانو! ځینې ډلې بیا دا عقیده لري چې انسان کولی شي چې د اسلام څخه ووځي، لکه د صوفیانو ځینې بېلارې شوې ډلې، په دې غلط باور کې لوېدلي دي، شیطان هغوی وغولول، نو هغوی دا اجازه ورکړه چې د دوی ځینې مشران که د الله د پېژندنې یوې ټاکلې درجې ته ورسېږي -د دوی په وینا -نو بیا کولی شي د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له پیروی څخه لاس واخلي، بېشکه دا خبره باطله ده؛ ځکه پیغمبران او همدارنګه صحابه د الله تر ټولو ښه پېژندونکي وو، خو بیا هم هغوی تر مرګه پورې د الله عبادت کاوه، هیڅ یو یې فرض عبادات پرې نه ښودل او نه یې حرام کارونه حلال وبلل، بلکې ځینې یې په داسې حال کې وفات شول چې یا په رکوع، یا سجده، یا روژه، یا ذکر، یا د قرآن په تلاوت بوخت وو، دا هماغه معنا ده چې دوی به له الله څخه د ښې خاتمې دعا غوښته، مونږ هم له الله څخه د ښې خاتمې سوال کوو.

د دوی د دې باطلې خبرې د رد له دلایلو څخه دا آیت هم دی:

---

(١) انظر «مجموع الفتاوى» (٢٧/٥٩).

(٢) انظر «مجموع الفتاوى» (٢٧/٥٨-٥٩)، وانظر «مجموع الفتاوى» (١١/٤٠١) وما بعدها.

﴿وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ﴾

او د خپل رب عبادت کوه تر هغه پورې چې تا ته يقين (مرګ) راشي

دلته "يقين" د مرګ په معنا دی، لکه څنګه چې مفسرينو دا تفسير کړی دی.

بلکې رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ته د هغه مخکيني او راتلونکي ګناهونه بښل شوي وو، خو سره له دې يې هېڅکله عبادات پرې نښود، لا به يې زيات عبادت کاوه، سره له دې چې د الله څخه تر ټولو زيات وېريدونکی او ډېر عبادت کوونکی انسان وو، آن تر دې چې دومره به يې لمونځ کاوه چې پښې به يې وپړسېدې، کله چې به ورته وويل شول، نو هغه به وفرمايل: ايا زه د الله شکرګذار بنده جوړ نه شم[1].

اې د الله بندګانو! له هغو خطرناکو غلط فهميو څخه دا هم ده چې ځينې خلک وايي: چشريعت خو د پخواني زمان لپاره و، د اوسني وخت لپاره مناسب نه دی، ځکه اوس نوي معاملات او چارې پيدا شوې دي چې شريعت ورته شامل نه دی.

دا خبره دا معنا لري چې ګواکي شريعت نيمګړی دی، او دا بېخي باطله خبره ده، اسلامي شريعت د هر وخت او هر ځای لپاره مناسب دی، آن تر قيامته پورې وي، نه پکې نيمګړتيا شته، نه کمی او نه تېروتنه؛ ځکه دا د داسې ذات له لوري راغلی شريعت دی چې ډېر حکيم، په هر څه خبر او پر خپلو بندګانو ډېر مهربانه دی، الله تعالى د اسلامي شريعت اړوند بيان کړی چې بشپړ دی:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ﴾

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړو.

د شريعت له کمالاتو څخه دا هم ده چې د هر وخت او هر ځای سره مناسب دی، نو څوک چې شريعت ته د نيمګړتيا نسبت کوي، په حقيقت الله چې د شريعت جوړوونکي دی، هغه ته د نقص نسبت کوي حال دا چې الله له دې شيانو پاک دی، او دا کس په حقيقت کې د دې آيت پر مطلب ايمان نه لري، ځکه آيت وايي شريعت کامل دی، خو هغه وايي ناقص دی؛ نو دا د کفر خبره ده - الله دې ترې مور وساتي[2].

اې د الله بندګانو! دا يوه ګټوره مقدمه ده، د دې لپاره چې د اسلامي شريعت پابندي لازمي ده، او دا عقيده لرل چې له شريعت څخه وتل روا دي؛ باطله عقيده ده.

---

(١) انظر صحيح البخاري (١١٣٠) ومسلم (٢٨١٩) عن المغيرة بن شعبة رضي الله عنه.

(٢) قاله الشيخ صالح بن فوزان الفوزان في كتابه: «شرح نواقض الإسلام»، ص ١٨٣ ، الناشر: مكتبة الرشد - الرياض.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

په ځينو شريعتونو ايمان او په ځينو كفر كول د اسلامي شريعت څخه وتل دي

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې د الله بندګانو! له الله څخه وويريږئ، او په دې خبره ځان پوه كړئ چې د قرآن په ځينو برخو ايمان راوړل او په ځينو كفر كول، يعنې په ځينو شريعتونو ايمان او په ځينو كفر كول، يا په ځينو پيغمبرانو ايمان او په ځينو كفر كول—دا د اسلامي شريعت څخه وتل دي، كه څه هم ددې اعتقاد لرونكى دا فكر لري چې د ټول شريعت څخه نه دى وتلى، الله آسماني كتابونه نازل كړي او پيغمبران يې رالېږلي دي تر څو خلك په ټولو ايمان راوړي، له زړه يې ومني؛ نو څوك چې له دې څخه يو هم رد كړي، هغه كافر دى، الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكۡفُرُونَ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيُرِيدُونَ أَن يُفَرِّقُواْ بَيۡنَ ٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ وَيَقُولُونَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٖ وَنَكۡفُرُ بِبَعۡضٖ وَيُرِيدُونَ أَن يَتَّخِذُواْ بَيۡنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا ١٥٠ أُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ حَقّٗاۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ عَذَابٗا مُّهِينٗا﴾

بېشكه هغه كسان چې په الله او د هغه په رسولانو كافران كېږي او دوى غواړي چې د الله او د هغه د رسولانو په مينځ كې بېلتون وكړي او دوى وايي چې مونږ په ځينو ايمان راوړو او په ځينو كافر كېږو او دوى غواړي چې د دې (اسلام او كفر) په مينځ كې (بله) لار ونيسي, دغه كسان په رښتيا كافران دي او مونږ د كافرانو لپاره سپكوونكى عذاب تيار كړى دى.

اې د الله بندګانو! په دې كې هغه كسان هم راځي چې وايي: مونږ پر قرآن ايمان لرو، خو پر نبوي سنت ايمان نه لرو، دا د اسلام له ماتوونكو څخه دى؛ ځكه څوك چې قرآن او سنت دواړه يا له هغو څخه يو هم رد كړي، هغه كافر كېږي، همدارنګه، كه څوك ووايي چې پر قرآن ايمان لري، خو د صحابه كرامو عدالت او د نبي صلى الله عليه وسلم د مېرمنو چې كومه پاكي بيان شوې، هغه نه مني؛ او همدارنګه هغه خبرې چې ځينې خلك يې كوي، لكه دا چې: دين بايد له ژوند څخه جلا وي، چې خلك كولى شي چې په سياست او معاملاتو كې له شريعت څخه لرې ووسي، او يوازې په عباداتو لكه لمونځ، روژه او نورو باندې بسنه وكړي دا ټولې خبرې له دې اعتقاد سره تړلې دي چې په ځينو شريعتونو ايمان لري او په ځينو نورو بيا كفر كوي.

نو څوك چې په دې ډول عقيده كې واقع شي، د هغه ايمان باطلېږي او له اسلام څخه وځي—الله دې ترې مونږ وساتي—كه څه هم لمونځ به كوي، روژه به نيسي او ځان به مسلمان بولي؛ ځكه د هغه

د زړه عقیده د شریعت مخالفت کوي او د رب العالمین پر وړاندې سرغړونه ده، که څه هم په خوله یې څرگنده نه کړي، او اصل اعتبار د زړه پر عقیده دی.

ناپوهي او تکبر هغه ناروغۍ دي چې خلک یې دې انحراف ته اچولي چې د اسلامي شریعت څخه وتل جواز لري

اې د الله بندگانو! د دې خبرو کولو خلک چې هغه که د صوفیانو ځینې ډلې وي یا سیکولران دي، چې په دې فکر کې واقع شوي، دې حالت ته جهل او تکبر رسولي دي، د جهل علاج هغه علم او پوهه ده، او د تکبر علاج بیا د الله عظمت رایادول، او دا احساس لرل چې هرومرو د الله حضور ته به ورځو، او یوه ورځ به راسره الله د دې سرغړونې او د خپل شریعت د نه منلو له امله حساب راسره کوي.

بیا د ځمکې پرمخ په غوره انسان، د ټولو انسانانو د سردار محمد بن عبدالله چې د حوض او شفاعت خاوند دي؛ درود ووایئ،اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او له هغه څخه راضي شه، همدارنگه د هغه له اصحابو، د حق پر لاره روانو خلفاوو، او د ديني امامانو څخه راضي شه، او له تابعینو او د هغوی له نیکو پیروانو څخه تر قیامته پورې رضایت ولره.

اې الله! زموږ عقیده وساته، زموږ امنیت وساته، او زموږ روزي وساته.

اې الله! موږ دناکاره خلکو د شر، د مفسدینو له چلونو، د شپې او ورځې له ناڅاپي آفتونو څخه په تاسره پناه غواړو، پرته له هغه څه چې ستا له لورې د خیر لپاره راخې، اې ډېر رحم کوونکیه ربه!

اې الله! موږ ته له خپلې وېرې څخه هغه برخه راکړه چې موږ د ګناه څخه وساتي، او له خپلې اطاعت څخه هغه برخه راکړه چې موږ ستا جنت ته ورسوي، او له داسې یقین څخه مو برخمن کړه چې د دنیا ستونزې راته سپکې کړي. اې الله! تر څو چې موږ ژوندي یو، زموږ غوږونه، سترګې او ځواکونه راته سالم وساته، او دا تر اخره پورې زموږ سره پاتې کړه.

اې الله! زموږ زړونه مه اړوه وروسته له دې چې ته موږ ته سمه لار را وښوده، او له خپل لوري موږ ته رحمت راکړه، بېشکه ته ډېر ورکوونکی یې.

اې الله! موږ له تا څخه هر ډول خیر غواړو، که ژر وي او که وروسته، که موږ پرې پوهېږو او که نه، او له هر ډول شر څخه درته پناه راوړو، که ژر وي او که وروسته، که موږ پرې پوهېږو او که نه.

اې الله! موږ له تا څخه جنت غواړو او هر هغه کار او خبره چې جنت ته نږدې کوي، او له اور څخه درته پناه راوړو او له هر هغه کار او خبرې څخه چې اور ته نږدې کوي.

اې الله! موږ تا ته له ګمراه کوونکو فتنو او د شیطان له وسوسو څخه پناه راوړو.

اې الله! د مسلمانانو حالتونه په هر ځای کې ښه او سم کړه.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون, وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصبحه

لسم ناقض: د الله د دين څخه مخ اړول نه يې زده کول، او نه پرې عمل کول

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

اى خلكو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوې له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

د اسلامي شريعت منل او د هغې اطاعت کول واجب دی

اې د الله بندګانو! له الله تعالى څخه ووېرېږئ، د هغه څارنه په ځان لازمه وګرځوئ، د هغه اطاعت وکړئ او له نافرمانۍ يې ځان وساتئ، پوه شئ چې الله تعالى د قرآن کريم په درې دېرشو ځايونو کې [1] د رسول الله ﷺ د اطاعت امر کړی دی، له هغو څخه د الله تعالى دا وينا ده:

(١) قال شيخ الإسلام رحمه الله: وقد أمر الله بطاعته في أكثر من ثلاثين موضعا من القرآن، وقرن طاعته بطاعته، وقرن بين مخالفته ومخالفته، كما قرن بين اسمه واسمه، فلا يذكر الله إلا ذكر معه. «مجموع الفتاوى» (١٠٣/١٩). وهكذا قال الآجري في «الشريعة»، ص ٤٩ .

﴿وَمَآ ءَاتَىٰكُمُ ٱلرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَىٰكُمۡ عَنۡهُ فَٱنتَهُواْۚ﴾

او رسول چې تاسو ته څه هم درکړي، نو هغه واخلئ او له څه نه چې هغه تاسو منع کړي، نو تاسو منع شئ.

او همدارنگه فرمايي:

﴿قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾

(ای نبي!) ته ووايه: د الله اطاعت کوئ او د (هغه د) رسول، بيا که دوی وګرځېدل، نو بېشکه الله له کافرانو سره مينه نه کوي.

او دا هم فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ وَلَا تَوَلَّوۡاْ عَنۡهُ وَأَنتُمۡ تَسۡمَعُونَ﴾

اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی! تاسو د الله او د هغه د رسول حکم منئ او له دې (اطاعت) نه مه ګرځئ، په دې حال کې چې تاسو اورئ.

او فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡۖ﴾

اې هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! د الله خبره منئ او د رسول خبره منئ او د خپلو د امر د خاوندانو.

همدارنگه نبوي احاديث په پرله پسې توګه د رسول الله ﷺ د پيروی، اطاعت، د هغه د لارې د تعقيب، د هغه د سنتو د منلو، او د هغه د امر او نهی د درناوي په اړه ټينګار کوي، له دې جملې څخه د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :زما ټول امت به جنت ته ننوځي، پرته له هغه چا چې جنت ته د ننوتلو څخه انکار وکړي، صحابوو پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! څوک به جنت ته د تللو څخه انکار کوي؟ هغه وفرمايل: څوک چې زما اطاعت وکړي، جنت ته به داخل شي، او څوک چې زما نافرماني وکړي، هماغه انکار وکړو[1].

او له ابوهريره رضي الله عنه څخه بل روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :چا چې زما اطاعت وکړ، په حقيقت کې يې د الله اطاعت کړی، او چا چې زما نافرماني وکړه، نو د الله نافرماني يې وکړه[2].

او همدارنگه بل روايت ترې هم نقل دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :کله چې زه تاسو له يو شي څخه منع کړم، نو ځان ترې وساتئ؛ او کله چې د يو کار امر درته وکړم، نو تر خپلې وسې يې ترسره کړئ[3].

او له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل :په هغه ذات قسم چې زما ساه يې په لاس کې ده، تاسو به ټول جنت ته داخل شئ، پرته له هغه چا چې انکار

(۱) رواه البخاري (۷۲۸۰).

(۲) رواه البخاري (۷۱۳۷)، ومسلم (۱۸۳۵).

(۳) رواه البخاري (۷۲۸۸)، ومسلم (۱۳۳۷).

وکړي او د الله له حکم څخه لکه د تښتېدلي اوښ په شان وتښتي .پوښتنه وشوه: اې د الله رسوله! څوک به جنت ته له داخلېدو انکار کوي؟ هغه وفرمايل: چا چې زما اطاعت وکړ، جنت ته به داخل شي، او چا چې زما نافرماني وکړه، هماغه انکار وکړ[۱].

د الله له دين څخه د اعراض تعريف او دا پيژندنه چې دا کار د اسلام د نواقضو څخه دی

اې د الله بندګانو! د الله تعالی او د هغه د رسول ﷺ د اطاعت ضد، هغه د الله له دين څخه اعراض کول دي؛ يعنې انسان نه دين زده کوي او نه پرې عمل کوي، او له هغو بنسټيزو اصولو څخه مخ اړوي چې پر هر مکلف يې زده کول او عملي کول لازم دي، هغه اصول چې بې له هغو اسلام سم نه وي، دا ډول انسان د الله څخه په غوږونو او زړونو سره اعراض کوي، نه يې رښتيا ګڼي او نه يې دروغ بولي، نه ورسره دوستي کوي او نه دښمني، او هېڅکله هغه څه ته غوږ نه نيسي چې رسول الله ﷺ راوړي دي،[۲] لکه د ايمان ارکان او هغه څه چې ورسره تړلي دي، او هغه عبادتونه چې د ايمان بالله لازمي برخې دي، لکه لمونځ، زکات، د الله او د هغه د رسول سره مينه، او دې ته ورته نور کارونه. دا ټول پرېښودل د اسلام له ماتوونکو څخه دي، الله دې موږ ترې وساتي، د دې خبرې دليل د الله تعالی دا وينا ده:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَـٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعْرَضَ عَنْهَآ ۚ إِنَّا مِنَ ٱلْمُجْرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾

او څوك دی لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په ايتونو سره پند ورکړی شي، بيا هغه له دغو (ايتونو) نه مخ وګرځوي، بېشکه مونږ له مجرمانو نه انتقام اخيستونکي يو

يعنې هېڅوک تر هغه زيات ظالم نه دی چې د الله له آيتونو څخه مخ اړوي. الله تعالی هغه مجرم بللی دی، نو هغه څوک چې هېڅ ظاهري عمل نه کوي او يوازې د شهادتين ويلو باندې اکتفا کوي، کافر دی، د علماؤ په اصطلاح ورته «د عمل د جنس پرېښودونکی» ويل کېږي، او ځينې خلک يې له دينه خلاص شوی بولي، حقيقت دا دی چې له شريعت څخه مخ اړوونکي زړونه فاسد وي؛ ځکه که زړه په ايمان سم شي، نو اندامونه به يې په عمل پسې روان شي، زړه پاچا دی او اندامونه يې لښکرې دي، چې سرغړونه ترې نه کوي؛ خو کله چې زړه بېکاره شي، نو غړي هم بېکاره شي، له الله څخه د سلامتۍ غوښتنه کوو[۳].

د الله د دين څخه د اعراض اړوند ترهيب او وېرونه

---

(۱) رواه ابن حبان (۱۹٦/۱ - ۱۹۷) برقم (۱۷)، ورجاله رجال مسلم، والحديث له شواهد تقويه كحديث أبي هريرة المتقدم، وحديث أبي هريرة الذي رواه أحمد (۳٦۱/۲) وغيره، وسنده على شرط الشيخين كما قال الحافظ في «الفتح»، شرح حديث (۷۲۸۰). باختصار من حاشية الشيخ شعيب على الحديث أعلاه.

(۲) قاله ابن القيم في «مدارج السالكين» (٥۲۱/۱)، الناشر: دار عالم الفوائد.

(۳) انظر للفائدة «مجموع الفتاوى» لابن تيمية (۲۰٤/۷ وما بعدها، وهو كتاب «الإيمان الكبير»، ونقل فيه أقوالا عن أئمة السلف الصالح رحمهم الله. وانظر أيضا (٦۱۱/۷، وهو كتاب «الإيمان الأوسط» له).

اې د الله بندګانو! له دين څخه د مخ اړولو په اړه په قرآن کې ډېر سخت خبرداری راغلی دی، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَنۡ أَعۡرَضَ عَن ذِكۡرِي فَإِنَّ لَهُۥ مَعِيشَةٗ ضَنكٗا وَنَحۡشُرُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ أَعۡمَىٰ﴾

او هغه څوك چې زما له ذكر (قرآن) نه مخ وګرځوي، نو بېشكه د ده لپاره ډېر تنګ ګذران (او ژوند) دی او دی به مونږ د قيامت په ورځ ړوند راپورته كوو.

او فرمايي:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ ثُمَّ أَعۡرَضَ عَنۡهَآۚ إِنَّا مِنَ ٱلۡمُجۡرِمِينَ مُنتَقِمُونَ﴾

او څوك دی لوی ظالم له هغه چا نه چې هغه ته د خپل رب په ايتونو سره پند ورکړی شي، بيا هغه له دغو (ايتونو) نه مخ وګرځوي، بېشكه مونږ له مجرمانو نه انتقام اخيستونكي يو.

او همدارنګه فرمايي:

﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّن ذُكِّرَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِۦ فَأَعۡرَضَ عَنۡهَا وَنَسِيَ مَا قَدَّمَتۡ يَدَاهُۚ﴾

او له هغه كس نه لوی ظالم څوك دی چې ده ته دخپل رب په ايتونو سره نصيحت ورکړی شي، نو دی له هغو نه مخ واړوي او هغه عملونه هېر کړي چې د ده لاسونو مخكې لېږلي دي.

د «﴿وَمَنۡ أَظۡلَمُ﴾ مانا دا ده چې هېڅوك تر هغه زيات ظالم نه دی.

او فرمايي:

﴿فَإِنۡ أَعۡرَضُواْ فَقُلۡ أَنذَرۡتُكُمۡ صَٰعِقَةٗ مِّثۡلَ صَٰعِقَةِ عَادٖ وَثَمُودَ﴾

نو كه دوی مخ وګرځاوه، نو ته (دوی ته) ووايه: زه تاسو د عاديانو او ثموديانو د سخت عذاب په مثل عذاب نه وېروم.

او فرمايي:

﴿وَمَن يُعۡرِضۡ عَن ذِكۡرِ رَبِّهِۦ يَسۡلُكۡهُ عَذَابٗا صَعَدٗا﴾

او هغه څوك چې د خپل رب له ذكر (قرآن) نه مخ واړوي، نو هغه (رب) به دی سخت عذاب ته داخل کړي يعنې :ډېر سخت، دروند او ځوروونكی عذاب به وي، او همدارنګه فرمايي:

﴿قُلۡ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَٱلرَّسُولَۖ فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴾

(ای نبي!) ته ووايه: د الله اطاعت كوئ او د (هغه د) رسول، بيا كه دوی وګرځېدل، نو بېشكه الله له كافرانو سره مينه نه كوي.

د الله د دين څخه د مخ اړونكي په عقل او فكر باندې شيطان واكمن وي

اې د الله بندګانو! له دين څخه اعراض كول د دې لامل كېږي چې شيطان د انسان پر زړه او فكر واكمن شي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَمَن يَعْشُ عَن ذِكْرِ ٱلرَّحْمَٰنِ نُقَيِّضْ لَهُۥ شَيْطَٰنًا فَهُوَ لَهُۥ قَرِينٌ ﴿٣٦﴾ وَإِنَّهُمْ لَيَصُدُّونَهُمْ عَنِ ٱلسَّبِيلِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُم مُّهْتَدُونَ﴾

او هر هغه څوك چې د رحمٰن له ذكر نه ځان ړوند كړي (، نو) مونږ به په ده باندې يو شيطان مسلط كړو، نو هغه به له ده سره تل ملګرى وي, او بېشكه دغه (شيطانان) يقينًا دوى (خپل ملګري) له حقې لارې نه منع كوي او دوى ګمان كوي چې بېشكه دوى هدايت موندونكي دي.

د الله د دين څخه مخ اړول د كافرانو او منافقانو خوى خصلت دى

اې د الله بندګانو! له هغه شريعت څخه مخ اړول چې رسول الله ﷺ راوړى، د كافرانو او منافقانو له صفتونو څخه دى، الله تعالى فرمايي :

﴿وَٱلَّذِينَ كَفَرُواْ عَمَّآ أُنذِرُواْ مُعْرِضُونَ﴾

او كافران شوي كسان له هغه (قرآن) نه چې دوى پرې وېرولى شي، مخ ګرځوونكي دي

د لومړۍ خطبې پاى

اې د الله بندګانو! دا يوه ګټوره مقدمه ده چې د اسلامي شريعت د منلو او اطاعت واجب دى، او له د هغې څخه د مخ اړولو په اړه ويره او خبردارى دى .

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې پر مونږ د الله د دين تابعداري او هغې ته غاړه كيښودل واجب دي، او ددې لار بيا عمل او په هغې باندې عمل كول دي؛ نو مسلمان ته پكار دي چې د دين اصول زده كړي او پرې عمل وكړي.**

د دې اصولو په سر كې بيا د اسلام پنځه او د ايمان شپږ اركان دي، او د دې اصولو خلاف كارونو څخه ځان وساتي، چې په لومړي سر كې يې د اسلام نواقض دي، چې له هغې ځان وساتي، بيا له هغې وروسته بايد له هغو ګناهونو ځان وساتي چې ايمان كمزورى كوي، كه لوى وي او كه كوچني. دا ګناهونه كه څه هم انسان له اسلامه نه وباسي، خو د ايمان كمال ته زيان رسوي او انسان د آخرت له عذاب سره مخ كوي.

د علم او عمل ثواب

الله تعالى د هغه چا لپاره د لوى اجر وعده كړى چې د شريعت پر لور مخه كړي، زده يې كړي او پرې عمل وكړي، د علم د فضيلت په اړه رسول الله ﷺ فرمايلي دي :څوك چې د علم د ترلاسه

کولو لپاره د علم لار غوره کړي، الله به ورته د جنت لاره اسانه کړي .او دا يې هم فرمايلي دي :کله چې څه خلک د الله له کورونو څخه په يو کور (جومات)کې راټول شي، د الله کتاب لولي او يو له بل سره يې زده کوي، نو پر هغوی سکون نازلېږي، په رحمت کې پټ شي، ملائکې يې چاپېره شي، او الله يې د هغو ملايکو په وړاندې چې د هغه په خوا کې وي، د دوی يادونه کوي[1].

او د عمل د فضيلت په اړه، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل، الله تعالی فرمايي :زما بنده ما ته له هغو فرض عبادتونو پرته په بل هېڅ شي نه را نږدې کېږي چې تر ټولو ډېر مې خوښ وي، او بنده مې تل د نفلي عبادتونو له لارې ما ته نږدې کېږي تر دې چې زه ورسره مينه وکړم؛ نو کله چې زه ورسره مينه وکړم، زه د هغه غوږ گرځم چې پرې اوري، سترگه يې شم چې پرې ويني، لاس يې شم چې پرې نيول کوي، او پښه يې شم چې پرې گرځي، که له ما څه وغواړي، خامخا به يې ورکړم، او که زما څخه پناه وغواړي، حتماً به پناه ورکړم. او زه په هېڅ کار کې دومره تردد نه کوم لکه د مؤمن د روح اخيستلو کې؛ هغه مرگ بد گڼي، او زه د هغه تکليف نه خوښوم[2].

د دوهمې خطبې پای

الله دې پر تاسو رحم وکړي! په مخلوقاتو کې په غوره، او د بشريت په سردار محمد بن عبدالله ﷺ درود او سلام ووایاست، هغه چې د حوض او شفاعت خاوند دی.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفه‌گانو، هدايت‌يافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! موږ ته زموږ عقيده، امن او رزق وساته .

اې الله! موږ تا ته پناه دروړو د بدو خلکو له شره، د فاجرانو له مکره، او د شپې او ورځې له ناڅاپي پېښو څخه، مگر هغه چې په خير راځي، ای ډېر مهربانه!

اې الله! موږ ته له خپل وېرې (خشيت) څخه هغه برخه راکړه چې زموږ او ستا د نافرمانۍ ترمنځ خنډ شي، او له خپل اطاعت څخه هغه توفيق راکړه چې موږ جنت ته ورسوي، او له يقين څخه هغه نصيب راکړه چې د دنيا مصيبتونه راته اسانه کړي.

اې الله! تر څو چې موږ ژوندي يو، زموږ غوږونه، سترگې او قوت راته سالم وساته، او دا نعمتونه زموږ وارثان وگرځوه.

اې الله! زموږ ستا له هدايت وروسته زموږ زړونه مه کږوه، د خپل طرفه پر موږ رحمت نازل کړه، ځکه بېشکه ته ډېر څه ورکونکی يې.

---

(١) انظر للفائدة «مجموع الفتاوى» لابن تيمية (٢٠٤/٧ وما بعدها، وهو كتاب «الإيمان الكبير)، ونقل فيه أقوالا عن أئمة السلف الصالح رحمهم الله. وانظر أيضا (٦١١/٧، وهو كتاب «الإيمان الأوسط» له).

(٢) رواه البخاري (٦٥٠٢).

اې الله! موږ له تا څخه ټول خیر غواړو—هغه چې ژر راځي او هغه چې وروسته راځي—هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو؛ او له تا پناه غواړو له هر شر څخه—هغه چې ژر راځي او هغه چې وروسته راځي—هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! موږ له تا جنت غواړو او هغه خبرې او عملونه چې جنت ته مو نږدې کوي، او په تا سره پناه غواړو له اور څخه او له هغو خبرو او عملونو چې اور ته مو نږدې کوي.

اې الله! موږ تا ته پناه دروړو له ګمراه کوونکو فتنو او د شیطان له وسوسو څخه.

اې الله! د مسلمانانو حالات په هر ځای کې سم او ښه کړه.

اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه او په آخرت کې هم نېکي راکړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

د اسلامي شريعت د ځانګړتياو اړوند خطبې

د اسلامي شريعت ځانګړنې (١-٥) [١]

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کې مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

اى خلكو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوې له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالى

---

(١) اعتمدت في إعداد هذه السلسلة من الخطب على كتاب «مقاصد الشريعة الإسلامية»، للشيخ عمر بن سليمان الأشقر رحمه الله، ثم زِدت عليها ما يسر الله.

شریعتونه د یوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا یې هغه څه لورې ته بیا یې چې په هغې د انسان د دنیا او اخرت خیرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شریعت جوړولو کړي، چې هدایت ورته وکړي، بلکې دا یوازې د الله ځانگړتیا ده چې په خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.

اې د مؤمنانو ټولنې! او د دین د واضحه او څرگندو ضروریاتو څخه دا ده چې آسماني شریعتونه د الله له لوري نازل شوي دي؛ الله هر قوم ته یو رسول د هغوی په ژبه لېږلی دی، تر څو هغوی ته هغه شریعت ورسوي چې د هغوی له حال سره مناسب وي، او هغوی یې ښلارې او بې شریعته نه دي پرېښې. الله تعالی فرمایي:

﴿وَلِكُلِّ قَوْمٍ هَادٍ﴾

او د هر قوم لپاره یو لار ښودونکی دی

او فرمایي:

﴿لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجًا﴾

مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره یو دستور او لاره مقرر کړې ده

اې خلکو! انسانان د خپلو رالیږل شوو پیغمبرانو په اطاعت کولو مکلف دي، الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن رَّسُولٍ إِلَّا لِيُطَاعَ بِإِذْنِ ٱللَّهِ﴾

او نه دی لېږلی مونږ هېڅ رسول مگر د دې لپاره چې د الله په حکم سره د هغه اطاعت وکړی شي .

اې مسلمانانو! او د الله له لوري نازل شویو شریعتونو کې تر ټولو لوی یې تورات، انجیل او قرآن دي، الله تعالی د بني اسرائیلو سره د هغوی د شریعت د ساتنې عهد کړی و، خو هغوی هغه ونه ساته، بلکې تحریف یې کړ او ضایع یې کړ؛ خو د قرآن کریم د ساتنې ذمه واري الله خپله اخیستې ده، الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾

بېشکه هُم مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو

او دا په بندگانو د الله د رحمت څخه ده، چې هغوی ته یې داسې شریعت ساتلې چې د قیامت تر ورځې به وربانديې عبادت کوي .

اې مؤمنانو! ټول شریعتونه د یو الله عبادت او له هغې سره د شرک څخه منع کوي، الله تعالی فرمایي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِىٓ إِلَيْهِ أَنَّهُۥ لَآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنَا۠ فَٱعْبُدُونِ﴾

او مونږ له تا نه مخکې هېڅ رسول نه دی لېږلی مگر چې هغه ته به مونږ (دا) وحي کوله چې بېشکه شان دا دی چې له ما نه پرته بل هېڅ حق معبود نشته، لهذا تاسو زما عبادت کوئ

او فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ بَعَثۡنَا فِي كُلِّ أُمَّةٖ رَّسُولًا أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ وَٱجۡتَنِبُواْ ٱلطَّٰغُوتَۖ﴾

او یقینًا یقینًا مونږ په هر یو امت کې یو رسول لېږلی و (په دې سره) چې تاسو د الله عبادت کوئ او له طاغوت نه ځان وساتئ.

اې د الله بندگانو! شریعتونه په فروعو کې سره مختلف؛ خو په اصولو کې سره یو دي، او هغه اصول په الله ایمان، د هغه په ملائکو، کتابونو، رسولانو، د قیامت په ورځ او په تقدیر ایمان چې خیر او شر ټول د الله له لوري دي.

او هغه څه چې ټول شریعتونه وروباندې متفق دي، هغه د دین، عزت، مال، نفس او عقل ساتنه ده. دا د شریعتونو د مقاصدو د پیژندنې لپاره یوه ګټوره مقدمه ده، څوک چې پرې ځان پوهه کړي، په هغه به د الله د حکمتونو د پوهې دروازې راپرانستل شي کوم چې هغه په خپلو احکامو کې ایښی دي.

د اسلامي شریعت ځانګړنې

۱ .اې د مؤمنانو ټولیه! الله د پیغمبرانو تسلسل په خپل نبي محمد ﷺ سره، آسماني کتابونه یې په قرآن کریم او شریعتونه یې په اسلامي شریعت سره پای ته ورسول، لیکن الله تعالی اسلامي شریعت ته ډېرې ځانګړنې ورکړي دي، چې له څلوېښتو څخه زیاتې دي. لومړی ځانګړنه یې دا ده چې دا یو الهي او رباني شریعت دی، او له دې پرته اوسني نور شریعتونه د اصلي شریعتونو څخه تحریف شوي دي، کوم به چې د توحید بلنه ورکوله، عیسویانو خپل دین تحریف کړ تر دې چې مسیح علیه السلام ته معبود وایي او د صلیب عبادت کوي، یهودو د ځینو پیغمبرانو څخه انکار وکړ او عزیر یې معبود وګرځاوه؛ نو دا ټول شریعتونه بشري بڼه لري او د بت پرستۍ په صفت سره متصف شوي دي.

هندوان او بودایان چې د تیږو عبادت کوي، رافضیان بیا د قبرونو عبادت کوي، او د اسلام سره هېڅ تړاو نه لري، که څه هم ځان ته مسلمانان وایي، اعتبار حقیقت لره وي، نومونو له نه وي .

۲ .د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا ده چې له خطا څخه خوندي او محفوظ دی، الله تعالی فرمايي:

﴿لَّا يَأۡتِيهِ ٱلۡبَٰطِلُ مِنۢ بَيۡنِ يَدَيۡهِ وَلَا مِنۡ خَلۡفِهِۦۖ تَنزِيلٞ مِّنۡ حَكِيمٍ حَمِيدٖ﴾

باطل ده ته نه د ده له مخې نه راتلی شي او نه د ده له شا نه، د ډېر حکمت والا، ښه ستایل شوي (الله) له جانبه رالېږل شوی دی

او فرمايي:

﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبۡدِهِ ٱلۡكِتَٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ﴾

ټولې ستاینې خاص د هغه الله لپاره دي چې په خپل بنده يې کتاب نازل کړی دی او په ده کې يې هېڅ کوږوالی نه دی ایښی.

او فرمايي:

﴿وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ﴾

او د رښتینولې او عدل له لحاظه ستا د رب خبره کمال ته رسېدلې ده.

نو قرآن کریم په خپلو خبرونو کې رښتینی دی او په خپلو احکامو کې عادل دی، او نبي کریم ﷺ فرمايلي: ... بېشکه تر ټولو غوره خبرې د الله د کتاب دي، او تر ټولو غوره لارښوونه د محمد ﷺ لارښوونه ده[1].

۳ .د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې له تحریف او بدلون څخه خوندي دی، نبي کریم ﷺ د دین کې د نوو بدعاتو له جوړولو څخه د ویرې خبرداری ورکړی او فرمايلي يې دي: په دین کې د نورو کارونو د جوړولو څخه ځان وساتئ، ځکه هر نوي کار بدعت، او هر بدعت ګمراهي ده. [2]

له دې امله د اسلامي امت علماوو د پیړیو په اوږدو کې ډېر ستر زحمتونه ګاللي دي چې د نبوي حدیثونو کتابونه يې له کمزورو او جعلي روایتونو څخه پاک کړي دي.

۴ .د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا ده چې له ضایع کېدو او له منځه تلو څخه خوندي دی، الله تعالی د قرآن د ساتنې په اړه فرمايي:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ﴾

بېشکه هُم مونږ پخپله ذکر نازل کړی دی او بېشکه مونږ د ده خامخا ساتونکي یو

د کافرانو د دسیسو، د جګړو د دېروالی او لوی سازشونو په شتون کې لا بیا هم تر اوسه د نبوي حدیثونو کتابونه خوندي پاتې دي، چې له یو نسل څخه بل نسل ته او له یوې پیړۍ څخه بلې پیړۍ ته رانقل کېږي.

د شریعت د ضایع کېدو د مخنیوی له لارو څخه دا هم ده چې الله تعالی د خپلو بندګانو له منځه داسې خلک پرې ګومارلي دي چې شریعت له ضایع کېدو ساتي، دا بیا هغه علماء دي چې د پیغمبرانو وارثان دي، او همدارنګه نېکان پاچاهان، سلاطین او د مقام او مال خاوندان دي چې خپلې شتمنۍ او ځواک يې د اسلام د نصرت لپاره وقف کړی دی، او خپل مال د الله په لاره او د علم د خپرولو لپاره مصرفوي، له معاویه رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: زما

---

(۱) رواه مسلم (۸٦۷) عن جابر رضي الله عنهما.

(۲) انظر المرجع السابق.

د امت یوه ډله به تل د الله په امر ولاړه وي، څوک چې هغوی پرېږدي یا مخالفت ورسره وکړي هغوی ته هېڅ زیان نه شي رسولی، تر هغه چې د الله امر راشي او هغوی به پر خلکو غالب وي[1].
اې د الله بندګانو! د الهی شریعتونو د ځانګړنو د پوهیدو لپاره په عام ډول، او د اسلامی شریعت لپاره په ځانګړي ډول دا یوه ګټوره مقدمه ده، چا چې زده کړه ، هغه به د الله هغه ستر حکمتونه وپیژني چې الله پاک په خپل شریعت کې ایښې دي، او د هغه تګلارو ضعف او په کمزورۍ په وپوهیږي چې انسانانو جوړې کړې دي .

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونعفني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

۵ .الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا ده چې د هغه لارښوونې روښانه دي، له ابهام، رازونو او معماوو څخه پاکې دي، کوم چې د بشري تعلیماتو ځانګړتیا وي, له همدې امله د شریعت تعلیمات هم ماشومان درک کولای شي او هم لویان, طالب العلم یې هم درک کولي شي او عام بدوي یې هم درك كولي شي.
اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه پنځه ځانګړنې وې، څوک یې چې زده کړي او پرې پوه شي، هغه به په دې شریعت کې دالله حکمتونه وپیژني، او زمونږ د زمانې د منافقانو انحراف به هم وپیژني، چې هغه "سیکولران "دي، په اسلام او شریعت باندې طعنونه لګوي، او دا دعوی کوي چې دا وروسته پاتې کېدو او رجعت دین دی، حال دا چې دوی پخپله د دې صفت وړ دي، الله دې مونږ د هغوی له شبهاتو څخه وساتي.
بیا نو پوه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته یو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمایي:
﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾
بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.
اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملګرو، راشدینو خلیفهګانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته یې په نېکۍ کې تابعداري کوي .
اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندګانو نصرت وکړه.

(۱) رواه البخاري (٣٦٤١) ومسلم (١٠٣٧) واللفظ له.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خیر غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! موږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه او په آخرت کې نېکي راکړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

سبحان ربك رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين. اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٦-١٠)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.
اې د مؤمنانو ټولیه !په تېرې خطبې کې د اسلامي شریعت د پنځو ځانګړنو په اړه خبرې وشوې، او په دې خطبه کې به، د الله په توفیق، د شریعت د ځینو نورو ځانګړنو یادونه وکړو.
٦ .اې د الله بندګانو! د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې خرافات، باطلې خبرې او بې بنسټه عقیدې ردوي او د هغوی بطلان څرګندوي، له همدې خرافاتو څخه یو هم سحر او جادو دی، سحر دا دی چې جادوګر له شیطانانو مرسته غواړي تر څو خپلې موخې ترلاسه کړي، او شیطانان تر هغه پورې د هغه مرسته نه کوي څو چې هغه د هغوی عبادت ونه کړي.
همدارنګه له هغو خرافاتو څخه چې اسلام ترې په سختۍ سره منع کړې ده؛ کهانت دی، کهانت دې ته وایي چې څوک د پټو او نالیدلو شیانو د پوهېدو دعوه وکړي او یا د خلکو د زړونو او نیتونو خبر ورکړي، دا دواړه کارونه یعنې سحر او کهانت د اسلام د نواقضو څخه دي، او اسلام کې ترې په سختۍ سره منع او حرام ګرځول شوي وي؛ ځکه د غیبو علم یوازې له الله تعالی سره دی، او د الله ځانګړې صفت دی، الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿قُل لَّا يَعۡلَمُ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ٱلۡغَيۡبَ إِلَّا ٱللَّهُۚ﴾

ته (دوی ته) ووایه: هر هغه څوك چې په اسمانونو او ځمکه کې دي په غیبو نه پوهېږي غیر له الله نه.
نو څوک چې د خپل ځان په اړه د غیبو د علم دعوه وکړي، هغه داسې دی لکه ځان چې د الله سره په ځانګړي صفت کې شریک بولي، او د قرآن خبر دروغ ګڼي.
۷ .د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه یوه دا هم ده چې دا شریعت بشپړ او هر اړخیز دی، او د انسان د ژوند ټولې چارې رانغاړي؛ که هغه عقاید وي، عبادات وي، معاملات وي، سیاست وي، قضاء وي او که اخلاق او چلند وي .
• د عقایدو په برخه کې اسلامي شریعت د ایمان ټول اساسي اصول بیانوي؛ لکه پر الله ایمان، پر ملائکو ایمان، پر اسماني کتابونو ایمان، پر رسولانو ایمان، پر آخرت ایمان، او پر تقدیر ایمان که هغه خیر وي او که شر. همدارنګه شریعت د رسول الله ﷺ د ایمان غوښتنې هم بیانوي، چې تر ټولو مهمې یې د هغه تصدیق او د هغه د امرونو منل او اطاعت کول دي.
• او د عباداتو په برخه کې د اسلامي شریعت لارښوونې دومره بشپړې دي چې د زړه او د بدن د عبادتونو تر ټولو نازک او دقیق جزئیات هم پکې شامل دي .
د زړه عبادتونه لکه: صبر، د الله وېره، د الله نه هیله، پر الله توکل، توبه، د الله محبت او نور دي.
او د بدن عبادتونه بیا لکه: پاکي، لمونځ، زکات، روژه، حج، ذکر، جهاد او د الله دین ته بلنه ورکول دي.

•د معاملاتو په برخه کې هم د اسلامي شريعت لارښوونې ډېرې هر اړخيزې دي، او د راکړې ورکړې تر ټولو باريک او دقيق مسائل پکې بيان شوي دي؛ لکه پېر او پلور، کرايه، وکالت، د پورونو ليکل او ثبتول، نکاح، طلاق، بزگري او نور معاملات دي.

• او د سياست په برخه کې اسلام د حاکم او رعيت ترمنځ د اړيکو بشپړ اصول بيان کړي دي؛ لکه بيعت، د شرعي امرونو اورېدل او اطاعت، خيرخواهي او دعا، يووالی او اتفاق، همدارنگه اسلام له غيرمسلمانو سره د سولې او جگړې د اړيکو تفصيلات هم بيان کړي دي، او د سولې او اوربند اصول يې هم واضح کړي دي، اسلام حاکمان عدل او انصاف کولو ته هڅوي، د الله د دين د لوړولو لپاره يې جهاد ته رابولي، د مسلمانانو د خاورې دفاع لازمه ګڼي، او د هغو پنځو ضروري شيانو ساتنه لازموي چې د انسان د ژوند بنسټ دی؛ چې هغه له دين، عقل، نفس، عزت او مال څخه عبارت دي.

• او د قضاء او عدالت په برخه کې اسلام د سزاګانو، حدودو، قصاص، ديت او تعزيري احکامو بشپړ نظام لري؛ تر څو د خلکو حقونه خوندي شي، امنيت ټينګ شي، او فساد کوونکي له فساده منع شي.

• او د اخلاقو او چلند په برخه کې د اسلامي شريعت لارښوونې د کورنۍ، د مېړه او ښځې، ټولنې او روزنې تر ټولو نازکو او دقيقو اړخونو ته رسېدلې دي، اسلام انسان د ښو اخلاقو خپلولو ته هڅوي، چې تر ټولو مهم يې د مور او پلار سره نېکي، د خپلوانو پالنه، د ژبې پاک ساتل، د نظر ټيټ ساتل، د شرمګاه ساتنه، د حجاب اغوستل او د حيا صفت خپلول دي.

همدارنگه شريعت له بدو او سپکو اخلاقو څخه منع کوي، د يووالي امر کوي، له تفرقې او ډلو ډلو کېدو څخه منع کوي، او غواړي چې خلک يوه متحده امت شي.

اې د الله بندګانو !د همدې هر اړخيز بشپړوالي سره اسلام دين کامل دين دی، او الله تعالی ريښتيا فرمايلي دي:

﴿أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ﴾

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توګه خوښ کړو.

او رسول الله ﷺ فرمايلي دي :هېڅ داسې څه پاتې نه دي، چې تاسې جنت ته نږدې کوي، او د اور څخه مه لرې کوي؛ مګر ما درته واضحه او بيان کړي دي. [1]

او ابوذر رضي الله عنه وايي :رسول الله ﷺ په دنيا کې موږ په حالت کې پرېښودو چې آن کوم مرغه به چې هم په خپلو وزرونو الوت، نو د هغه په اړه به موږ سره پوهه موجوده وه[2].

---

(١) رواه الطبراني في «المعجم الكبير» (١٦٤٧) عن أبي ذر رضي الله عنه، وقال الألباني في «السلسلة الصحيحة» (١٨٠٣): إسناده صحيح رجاله كلهم ثقات.

(٢) رواه ابن حبان في «صحيحه» (٢٦٧/١) والطبراني في «المعجم الكبير» (١٦٤٧)، وصححه الألباني في «الصحيحة» (١١٨)، وشعيب الأرناؤوط، رحمهما الله.

٨ .د اسلامي شريعت له ځانگړنو څخه يوه دا هم ده چې دا د انساني فطرت سره سمون لري؛ هغه فطرت چې نه بدلېږي او نه اوړي، او د انسان د روح او بدن دواړو اړتياوې پوره کوي، الله تعالى فرمايي:

﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا ۚ فِطْرَتَ ٱللَّهِ ٱلَّتِى فَطَرَ ٱلنَّاسَ عَلَيْهَا ۚ لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ ٱللَّهِ ۚ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾

نو ته خپل مخ دين ته نېغ (او برابر) وساته، په داسې حال کې چې حق ته مايل اوسې، ـ (تاسو لازم ونيسئ) د الله هغه فطرت لره چې په هغه يې خلق پيدا کړي دي، د الله تخليق لره هېڅ بدلون نشته همدغه سم (نېغ) دين دی، او لېکن د خلقو اکثريت نه پوهېږي.

٩ .او د اسلامي شريعت له ځانگړنو څخه دا هم ده چې دا له سالم عقل سره موافق دی، او دا هېڅ د حيرانتيا خبره نه ده؛ ځکه اسلامي شريعت پر سمو او ګټورو عقايدو ولاړ دی، پر داسې ښو اخلاقو ولاړ دی چې روح او عقل ته پاکوالی او روزنه ورکوي، او پر داسې اعمالو ولاړ دی چې د انسان حالتونه سموي.

دا شريعت په اصولو او فروعو کې پر دليلونو او برهانونو قائم دی، له بتپرستۍ او له مخلوقاتو سره له ناسم تړاو څخه خلک منع کوي، او انسان يوازې د الله رب العالمين عبادت ته رابولي، همدارنگه شريعت خرافات، بېبنسټه خبرې او هغه شيان ردوي چې د عقل، حس او فکر خلاف وي او انسان حيرانوي.

اسلام د بشپړ اصلاح دين دی، د هر شر او فساد مخه نيسي، عدل قائموي او ظلم له هرې لارې ختموي، او انسان د کمال او لوړتيا لارو ته هڅوي[1].

نو د الله او د هغه د رسول ﷺ په خبرو کې هېڅ داسې څه نشته چې د حقيقت، عقل او سم فهم خلاف وي، او نه هم د الله او د رسول ﷺ په احکامو کې داسې څه شته چې د بندګانو له حکمت او ګټې سره په ټکر کې وي؛ بلکې همدغه احکام انسانان د کمال تر لوړو درجو رسوي، او هر ډول نقصان او زيان يوازې هغه وخت پيدا کېږي چې خلک د دې شريعت يا د هغه د کومې برخې مخالفت وکړي[2].

اې د الله بندګانو !دا د اسلامي شريعت ځينې ګټورې او مهمې ځانگړنې وې، څوک چې دا وپېژني، هغه به پوه شي چې الله تعالى په خپلو قوانينو او احکامو کې څومره لوی حکمت ايښی دی، او هم به د انسانانو د جوړو شوو قوانينو کمزورې او نيمګړتيا درک کړي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

---

(١) قاله ابن سعدي رحمه الله في «الدرة المختصرة في محاسن الدين الإسلامي»، ص ٤٤-٤٥، بتصرف يسير، الناشر: دار العاصمة - الرياض.

(٢) قاله ابن سعدي رحمه الله في «الدلائل القرآنية في أن العلوم والأعمال النافعة العَصْرية داخِلة في الدِّين الإسْلامي»، بتصرف يسير.

دويمه خطبه

١٠ الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او په وه شئ چې د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه يوه دا هم ده چې انسان عقل کارولو، په کاياناتو کې د فکر کولو، اختراعاتو او نوو موندنو ته هڅوي، او همدارنګه انسان د هغو نښو په اړه فکر او سوچ کولو ته رابولي چې په انسانانو او مخلوقاتو کې شتون لري، الله تعالى فرمايي:**

﴿سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِي ٱلۡأٓفَاقِ وَفِيٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّۗ﴾

ژر ده چې مونږ به دوی ته خپلې نښې په افاقو (د عالم په اطرافو) کې او د دوی په ځانونو کې وښيو، تر دې چې دوی ته ښه څرګند شي .

او بل ځای فرمايي:

﴿وَفِيٓ أَنفُسِكُمۡۚ أَفَلَا تُبۡصِرُونَ﴾

او ستاسو په ځانونو کې هم، ايا نو تاسو نه وينئ

نو اسلامي شريعت له عقل سره سمون لري او هيڅ ټکر ورسره نه لري، بلکې شريعت داسې څه بيانوي چې عقلونه پکې حيرانېږي، خو داسې څه نه راوړي چې عقل يې ناممکن او ناشوني وګڼي. د "رابطة العالم الإسلامي "اړوند د علمي اعجاز اداري په قرآن او سنتو کې د علمي اعجاز ډېر دلايل راټول کړي دي؛ که هغه د جنين د پيدا کېدو علم وي، که فلکيات وي، که طب وي، که د سمندرونو علوم وي او که داسې نور علوم دي.

دغې حقيقتونو د طبيعي علومو ډېر غيرمسلم عالمان حيران کړي دي؛ ځکه دا هېڅ امکان نه لري چې څوارلس پېړۍ وړاندې دې په قرآن او سنتو کې داسې دقيق علمي حقيقتونه ذکر شوي وي مګر دا چې هغه د الله له لوري وحی وي؛ ځکه په هغه زمانه کې داسې وسايل او امکانات نه وو چې انسان دې دغو موندنو ته رسېدلی وای.

همدې حقيقت ډېر خلک دې ته اړ کړي چې اسلام قبول کړي.

اې د الله بندګانو !دا د اسلامي شريعت د ځانګړنو يوه برخه وه، څوک چې دا ځانګړنې وپېژني او ښه يې درک کړي، هغه به د اسلام په شريعت کې د الله لوی لوی حکمتونه وپېژني، او هم به د دې زمانې د منافقانو بېلاريتوب درک کړي؛ هغه کسان چې ځانونه "علمانيان "بولي، او پر اسلام او د هغه پر شريعت نيوکې کوي، او دعوه کوي چې اسلام د وروسته پاتېوالي او رجعت دين دی؛ حال دا چې همدوی په حقيقت کې د همدې وصف ډېر وړ دي .الله دې مونږ د هغوی له شبهاتو او فتنو څخه وساتي.

بيا نو په وه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته يو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفهگانو، هدايتيافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! مورږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زمورږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! مورږ له تا څخه د هر خير غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې مورږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې مورږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! مورږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

اې الله! زمورږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زمورږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتيا او عافيت ورکړه.

اې الله ستا په دين مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کيږو، دنيا راته سمه کړه، هغه دنيا چې زمورږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زمورږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې بېرته ورتگ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خير او نېکۍ د زياتوالي وسيله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکليف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.

اې الله! مورږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له مورږ ختم نه شي، تا راکړې روغتيا بدله شي، ستا عذاب په مورږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .

اې زمورږ ربه! مورږ ته زمورږ له مېرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې يخې شي، او د متقيانو لارښوونکي مو ورگرځوه .

اې زمورږ ربه! مورږ وبخښه، او زمورږ هغه وروڼه هم وبخښه چې له مورږ څخه وړاندې په ايمان کې تللي دي، او زمورږ په زړونو کې د مؤمنانو پر وړاندې کينه او بدي مه پيدا کوه، بېشکه ته ډېر مهربان او ډېر رحم کوونکی يې.

زمورږ ربه! مورږ ته په دنيا کې نېکي راکړه او په آخرت کې نېکي راکړه، او مورږ د اور له عذابه وساته.

سبحان ربك رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين. اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانګړنې (١١-١٥)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.
اې د مؤمنانو ټولیه !په تېرې خطبې کې د اسلامي شریعت د لسو ځانګړنو په اړه خبرې وشوې، او په دې خطبه کې به، د الله په توفیق، د شریعت د ځینو نورو ځانګړنو یادونه وکړو.
۱۱.اې د مؤمنانو ټولیه! په تېر خطبو کې د اسلامي شریعت لس ځانګړنې بیان شوې وې، او په دې خطبه کې په د الله په توفیق، نورې ځانګړنې بیانېږي.
اې د الله بندګانو! له اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه یوه دا ده چې کله انصاف لرونکي غیرمسلمانان د دې شریعت مطالعې ته مخه کړي، نو حیران شي او وپوهیږي چې دا دین د الله له لوري راغلی دی، او انسانان په هېڅ ډول نه شي کولی د دې په شان کامل، منظم او محکم نظام جوړ کړي، دا په خپله د حقیقت یوه ښکاره شاهدي ده چې غیرمسلمانان یې هم ورکوي، او الله تعالی رښتیا فرمایلي دي:

﴿وَلَوْ كَانَ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا﴾

ایا نو دوی په قرآن کې غور نه کوي او که چېرې دا د غیرالله له خوا وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زیات اختلاف موندلی و

۱۲ .او د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې کله غیرمسلمانان په حقیقت پوه شي او یقین وکړي چې دا دین د الله له لوري دی او د انسان جوړ نه دی، نو همدا حقیقت د هغوی د اسلام د منلو سبب ګرځي، او داسې خلک بېشمېره دي؛ که په کفري هېوادونو کې وي او که په اسلامي هېوادونو کې، که لوستي وي او که عام خلک.
۱۳ .او د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا دین د افراط او تفریط ترمنځ د وسطیت او اعتدال دین دی، الله تعالی فرمایي:

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيدًا﴾

او همدارنګه مونږه تاسو غوره امت جوړ کړي یئ، د دې لپاره چې تاسو په خلقو باندې شاهِدان (ګواهان) شئ، او رسول پر تاسو باندې ګواه شي.
نو د اسلامي شریعت اصول د عقیدې، عباداتو، معاملاتو او د انسان د چلند په ټولو برخو کې د اعتدال او وسطیت پر بنسټ ولاړ دي.
۱۴ .او د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا دین د روح او جسم د اړتیاو ترمنځ توازن ته بلنه ورکوي، او د روحاني او دنیوي ژوند ترمنځ هېڅ ټکر شتون نه لري، اسلام روح ته د مختلفو عبادتونو له لارې پاکي او روزنه ورکوي؛ لکه توکل، ویره، امید، لمونځ، روژه، حج، د الله ذکر، د مال انفاق او نور عبادات، دا ټول د ایمان هغه ځانګې دي چې شمېر یې د اویاو نه زیات دی، لیکن بیا بشري تګلاري ددې برعکس دي، لکه مادي سیکولریزم چې یوازې مادي اړخ ته اهمیت ورکوي او د روح اړتیاوې هېروي، او انسان ته بلنه ورکوي چې ماده پرست شي، او یوازنی فکر یې مادي

مصحلت وي اوبس، حتى كه د مور او پلار، كورنۍ او ټولنې پر ضد هم وي، تر دې چې د كورنۍ بنسټونه پكې كمزوري كېږي او د نارينه او ښځينه اړيكه يوازې د ملگرتيا تر كچې راكمه شي.

او بل اړخ ته مادي سيكولريزم پر خلاف، د رهبانيت طريقه ده، چې دوی بيا د جسم اړتياوې له پامه غورځوي، لكه د واده پرېښودل او د الله له حلالو نعمتونو ځان منع كول، چې د ځينو مذهبي كسانو په منځ كې ليدل كېږي.

خو اسلام د انسان د دواړو اړخونو - روح او جسم - اړتياوې مني، او د دواړو ترمنځ توازن غواړي، اسلام نه د بېحده مادي ژوند ملاتړ كوي او نه د رهبانيت او سختۍ ملاتړ كوي، بلكې انسان ته وايي چې په ځمكه كې كار وكړي، او ځمكه د ژوند لپاره آباده كړي، او له بلې خوا د الله سره اړيكه هم قوي وساتي.

رسول الله ﷺ يو صحابي ته وفرمايل چې غوښتل يې ځان په عبادت كې ډېر سخت ستړی كړي: ستا نفس هم پر تا حق لري[1] .

او كله چې ځينو خلكو وويل چې مونږ غوښه نه خورو، ځينو وويل مونږ واده نه كوو، ځينو وويل مونږ ټول عمر روژه نيسو، او ځينو وويل مونږ ټوله شپه عبادت كوو؛ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زه غوښه خورم، واده كوم، روژه نيسم او روژه ماتوم، د شپې ويده كېږم؛ نو څوك چې زما له سنتو مخ واړوي، هغه له ما څخه نه دی[2].

اې د الله بندگانو !دا د اسلامي شريعت ځينې مهمې ځانگړنې دي، څوك چې دا درك كړي، هغه به پوه شي چې الله تعالى په خپلو شريعتونو كې څومره لوی حكمت ايښی دی، او هم به د انسانانو د جوړو شوو قوانينو كمزوري او نيمگړتيا وپيژني .

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

١٥ .الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اى د الله بندگانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د اسلامي شريعت له ځانگړنو څخه يوه دا ده چې د دې دين لارښوونې ډېرې ښكلې، پاكې او د فطرت او عقل سره برابرې دي، دا شريعت هر هغه كار ته بلنه وركوي چې سالم عقلونه او پاك فطرتونه يې ښه او نېك ګڼي، او له هر هغه كاره منع كوي چې سالم عقلونه او پاك فطرتونه يې بد او ناوړه ګڼي.

الله تعالى فرمايي:

---

(١) رواه أحمد (٦/٢٦٨) وغيره عن عائشة رضي الله عنها، وحسنه محققو «المسند» (٢٦٣٠٨)، وأصله في الصحيحين من حديث أبي جُحيفة رضي الله عنه وغيره من الصحابة.

(٢) رواه البخاري (٥٠٦٣)، ورواه مسلم (١٤٠١) بنحوه، عن أنس بن مالك رضي الله عنه.

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾

او په فیصله کولو کې له الله نه (بل) څوك ډېر ښه دی، د هغه قوم لپاره چې یقین کوي!

او بل ځای فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالْإِحْسَانِ وَإِيتَاءِ ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾

بېشکه الله د انصاف کولو او احسان کولو او خپلوانو ته د ورکړې حکم کوي او له فحاشۍ او بدو کارونو او سرکشۍ نه منع کوي، هغه تاسو ته نصیحت کوي، د دې لپاره چې تاسو نصیحت قبول کړئ

شیخ عبدالرحمن بن سعدي رحمه الله فرمایي: د اسلامي شریعت لارښوونې د ښو او نېکو عملونو، لوړ اخلاقو او د بندګانو د ګټو امر کوي؛ خلک عدل، نېکۍ، رحم او خیر ته هڅوي، او له ظلم، تېري او بدو اخلاقیو څخه یې منع کوي؛ نو هېڅ داسې کمال خصلت به نه وي چې پیغمبرانو بیان کړی وي مګر اسلامي شریعت د هغه تایید کړی ، او هېڅ داسې د دنیا او دین ګټه نشته چې نورو شریعتونو ورته بلنه ورکړې وي مګر اسلام هم ورته خلک هڅولي دي، او هېڅ داسې فساد نشته مګر اسلام ترې منع کړې او د هغه له نړدې کېدو یې دمنع خبرداری ورکړی دی[1].

اې د الله بندګانو !دا د اسلامي شریعت د ځانګړنو یوه برخه وه، څوک چې دا ځانګړنې وپېژني او ښه یې درک کړي، هغه به د اسلام په شریعت کې د الله لوی لوی حکمتونه وپېژني، او هم به د دې زمانې د منافقانو بېلاریتوب درک کړي؛ هغه کسان چې ځانونه "علمانیان "بولي، او پر اسلام او د هغه پر شریعت نیوکې کوي، او دعوه کوي چې اسلام د وروسته پاتېوالي او رجعت دین دی؛ حال دا چې همدوی په حقیقت کې د همدې وصف ډېر وړ دي .الله دې مونږ د هغوی له شبهاتو او فتنو څخه وساتي.

بیا نو په شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته یو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملګرو، راشدینو خلیفهګانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته یې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندګانو نصرت وکړه.

---

(١) بتصرف يسير من «الدرة المختصرة في محاسن الدين الإسلامي»، ص ١٥، الناشر: دار العاصمة - الرياض.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خیر غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهیږو او هغه چې نه پرې پوهیږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهیږو او هغه چې نه پرې پوهیږو.

اې الله! موږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زموږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتیا او عافیت ورکړه.

اې الله ستا په دین مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کیږو، دنیا راته سمه کړه، هغه دنیا چې زموږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زموږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې ښېرته ورتگ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خیر او نېکۍ د زیاتوالي وسیله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکلیف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.

اې الله! موږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له موږ ختم نه شي، تا راکړې روغتیا بدله شي، ستا عذاب په موږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .

اې زموږ ربه! موږ ته زموږ له مېرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې یخې شي، او د متقیانو لارښوونکي مو ورگرځوه .

اې زموږ ربه! موږ وبخښه، او زموږ هغه وروڼه هم وبخښه چې له موږ څخه وړاندې په ایمان کې تللي دي، او زموږ په زړونو کې د مؤمنانو پر وړاندې کینه او بدي مه پیدا کوه، ښکه ته ډېر مهربان او ډېر رحم کوونکی یې.

زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې نېکي راکړه او په آخرت کې نېکي راکړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

سبحان ربك رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين. اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (١٦-٢٠)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.
اې د مؤمنانو ټولیه !په تېرې خطبې کې د اسلامي شریعت د لسو ځانګړنو په اړه خبرې وشوې، او په دې خطبه کې به، د الله په توفیق، د شریعت د ځینو نورو ځانګړنو یادونه وکړو.
اې د مومنانو ټولیه! په تېرو خطبو کې مو د اسلامي شریعت د ځانګړتیاوو څخه د پنځلسو ځانګړونو بیان وکړ، او په دې خطبه کې -ان شاءالله- ځینې نورې ځانګړې وپیژنو.
١٦.د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه یوه دا ده چې هر پاک او ښه شی حلالوي او هر ناپاک او بد شی حراموي، لکه څنګه چې الله تعالی د خپل نبي ﷺ په اړه فرمایي:

﴿وَيُحِلُّ لَهُمُ ٱلطَّيِّبَٰتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيۡهِمُ ٱلۡخَبَٰٓئِثَ﴾

او دوی ته پاکیزه څیزونه حلالوي او په دوی باندې خبیث څیزونه حراموي

١٧ . د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې د معنوي پاکوالي ته هم بلنه ورکوي؛ چې د دې تعلیمات نفسونه او زړونه پاکوي، الله تعالی فرمایي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي بَعَثَ فِي ٱلۡأُمِّيِّـۧنَ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ يَتۡلُواْ عَلَيۡهِمۡ ءَايَٰتِهِۦ وَيُزَكِّيهِمۡ وَيُعَلِّمُهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ﴾

دغه (الله) همغه ذات دی چې امیانو ته یې له همدوی ځنې یو رسول لېږلی دی، چې دوی ته د هغه (الله) ایتونه تلاوت کوي او د دوی تزکیه کوي او دوی ته کتاب او حکمت (سنت) ښیي.
نو لمونځ د ببلګې په ډول د نفس د آرامۍ او پاکوالي سبب ګرځي، لکه څنګه چې نبي کریم ﷺ فرمایلي دي: اې بلاله! د لمانځه اذان وکړه، چې موږ آرام شو. (١)
په زکات سره مال پاکیږي، او همدارنګه ورسره نفس د بخل څخه پاکیږي، بل په دې کې د الله د نعمتونو شکر ادا کول دي، او شکر د زړه د پاکۍ سبب دی، بل په زکات ورکولو سره د فقیرانو او مسکینانو اړتیاوې پوره کېږي، نو د فقیر او شتمن ترمنځ کینه له منځه ځي، او دا د ټولې ټولنې د پاکوالي سبب ګرځي.
په روژه نیولو سره انسان دا احساس خپلوي چې زما دا عمل یوازې د الله لپاره دی؛ نو زړه یې له ریا څخه پاکېږي، او نفس یې له ډېر خوراک او څښاک کولو له امله د تکبر څخه پاکېږي.
و په حج کې ټول حاجیان د احرام جامې اغوندي، نو خپل ځانونه د ناز او نعمت له احساس څخه پاکوي، په مشاعرو کې ټول یو شان ودرېږي، یو بل سره وپېژني او ترمینځ یې مینه سره پیدا شي، او ټول یو شان په یوه طریقه د الله عبادت کوي؛ نو په دې سره یې نفسونه پاک شي.
د الله ذکر د نفس د تزکیې تر ټولو لویه وسیله ده، لکه د قرآن تلاوت، د سهار او ماښام اذکار، او د لمانځه وروسته اذکار؛ دا ټول د نفس د پاکوالي او روزنې ستر سببونه دي.

(١) رواه أبو داود (٤٩٨٥) وأحمد (٣٦٤/٥)، وصححه الألباني.

او په اسلامي اخلاقو کې هم د نفس لويه تزکيه ده؛ لکه د والدينو سره نيکي، د خپلوانو سره اړيکې ساتل، له کورنۍ او ګاونډيانو سره ښه چلند، او له کمزورو سره مرسته کول.

دا يو څو ښېلګې د هغو ځانګړتياوو دي چې اسلامي شريعت د نفس د تزکيې او پاکوالي لپاره وړاندې کړي دي.

۱۸ .او د اسلامي شريعت له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې د بدن د پاکوالي بلنه ورکوي؛ د جمعې غسل، د جنابت غسل، په اودس کولو امر، د استنجاء او استجمار کول، او همدارنګه په فطري سنتونو باندې امر کوي؛ لکه د برېتونو لنډول، د ږيرې پرېښودل، د نوکانو پرې کول، د بغل ويښتان ايستل، او د شرمګاه پاکول[۱].

۱۹ .او د اسلامي شريعت له ځانګړتياوو څخه بله ځانګړه اسانتيا او د سختۍ لرې کول دي، الله تعالى فرمايي:

﴿يُرِيدُ ٱللَّهُ بِكُمُ ٱلۡيُسۡرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ ٱلۡعُسۡرَ﴾

الله په تاسو د اسانتيا اراده لري او پر تاسو باندې د سختۍ اراده نه لري

او فرمايي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُمۡ﴾

نو تاسو له الله نه ووېرېږئ څومره چې تاسو کولی شئ

او فرمايي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ﴾

او الله هېڅ يو نفس نه مکلف کوي مګر د هغه له وَس سره سم

او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :کله چې زه تاسو ته د کوم شي حکم وکړم، نو تر خپل وس پورې يې ترسره کړئ[۲].

۲۰ .او د اسلامي شريعت له ځانګړتياوو څخه بله ځانګړنه هغه نرمښت او مهرباني ده، نبي کريم ﷺ فرمايلي دي :د الله تعالى په نزد تر ټولو محبوب دين هغه دی چې حق ته مايل وي او په آسانۍ او نرمۍ ولاړ وي[۳].

---

(۱) انظر ما رواه البخاري (۵۸۸۹) ومسلم (۲۵۷) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(۲) رواه البخاري (۷۲۸۸)، ومسلم (۱۳۳۷) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(۳) رواه البخاري معلقا في كتاب الإيمان، باب: الدين يُسر. ورواه أحمد في مسنده (۲٦٦/٥) عن أبي أمامة رضي الله عنه بلفظ: (بُعِثت بالحنيفية السمحة).

په خرڅولو او اخیستلو کې اسلام د نرمۍ امر کړی دی، نبي ﷺ فرمایلي دي :الله تعالی دې پر هغه سړي رحم وکړي چې د خرڅولو، اخیستلو او د خپل حق (پور) د غوښتلو پر مهال نرمي او آساني کوي[1].

او د «وإذا اقتضى» معنا دا ده چې کله خپل پور غواړي، نو په سختۍ سره یې نه غواړي، بلکې په نرمي او مهربانۍ سره یې غواړي، او د تنګدستۍ پر مهال ورته مهلت ورکوي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي :

﴿وَإِن كَانَ ذُو عُسْرَةٍ فَنَظِرَةٌ إِلَىٰ مَيْسَرَةٍ ۚ وَأَن تَصَدَّقُوا۟ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

او که هغه (قرض داری) تنګ لاسی وي، نو تر اسانۍ پورې مهلت ورکول دي، او خیراتي پرېښودل یې تاسو لپاره ډېر غوره دي؛ که تاسو پوهېږئ

او د اسلام له نرمۍ څخه دا هم ده چې د بدۍ په بدل کې د نېکۍ کولو بلنه ورکوي، الله تعالی فرمایي:

﴿ٱدْفَعْ بِٱلَّتِى هِىَ أَحْسَنُ﴾

(ای نبي!) ته بدي دفع (لرې) کوه په هغې طریقې سره چې تر ټولو ښه وي

او همدارنګه اسلام مور ته د غوسې په کابو کولو او ظالم ته په ښېنې کولو امر کوي،

﴿وَٱلْكَٰظِمِينَ ٱلْغَيْظَ وَٱلْعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِ ۗ﴾

او خصوصًا چې غصې لره زغمونکي وي او خلقو ته معافي کوونکي وي

د اسلام له نرمۍ څخه دا هم ده چې مؤمنانو ته د عاجزۍ او تواضع بلنه ورکوي، الله تعالی فرمایي:

﴿وَٱخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾

او خپل وزر د مومنانو لپاره ښکته کړه

او فرمایي:

﴿أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ﴾

په مومنانو به ډېر نرمي کوونکي وي او په کافرانو باندې به ډېر سخت وي

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شریعت د ځانګړتیاوو یوه ګټوره مجموعه ده، څوک چې دا ځانګړتیاوې وپېژني، هغه به د الله په رالیږلې شریعت کې د الله حکمت او عظمت وپېژني، او د انسانانو جوړ شوو قوانینو کمزوري په هم وپېژني .

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

---

(١) رواه البخاري (٢٠٧٦) عن جابر رضي الله عنهما.

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، بيا نو پوه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته يو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفهگانو، هدايتيافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خير غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! موږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زموږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتيا او عافيت ورکړه.

اې الله ستا په دين مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کيږو، دنيا راته سمه کړه، هغه دنيا چې زموږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زموږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې ښېرته ورتگ مو هماغه لوری ته دی، او ژوند مو د هر خير او نېکۍ د زياتوالي وسيله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکليف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.

اې الله! موږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له موږ ختم نه شي، تا راکړې روغتيا بدله شي، ستا عذاب په موږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .

اې زموږ ربه! موږ ته زموږ له مېرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې يخې شي، او د متقيانو لارښوونکي مو ورگرځوه .

اې زموږ ربه! موږ وبخښه، او زموږ هغه ورونه هم وبخښه چې له موږ څخه وړاندې په ايمان کې تللي دي، او زموږ په زړونو کې د مؤمنانو پر وړاندې کينه او بدي مه پيدا کوه، بېشکه ته ډېر مهربان او ډېر رحم کوونکی يې.

زموږ ربه! موږ ته په دنيا کې نېکي راکړه او په آخرت کې نېکي راکړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

سبحان ربك رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين. اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٢١-٢٥)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوڼ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ېښکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.

اې د مومنانو ټولیه! په تېرو خطبو کې د اسلامي شریعت د شلو ځانګړتیاوو په اړه خبرې وشوې، او په دې خطبه کې به -ان شاءالله -د نورو ځانګړتیاوو سره آشنا شو.

۲۱ .د الله بندګانو! د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې د احسان او نېکۍ سپارښتنه کوي، الله تعالی په هره اسلامي لارښوونه کې د احسان حکم کړی، آن تر دې چې د ذبحې او حلالولو په وخت کې یې هم د احسان امر کړی دی، نبي کریم ﷺ فرمایلي دي :الله تعالی پر هر کار کې احسان لازم ګرځولی دی؛ نو کله چې تاسې څوک وژنئ، په ښه ډول یې ووژنئ، او کله چې حیوان حلالوئ، په ښه ډول یې حلال کړئ؛ هر یو دې خپله چاړه تېره کړي او خپل حلالېدونکی حیوان دې آرام کړي[۱].

شیخ الاسلام رحمه الله فرمایي :په دې حدیث کې دلیل دی چې احسان په هر حالت کې واجب دی، حتی د انسان او حیوان د روح اخیستلو پر مهال هم؛ نو انسان باید انسان ته هم د وژلو په وخت کې ښه طریقه غوره کړي، او حیوان سره هم د ذبحې پر مهال نرمي او ښه چلند وکړي[۲].

او د اسلامي شریعت د احسان له بېلګو څخه پر حیواناتو د مهربانۍ سپارښتنه ده، نبي کریم ﷺ مور ته خبر راکړی چې یوه ښځه به د قیامت په ورځ ځکه اور ته ننوځي چې یوه پیشو یې ترلې وه؛ نه یې خواړه ورکول او نه یې پرېښوده چې د ځمکې له خزندو څخه خپله خوراک پیدا کړي[۳].

او د مخلوقاتو سره د احسان تر ټولو لوړه درجه له مور او پلار سره نېکي ده، شریعت په قرآن کریم کې په شپږو ځایونو کې د والدینو سره د احسان حکم کړی او د هغوی د نافرمانۍ څخه یې وېرره بیان کړې ده، الله تعالی فرمایي:

﴿وَقَضَىٰ رَبُّكَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ وَبِٱلۡوَٰلِدَيۡنِ إِحۡسَٰنًاۚ﴾

او ستا رب حکم کړی دی چې تاسو عبادت مه کوئ (د بل هیچا) مکر یواځې د هغه او له مور او پلار سره ښه احسان کوئ .

او الله تعالی له ټولو خلکو سره په ښه خبرو کولو امر کړی دی، فرمایي:

﴿وَقُولُواْ لِلنَّاسِ حُسۡنٗا وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ﴾

او خلقو ته ښایسته خبرې کوئ، او لمونځ قایموئ

بلکې اسلام حتی له اسیر سره هم د احسان سپارښتنه کړې، که څه هم هغه د مسلمانانو پر ضد جګړه کړې وي، الله تعالی فرمایي:

---

(۱) رواه مسلم (۱۹۵۵) عن شداد بن أوس رضي الله عنه.

(۲) (الفتاوى الكبرى) (٥/٥٤٩).

(۳) رواه البخاري (٧٤٥) ومسلم (٢٢٤٢) عن عبد الله بن عمر رضي الله عنهما.

﴿وَيُطۡعِمُونَ ٱلطَّعَامَ عَلَىٰ حُبِّهِۦ مِسۡكِينٗا وَيَتِيمٗا وَأَسِيرًا﴾

او دوی د هغه (الله) په مینه کې مسکین او یتیم او بندي ته طعام ورکوي

٢٢ .او د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې د ادابو، اخلاقو او فضیلتونو بېلابېلو برخو ته بلنه ورکوي، اسلام د خوراک او څښاک آداب بیان کړي، د لباس او نکاح آداب یې ښوولي، د سفر او حضر آداب یې واضح کړي، څوک چې ښه یا بد درسره کوي د هغې سره یې د چلند اصول ښوولي، د خپلوانو او پردیو، نږدې او لرې ګاونډیانو، حاکم او رعیت، کارکوونکو او د عزت خاوندانو، مېرمنې او اولادونو سره د تعامل طریقې یې بیانې کړې دي، همدارنګه د ژوندیو او مړو سره د چلند آداب یې ښوولي؛ لکه غسل، خوشبویي، کفن، دفن او دعا، او د دښمن او دوست، او د جګړې او سولې پر مهال د چلند اصول یې هم مورِ ته بیان کړي دي.

لنډه دا چې داسې هېڅ ښه اخلاقي ادب نشته مګر اسلام ورته بلنه ورکړې او د هغې په کولو یې ثواب مقرر کړی دی، او داسې هېڅ بد خوی او خلق نشته مګر اسلام ترې منع کړې ده.

٢٣ .او د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه بله ځانګړتیا هغه نړیوالتوب یعنې د ټولې نړۍ لپاره دی؛ دا شریعت د ټولو انسانانو لپاره دی او د ټولو خلکو لپاره مناسب دی، الله تعالی خپل نبي ﷺ ته فرمایي:

﴿قُلۡ يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنِّي رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيۡكُمۡ جَمِيعًا﴾

ته ووایه: ای خلقو! بېشکه زه ستاسو د ټولو په طرف د الله (رالېږل شوی) رسول یم

او نبي کریم ﷺ فرمایلي دي :پخواني پېغمبران یوازې خپلو قومونو ته رالېږل کېدل؛ خو زه ټولو انسانانو ته رالېږل شوی یم[1].

٢٤ .او د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې د هر زمان او هر مکان سره تطابق کوي، د دې شریعت هېڅ یو لارښوونه داسې نه ده چې د بشري تمدن او پرمختګ سره دې ټکر ولري.

اسلامي تمدن اته پېړۍ پر نړۍ واکمن و، او وروسته د راتلونکو تمدنونو بنسټ وګرځېد. او الله تعالی څه رښتیا فرمایلي دي:

﴿أَلَا يَعۡلَمُ مَنۡ خَلَقَ وَهُوَ ٱللَّطِيفُ ٱلۡخَبِيرُ﴾

ایا هغه ذات به نه پوهېږي چې یې (هر څه) پیدا کړي دي (ولې نه!) او هم دی ډېر باریک بین، ښه خبردار دی

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شریعت د ځانګړتیاوو یوه ګټوره ټولګه ده، څوک چې دا ځانګړتیاوې وپېژني، هغه به د الله تعالی په رالېږل شوي شریعت کې د الله حکمتونه او عظمت وپېژني.

---

(١) رواه البخاري (٣٣٥) ومسلم (٥٢١) من حديث جابر رضي الله عنهما.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

۲۵ .الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **نو اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د اسلامي شريعت له ځانګړتياوو څخه يوه ځانګړنه دا هم ده چې د پخوانيو الهي شريعتونو ټولې ښېګڼې او نېکۍ يې په ځان کې راټولې کړې دي، او هغه سختۍ، درانه بارونه او بنديزونه يې ختم کړي دي چې الله تعالى د هغو شريعتونو پر پيروانو د هغوی د نافرمانۍ له امله د سزا په ډول لګولي وو، الله تعالى د خپل نبي ﷺ په صفت کې فرمايي:**

﴿وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَٱلْأَغْلَٰلَ ٱلَّتِى كَانَتْ عَلَيْهِمْ﴾

او له دوی نه د دوی درانه بارونه لرې کوي او هغه قيدونه چې په دوی وو

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شريعت د ځانګړتياوو يوه برخه وه، څوک چې دا ځانګړتياوې وپېژني او په ښه ډول يې درک کړي، هغه به په اسلامي شريعت کې د الله تعالى حکمت وپېژني، او ترڅنګ به يې د خپل وخت د منافقانو بېلارښتوب هم وپيژني؛ هغه کسان چې د اسلام او د هغه د شريعت عيب لټوي او دا ګومان کوي چې ګواکې اسلام د وروسته پاتېوالي او شاتګ دين دی، حال دا چې همدوی پخپله د دې وصف وړ دي، الله تعالى دې مورِ د هغوی له شبهاتو او بېلارو افکارو څخه وساتي.

بيا نو پوه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته يو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِىِّ ۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ صَلُّوا۟ عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا۟ تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملګرو، راشدينو خليفهګانو، هدايتيافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندګانو نصرت وکړه.

اې الله! مورِ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زمورِ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وګرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خیر غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! موږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زموږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتیا او عافیت ورکړه.

اې الله ستا په دین مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کیږو، دنیا راته سمه کړه، هغه دنیا چې زموږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زموږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې ببرته ورتگ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خیر او نېکۍ د زیاتوالي وسیله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکلیف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.

اې الله! موږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له موږ ختم نه شي، تا راکړې روغتیا بدله شي، ستا عذاب په موږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .

اې زموږ ربه! موږ ته زموږ له مېرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې یخې شي، او د متقیانو لارښوونکي مو ورگرځوه .

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٢٦-٣٢)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.
اې د ایمان خاوندانو! په تېرو خطبو کې د اسلامي شریعت د پنځه ویشتو ځانګړنو یادونه وشوه، او په دې خطبه کې به، د الله په توفیق، د دې مبارک شریعت یو شمېر نورې ځانګړنې هم بیان کړو.

٢٦. اې د الله بندګانو !د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه یوه دا ده چې دا شریعت د خیر، نېکۍ او اصلاح امر کوي، او له شر، فساد او ورانکارۍ څخه منع کوي. الله تعالی فرمایي:

﴿وَتَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡبِرِّ وَٱلتَّقۡوَىٰۖ وَلَا تَعَاوَنُواْ عَلَى ٱلۡإِثۡمِ وَٱلۡعُدۡوَٰنِۚ﴾

او تاسو له یو بل سره په نېکۍ او پرهېزګارۍ کې مدد کوئ او د ګناه او ظلم په کار کې د یو بل مدد مه کوئ.
او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : نه باید څوک بل ته ضرر ورسوي او نه ځان ته ضرر ورسوي[١].

همدارنګه یې فرمایلي دي : که له تاسو څخه څوک کوم بد کار وویني، نو په لاس دې منع کړي، که یې د لاس وس نه وي؛ نو په ژبه دې منع کړي، او که د دې توان هم ونه لري؛ نو په زړه دې ترې کرکه وکړي، او دا د ایمان تر ټولو کمزورې درجه ده[٢].

٢٧ ـ د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې خپل پیروان د شرعي علم زده کړې او زیاتولو ته هڅوي؛ هغه علم چې زړونو ته ژوند وربخښي، نفسونه سموي، د دنیا او آخرت نېکمرغي ورباندې ترلاسه کېږي، او ټولنه د فکري یرغلونو او ورانوونکو نظریو څخه ساتي. الله تعالی خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:

﴿وَقُل رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴾

او ته وایه: ای زما ربه ما ته (زما) په علم کې زیاتوالی راکړې

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :چا ته چې الله تعالی د خیر اراده وکړي، هغه ته د دین پوهه ورپه برخه کوي[٣].

٢٨. د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د ځمکې د آبادولو او سمسورتیا امر کوي، الله تعالی فرمایي:

﴿هُوَ ٱلَّذِي جَعَلَ لَكُمُ ٱلۡأَرۡضَ ذَلُولٗا فَٱمۡشُواْ فِي مَنَاكِبِهَا وَكُلُواْ مِن رِّزۡقِهِۦۖ وَإِلَيۡهِ ٱلنُّشُورُ﴾

دی همغه ذات دی چې تاسو لپاره یې ځمکه تابع ګرځولې ده، نو تاسو د دې په اوږو (اطرافو، لارو) کې ګرځئ او د دغه (الله) له رزق نه خورئ او خاص ده ته (ستاسو) بیا ژوندي راپورته کېدل دي.

---

(١) رواه أحمد (٣١٣/١) وغيره عن ابن عباس رضي الله عنهما، وحسنه محققو «المسند» برقم (٢٨٦٥).
(٢) رواه مسلم (٤٩).
(٣) أخرجه البخاري (٧١)، ومسلم (١٠٣٧) عن معاوية بن أبي سفيان رضي الله عنه.

او همدارنگه فرمايي:

﴿هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا﴾

هم هغه تاسو له ځمکې نه پيدا کړئ يئ او په دې کې يې تاسو اوسولي يئ

يعنې الله تعالى تاسو له ځمکې پيدا کړي ياست، په همدې ځمکه کې يې خپل استازي ګرځولي ياست، پر تاسو يې ښکاره او پټ نعمتونه کړي دي، او په ځمکه کې يې واک درکړی دی؛ نو تاسو پکې ودانۍ جوړوئ، ونې کينوئ، کرنه کوئ، فصلونه ورکې کړئ، او د هغې له ګټو او نعمتونو څخه استفاده کوئ.

٢٩. د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا شريعت د پخوانيو ټولو شريعتونو ناسخ او بشپړوونکی دی، الله تعالى فرمايي:

﴿وَأَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلۡكِتَٰبِ وَمُهَيۡمِنًا عَلَيۡهِۖ﴾

او (ای نبي!) مونږ تا ته کتاب په حقه سره نازل کړی دی، چې د هغو کتابونو تصديق کوونکی دی چې له ده نه مخکې دي او د هغوی محافظ دی.

٣٠. د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د ښځې حقونو او عزت ته ځانګړې پاملرنه لري، د هغې احساسات او اړتياوې په پام کې نيسي، اسلام ښځې ته له نوې(٩٠) څخه زيات حقوق ورکړي دي؛ له همدې امله مسلمانه ښځه عزتمنده، درنه او خوندي ګرځول شوې ده، او د خپل مېړه، اولادونو او ټولنې لپاره د خير او نعمت وسيله ده، په داسې حال کې چې په ختيځ او لويديځ کې ښځه په سخت ډول سپکه او بې‌عزته شوې ده؛ که ځوانه وي، که مور وي او که بوډۍ وي. د ځوانۍ پر مهال يوازې د خوند اخيستنې وسيله ګڼل کېږي، او د بوډاتوب پر مهال د زړو خلکو مرکزونو ته سپارل کېږي، او د رواني درملو، نشه‌يي موادو، سقطِ جنين او ځان وژنې کچې د ښځو ترمنځ دومره لوړې شوې دي چې بيان يې ستونزمن دی[1].

٣١. د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې ټول احکام يې پر الهي حکمتونو ولاړ دي؛ که هغه د عباداتو احکام وي، که د معاملاتو، او که د حدودو وي، که مورِ يې حکمتونه پېژنو او که يې نه يې پېژنو، الله تعالى په خپلو کارونو، ويناوو، قوانينو او په خپل تقديرونو کې حکيم دی[2]. اې د الله بندګانو !دا د اسلامي شريعت د ځانګړنو يوه ګټوره او ارزښتمنه ټولگه وه، څوک چې دا ځانګړنې وپېژني، هغه به پوه شي چې الله تعالى په خپلو قوانينو او احکامو کې څومره لوی حکمت ايښی دی، او همدارنگه به ورته څرګنده شي چې د انسانانو جوړ کړي قوانين او نظامونه څومره کمزوري او ناقص دي.

---

(١) انظر للفائدة: «ثمانون مظهرا من مظاهر تكريم الإسلام للمرأة، وحفظ حقوقها، واحترام مشاعرها»، ماجد بن سليمان الرسي، وهو منشور في شبكة المعلومات.

(٢) انظر للفائدة: «أسرار الشريعة من إعلام الموقعين» لابن القيم، جمع وترتيب: مساعد بن عبد الله السلمان، الناشر: دار المسير - الرياض، و «مقاصد الشريعة عند العلامة عبد الرحمن بن ناصر السعدي»، د. جميل يوسف زريوا، الناشر: دار التوحيد - الرياض.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

۳۲. الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **نو اې د الله بندګانو! له الله تعالى څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه يوه دا هم ده چې د هغې وړاندوينې او خبرونه رښتيني دي، هر هغه راتلونکی امر چې شريعت پرې خبر ورکړی، يا خو بالفعل واقع شوی دی او يا به خامخا واقع کېږي.**

له همدې ښلګو څخه دا ده چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم د بدر په ميدان کې د جګړې نه مخکې تم شو؛ نو د مشرکانو د ځينو مشرانو د وژل کېدو ځايونه يې وټاکل، له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی، او هغه له عمر بن الخطاب رضي الله عنه څخه نقل کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مورِ ته د بدر د کافرانو د وژل کېدو ځايونه وښودل او وفرمايل يې : سبا، که الله وغواړي، دا به د فلاني د وژل کېدو ځای وي.

عمر رضي الله عنه وايي :قسم په هغه ذات چې خپل رسول يې په حقه رالیږلی دی! هغوی له دغه ځايونو څخه يوه ذره هم اوښتي نه وو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ښوولي وو[۱].

او په صحيح بخاري کې له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د مؤته جګړې ته يو لښکر ولېږه، او پر هغوی يې زيد بن حارثه رضي الله عنه امير وټاکه، او ورته يې وفرمايل :که زيد شهيد شو؛ نو جعفر به ستاسو امير وي، او که جعفر شهيد شو؛ نو عبدالله بن رواحه به ستاسو امير وي .صحابه کرام په مدينه کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ناست وو، چې ناڅاپه رسول الله صلى الله عليه وسلم د زيد رضي الله عنه د شهادت خبر ورکړ، بيا يې د جعفر رضي الله عنه، او وروسته يې د عبدالله بن رواحه رضي الله عنه د شهادت خبر هم ورکړ، حال دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه کې ناست و، او جګړه په بل ځای کې روانه وه[۲].

او له رښتينو خبرونو څخه دا هم ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د نجاشي د وفات خبر په هماغه ورځ ورکړی و چې هغه په حبشه کې وفات شوی و، حال دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په مدينه کې و، بيا يې د هغه لپاره غائبانه د جنازې لمونځ هم ادا کړ[۳].

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شريعت د ځانګړتياوو يوه برخه وه، څوک چې دا ځانګړتياوې وپېژني او په ښه ډول يې درک کړي، هغه به په اسلامي شريعت کې د الله تعالى حکمت وپېژني، او ترڅنګ

---

(۱) رواه مسلم (۲۸۷۳).

(۲) رواه البخاري (۱۲٤٦).

(۳) انظر صحيح البخاري (۱۲٤٥) ومسلم (۹٥۱) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

به يې د خپل وخت د منافقانو بېلارښتوب هم وپيژني؛ هغه کسان چې د اسلام او د هغه د شريعت عيب لټوي او دا گومان کوي چې گواکې اسلام د وروسته پاتېوالي او شاتگ دين دی، حال دا چې همدوی پخپله د دې وصف وړ دي، الله تعالی دې موږ د هغوی له شبهاتو او بېلارو افکارو څخه وساتي.

بيا نو پوه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته يو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفهگانو، هدايتيافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خير غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٣٣-٣٨)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی برياليتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.
اې د مومنانو ټولیه! په تېرو خطبو کې د اسلامي شریعت د شاوخوا دېرشو ځانګړنو یادونه وشوه، او په دې خطبه کې به، د الله تعالی په توفیق، د دې مبارک شریعت ځینې نورې ځانګړنې هم بیان کړو.
۳۳ .اې د الله بندګانو !د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا ده چې څوک اسلام ته داخل شي؛ نو که هغه د عقل او پوهې خاوند وي، بیا د خپل دین څخه د کرکې او ناخوښۍ له امله نه اوړي، د اسلام په تاریخ کې داسې څه نه دي معلوم چې یو څوک دې د اسلامي تعلیماتو له امله زړه توری شوی وي؛ ځکه د اسلام لارښوونې له عقل او فطرت سره بشپړ سمون لري، او د روح او بدن دواړو اړتیاوې پوره کوي، ټول ژنا او ستاینه الله تعالی لره ده چې حق یې څرګند کړی او د هدایت لار یې روښانه کړې ده.
۳۴ . د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چا چې هم ددې شریعت د مقابلې هڅه کړې دا شریعت پرې غالبه او برلاسی دی او هر هغه څوک چې د دې د مبارزې لپاره ورمخې ته شوی وي؛ عاجز کړي یې دي، تر نن ورځې هېڅوک ونه توانېدل چې د قرآن کریم د یوه آیت رښتینولي باطله کړي، او نه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یوه حدیث د ناسم ثابتولو توان پیدا کړ. همدارنګه هېڅا دا توان ونه موند چې د قرآن د آیتونو په څېر یوه آیت هم راوړي، او هېڅوک به ونه شي کړای چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تعلیماتو په څېر یا هغو ته نږدې لارښوونې وړاندې کړي. الله تعالی رښتیا فرمایلي دي:

﴿وَلَوۡ كَانَ مِنۡ عِندِ غَيۡرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخۡتِلَٰفٗا كَثِيرٗا﴾

او که چېرې دا د غیرالله له خوا وَی، دوی به په ده کې خامخا ډېر زیات اختلاف موندلی و.
۳۵ . د اسلامي شریعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د خپلو پیروانو ترمنځ عدالت قائموي، د شریعت لارښوونې دا دي چې ټول انسانان له یوه سړي او یوې ښځې، یعنې آدم او حواء علیهما السلام څخه پیدا شوي دي، او هغه معیار چې د انسانانو ارزښت پرې سنجول کېږي تقوا ده، نه د پوستکي رنګ، نه ټولنیز مقام او نه هم مادي شتمنیده. الله تعالی فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ إِنَّا خَلَقۡنَٰكُم مِّن ذَكَرٖ وَأُنثَىٰ وَجَعَلۡنَٰكُمۡ شُعُوبٗا وَقَبَآئِلَ لِتَعَارَفُوٓاْۚ إِنَّ أَكۡرَمَكُمۡ عِندَ ٱللَّهِ أَتۡقَىٰكُمۡۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٞ﴾

ای خلقو! بېشکه مونږ تاسو له یوه سړي او له یوې ښځې پیدا کړي یئ او مونږ تاسو څانګې او قبیلې ګرځولي یئ، د دې لپاره چې تاسو یو بل سره وپېژنئ، بېشکه د الله په نیز په تاسو کې ډېر عزتمن، ستاسو زیات پرهېزګار دی ـ، بېشکه الله ښه پوه، ښه خبردار دی

٣٦ . د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د دې شريعت پيروان او منونکو سره د الله له طرفه ورسره مرسته او نصرت دي. الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ﴾

بېشکه مونږ خامخا د خپلو رسولانو او د هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی، په دنيايي ژوند کې مدد کوو او په هغې ورځ کې (هم) چې ګواهان به ودريږي.

٣٧ . د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا شريعت به د قيامت تر ورځې پورې پاتې او روان وي، له معاويه رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: زما د امت يوه ډله به تل د الله د دين پر حقه لار ولاړه وي، څوک يې چې ذليله کول غواړي او يا يې مخالفت کول غواړي؛ دوی ته به هيڅ ډول زيان ونشي رسولی، تر هغې چې د الله امر راشي او هغوی به پر خلکو غالبه وي[1].

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شريعت د ځانګړنو يوه ګټوره او ارزښتمنه ټولګه وه، څوک چې دا ځانګړنې وپېژني، هغه به پوه شي چې الله تعالى په خپلو احکامو او قوانينو کې څومره ستر حکمتونه ايښی دی، او همدارنګه به ورته څرګنده شي چې د انسانانو جوړ کړي قوانين او نظامونه څومره کمزوري او نيمګړي دي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

٣٨ .الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **نو اې د الله بندګانو! له الله تعالى څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د اسلامي شريعت له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د دې شريعت پيروان او منوونکي تر ټولو غوره امت دی، الله تعالى فرمايي:**

﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ﴾

تاسو غوره امت يئ چې د خلقو لپاره پيدا کړی شوي يئ، تاسو د نېکۍ حکم کوئ او له بدۍ نه منع کوئ او په الله باندې ايمان راوړئ.

او له بهز بن حکيم څخه روايت دی، هغه له خپل پلار او هغه له خپل نيکه څخه روايت کوي چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د دې آيت په اړه واورېدلي چې فرمايي:

---

(١) تقدم تخريجه.

﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو اويا (٧٠) امتونه پوره کوئ، او تاسو د هغوی تر ټولو غوره او د الله تعالی په نزد تر ټولو عزتمند امت یاست[1].

اې د الله بندگانو! دا د اسلامي شريعت د ځانگړتياوو يوه برخه وه، څوک چې دا ځانگړتياوې وپېژني او په ښه ډول يې درک کړي، هغه به په اسلامي شريعت کې د الله تعالی حکمت وپېژني، او ترځنگ به يې د خپل وخت د منافقانو بېلارښتوب هم وپيژني؛ هغه کسان چې د اسلام او د هغه د شريعت عيب لټوي او دا گومان کوي چې گواکې اسلام د وروسته پاتېوالي او شاتگ دين دی، حال دا چې همدوی پخپله د دې وصف وړ دي، الله تعالی دې مورِ د هغوی له شبهاتو او بېلارو افکارو څخه وساتي.

بيا نو پوه شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته يو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيْهِ وَسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفهگانو، هدايتيافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! مورِ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زمورِ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وگرځوه.

اې الله! مورِ له تا څخه د هر خير غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې مورِ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي يا وروسته، هغه چې مورِ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! مورِ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.

اې الله! زمورِ ناروغانو ته شفا ورکړه، زمورِ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتيا او عافيت ورکړه.

اې الله ستا په دين مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کيږو، دنيا راته سمه کړه، هغه دنيا چې زمورِ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زمورِ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت

---

(١) رواه الترمذي (٣٠٠١)، وابن ماجه (٤٢٨٨)، وأحمد (٣/٥)، والبيهقي (٥/٩)، وحسن إسناده محققو «المسند» والألباني.

چې ببرته ورتگ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خیر او نېکۍ د زیاتوالي وسیله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکلیف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.

اې الله! مورږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له مورږ ختم نه شي، تا راکړې روغتیا بدله شي، ستا عذاب په مورږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .

اې زمورږ ربه! مورږ ته زمورږ له مېرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې یخې شي، او د متقیانو لارښوونکي مو ورگرځوه .

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنیا کې ښه ژوند، نېکمرغي او خیر راکړه، او په آخرت کې هم راته ښه بدله، رحمت او کامیابي نصیب کړه، او مورږ د اور له عذابه وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٣٩-٤٢)

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې د الله بنده ګانو! له الله څخه وېرېږئ، تعظيم او اطاعت يې وکړئ، نافرماني يې مه کوئ، د طاعاتوپه ترسره کولو، د ګناهونو او بديو په پرېښودلو کې صبر وکړئ، او پوه شئ چې الله تعالی شريعتونه د يوې سترې موخې لپاره نازل کړي دي، بکې دا يې هغه څه لورې ته بيا يې چې په هغې د انسان د دنيا او اخرت خيرونه وي؛ ځکه د انسان عقلونه ناقص دي، نه شي کولای چې خپله ځان ته داسې شريعت جوړولو کړي، چې هدايت ورته وکړي، بلکې دا يوازې د الله ځانګړتيا ده چې په

خپلو صفاتو کې کامل، په خپلو افعالو، ویناوو او تقدیر کې حکیم دی، د خپلو مخلوقاتو په مصالحو ښه خبر دی او پرې مهربان دی، خو انسانان بیا په خپل علم قاصر او محدود دي.

اې د مومنانو ټولیه !په تېرو خطبو کې مو د اسلامي شریعت نږدې ځلوېښت ځانګړتیاوې بیان کړې وې، او په دې خطبه کې به د هغو پاتې ځانګړتیاوو یادونه وکړو چې د الله په توفیق سره یې شمېر تر دوه ځلوېښتو رسېږي.

۳۹ .د الله بندګانو !د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه یوه دا ده چې هر هغه وینا او نظریه چې له دې شریعت سره مخالفت وکړي، باطله ده او د حق په وړاندې هېڅ ارزښت نه لري. الله تعالی فرمایي:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا﴾

او ته ووایه: حق راغی او باطل په تېښته ورك شو، بېشکه باطل دی ورکېدونکی

او هم فرمایي:

﴿قُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَمَا يُبۡدِئُ ٱلۡبَٰطِلُ وَمَا يُعِيدُ﴾

ته ووایه: حق راغی او باطل نه اول ځلې پیدا کول کولی شي او نه دوباره ژوندي کول کولی شي یعنې باطل له منځه ځي، خپل اثر له لاسه ورکوي او واک یې ختمېږي؛ نه څه پیل کولی شي او نه دوام موندلی شي[۱].

۴۰ .د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه بله دا ده چې دا شریعت ثابت، ټینګ او د هر ډول ستونزو او ازموینو پر وړاندې ولاړ پاتې شوی دی، سره له دې چې په تاریخ کې پرله پسې مصیبتونه راغلي او دښمنانو پرې هر وخت یرغلونه کړي، خو اسلامي شریعت نه له منځه تللی او نه بدل شوی دی، برعکس د بشري قوانینو حال داسې نه دی؛ هغوی کله لنډمهاله وي، کله بدلېږي او کله په بشپړه توګه له منځه ځي.

د اسلامي شریعت د ثبات له څرګندو بېلګو څخه دا ده چې دا شریعت د فکري بهیرونو پر وړاندې ولاړ پاتې شوی دی؛ لکه د عیسویت د خپرولو (تبشیر) خوځښت، چې هدف یې د خلکو عیسوي کول او د صلیب عبادت ته اړ کول وو، سره له دې چې د دې کار لپاره لوی امکانات او ملاتړ شتون درلود؛خو بیا هم د اسلام منلو کچه په نړۍ کې لوړه پاتې شوه.

همدارنګه د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي شریعت د ثبات له بېلګو څخه دا چې دا شریعت د سیکولرزم پر وړاندې ټینګ ولاړ پاتې شوی دی؛ هغه فکر چې غواړي دین له ژوند څخه جلا کړي او یوازې د انسان او الله ترمنځ شخصي اړیکه یې وګرځوي.

همدارنګه ددې شریعت د ثبات بله بېلګه هغه د قومي او بعثي نظریاتو پر وړاندې مقاومت دی، تر دې چې دغه نظریات اوس کمزوري او نږدې له منځه تللي دي.

---

(۱) قاله ابن سعدي رحمه الله في تفسير الآية.

همدارنگه ددې شریعت د ثبات بله بېلگه دا هم ده چې د تشدد او ګډوډۍ د خوځښتونو پر وړاندې ولاړ پاتې شوی دی چې غواړي د مسلمانانو په هېوادونو کې واک په زور واخلي، خو پایلې یې نړۍ ولیدلې: هېوادونه له ښه حالت څخه بدتر شول، وینې تویې شوې، حرمتونه تر پښو لاندې شول، او دښمنان پرې خوشحال شول او دا خوځښت یې "پسرلی "وباله.

۴۱ .د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې څوک له دې شریعت سره مقابله کوي، په پای کې ماته خوري او ذلیله کېږي، که هغه د قدرت خاوندان وي او که فکري ډلې وي، اوس کمونیزم، بعثیزم او نورې نظریې چېرته دي؟ ټول له منځه تللي او یوازې یې نوم پاتې دی.

خو اسلام د ځوارلسو پېړیو په اوږدو کې له بېلابېلو حملو سره سره لا هم ژوندی دی، نه د صلیبي جګړو له امله له منځه ولاړ، نه د اروپایي استعمار له امله، نه د تاتري یرغلونو له امله، او نه د نورو فکري او سیاسي حملو له امله، برعکس لا نور هم قوي او مضبوط شوی دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَقُلۡ جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقٗا﴾

او ته ووایه: حق راغی او باطل په تېښته ورك شو، بېشکه باطل دی ورکېدونکی

اې د الله بندګانو !دا د اسلامي شریعت یو شمېر مهمې ځانګړتیاوې دي، څوک چې دا وپېژني، د الله د شریعت د حکمت لویوالی به وپیژني، او د بشري قوانینو کمزورۍ به هم ورته څرګندې شي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

۴۲ .الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، د الله بندګانو! له الله څخه وېرېږئ او پوه شئ چې د اسلامي شریعت له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې کومه ټولنه او دولت دا شریعت عملي کړي، الله ورته د دنیا او آخرت سعادت ورکوي.

په دنیا کې به په امن، عزت او ښه ژوند کې وي، او په آخرت کې به د لوی ثواب مستحق شي؛ خو کوم قوم چې د الله له شریعت څخه مخ واړوي، که څه هم ډېر ځواکمن وي، بیا هم په ستونزو او کړاوونو کې ژوند کوي، دا حقیقت د تاریخ له مخې هم ثابت دی.

او کله چې پخوانیو خلکو دا پوهه درلوده او عمل یې پرې کاوه، اسلامي تمدن شاوخوا اته پېړۍ پر نړۍ واکمن و؛ ځکه نو د الله دا وعده په هغوی کې پوره شوه:

﴿وَعَدَ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمۡ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأَرۡضِ كَمَا ٱسۡتَخۡلَفَ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِهِمۡ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِينَهُمُ ٱلَّذِي ٱرۡتَضَىٰ لَهُمۡ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّنۢ بَعۡدِ خَوۡفِهِمۡ أَمۡنٗاۚ يَعۡبُدُونَنِي لَا يُشۡرِكُونَ بِي شَيۡـٔٗاۚ﴾

الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی، چې تاسو یئ او نېک عملونه یې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دین ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي.

خو کله چې خلکو له دین څخه مخ واړاوه، الله تعالی له هغوی څخه واک واخیست او دښمنان یې پرې مسلط کړل، لکه څنګه چې نن ورځ ښکاره لیدل کېږي.

اې د الله بندګانو! دا د اسلامي شریعت د ځانګړتیاوو یوه برخه وه، څوک چې دا ځانګړتیاوې وپېژني او په ښه ډول یې درک کړي، هغه به په اسلامي شریعت کې د الله تعالی حکمت وپېژني، او ترڅنګ به یې د خپل وخت د منافقانو بېلارښتوب هم وپیژني؛ هغه کسان چې د اسلام او د هغه د شریعت عیب لټوي او دا ګومان کوي چې ګواکې اسلام د وروسته پاتېوالي او شاتګ دین دی، حال دا چې همدوی پخپله د دې وصف وړ دي، الله تعالی دې موږ د هغوی له شبهاتو او بېلارو افکارو څخه وساتي.

بیا نو په شئ، الله دې پر تاسو رحم وکړي، چې الله تاسو ته یو ډېر لوی امر کړی دی، او فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملګرو، راشدینو خلیفهګانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنګه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته یې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندګانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وګرځوه.

اې الله! موږ له تا څخه د هر خیر غوښتنه کوو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو، او له تا څخه د هر شر څخه پناه غواړو، هغه که عاجل وي یا وروسته، هغه چې موږ پرې پوهېږو او هغه چې نه پرې پوهېږو.

اې الله! موږ له تا څخه ارام ژوند، پراخه روزي او نېک عمل غواړو.
اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زموږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندگانو ته مو روغتیا او عافیت ورکړه.
اې الله ستا په دین مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د گمراهۍ څخه خوندي کیږو، دنیا راته سمه کړه، هغه دنیا چې زموږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زموږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې ښېرته ورتگ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خیر او نېکۍ د زیاتوالي وسیله وگرځوه، او مرگ مو له هر شر او تکلیف څخه د آرام او خلاصون سبب وگرځوه.
اې الله! موږ په تا سره پناه غواړو چې ستا کړي نعمتونه له موږ ختم نه شي، تا راکړې روغتیا بدله شي، ستا عذاب په موږ ناڅاپه نازل شي، او ستا هر ډول غضب راباندې نازل شي .
اې زموږ ربه! موږ ته زموږ له میرمنو او اولادونو داسې نسل راکړه چې سترگې مو پرې یخې شي، او د متقیانو لارښوونکي مو ورگرځوه .
اې زموږ ربه! موږ ته او زموږ هغو وروڼو ته ښښنه وکړه چې له موږ مخکې یې ایمان راوړی دی، او زموږ په زړونو کې د مؤمنانو لپاره هېڅ کینه مه پرېږده. اې زموږ ربه! ته ډېر مهربان او ډېر رحم کوونکی یې.
اې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې ښه ژوند، نېکمرغي او خیر راکړه، او په آخرت کې هم راته ښه بدله، رحمت او کامیابي نصیب کړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

اللهم صل وسلم على نبينا محمد وآله وصحبه.

د جمعې ورځې ځانگړي صفتونه او فضيلتونه

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوڼ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ېښکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، او په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په ځان ولرئ، او پوه شئ چې د الله تعالی د ربوبيت له نښو څخه يوه دا ده چې هغه په خپلو مخلوقاتو کې ځينې ځانګړي شيان په خپل اختيار سره لوی او محترم ګرځولي دي؛ که هغه اشخاص وي، که ځايونه وي او که زمانې، او دا ټول د الله تعالی د حکمت له مخې دي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ﴾

او ستا رب پيدا کوي هغه چې وغواړي او هغه انتخاب کوي

الله تعالى په انسانانو کې پيغمبران غوره کړي دي، او په پيغمبرانو کې يې الو العزم پيغمبران غوره کړې، چې هغه نوح، ابراهيم، موسى، عيسى او محمد عليهم الصلاة والسلام دي، بيا يې له دغو پنځو څخه دوه خليلان غوره کړل چې ابراهيم او محمد عليهما الصلاة والسلام دي، او بيا يې له دغو دواړو خليلانو څخه محمد صلى الله عليه وسلم غوره کړ؛ چې په ټولو انبياؤو او رسولانو کې تر ټولو غوره او افضل دى.

په ځايونو کې چې کوم ته الله تعالى غوروالې ورکړى دي، هغه مکه مکرمه ده، چې د ځمکې تر ټولو غوره ټوټه يې گرځولې ده، او له هغې وروسته بيا په غوره والي کې مدينه منوره راځي، همدارنگه الله تعالى په دغو دواړو جوماتونو کې د لمانځه ثواب څو برابره کړى دى.

په وختونو کې چې کوم ته الله تعالى غوروالى ورکړى دى، هغه د جمعې ورځ ده، دا د ټولو ورځو سرداره ده، او الله تعالى دې ورځې ته ځاص فضيلتونه او ځانگړنې ورکړې دي، او پر نورو ورځو يې د خاصو حکمتونو له امله غوره کړې ده، له هغو ځانگړونو څخه يې مهم دا دي:

١ ـ د جمعې په ورځ کې سترې او لويې پېښې رامنځته شوې دي، له أوس بن أوس رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :په ستاسو باندې په ټولو ورځو کې غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده؛ په همدې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوى دي، په همدې ورځ وفات شوى دى، په همدې ورځ به شپېلۍ وپوکل شي، په همدې ورځ به ټول خلک د شپېلۍ د پوکلو وروسته بې هوشه شي[1].

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل :تر ټولو غوره ورځ چې سهار يې لمر راپوته شي؛ هغه د جمعې ورځ ده؛ په همدې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوى، په همدې ورځ جنت ته داخل کړل شو، او په همدې ورځ له جنت څخه وايستل شو، او قيامت به هم د جمعې په ورځ قائميږي[2].

٢ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې دا د خلکو د راټولېدو او د پيدايښت او آخرت د يادونې ورځ ده، الله سبحانه وتعالى د هر امت لپاره په اونۍ کې يوه ورځ ټاکلې ده چې هغوى پکې د عبادت لپاره وزگار شي، سره راټول شي، چې پيدايښت، د بېرته راژوندي کېدو، د ثواب او عذاب ياد تازه کړي، او د قيامت د لوى اجتماع يادونه پکې وکړي؛ هغه ورځ چې ټول انسانان به د رب العالمين په حضور کې ولاړ وي.

او د دې مقصد لپاره تر ټولو مناسبه ورځ د جمعې ورځ وه؛ نو الله تعالى دا ورځ د دې امت لپاره، د هغوى د فضيلت او عزت له امله، ځانگړې وساتله، الله تعالى د دې ورځې اجتماع د خپلې بندگۍ لپاره مشروع کړه، تر څو انسان د پيدا کيدو په حکمت، د ژوند په مقصد، د دنيا د ختميدو، د

---

(١) رواه أبو داود (١٠٤٣)، وصححه الألباني في (صحيح أبي داود) (١٠٤٧).

(٢) رواه مسلم (٨٥٤).

اسمانونو او ځمکې د راټولیدو، او د ټولو کارونو الله پاک ته د ورگرځېدو یاد تازه کړي چې څنگه یې لومړی پیل کړي و، څنگه یې چې دا حق وعده ده، له همدې امله به نبي کریم صلی الله علیه وسلم د جمعې د سهار په لمانځه کې سورت (ألم تنزیل) او سورت (هل أتی علی الإنسان) تلاوت کاوه؛ ځکه په دغو دواړو سورتونو کې د پیدایښت، آخرت، د مخلوقاتو د راژوندي کولو، او د جنت او دوزخ د یادونې خبرې شوې دي[۱].

۳ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې دا هره اونۍ تکرارېدونکی اختر دی، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :بېشکه دا د اختر ورځ ده، چې الله تعالی د مسلمانانو لپاره ټاکلې ده؛ نو څوک چې د جمعې لمانځه ته راځي، غسل دې وکړي، که خوشبویي ورسره وي نو استعمال دې کړي، او پر تاسو مسواک وهل لازم دی[۲].

۴ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو او فضیلتونو څخه دا هم ده چې الله تعالی دا ورځ د غوره امت، یعنې د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته ځانگړې کړې ده، او پخواني امتونه یې ترې بېبرخې کړي دي، له ابو هریره او حذیفه رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی لله علیه وسلم وفرمایل :الله تعالی هغه خلک د جمعې له ورځې بېلارې کړل چې له موږ مخکې وو؛ یهودو ته د شنبې ورځ وه، او نصاراوو ته د یکشنبې ورځ؛ بیا الله تعالی موږ ته دا توفیق راکړ او د جمعې ورځې ته یې زموږ هدایت کړو[۳].

۵ ـ د جمعې ورځې له فضیلتونو څخه دا هم دي چې د جمعې د سهار د جماعت لمونځ د مسلمان لپاره د ټولې اونۍ تر ټولو غوره لمونځ دی، له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :په لمونځونو کې الله ته غوره لمونځ هغه د جمعې د ورځې د سهار لمونځ دی چې په جماعت سره ادا شي[٤].

د دې فضیلت سبب دا دی چې د سهار لمونځ په خپله د پنځو لمونځونو تر ټولو غوره لمونځ دی، د جمعې ورځ د ټولو ورځو تر ټولو غوره ورځ ده، او جماعت له یوازې لمانځه څخه غوره دی؛ نو ځکه دا یو مطلق او لوی فضیلت دی.

٦ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې د جمعې د ورځې د سهار د لمانځه په لومړۍ رکعت کې د سورت السجده تلاوت کړي، او په دویم رکعت کې بیا سورت الإنسان ولولي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی :نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د جمعې د سهار په لمانځه کې په لومړي رکعت کې (ألم تنزیل) او په دویم رکعت کې (هل أتی علی الإنسان حین من الدهر لم یکن شیئا مذکورا) تلاوت کول[٥].

---

(۱) قاله ابن القیم في (زاد المعاد) (۱/٤۲۱-٤۲۲)، باختصار وتصرف یسیر.

(۲) رواه ابن ماجه (۱۰۹۸) وحسَّنه الألباني في «صحیح ابن ماجه».

(۳) رواه مسلم (۸٥٦).

(٤) رواه البیهقي في "شعب الإیمان"(۲۷۸۳)، وصححه الألباني في صحیح الجامع (۱۱۱۹)، والصحیحة (۱٥٦٦).

(٥) رواه البخاري (۸۹۱) ومسلم (۸۸۰)، واللفظ له.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي :نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د جمعې د سهار په لمانځه کې دا دواړه سورتونه ځکه لوستل چې په هغو کې د جمعې د ورځې اړوند مهم مطالب بیان شوي دي؛ لکه د آدم علیه السلام پیدایښت، د آخرت یادونه، د قیامت په ورځ د خلکو راټولېدل او ښېرته راژوندي کېدل، او دا ټولې پېښې به د جمعې په ورځ واقع کېږي؛ نو د دغو سورتونو په تلاوت سره به امت ته د تېر او راتلونکي وخت یاد تازه کیږي[۱].

۷ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د جمعې په ورځ د سورت کهف لوستل، له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چا چې د جمعې په ورځ سورت کهف تلاوت کړ، د دوو جمعو ترمنځ به الله تعالی هغه ته د نور رڼا نصیب کړي[۲].

۸ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا هم ده چې په دې ورځ کې د دعا د قبلېدو یوه ځانګړې شیبه شته؛ داسې شیبه چې که یو مسلمان بنده په هغې کې له الله تعالی څخه څه خیر وغواړي، الله تعالی یې ورکوي، په صحیحینو کې د ابو هریره رضي الله عنه له حدیث څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :بېشکه د جمعې په ورځ یوه داسې شیبه شته چې که یو مسلمان په هغې کې له الله تعالی څخه څه خیر وغواړي، الله تعالی یې حتماً ورکوي .او بیا یې وفرمایل :هغه یوه ډېره لنډه شیبه ده . [۳]یعنې ډېر ژر تېریږي.

۹ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو او فضیلتونو څخه دا هم دي چې څوک د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شي، الله تعالی به یې د قبر له فتنې (عذابه)وساتي، له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :هر هغه مسلمان چې د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شي، الله تعالی به یې د قبر له ازمایښت او فتنې څخه وساتي .[٤]

۱۰ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو او لویو فضیلتونو څخه دا هم دي چې په دې ورځ د جمعې لمونځ ادا کېږي، او دا له تر ټولو غوره او ستر مقام لرونکو لمونځونو څخه دی، الله تعالی په قرآن کریم کې په ځانګړي ډول د دې لمانځه لپاره د بلنې او ورته د ورتګ امر کړی دی، الله تعالی فرمایي :

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوۡمِ ٱلۡجُمُعَةِ فَٱسۡعَوۡاْ إِلَىٰ ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلۡبَيۡعَۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُمۡ تَعۡلَمُونَ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وویلی شي، نو تاسو د الله ذکر ته منډې وهئ او اخیستل خرڅول پرېږدئ ـ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهېږئ

---

(۱) زاد المعاد"، (۳۷۵/۱).

(۲) رواه الحاكم في (مستدركه) (۳٦۸/۲) ومن طريقه البيهقي (۲٤۹/۳)، وصححه الألباني في (الإرواء) (۹۳/۳)، ورجح وقفه على أبي سعيد.

(۳) رواه البخاري (۹۳۵) ومسلم (۸۵۲)، واللفظ له.

(٤) رواه الترمذي (۱۰۸۰)،وقال الألباني في "أحكام الجنائز" (ص ٤۹، ۵۰): الحديث بمجموع طرقه حسن أو صحيح.

۱۱ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم دي چې په دې ورځ کې د صدقې ثواب څو برابره کېږي، عبدالرزاق په خپل (مصنف)کې له کعب رضي الله عنه څخه روایت نقل کړی چې هغه ویلي دي :د جمعې د ورځې صدقه د نورو ورځو له صدقې څخه ډېره غوره ده.

او ابن أبي شیبه هم په خپل (مصنف) کې تر ې روایت نقل کړی چې :د جمعې په ورځ د صدقې اجر څو چنده زیاتېږي.

ابن القیم رحمه الله فرمایي :د جمعې په ورځ صدقې ته داسې ځانگړی فضیلت شته چې په نورو ورځو کې نشته، د اونۍ د نورو ورځو په پرتله د جمعې د ورځې صدقه داسې ده لکه د نورو میاشتو په پرتله د رمضان د میاشتې صدقه چې وي .[1]

او ما شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیدلی و چې کله به د جمعې لمانځه ته وتلو، نو په کور کې به یې چې هر څه پیدا کړل؛ لکه ډوډۍ یا بل څه، له ځان سره به یې واخیستل او په لاره کې به یې په پټه صدقه کول.

او ما له هغه څخه اورېدلي چې ویل به یې :کله چې الله تعالی موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مناجات او خبرو نه مخکې د صدقې امر کړی و؛ نو د الله تعالی د مناجات او عبادت نه مخکې صدقه کول خو لا ډېر د فضیلت وړ دي.

۱۲ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم دي چې په دې ورځ او شپه کې پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډېر درود او سلام ویل مستحب دي، په دې ورځ د درود شریف ځانگړی فضیلت دی چې په نورو ورځو کې نشته؛ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته چې هر دنیوي او اخروي خیر رسېدلی، ټول د هغه مبارک په وسیله رسېدلی دی؛ نو د هغه د شکر، ستاینې، او د هغه د حق د لږ تر لږه ادا کولو یوه برخه دا هم ده چې د جمعې په ورځ او شپه کې پرې ډېر درود ووایو، او د درود معنا هم په زړه کې حاضره وساتو؛ یعنې الله تعالی ته دعا کول چې پر هغه دې ثنا وشي، مقام دې لوړ شي، او یاد دې په اسمان او ځمکه کې اوچت او لوړ وي.

دا د جمعې ورځې څو ځانگړنې او فضیلتونه وو، چې له املې یې د جمعې ورځ د الله تعالی او د هغه د مخلوقاتو په نزد ډېره ستره او معظمه گرځېدلې ده، او همدا وجه ده چې د ټولو ورځو سرداره بلل شوې ده.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

(۱) زاد المعاد"، (۱/٤۰۷).

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې الله تعالى تاسو ته د جمعې په ورځ پر نبي صلى الله عليه وسلم د ډېر درود او سلام ويلو حکم کړی دی ،او فرمايي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدينو خليفهگانو، هدايت‌يافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعينو او هغو کسانو څخه چې تر قيامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا د دين دښمنان تباه کړه، او ستا د توحيد منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! مورږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زمورږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدايت شوو له ډلې وگرځوه ،او هغه صالحه ملگري ورکړه.

اې زمورږ ربه! مورږ ته په دنيا کې ښه ژوند، نېکمرغي او خير راکړه، او په آخرت کې هم راته ښه بدله، رحمت او کاميابي نصيب کړه، او مورږ د اور له عذابه وساته.

اې د الله بندگانو! بېشکه الله تعالى د عدل (انصاف)، احسان او د خپلوانو سره د نيکي کولو حکم کوي، او له بې‌حيايۍ، بديو او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسو ته نصيحت کوي، ښايي چې تاسو پند واخلئ او يادونه وکړئ ؛نو تاسو الله تعالى ډېر ياد کړئ، هغه به تاسو ياد کړي؛ د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ، هغه به ستاسو نعمتونه زيات کړي. او د الله ياد تر ټولو لوی عمل دی، او الله ستاسو له کړو وړو څخه ښه خبر دی.

د جمعې د لمانځه ځانگړتياوې او فضيلتونه

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، او په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په ځان ولرئ، او پوه شئ چې د الله تعالی د ربوبيت له نښو څخه يوه دا ده چې هغه په خپلو مخلوقاتو کې ځينې ځانګړي شيان په خپل اختيار سره لوی او محترم ګرځولي دي؛ که هغه اشخاص وي، که ځايونه وي او که زمانې، او دا ټول د الله تعالی د حکمت له مخې دي، الله تعالی فرمايي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ﴾

او ستا رب پيدا کوي هغه چې وغواړي او هغه انتخاب کوي

١ ـ د جمعې په ورځ کې سترې او لويې پېښې رامنځته شوې دي، له أوس بن أوس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :په ستاسو باندې په ټولو ورځو کې غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده؛ په همدې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوی دي، په همدې ورځ وفات شوی دی، په همدې ورځ به شپېلۍ وپوکل شي، په همدې ورځ به ټول خلک د شپېلۍ د پوکلو وروسته بې هوشه شي[١].

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم وفرمايل :تر ټولو غوره ورځ چې سهار يې لمر راپوته شي؛ هغه د جمعې ورځ ده؛ په همدې ورځ آدم عليه السلام پيدا شوی، په همدې ورځ جنت ته داخل کړل شو، او په همدې ورځ له جنت څخه وايستل شو، او قيامت به هم د جمعې په ورځ قائميږي[٢].

٢ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا د خلکو د راټولېدو او د پيدايښت او آخرت د يادونې ورځ ده، الله سبحانه وتعالى د هر امت لپاره په اونۍ کې يوه ورځ ټاکلې ده چې هغوی پکې د عبادت لپاره وزګار شي، سره راټول شي، چې پيدايښت، د بېرته راژوندي کېدو، د ثواب او عذاب ياد تازه کړي، او د قيامت د لوی اجتماع يادونه پکې وکړي؛ هغه ورځ چې ټول انسانان به د رب العالمين په حضور کې ولاړ وي.

او د دې مقصد لپاره تر ټولو مناسبه ورځ د جمعې ورځ وه؛ نو الله تعالى دا ورځ د دې امت لپاره، د هغوی د فضيلت او عزت له امله، ځانګړې وساتله، الله تعالى د دې ورځې اجتماع د خپلې بندګۍ لپاره مشروع کړه، تر څو انسان د پيدا کيدو په حکمت، د ژوند په مقصد، د دنيا د ختميدو، د اسمانونو او ځمکې د راټوليدو، او د ټولو کارونو الله پاک ته د ورګرځېدو ياد تازه کړي چې څنګه يې لومړۍ پيل کړي و، څنګه يې چې دا حق وعده ده، له همدې امله به نبي کريم صلى الله عليه وسلم د جمعې د سهار په لمانځه کې سورت (ألم تنزيل) او سورت (هل أتى على الإنسان) تلاوت کاوه؛ ځکه په دغو دواړو سورتونو کې د پيدايښت، آخرت، د مخلوقاتو د راژوندي کولو، او د جنت او دوزخ د يادونې خبرې شوې دي[٣].

٣ ـ د جمعې ورځې له ځانګړنو څخه دا هم ده چې دا هره اونۍ تکرارېدونکی اختر دی، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل :بېشکه دا د اختر ورځ ده، چې الله تعالى د مسلمانانو لپاره ټاکلې ده؛ نو څوک چې د جمعې لمانځه ته راځي، غسل دې وکړي، که خوشبويي ورسره وي نو استعمال دې کړي، او پر تاسو مسواک وهل لازم دی[٤].

---

(١) رواه أبو داود (١٠٤٣)، وصححه الألباني في (صحيح أبي داود) (١٠٤٧).

(٢) رواه مسلم (٨٥٤).

(٣) قاله ابن القيم في (زاد المعاد) (١/٤٢١-٤٢٢)، باختصار وتصرف يسير.

(٤) رواه ابن ماجه (١٠٩٨) وحسَّنه الألباني في «صحيح ابن ماجه».

۴ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو او فضیلتونو څخه دا هم ده چې الله تعالی دا ورځ د غوره امت، یعنې د محمد صلی الله علیه وسلم امت ته ځانگړې کړې ده، او پخواني امتونه یې ترې بې‌برخې کړي دي، له ابو هریره او حذیفه رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی لله علیه وسلم وفرمایل :الله تعالی هغه خلک د جمعې له ورځې بې‌لارې کړل چې له موږ مخکې وو؛ یهودو ته د شنبې ورځ وه، او نصاراوو ته د یکشنبې ورځ؛ بیا الله تعالی موږ ته دا توفیق راکړ او د جمعې ورځې ته یې زموږ هدایت کړو[۱].

۵ ـ د جمعې ورځې له فضیلتونو څخه دا هم دي چې د جمعې د سهار د جماعت لمونځ د مسلمان لپاره د ټولې اونۍ تر ټولو غوره لمونځ دی، له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :په لمونځونو کې الله ته غوره لمونځ هغه د جمعې د ورځې د سهار لمونځ دی چې په جماعت سره ادا شي[۲].

د دې فضیلت سبب دا دی چې د سهار لمونځ په خپله د پنځو لمونځونو تر ټولو غوره لمونځ دی، د جمعې ورځ د ټولو ورځو تر ټولو غوره ورځ ده، او جماعت له یوازې لمانځه څخه غوره دی؛ نو ځکه دا یو مطلق او لوی فضیلت دی.

٦ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې د جمعې د ورځې د سهار د لمانځه په لومړۍ رکعت کې د سورت السجده تلاوت کړي، او په دویم رکعت کې بیا سورت الإنسان ولولي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی :نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د جمعې د سهار په لمانځه کې په لومړي رکعت کې (ألم تنزیل) او په دویم رکعت کې (هل أتی علی الإنسان حین من الدهر لم یکن شیئا مذکورا) تلاوت کول[۳].

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي دي :نبي کریم صلی الله علیه وسلم به د جمعې د سهار په لمانځه کې دا دواړه سورتونه ځکه لوستل چې په هغو کې د جمعې د ورځې اړوند مهم مطالب بیان شوي دي؛ لکه د آدم علیه السلام پیدایښت، د آخرت یادونه، د قیامت په ورځ د خلکو راټولېدل او ښېرته راژوندي کېدل، او دا ټولې پېښې به د جمعې په ورځ واقع کېږي؛ نو د دغو سورتونو په تلاوت سره به امت ته د تېر او راتلونکي وخت یاد تازه کیږي[٤].

۷ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې د جمعې په ورځ د سورت کهف لوستل، له ابو سعید الخدري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چا چې د جمعې په ورځ سورت کهف تلاوت کړ، د دوو جمعو ترمنځ به الله تعالی هغه ته د نور رڼا نصیب کړي[٥].

---

(۱) رواه مسلم (۸۵٦).

(۲) رواه البیهقي في "شعب الإیمان"(۲۷۸۳)، وصححه الألباني في صحیح الجامع (۱۱۱۹)، والصحیحة (۱٥٦٦).

(۳) رواه البخاري (۸۹۱) ومسلم (۸۸۰)، واللفظ له.

(٤) زاد المعاد"، (۱/۳۷٥).

(٥) رواه الحاکم في (مستدرکه) (۲/۳٦۸) ومن طریقه البیهقي (۳/۲٤۹)، وصححه الألباني في (الإرواء) (۳/۹۳)، ورجح وقفه على أبي سعید.

۸ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم ده چې په دې ورځ کې د دعا د قبلېدو یوه ځانگړې شیبه شته؛ داسې شیبه چې که یو مسلمان بنده په هغې کې له الله تعالی څخه څه خیر وغواړي، الله تعالی یې ورکوي، په صحیحینو کې د ابو هریره رضي الله عنه له حدیث څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :بېشکه د جمعې په ورځ یوه داسې شیبه شته چې که یو مسلمان په هغې کې له الله تعالی څخه څه خیر وغواړي، الله تعالی یې حتماً ورکوي .او بیا یې وفرمایل :هغه یوه ډېره لنډه شیبه ده . [۱]یعنې ډېر ژر تېریږي.

۹ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو او فضیلتونو څخه دا هم دي چې څوک د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شي، الله تعالی به یې د قبر له فتنې (عذابه)وساتي، له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :هر هغه مسلمان چې د جمعې په ورځ یا د جمعې په شپه وفات شي، الله تعالی به یې د قبر له ازمایښت او فتنې څخه وساتي .[۲]

۱۰ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو او لویو فضیلتونو څخه دا هم دي چې په دې ورځ د جمعې لمونځ ادا کېږي، او دا له تر ټولو غوره او ستر مقام لرونکو لمونځونو څخه دی، الله تعالی په قرآن کریم کې په ځانگړې ډول د دې لمانځه لپاره د بلنې او ورته د ورتگ امر کړی دی، الله تعالی فرمایي :

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا نُودِىَ لِلصَّلَوٰةِ مِن يَوْمِ ٱلْجُمُعَةِ فَٱسْعَوْاْ إِلَىٰ ذِكْرِ ٱللَّهِ وَذَرُواْ ٱلْبَيْعَ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ تَعْلَمُونَ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! کله چې د جمعې د ورځې د لمانځه لپاره اذان وویلی شي، نو تاسو د الله ذکر ته منډې وهئ او اخیستل خرڅول پرېږدئ ـ، دا تاسو لپاره ډېر غوره دي که تاسو پوهېږئ

۱۱ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم دي چې په دې ورځ کې د صدقې ثواب څو برابره کېږي، عبدالرزاق په خپل (مصنف)کې له کعب رضي الله عنه څخه روایت نقل کړی چې هغه ویلي دي :د جمعې د ورځې صدقه د نورو ورځو له صدقې څخه ډېره غوره ده.

او ابن أبي شیبه هم په خپل (مصنف) کې ترې روایت نقل کړی چې :د جمعې په ورځ د صدقې اجر څو چنده زیاتېږي.

ابن القیم رحمه الله فرمایي :د جمعې په ورځ صدقې ته داسې ځانگړی فضیلت شته چې په نورو ورځو کې نشته، د اونۍ د نورو ورځو په پرتله د جمعې د ورځې صدقه داسې ده لکه د نورو میاشتو په پرتله د رمضان د میاشتې صدقه چې وي .[۳]

او ما شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله لیدلی و چې کله به د جمعې لمانځه ته وتلو، نو په کور کې به یې چې هر څه پیدا کړل؛ لکه ډوډۍ یا بل څه، له ځان سره به یې واخیستل او په لاره کې به یې په پټه صدقه کول.

---

(۱) رواه البخاري (۹۳۵) ومسلم (۸۵۲)، واللفظ له.

(۲) رواه الترمذي (۱۰۸۰)،وقال الألباني في "أحكام الجنائز" (ص ٤٩، ٥٠): الحديث بمجموع طرقه حسن أو صحيح.

(۳) زاد المعاد"، (٤٠٧/١).

او ما له هغه څخه اورېدلي چې ویل به یې :کله چې الله تعالی موږ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مناجات او خبرو نه مخکې د صدقې امر کړی و؛ نو د الله تعالی د مناجات او عبادت نه مخکې صدقه کول خو لا ډېر د فضیلت وړ دي.

۱۲ ـ د جمعې ورځې له ځانگړنو څخه دا هم دي چې په دې ورځ او شپه کې پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ډېر درود او سلام ویل مستحب دي، په دې ورځ د درود شریف ځانگړی فضیلت دی چې په نورو ورځو کې نشته؛ ځکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت ته چې هر دنیوي او اخروي خیر رسېدلی، ټول د هغه مبارک په وسیله رسېدلی دی؛ نو د هغه د شکر، ستاینې، او د هغه د حق د لږ تر لږه ادا کولو یوه برخه دا هم ده چې د جمعې په ورځ او شپه کې پرې ډېر درود ووایو، او د درود معنا هم په زړه کې حاضره وساتو؛ یعنې الله تعالی ته دعا کول چې پر هغه دې ثنا وشي، مقام دې لوړ شي، او یاد دې په اسمان او ځمکه کې اوچت او لوړ وي.

دا د جمعې ورځې څو ځانگړنې او فضیلتونه وو، چې له املې یې د جمعې ورځ د الله تعالی او د هغه د مخلوقاتو په نزد ډېره ستره او معظمه گرځېدلې ده، او همدا وجه ده چې د ټولو ورځو سرداره بلل شوې ده.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې الله تعالی تاسو ته د جمعې په ورځ پر نبي صلی الله علیه وسلم د ډېر درود او سلام ویلو حکم کړی دی ،او فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدینو خلیفهگانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته یې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وگرځوه ،او هغه صالحه ملگري ورکړه.

اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنیا کې ښه ژوند، نېکمرغي او خیر راکړه، او په آخرت کې هم راته ښه بدله، رحمت او کامیابي نصیب کړه، او مونږ د اور له عذابه وساته.

اې د الله بندگانو! بېشکه الله تعالی د عدل (انصاف)، احسان او د خپلوانو سره د نیکي کولو حکم کوي، او له بې‌حیایی، بدیو او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسو ته نصیحت کوي، ښایي چې تاسو پند واخلئ او یادونه وکړئ ؛نو تاسو الله تعالی ډېر یاد کړئ، هغه به تاسو یاد کړي؛ د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي. او د الله یاد تر ټولو لوی عمل دی، او الله ستاسو له کړو وړو څخه ښه خبر دی.

د لمانځه اهمیت

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځي خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، او په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په ځان لازم وګرځوئ، د هغه اطاعت وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او پوه شئ چې ستاسو له غوره عملونو څخه يو لمونځ دی، او شريعت د لمانځه اهميت له لسو وجو څخه بيان کړی دی :

۱. لومړی دا چې لمونځ له شهادتينو وروسته هغه لومړنی عبادت دی چې الله تعالی فرض کړی دی، لمونځ د اسلام دوهم ستر رکن دی، له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی، وايي: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه واورېدل چې فرمايل يې: اسلام پر پنځو ستنو ولاړ دی: د

الله تعالى پر يووالي او د محمد صلى الله عليه وسلم پر رسالت شاهدي كول، د لمانځه قائمول، د زكات ادا كول، د بيت الله حج ترسره كول، او د رمضان روژې نيول[١].

٢. د لمانځه د اهميت له دلايلونو څخه دا هم ده چې لمونځ په مكه مكرمه كې، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له هجرت څخه درې كاله مخكې فرض شوى و د اسراء او معراج په واقعه كې چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم اسمانونو ته پورته كړل شو، الله تعالى په اووم اسمان كې پنځه وخته لمونځونه پر خپل نبي صلى الله عليه وسلم فرض كړل، او دا حكم د الله تعالى او د هغه د رسول ترمنځ بې له كومې واسطې وشو؛ حال دا چې نور عبادتونه اكثر د ملايكو په واسطه نازل شوي دي.

٣. د لمانځه د اهميت له دلايلو څخه دا هم ده چې په دين كې يې داسې مقام دى چې هېڅ بل عبادت ورسره نه شي برابرېداى، لمونځ د دين ستنه ده، او دين بې له دې نه شي درېداى، په هغه حديث كې چې معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت كړى، رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: آيا زه تاسې خبر نه كړم چې د ټول دين بنسټ، ستن او لوړ مقام څه دى؟ معاذ رضي الله عنه عرض وكړ: ولې نه، يا رسول الله! رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د دين بنسټ اسلام دى، لمونځ يې ستنه او جهاد يې تر ټولو لوړ مقام دى[٢].

٤. د لمانځه د اهميت له دلايلو څخه يوه بله نښه دا هم ده چې لمونځ د بنده او خپل رب ترمنځ د راز و نياز او مناجات وسيله ده، په لمانځه كې انسان د زړه، ژبې او ټول بدن په وسيله د الله تعالى يادونه كوي؛ دعا كوي، د الله ثنا وايي، قرآن لولي، تسبيح، تحميد او تكبير وايي، او خپل اندامونه د ركوع، سجود او عاجزانه قيام په حالت كې د خپل ستر رب پر وړاندې ټيټوي، بنده په پوره خشوع، عاجزۍ او مات زړه د الله تعالى حضور ته ودرېږي، سترگې نښكته نيسي، او داسې بندگي پكې ترسره كېږي چې په بل عبادت كې يې مثال نه ليدل كېږي.

٥. د لمانځه د اهميت له لايلو څخه دا هم ده چې الله تعالى لمونځ په داسې ځانگړتياو ممتاز گرځولى دى چې نور عبادتونه يې نه لري، چې مهمې ځانگړې يې دا دي :

- د لمانځه لپاره اذان كيدل.
- د لمانځه لپاره اودس شرط دي.
- لمانځه ته په سكون، وقار او ادب سره تلل مطلوب دي.
- او په لمانځه كې د بدن د ټولو اندامونو عبادت او بندگي شامله ده، چې په بل عبادت كې دا نه موندل كېږي.

---

(١) رواه البخاري (٨) ومسلم (١٦)، واللفظ له.

(٢) رواه الترمذي (٢٦١٦)، وقال: حديث حسن صحيح.

٦. د لمانځه د اهمیت له دلایلو څخه دا هم ده چې لمونځ په هر حال کې فرض دی؛ که انسان په سفر کې وي که په کور، د امن حالت وي که د وېرې، روغ وي که ناروغ، یوازې هغه ناروغي عذر ګڼل کېږي چې انسان پکې خپل عقل له لاسه ورکړي او شعور یې له منځه ولاړ شي.
٧. د لمانځه د عظمت یوه لویه نښه دا ده چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپل ژوند په وروستیو شېبو کې هم د لمانځه سپارښتنه کوله. له ام سلمه رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلې وروستۍ ناروغۍ پر مهال، چې په هماغه کې وفات هم شو، پرله‌پسې فرمایل: د لمانځه خیال ساتئ، او له خپلو ماتحتو او غلامانو سره نښه چلند کوئ[١].
رسول الله صلى الله عليه وسلم دا خبره دومره تکراروله چې د مبارکې ژبې وروستي الفاظ هم همدا وصیت و.
٨. د لمانځه د اهمیت له دلایلو څخه دا هم ده چې د قیامت په ورځ به تر ټولو لومړی د لمانځه حساب اخیستل کېږي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: د قیامت په ورځ به د انسان له عملونو څخه تر ټولو لومړی د لمانځه حساب کېږي، الله تعالى به خپلو ملائکو ته وفرمایي ـ سره له دې چې هغه پخپله نښه پوهېږي ـ: وګورئ، زما د بنده لمونځ بشپړ دی که نیمګړی؟ که بشپړ وي، بشپړ به ورته ولیکل شي، او که پکې کمی وي، الله تعالى به وفرمایي: وګورئ، زما د بنده نفل عبادت شته که نه؟ که نفل ولري؛ نو د فرض لمانځه کمی به یې په هغو پوره کړل شي، بیا به نور عملونه هم پر همدې معیار حسابېږي[٢].
٩. د لمانځه د اهمیت له دلایلو څخه دا هم ده چې د فتنو په آخري زمانه کې بهد دین وروستۍ پاتې نښه همدا لمونځ وي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: د اسلام کړۍ او احکام به یو په بل پسې ماتېږي؛ هر کله چې یوه کړۍ وشلېږي، خلک به په بلې پورې ځان نښلوي، تر ټولو لومړی به د اسلامي نظام او حکم پرېښودل وي، او تر ټولو وروستۍ به یې لمونځ وي[٣].
د (عُرى الإسلام)معنا د اسلام احکام او فرایض دي؛ یعنې خلک به ورو ورو د دین احکام پرېږدي، تر دې چې د دین غربت به ډېر سخت شي، او بالاخره به خلک لمونځ هم پرېږدي. دا به د آخري زمانې حالت وي.
١٠. د لمانځه د اهمیت تر ټولو لوی دلیل دا دی چې لمونځ د اسلام او کفر ترمنځ بېلوونکې کرښه ده، له بریدة بن الحصیب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: زموږ او د کافرانو ترمنځ نښه او توپیر لمونځ دی؛ څوک چې لمونځ پرېږدي، هغه کافر شو.[٤]

---

(١) رواه ابن ماجه (١٦٢٥)، وأحمد (٢٩٠/٦)، وصححه الألباني في «الإرواء» (٢٣٨/٧).
(٢) رواه أبو داود (٨٦٤)، وأحمد (٤٢٥/٢)، واللفظ لأبي داود، وصححه الألباني رحمه الله وكذا محققو «المسند».
(٣) رواه أحمد (٢٥١/٥) وابن حبان (٦٧١٥) عن أبي أمامة الباهلي رضي الله عنه، وقال محققو «المسند»: إسناده جيد.
(٤) رواه الترمذي (٢٦٢١) والنسائي (٤٦٢)، وابن ماجه (١٠٧٩)، وابن حبان (١٤٥٤)، وأحمد (٣٤٦/٥)، وقال الألباني في تعليقه على كتاب «الإيمان» لابن أبي شيبة (٤٦): إسناده صحيح على شرط مسلم.

همدارنگه جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: د انسان او د شرک او کفر ترمنځ پرده همدا لمونځ دی. (١)

او له انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې زمونږ په شان لمونځ کوي، زمونږ قبلې ته مخ کوي، او زمونږ حلاله ذبيحه خوري؛ نو هغه مسلمان دی، د الله او د هغه د رسول په امان کې دی؛ نو د الله د امان حق مه ماتوئ(٢).

اې مسلمانانو! دا لس څرگند دليلونه د لمانځه پر اهميت دلالت کوي، الله تعالى دې مونږ ټولو ته توفيق راکړي چې لمونځ هماغسې قائم کړو لکه څنگه چې الله تعالى امر کړی دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې لمونځ د بنده او خپل رب ترمنځ د راز و نياز او مناجات وسيله ده؛ ځکه په لمانځه کې دعا شته، د الله تعالى ستاينه شته، د قرآن کريم تلاوت شته، تسبيح، تحميد او تکبير شته، او د بدن د غړو عاجزي او بندگي پکې څرگندېږي؛ لکه رکوع، سجده، او په پوره خشوع، عاجزی، مات زړه او ټيټو سترگو د الله تعالى حضور ته درېدل.

شيخ عبد الرحمن بن سعدي رحمه الله د دې مبارک آيت په تفسير کې وايي:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ﴾

بېشکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له بې حيايۍ او بدکار نه منع کوي ـ او خامخا د الله يادول ډېر لوی دي او الله پوهېږي په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ

فرمايلي دي: په لمانځه کې تر دې هم يو ستر او لوړ مقصد شته، او هغه د الله تعالى ياد دی؛ ځکه لمونځ د زړه، ژبې او ټول بدن په وسيله د الله ذکر ته شامل دي، الله تعالى بندگان يوازې د خپلې بندگۍ لپاره پيدا کړي دي، او تر ټولو غوره عبادت چې بنده يې ترسره کوي، همدا لمونځ دی. په لمانځه کې د بدن د ټولو غړو داسې بندگي او عبوديت شته چې په بل عبادت کې نه موندل کېږي؛ له همدې امله الله تعالى وفرمايل:

﴿وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ﴾

او خامخا د الله يادول ډېر لوی دي

(١) رواه مسلم (٨٢).

(٢) رواه البخاري (٣٩١).

نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې الله تعالی تاسو ته د جمعې په ورځ پر نبي صلی الله علیه وسلم د ډېر درود او سلام ویلو حکم کړی دی ،او فرمایي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدینو خلیفهگانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته یې په نېکۍ کې تابعداري کوي .

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندگانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وگرځوه ،او هغه صالحه ملگري ورکړه.

اې الله! څوک چې زموږ، د اسلام او د مسلمانانو د بدۍ اراده لري، هغه په خپل شر او فساد کې داسې اخته کړه چې خپله پکې راگیر شي، او د هغه ټول مکر او دسیسې ېېرته د ده پر خپله غاړه کې واچوه.

اې الله! له موږ څخه گراني، وباگاني، سود، زنا، زلزلې، ازمېښتونه او ناوړې فتنې که هغه ښکاره وي او که پټې؛ لرې کړه، په ځانگړې توگه زموږ له دې هیواد، او په عموم کې د ټولو مسلمانانو له هېوادونو څخه یې هم لرې کړه، اې د مخلوقاتو ربه!

اې الله! د مسلمانانو ټولو واکمنانو ته توفیق ورکړه چې ستا د کتاب حکم نافذ کړي، ستا دین ته عزت او سربلندي ورکړي، او هغوی د خپلو ولسونو لپاره د رحمت، عدالت او خیر وسیله وگرځوه.

ې زموږ ربه! موږ ته په دنیا کې ښه ژوند، نېکمرغي او خیر راکړه، او په آخرت کې هم راته ښه بدله، رحمت او کامیابي نصیب کړه، او موږ د اور له عذابه وساته.

اې د الله بندگانو! بېشکه الله تعالی د عدل (انصاف)، احسان او د خپلوانو سره د نیکي کولو حکم کوي، او له بېحیایۍ، بدیو او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسو ته نصیحت کوي، ښایي چې تاسو پند واخلئ او یادونه وکړئ ؛نو تاسو الله تعالی ډېر یاد کړئ، هغه به تاسو یاد کړي؛ د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي. او د الله یاد تر ټولو لوی عمل دی، او الله ستاسو له کړو وړو څخه ښه خبر دی.

د جماعت لمانځه ته د حاضريدو پر وجوب لس دليلونه، او د تجارت او نورو بوختياوو له امله ترې د غفلت او ځان مشغولولو حرمت

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت گمراهی ده، او هره گمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت وکړئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ ،ځان خبر کړئ چې ستاسو په عملونو کې تر ټولو لوی عمل هغه لمونځ دی، الله سبحانه وتعالی امر کړی چې لمونځ د مسلمانانو له جماعت سره په مسجد کې ادا کړئ، او له شرعي عذر پرته ترې پاتې کېدل منع دي، په مسجد کې د لمونځ کولو اړوند گڼ دلايل راغلی دي:

١. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هغه لمونځ چې يو انسان يې په جماعت سره وکړي، د هغه لمونځ څخه چې په کور او يا بازار کې يې وکړي؛ پنځه ويشت درجې زيات ثواب لري، انسان هغه لمونځ چې په جماعت سره ادا شي، د هغه له هغه لمانځه څخه چې په کور يا بازار کې يې کوي، پنځه ويشت چنده زيات ثواب لري. دا ځکه چې کله يو څوک په ښه ډول اودس وکړي، بيا مسجد ته يوازې د لمانځه لپاره لاړشي؛ نو هر قدم چې اخلي، په بدل کې يې يوه درجه لوړېږي او يوه گناه ترې رژېږي، کله چې لمونځ وکړي، او له هغې وروسته تر کوم وخته پورې چې په مصلی کې په خپل ځای ناست وي، ملايکې ورته دعا کوي: اې الله! پر ده خپل رحمت او فضل وکړه، او تر څو چې د بل لمانځه انتظار باسي، هغه د لمانځه په حالت کې شمېرل کېږي[1].

٢. له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی چې ويې فرمايل :څوک چې دا خوښې چې سبا قيامت کې د الله سره د خوشالۍ په حالت کې مخامخ شي؛ نو هغه دې د خپلو لمونځونو ساتنه وکړي، چې کله اذان وشي، ځکه د زمونږ پيغمبر ته د هدايت لارې ښودلې دي، او دا لمونځونه هم د هدايت د لارو څخه دي، که تاسې په خپلو کورونو کې لمونځونه وکړئ، لکه دا وروسته پاتې کسان

(١) رواه البخاري (٦٤٧)، وروى مسلم (٦٤٩) جزءا يسيرا منه.

چې په خپلو کورونو کې يې کوي؛ نو د خپل نبي سنت به مو پرې ايښی وي، او که د نبي سنت مو پرېښود، نو بې لارې به شئ[۱].

يو سړی چې شه اودس وکړي او بيا د الله د کورونو څخه يو ته ولاړ شي، الله تعالی د هر قدم په بدل کې ورته يوه نېکي ليکي، يوه درجه يې لوړوي او يوه گناه ترې پاکوي، مورږ داسې وختونه هم وليدل چې له جماعت څخه به يوازې هغه څوک پاتې کېده چې منافقت به يې ښکاره او معلوم و، آن تر دې چې ځينې ناروغان به د دوو کسانو ترمنځ په تکيه راوستل کېدل، تر څو په صف کې ودرول شي.

۳. اې د الله بندگانو !په جماعت سره د پنځه وخته لمونځ کوونکو لپاره د الله له لورې يو فضيلت دا هم دي، چې الله به يې د قيامت په ورځ د خپل سيوري لاندې ودروي؛ چې په هغه ورځ به لمر د يو ميل په اندازه انسانانو ته رانږدې شوی وي.

له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :اووه کسان دي چې الله تعالی به يې د قيامت په ورځ تر خپل سيوري[۲] لاندې راولي، په هغه ورځ چې د هغه له سيوري پرته به بل هېڅ سيوری نه وي :عادل پاچا، هغه ځوان چې د الله په عبادت کې رالوی شوی وي، هغه سړی چې په يوازيتوب کې الله ياد کړي او سترگې يې له اوښکو ډکې شي، او هغه سړی چې زړه يې له مسجد سره تړلی وي ... الحديث.

او د مسلم په بل روايت کې راغلي: او هغه سړی چې زړه يې له مسجد سره تړلی وي، کله چې ترې ووځي، ببرته ورته د ورتگ انتظار کوي[۳].

٤. له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل :څوک چې سهار يا مابنام مسجد ته ځي، الله تعالی ورته په جنت کې هر ځل د ورتگ او راتگ په بدل کې ميلمستيا او ځانگړی ځای تياروي[٤].

(نُزُل) هغه ځای ته ويل کېږي چې د ميلمه د اوسېدو لپاره چمتو کېږي[٥].

٥. د مسجد له جماعت سره د لمانځه د وجوب يو بل دليل دا دی چې الله تعالی حتی د جگړې په سختو او خطرناکو حالاتو کې هم د جماعت لمونځ مشروع گرځولی دی، چې هغه ته د (صلاة الخوف) نوم ورکول کېږي. الله تعالی فرمايي :

﴿وَإِذَا كُنتَ فِيهِمْ فَأَقَمْتَ لَهُمُ ٱلصَّلَوٰةَ فَلْتَقُمْ طَآئِفَةٌ مِّنْهُم مَّعَكَ﴾

---

(۱) رواه مسلم (٦٥٤).

(۲) وهذا الحديث رواه البيهقي في كتابه «الأسماء والصفات» (۷۹۳) عن أبي هريرة رضي الله عنه بلفظ: سبعة يظلهم الله تحت ظل عرشه يوم لا ظل إلا ظله . . . الحديث، وهذه الرواية صححها محقق الكتاب: عبد الله الحاشدي. ولا تنافي بين الحديثين، فالظل المذكور تجوز إضافته إلى العرش كما تجوز إضافته إلى الله تعالى إضافة ملك وتشريف.

(۳) رواه البخاري (٦٨٠٦) ومسلم (۱۰۳۱).

(٤) رواه البخاري (٦٦٢) ومسلم (٦٦٩)، واللفظ له.

(٥) انظر «النهاية»، وكذا شرح الحديث لابن حجر في «الفتح».

او کله چې ته په دوی کې موجود یې، بیا ته دوی ته لمونځ ودروې، نوله دوی نه دې یوه ډله له تا سره ودرېږي
٦. الله تعالی فرمایي:

﴿وَأَقِيمُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَءَاتُواْ ٱلزَّكَوٰةَ وَٱرۡكَعُواْ مَعَ ٱلرَّٰكِعِينَ﴾

او تاسو لمونځ قایموئ او زکات ورکوئ او له رکوع کوونکو سره رکوع کوئ

دلته (الراکعین)یعنې هغه خلک چې په جماعت سره په مسجد کې لمونځ کوي.
٧. اې مؤمنانو! له مسجد سره د جماعت په لمانځه کې د سستۍ او بې‌پروایۍ په اړه سخت وعیدونه هم راغلي دي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی! ما اراده کړې وه چې د لرګیو د راټولولو حکم وکړم، بیا د لمانځه لپاره اذان وشي، بیا یو کس خلکو ته امام وټاکم، او وروسته هغو کسانو ته ولاړ شم چې جماعت ته نه راځي، او کورونه یې پرې وسوځوم، قسم په هغه ذات چې زما روح یې په لاس کې دی! که له دوی څخه یو کس پوه شوی وای چې هلته به یو غوړ هډوکی یا دوه ښې ټوټې غوښه ترلاسه کړي؛ نو خامخا به د ماښام جماعت ته حاضر شوی وای.
او د مسلم په روایت کې راغلي :بیا به زه له ځینو کسانو سره چې د لرګیو ګډۍ به ورسره وي، هغو خلکو ته ولاړ شم چې جماعت ته نه راځي، او کورونه به یې پرې په اور وسوځوم[١].
٨. له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل :چا چې اذان واورېد او بیا جماعت ته رانغی؛ نو لمونځ یې نشته مګر دا چې کوم شرعي عذر ولري[٢]. د هغه لمونځ بشپړ اجر او ثواب نه لري.
٩. له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی :یو ړوند سړی نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل :اې د الله رسوله! داسې څوک نه لرم چې مسجد ته مې بوځي ،نو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې غوښتنه وکړه چې اجازه ورکړي په کور کې لمونځ وکړي. رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړی اجازه ورکړه، خو کله چې هغه ببرته روان شو، نو ببرته یې راوغوښت او ورته ویې فرمایل :ایا د لمانځه اذان اورې؟ هغه وویل: هو. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو بیا د اذان بلنې ته ځواب ووایه[٣].
١٠. له جابر بن عبدالله رضي الله عنهما څخه روایت دی :یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمعې په ورځ ولاړ و او خطبه یې ورکوله، چې ناڅاپه مدینې ته یوه سوداګریزه قافله راغله، صحابو په منډه ورغلل، چې یوازې دولس کسان د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره پاتې شول، چې ابو بکر او عمر رضي الله عنهما هم پکې وو، جابر رضي الله عنه وایي :په همدې وخت کې دا آیت نازل شو:

---

(١) رواه البخاري (٧٢٢٤) ومسلم (٦٥١).
(٢) أخرجه ابن ماجه (٧٩٣) وغيره، وصححه الألباني في «الإرواء» (٣٣٧/٢).
(٣) رواه مسلم (٦٥٣).

﴿وَإِذَا رَأَوْاْ تِجَٰرَةً أَوْ لَهْوًا ٱنفَضُّوٓاْ إِلَيْهَا﴾

او کله چې دوی تجارت (سوداګري)، یا تماشه ولیدله (نو) دوی هغې ته خواره شول[1]

اې د الله بندګانو !دا د الله تعالی له لوري د نبي کریم صلی الله علیه وسلم صحابوو ته یو تنبیه او ملامتي وه، ځکه هغوی عبادت پرېښود او د دنیا په کار پسې لاړل. وروسته الله تعالی خلک د آخرت سوداګرۍ ته وهڅول، او دا یې روښانه کړه چې حقیقي روزي ورکوونکی یوازې الله دی.

الله تعالی فرمایي :

﴿قُلْ مَا عِندَ ٱللَّهِ خَيْرٌ مِّنَ ٱللَّهْوِ وَمِنَ ٱلتِّجَٰرَةِۚ وَٱللَّهُ خَيْرُ ٱلرَّٰزِقِينَ﴾

ته (دوی ته) ووایه: هغه څه چې له الله سره دي له دغې تماشې نه او له دغې سوداګرۍ نه ډېر غوره دي ـ او الله تر ټولو ښه رزق ورکوونکی دی.

یعنې: د هغه لمونځ د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ثابت پاتې کیدو ثواب د دنیا د تجارت او ساعتیرۍ څخه غوره دی، صحابه کرامو د الله امر ومانه، تجارت او راکړه ورکړه به یې کوله، خو کله به چې د الله له حقونو څخه کوم حق مخې ته راغی؛ نو نه سوداګرۍ او نه کاروبار د الله له ذکر او عبادت څخه غافل کول، بلکې هغوی به د خپل رب اطاعت، رضا او محبت د خپلو خواهشاتو څخه مخکې کاوه؛ نو ځکه الله تعالی د هغوی ستاینه داسې کړې ده:

﴿رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ﴾

(داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قایمولو او د زکات اداکولو نه یې نه تجارت غافله کوي[2]

یعنې: داسې سړي دي چې نه تجارت او نه راکړه ورکړه هغوی د الله له ذکر، د لمانځه له قائمولو او د زکات له ادا کولو څخه غافلوي.

اې مسلمانانو !دا لس دلایل دي چې په مسجد کې د جماعت لمانځه وجوب ثابتوي، الله تعالی دې موږ ټولو ته توفیق راکړي چې لمونځ هماغسې ادا کړو لکه څنګه چې الله موږ ته پرې امر کړی دی.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

خطبه دویمه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، **پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې په مسجد کې د جماعت لمانځه ادا کول د ایمان له شعبو او د دین له شعاره علاماتو څخه دي؛ نو پر دوکاندارانو او د کاروبار پر خاوندانو لازمه ده چې کله د لمانځه اذان وشي، مسجد ته لاړ شي. همدارنګه هغه کسان چې په کومه اداري غونډه یا مجلس کې ناست وي، پر مسؤلینو یې واجب دي**

(١) رواه البخاري (٤٨٩٩) ومسلم (٨٦٣).

(٢) نقلت هذا الشرح من موقع «الدرر السنية» في شرح هذا الحديث.

چې د اذان په وخت غونډه ودروي، لمونځ ادا کړي، او بيا خپلو غونډو ته بېرته ستانه شي، د جماعت لمانځه ته حاضرېدل کوم ثانوي يا اختياري کار نه دی، بلکې يو الهي امر دی، او له جماعت څخه پاتې کېدل يوازې د سخت ضرورت په صورت کې روا دي؛ لکه د امنيت ساتنه، د سفر د قافلې يا الوتنې د نه پاتې کېدو اړتيا، د ناروغ يا ټپي د ژغورلو حالت، يا د وېرې، باران او سخت باد له امله.

اې د الله بندگانو! له (جماعت)څخه مقصد هماغه لومړی جماعت دی چې اذان او اقامت ورته کېږي؛ خو له بده مرغه ځينې خلک ـ الله دې هدايت ورته وکړي ـ له لومړي جماعت څخه وروسته راځي، داسې کېږي چې په يوه مسجد کې دوهم، درېيم او څو څو جماعتونه کېږي، تر دې چې لمونځ کوونکي د يوې متحدې ډلې پر ځای په جلا جلا ډلو لمونځ کوي؛ نو د دې حال فرياد يوازې الله ته دی[1].

اې مسلمانانو! پر هغه مسلمان چې په خپل ايمان کې رښتينی وي، لازمه ده چې د لمانځه عظمت وپېژني، د هغه حق ادا کړي، ارزښت ورکړي او خيال يې ساتي، او ځان دې په دې خبره پوهه کړي چې الله تعالى يې په هغه مال او وظيفې سره چې دته يې ورکړې، امتحانوي او ازمايي.

الله تعالى فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تُلۡهِكُمۡ أَمۡوَٰلُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡخَٰسِرُونَ﴾

اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو دې د الله له ذکر نه نه خپل مالونه غافله کړي او نه خپل اولادونه ـ او هغه څوك چې دا کار وکړي، نو همدغه زيانکاران (تاوانيان) دي.

او همدارنگه فرمايي:

﴿فِي بُيُوتٍ أَذِنَ ٱللَّهُ أَن تُرۡفَعَ وَيُذۡكَرَ فِيهَا ٱسۡمُهُۥ يُسَبِّحُ لَهُۥ فِيهَا بِٱلۡغُدُوِّ وَٱلۡأٓصَالِ ٣٦ رِجَالٞ لَّا تُلۡهِيهِمۡ تِجَٰرَةٞ وَلَا بَيۡعٌ عَن ذِكۡرِ ٱللَّهِ وَإِقَامِ ٱلصَّلَوٰةِ وَإِيتَآءِ ٱلزَّكَوٰةِ يَخَافُونَ يَوۡمٗا تَتَقَلَّبُ فِيهِ ٱلۡقُلُوبُ وَٱلۡأَبۡصَٰرُ ٣٧ لِيَجۡزِيَهُمُ ٱللَّهُ أَحۡسَنَ مَا عَمِلُواْ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦۗ وَٱللَّهُ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾

په هغو کورونو (جوماتونو) کې چې الله حکم کړی دی چې پورته دې کړل شي او په دغو کې دې د ده نوم يادوه شي او په دغو (جوماتونو) کې د هغه پاکي بيانوي، د ورځې په شروع کې او د ورځې په اخر کې، (داسې) سړي چې د الله له ذکر او لمونځ قايمولو او د زکات اداکولو نه يې نه تجارت غافله کوي او نه اخيستل خرڅول، دوی له هغې ورځې نه وېرېږي چې په هغې کې به زړونه او سترګې اوړي راوړي، د دې لپاره چې الله دوی ته

(١) يراجع للاستزادة كتاب «أهمية صلاة الجماعة في ضوء النصوص وسير الصالحين»، فضل إلٰهي ظهير، الناشر: مؤسسة الجريسي - الرياض.

بدله ورکړي ډېره ښکلې بدله د هغو عملونو چې دوی کړي دي او دوی ته له خپل فضله اضافه وکړي او الله چا ته چې وغواړي، بې له حسابه رزق ورکوي.

الله تعالی په دغو آیتونو کې خبرداری ورکړی چې انسان دې د سوداگری او کاروبار له امله له لمانځه نه غافل کېږي، او دا یې هم روښانه کړې چې روزي د الله په لاس کې ده، چاته چې وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

نو لمونځ هېڅکله د روزی مخه نه نیسي او نه یې کموي، بلکې د رزق د برکت، زیاتوالي او پراختیا سبب ګرځي، څوک چې له دې پرته بل ګومان کوي، هغه د خپل رب په اړه بد ګومان کړی دی.

اې مؤمنانو !دا خطبه د شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله په یوې فتوې سره پای ته رسوو، هغه فرمایلي دي:

پر ټولو نارینه وو واجب دي چې د الله په کورونو کې، چې هلته اذان کېږي، د جماعت لمونځ ادا کړي، دولت او د امر بالمعروف مسؤلین هم حق نه لري چې څوک له جماعت څخه پاتې کېدو ته پرېږدي، که هغه دوکاندار وي، سوداگر وي او یا بل څوک؛ دا ځکه چې شرعي دلایل په همدې دلالت کوي، او دا کار له خلکو سره مرسته ده چې هغه څه ادا کړي چې الله پرې فرض کړي دي؛ یعنې په مسجدونو کې د جماعت لمونځ دی، او دا هم د هغه وصف مطابق دي چې الله تعالی د مؤمنانو په اړه فرمایلی :

﴿وَٱلْمُؤْمِنُونَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ يَأْمُرُونَ بِٱلْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْمُنكَرِ﴾

او مومن سړي او مومنې ښځې د دوی ځینې د ځینو نورو دوستان دي، دوی د نېکۍ حکم کوي او له بدۍ نه منع کوي[1].

اې د الله بندګانو! بېشکه الله تعالی د عدل (انصاف)، احسان او د خپلوانو سره د نیکي کولو حکم کوي، او له بې‌حیایۍ، بدیو او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسو ته نصیحت کوي، ښایي چې تاسو پند واخلئ او یادونه وکړئ ؛نو تاسو الله تعالی ډېر یاد کړئ، هغه به تاسو یاد کړي؛ د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي. او د الله یاد تر ټولو لوی عمل دی، او الله ستاسو له کړو وړو څخه ښه خبر دی.

(١) انظر «مجموع فتاوى ومقالات متنوعة»، (٣٠/١٠٤-١٠٥).

لمانځه ته د وخته د ورتگ فضیلت

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوليِ له پرېکولو نه ووېرېږئ، ېښکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په زړه کې وساتئ، د الله اطاعت وکړئ او نافرماني یې مه کوئ، پوه شئ چې ستاسې په ټولو عملونو کې غوره عمل هغه لمونځ دی، الله تعالی لمونځ ته د نورو عبادتونو په مینځ کې ځانګړي فضیلتونه او ځانګړنې ورکړي دي؛ له هغو څخه دا دي چې الله تعالی لمونځ په اسمان کې فرض کړی، په عمل کې پنځه وخته دی خو په میزان او ثواب کې د پنځوسو لمونځونو برابر دی، ګناهونه له منځه وړي، مسجد ته د لمانځه لپاره تګ عبادت دی او له مسجد څخه بېرته راګرځېدل هم عبادت شمېرل کېږي،

همدارنگه د لمانځه له سترو ځانگړنو څخه دا ده چې د هغه لپاره پاکوالی او طهارت لازم گرځول شوی دی.

اې مؤمنانو! کله چې لمونځ دومره لوی مقام او ارزښت لري، نو الله تعالی د هغه لپاره وختي ورتگ مشروع گرځولی او پر دې یې ډېر لوی اجرونه مرتب کړي دي، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :د نارینوو لپاره تر ټولو غوره صف هغه لومړی صف دی، او تر ټولو کم فضیلت لرونکی صف یې بیا وروستی صف دی[١].

او همدارنگه له هغه رضي الله عنه څخه بل روایت دی چې نبي کریم ﷺ وفرمایل :که تاسو د لومړي صف د اجر او فضیلت څخه خبر شوی، چې څومره زیات دی؛ نو بیا به مو د هغه لپاره خسنې اچولو[٢].

او له هغه رضي الله عنه څخه بل روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :که خلک پوه شي چې په اذان او لومړي صف کې څومره ثواب دی، او بیا یې پرته له پچې اچولو بلې لارې ته لاسرسی ونه لري، نو خامخا به پچه پرې اچوي، او که پوه شي چې وختي مسجد ته په ورتگ کې څومره اجر دی، نو یو له بله به مخکې کېدو کې منډې وهي، او که پوه شي چې د ماخوستن او سهار په لمانځه کې څومره فضیلت دی، نو هرومرو به ورته راځي، که څه هم په خاپوړو راتلل وي[٣].

په حدیث کې د «ما في النداء» مطلب د اذان هغه اجر او ثواب دی چې مؤذن ته ورکول کېږي.

او «یستهموا» یعنې پچه اچول، او «التهجیر» یعنې وختي جومات ته تلل، او «العتمة» د ماخوستن لمونځ ته ویل کېږي.

له براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به فرمایل :الله تعالی او د هغه ملایکې پر لومړیو صفونو رحمتونه نازلوي[٤].

یعنې ملایکې د لومړي صف د خلکو لپاره د رحمت دعاوې کوي او هغوی ته ښېنه غواړي؛ ځکه دعا هم د صلات معنی لري.

او له عرباض بن ساریه رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ به د لومړي صف خلکو ته درې ځله د مغفرت دعا کوله، او دوهم صف ته به یې یو ځل دعا کوله.[٥]

او له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل :هغه خلک چې تل له لومړي صف څخه ځان وروسته کوي، تر دې چې الله تعالی به یې هم وروسته کړي[٦] . یعنې الله تعالی به یې له لوی فضیلت او لوړ مقام څخه محروم کړي.

---

(١) رواه مسلم (٤٤٠).

(٢) رواه مسلم (٤٣٩).

(٣) رواه البخاري (٦١٥) ومسلم (٤٣٧).

(٤) رواه أبو داود (٦٦٤)، وصححه الألباني رحمه الله.

(٥) رواه النسائي (٨١٦) وابن ماجه (٩٩٦)، وصححه الألباني رحمه الله.

(٦) رواه أبو داود (٦٧٩)، وصححه الألباني رحمه الله.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

خطبه دويمه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **پوه شئ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې په اسلام کې د لمانځه مقام او مرتبه دومره لوړه ده چې د بل هېڅ عبادت له مقام سره نه شي برابرېدای، لمونځ د دين ستنه ده، او دين له لمانځه پرته نه شي ټينګېدای.**

په هغه حديث کې چې معاذ بن جبل رضي الله عنه روايت کړی، رسول الله ﷺ وفرمايل : ايا زه تاسو ته د ټول دين اصل او بنسټ، د هغه ستنې او د هغه تر ټولو لوړ مقام په اړه خبر درنه کړم؟ ما وويل: ولې نه، اې د الله رسوله !رسول الله ﷺ وفرمايل :د دين اصل او بنسټ هغه اسلام دی، ستنه يې لمونځ دی، او تر ټولو لوړه څوکه او مقام يې جهاد دی[1].

اې د الله بندګانو! ل لمونځ د بنده او خپل رب ترمنځ د راز و نياز او مناجات وسيله ده؛ ځکه په لمانځه کې دعا شته، د الله تعالى ستاينه شته، د قرآن کريم تلاوت شته، تسبيح، تحميد او تکبير شته، او د بدن د غړو عاجزي او بندګي پکې څرګندېږي؛ لکه رکوع، سجده، او په پوره خشوع، عاجزی، مات زړه او ټيټو سترګو د الله تعالى حضور ته درېدل.

شيخ عبد الرحمن بن سعدي رحمه الله د دې مبارک آيت په تفسير کې وايي:

﴿إِنَّ ٱلصَّلَوٰةَ تَنۡهَىٰ عَنِ ٱلۡفَحۡشَآءِ وَٱلۡمُنكَرِۗ وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ﴾

بېشکه لمونځ (لمونځ کوونکي لره) له بې حيايۍ او بدکار نه منع کوي ـ او خامخا د الله يادول ډېر لوی دي او الله پوهېږي په هغو کارونو چې تاسو يې کوئ

فرمايلي دي: په لمانځه کې تر دې هم يو ستر او لوړ مقصد شته، او هغه د الله تعالى ياد دی؛ ځکه لمونځ د زړه، ژبې او ټول بدن په وسيله د الله ذکر ته شامل دي، الله تعالى بندګان يوازې د خپلې بندګۍ لپاره پيدا کړي دي، او تر ټولو غوره عبادت چې بنده يې ترسره کوي، همدا لمونځ دی. په لمانځه کې د بدن د ټولو غړو داسې بندګي او عبوديت شته چې په بل عبادت کې نه موندل کېږي؛ له همدې امله الله تعالى وفرمايل:

﴿وَلَذِكۡرُ ٱللَّهِ أَكۡبَرُۗ﴾

او خامخا د الله يادول ډېر لوی دي

نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې الله تعالى تاسو ته د جمعې په ورځ پر نبي صلى الله عليه وسلم د ډېر درود او سلام ويلو حکم کړی دی ،او فرمايي:

تنبيه: تمام الحديث: (حتى يؤخرهم الله في النار)، ولكن الشيخ الألباني ضعف هذه الزيادة، فلذا لم أذكرها، انظر «السلسلة الضعيفة» (٦٤٤٢).

(١) رواه الترمذي (٢٦١٦)، وقال: حديث حسن صحيح.

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له ملگرو، راشدینو خلیفهګانو، هدایتیافته امامانو څخه راضي شه، او همدارنگه له تابعینو او هغو کسانو څخه چې تر قیامته يې په نېکۍ کې تابعداري کوي.

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا د دین دښمنان تباه کړه، او ستا د توحید منونکو بندګانو نصرت وکړه.

اې الله! موږ په خپلو وطنونو کې په امن کې وساته، زموږ امامان او د چارو واکمنان اصلاح کړه، او هغوی د هدایت شوو له ډلې وګرځوه ،او هغه صالحه ملګري ورکړه.

اې الله !موږ له تا څخه چنت او د هر هغې وینا او عمل توفیق غواړو چې جنت ته مو نږدې کوي، او په تاسره د اور او د هر هغې وینا او عمل څخه لرې والی غواړو چې موږ اور ته نږدې کوي.

اې الله! زموږ ناروغانو ته شفا ورکړه، زموږ پر مړو رحم وکړه، او پر ستونزو اخته بندګانو ته مو روغتیا او عافیت ورکړه.

اې الله ستا په دین مو ثابت پاتې کړې، چې په دې سره به د ګمراهۍ څخه خوندي کیږو، دنیا راته سمه کړه، هغه دنیا چې زموږ د ژوند او روزۍ ځای دی، او زموږ آخرت راته آباد کړه، هغه آخرت چې ببرته ورتګ مو هماغه لوري ته دی، او ژوند مو د هر خیر او نېکۍ د زیاتوالي وسیله وګرځوه، او مرګ مو له هر شر او تکلیف څخه د آرام او خلاصون سبب وګرځوه.

اې د الله بندګانو! بېشکه الله تعالی د عدل (انصاف)، احسان او د خپلوانو سره د نیکي کولو حکم کوي، او له بېحیایۍ، بدیو او ظلم څخه منع کوي. هغه تاسو ته نصیحت کوي، ښایي چې تاسو پند واخلئ او یادونه وکړئ ؛نو تاسو الله تعالی ډېر یاد کړئ، هغه به تاسو یاد کړي؛ د هغه د نعمتونو شکر ادا کړئ، هغه به ستاسو نعمتونه زیات کړي. او د الله یاد تر ټولو لوی عمل دی، او الله ستاسو له کړو وړو څخه ښه خبر دی.

د ذي الحجې د لومړۍ لسو ورځو فضیلت او ځانګړتیاوې

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله.

اې مسلمانانو! له الله تعالى نه وويرېږئ، همېشه دا احساس ولرئ چې الله موږ ويني او زموږ څارنه کوئ، د هغه اطاعت کوئ او سرغړونه يې مه کوئ. ځان بوه کړئ د الله تعالى د ربوبيت له څرګندو نښو څخه دا ده چې هغه په خپلو مخلوقاتو کې هر څه چې وغواړي، هغې ته ځانګړی تعظيم او مقام ورکوي؛ هغه که اشخاص وي، ځايونه وي، وختونه وي، او عبادات وي، دا ټول الله په حکمت ولاړ کارو دي، چې په حکمت يې يوازې هغه ښه پوهېږي. الله تعالى فرمايي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ﴾

او ستا رب هر څه چې غواړي پيدا کوي او انتخابوي، خو دوی ته دا حق نشته چې خپله خوښه وکړي.

په دې خطبه کې به موږ د الله په توفيق د ذوالحجې د لومړيو لسو ورځو په ځانګړتياوو خبرې وکړو، هغه ځانګړتياوې چې دا ورځې يې د کال له نورو ورځو ځانګړې کړې دي، لومړۍ دا چې الله تعالى د دغو ورځو يادونه په قرآن کې کړې ده، لکه څنګه چې الله فرمايي:

﴿لِّيَشۡهَدُواْ مَنَٰفِعَ لَهُمۡ وَيَذۡكُرُواْ ٱسۡمَ ٱللَّهِ فِيٓ أَيَّامٖ مَّعۡلُومَٰتٍ عَلَىٰ مَا رَزَقَهُم مِّنۢ بَهِيمَةِ ٱلۡأَنۡعَٰمِۖ﴾

تر څو هغوی د خپلې ګټې لپاره حاضر شي، او د الله نوم ياد کړي، په هغو ټاکلو ورځو کې، پر هغه څه چې الله تعالى دوی ته د څارويو له ډولونو روزي کړې ده.

ابن عباس رضي الله عنهما وايي: أيام معلومات؛ يعنې ټاکلې شوې ورځې، همدا د ذوالحجې لس ورځې دي. [1]

د ذو الحجې د لسو ورځو د فضيلت له دليلونو څخه يو دا دی، چې الله تعالى په دغو شپږو قسم کړی، فرمايي:

﴿وَٱلۡفَجۡرِ ۝١ وَلَيَالٍ عَشۡرٖ﴾

قسم دی د سحر په وخت، او قسم دی په لسو شپو.

ابن کثير رحمه الله وايي: دا لس شپې د ذوالحجې د مياشتې دي، لکه څنګه چې ابن عباس، ابن الزبير، مجاهد او ګڼ شمېر سلفو او له هغو وروستنو همدا تفسير کړی دی.

---

(١) أورده الإمام البخاري عنه في "صحيحه" معلقًا بصيغة الجزم، انظر كتاب العيدين، باب فضل العمل في أيام التشريق.

<u>د ذو الحجې د لسو ورځو د فضیلت له دلیلونو څخه یو دا دی</u>، چې په دې ورځو کې د نیک عمل ثواب د کال د نورو ورځو په نسبت ډېر دی، ابن عباس رضي الله عنهما روایت کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ ورځې نشته چې الله ته په کې نېک عمل د دې لسو ورځو څخه؛ ډېر خوښ وي.

صحابو وپوښتل : آیا په دې ورځو کې نیک عمل له جهاد څخه هم غوره دی؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: هو، د جهاد نه هم غوره دی، پرته له هغه مجاهد څخه چې په خپل مال او ځان سره د الله په لاره کې ووځي، او بیرته رانشي. [1]

ابن رجب رحمه الله ویلې چې لنډیز یې دا دی: دا حدیث ډېر ستر او واضح حدیث دی، او دا په دې خبره دلیل دی چې کم مقام لرونکی عمل چې کله به غوره وخت کې ترسره شي، دا عمل د هغه عملونو څخه چې په غوره وختونو کې غوره وي، د هغې څخه یې رتبه او مقام لوړېږي، بیا د ذوالحجې په لسو ورځو نیك عملونه د کال د ټولو نورو ورځو د عمل څخه غوره دي، یوازې د جهاد غوره ډول چې له هغه غوره نه شي کیدای، او هغه دا دی چې یو تن په خپله او په خپل مال جهاد ته ولاړ شي، او بیرته راوپس نه شي، یعنې هلته په جهاد کې وفات شي.

همداراز، دا حدیث د دې خبرې دلیل دی چې د ذوالحجې په لسو ورځو نوافل د رمضان له وروستیو لسو شپو د نوافلو څخه غوره دي، او همدارنگه د ذوالحجې په لسو ورځو کې فرض عبادات د نورو وختونو د فرض عباداتو زیات ثواب لري. [2]

د ذو الحجې د لسو ورځو په فضیلت دا هم دلیل دی چې د عرفې ورځ په کې راځي، او دا هغه ورځ ده چې الله پاک په کې دین اسلام پوره کړ، او دا آیت یې نازل کړو:

﴿ٱلْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلْإِسْلَٰمَ دِينًا﴾

نن مې ستاسې لپاره دین پوره کړ، پر تاسې مې خپله نعمت بشپړ کړ، او اسلام مې ستاسې لپاره خوښ کړ چې د دین په توګه یې ومنئ.

د ذو الحجې د لسو ورځو په فضیلت دا هم دلیل دی چې په همدې لسو ورځو کې د قربانۍ ورځ هم راځي، چې د "الحج اکبر" ورځ ده، دا هغه ورځ ده چې ګڼ شمېر عبادات پکې سره یو ځای کېږي: قرباني، طواف، سعی، حلق یا تقصیر، او رمي.

رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د الله په وړاندې له سترو ورځو څخه یوه د قربانۍ (یوم النحر)ورځ، او بله د قَر ورځ ده. [3]

د "قَر" ورځ هغه ورځ ده چې حاجیان پکې په منی کې تم کېږي او استراحت کوي.

اې مسلمانانو! په دغو لسو مبارکو ورځو کې، دې شپږ اعمالو ته ځانګړې پاملرنه پکار ده:

---

(١) أخرجه البخاري (٩٦٩) وأحمد (١/٣٣٨-٣٣٩)، واللفظ له.

(٢) "فتح الباري" (٩/١١-١٦)، الناشر: مكتبة الغرباء الأثرية - المدينة.

(٣) رواه أبو داود (١٧٦٥) من حديث عبدالله بن قرط رضي الله عنه، وصححه الألباني.

١ . تحميد، تهليل او تكبيرات زيات ويل، عبدالله بن عمر رضى الله عنهما له پېغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت كوي چې ويې فرمايل: داسې ورځې نشته چې عمل پكې د الله په نزد دومره ستر او محبوب وي لكه د دې لسو ورځو عمل؛ نو په دغو ورځو كې له تهليل، تكبير او تحميد څخه ډېره گټه واخلئ. (١)

امام بخاري رحمه الله ليكي: ابن عمر او ابوهريره رضي الله عنهما به په دې لسو ورځو كې بازار ته وتل، تكبيرات به يې ويل، او نورو خلكو به هم ورسره تكبيرات ويل. (٢)

تكبيرات به يې په دا ډول ويل: (الله اكبر، الله اكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد)

نو په دې لسو ورځو كې تكبيرات، تحميد او تهليل ويل يو مشروع او روا كار دى، غوره دا ده چې نارينه دا تكبيرات په لوړ آواز سره ووايي، كه هغه په جوماتونو، كورونو، سړكونو كې وي، يا هر هغه ځاى كې چې د الله ذكر پكې روا وي، ويل يې پكار دي، چې د الله پاك د تعظيم اعلان دى، د ښځو لپاره چې كوم ځاى نارينه وي هلته دې په ټيټ اواز سره دا تكبيرات وايي.

په دې زمانه كې، به تأسف سره تكبيرات د هغه سنتو څخه دي، چې خلكو هير كړي دى، د ډېرو لږو خلكو څخه به دا تكبيرات واورې، نو پكار ده چې په لوړ آواز سره دا سنت بيا راژوندى شي، ترڅو غافله خلك ورته متوجه شي.

خو دا بايد واضحه شي چې د تكبيراتو څخه مراد جماعي يعنې په يو غږ او يو ځاى سره تكبيرات ويل مراد نه دي، ځكه دا په ډلييزه بڼه تكبيرات ويل د شريعت له مخې روا نه دي.

٢ .روژه نيول، مسلمان ته پكار ده چې په كوښښ وكړي چې چې د ذوالحجې نهه ورځې روژه ونيسي، د رسول الله صلى الله عليه وسلم له مباركو سنتونو څخه دا هم دى چې هغه به د ذي‌الحجې نهه ورځې روژه نيوله.

هنيده بن خالد د خپلې مېرمنې له لارې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له د ځينو مېرمنو څخه روايت كوي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به د ذي‌الحجې نهه ورځې، د عاشورا ورځ، او د هرې مياشتې درې ورځې روژه نيوله: د هرې مياشتې لومړى دوه د دوشنبې، او دوه پنجشنبې به روژه كيدو. (٣)

ابو امامه الباهلي رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه وپوښتل: ما ته داسې يو عمل وښايه چې الله په وړاندې زما لپاره ډېر گټور وي؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: روژې كيږه، ځكه د روژې برابر هيڅ عمل نشته. (٤)

---

(١) أخرجه أحمد (١٣١/٢)، وقال محققو "المسند" (٦١٥٤): حديث صحيح.

(٢) رواه البخاري في العيدين، باب فضل العمل في أيام التشريق.

(٣) رواه أبو داود (٢٤٣٧)، والنسائي (٢٤١٧)، واللفظ له، وصححه الألباني.

(٤) رواه النسائى (٢٨٤٠)، وأحمد (٢٤٩/٥)، واللفظ للنسائي: ولفظ أحمد: قلتُ: مرني بعمل يدخلني الجنة. قال: عليك بالصوم فإنه لا عدل له. ثم أتيته الثانية فقال لي: عليك بالصوم، الحديث صححه الألباني رحمه الله، وقال محققو "المسند": إسناده صحيح على شرط مسلم.

٣ . د عرفې د ورځې روژه، په دې باندې دليل د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا حديث دى: د عرفې د ورځې روژه كيدل، زه د الله څخه دا اميد لرم چې په دې سره د تېر كال او راتلونكي كال ګناهونه وبښل شي.(١)

٤ . د اختر لمونځ، چې دا موضوع ټولو ته څرګنده او معلـومه ده.

٥ .قرباني كول، چې دا د هغو كسانو لپاره يو مؤكد سنت دى چې وس او توان لري، د قربانۍ تر ټولو غوره وخت د لوى اختر ورځ ده، ځكه چې دا ورځ د ذي‌الحجې د لسو ورځو وروستۍ ورځ ده، او همداراز د كال تر ټولو غوره ورځ ګڼل كېږي.

د تشريق په ورځو كې قرباني كول روا دي، خو غوره ورځې د ذوالحجې د مياشتې لومړۍ لس ورځې دي، او د تشريق ورځې په دغه لسو ورځو كې داخل نه دي؛ نو غوره دا ده چې د اختر به ورځ قرباني وشي، چې دا په نيک عمل ترسره كولو كې عجله ده. (٢)

٦ .حج يا عمره كول، دا بيا په دې لسو ورځو كې غوره عمل دى، چې يو مسلمان پرې ځان الله ته نږدې كوي، چا چې الله پاک د حج توفيق وركړي، او شريعت مطابق ټول مناسک ادا كړي، د فسق، بې ادبۍ او جګړو څخه ځان وساتي، دا تن د هغه ثواب وړ دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يې وعده كړې ده: د مبرور حج بدله جنت دى. (٣)

د الله بندګانو! دا شپږ عبادات هغه غوره اعمال دي چې د ذي‌الحجې په لسو ورځو كې ځانګړى حيثيت لري، دا ورځې له نورو ټولو وختونو سره دا توپير لري چې ستر عبادات پكې سره رايوځاى كېږي، لكه: لمونځ، روژه، صدقه، او حج.

دا خصوصيت په نورو وختونو كې نه وي راجمع، نو ځكه علماوو دا لس ورځې د كال تر ټولو غوره ورځې بللي دي، پورته خبرې د ابن حجر رحمه الله دي. (٤)

د الله بندګانو! عجيبه خبره دا ده، چې ډېرى خلک به ووينې چې رمضان وروستيو لسو شپو به ډېره هڅه كوي، خو د ذي‌الحجې لسو ورځو كې بيا دومره هڅه نه كوي، سره له دې چې دا ورځې تر هغو غوره دي!

سعيد بن جبير ـ مشهور تابعي- رحمه الله به چې كله د ذوالحجې لس ورځې راورسيدې، به عبادت كولو كې به يې به ځان دومره سختي كوله چې نږدې به و، چې توان او وس له لاسه وركړي. (٥)

---

(١) رواه مسلم (١١٦٢) عن أبي قتادة رضي الله عنه.

(٢) "تسهيل الفقه" للشيخ عبدالله بن عبدالعزيز الجبرين رحمه الله (٢٢٩/٩).

(٣) رواه البخاري (١٧٧٣) ومسلم (١٣٤٩) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(٤) انظر "فتح الباري" (٥٣٤/٢)، شرح حديث (٩٦٩).

(٥) رواه الدارمي في "سننه" (١٨١٥)، ط دار المغني، بتحقيق حسين سليم أسد، والبيهقي في "الشعب" (٣٧٥٢).

د هغه یو زرین قول دی، چې ویلي یې دي: (د ذوالحجې په لسو شپو کې خپلې ډیوې او څراغونه مه مړه کوئ) (١)، د دې لپاره چې خلک د شپې عبادت، تلاوت او قیام ته وهڅوي.
نو راځئ چې له الله تعالی څخه د زیات نیک عمل کولو مرسته وغواړو، یو له بله مخکې شو، راځئ چې د ثواب او اجر نیت وکړو، ځکه چې نن د عمل وخت دی، خو محاسبه نشته؛ خو سبا بیا د حساب ورځ ده، بیا عمل نشته! الله جل جلاله فرمایي:

﴿سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾

تاسو تلوار وکړئ د الله له جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغه پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی، د هغو کسانو لپاره تیار کړی شوی دی چې په الله او د هغه په رسولانو ایمان لري.
ابن رجب رحمه الله ویلي: کله چې الله تعالی د مؤمنانو په زړونو کې د خپل کور مینه او شوق راپیدا کړ، ټول خلک دا توان نه لري چې هر کال حج ته لاړ شي، نو په توانمند باندې یې به ټول عمر کې حج یو وار فرض کړ، او دا لس ورځې یې داسې وګرځولې چې په سفر روان او په کور ناست خلک یې سره شریک وګرځول[٢]، هغه داسې که یو څوک حج ته د تلو توان نه لري؛ نو کولی شي، چې په خپل کور کې داسې عمل وکړي، چې د جهاد څخه غوره وي، حال دا چې جهاد تر حج غوره عمل ګڼل شوی دی. تر دې ځایه د ابن رجب رحمه الله خبره ختمه شوه. [٣]

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم ونعفني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دویمه خطبه

الحمد لله على فضله وإحسانه، والشكر له على توفيقه وامتنانه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له تعظيما لشأنه، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، وسلم تسليمًا كثيرًا، أما بعد:

اې مؤمنانو! پوه شئ چې د ذوالحجې لس ورځې د رمضان له وروستیو لسو شپو څخه غوره دي؛ نو د عبادت په کولو کې کوښښ وکړئ.
ابن کثیر رحمه الله وایي: په عمومي توګه دا لس ورځې د کال تر ټولو غوره ورځې ګڼل شوې دي، لکه څنګه چې په حدیث کې ذکر شوي، او ډېر علماؤ دا د رمضان له وروستیو لسو شپو څخه غوره

---

(١) انظر "سير أعلام النبلاء" (٣٢٦/٤).
(٢) په سفر روان: حج ته روان خلک، په کور ناست خلک: هغه خلک چې د حج په سفر کې نه دي بلکې په خپل کور کې دی.
(٣) "لطائف المعارف" وظائف شهر ذي الحجة، الفصل الثاني في فضل عشر ذي الحجة على غيره من أعشار الشهور.

گڼلي، ځکه دې ورځو کې هغه کارونه مشروع دي کوم چې په رمضان کې مشروع دی، که هغه روژه وي، لمونځ وي، دصدقه او داسې نور کارونه وي، د دې ورځو یوه بله ځانگړتیا دا ده چې د حج فریضې ادا کول، په دې ورځو په خاص دی.

ځینو بیا ویلې دي چې د رمضان وروستۍ لس شپې غوره دي، ځکه چې په هغې د قدر شپه ده، کومه چې د زرو میاشتو څخه غوره ده.

یو منځلاری قول شته، چې وایي: د ذوالحجې د لسو ورځو ورځې غوره دي، او د رمضان د وروستیو لسو شپې شپې غوره دي؛ په دې قول سره د ټولو دلائلو جمع کیداي شي. والله أعلم. [۱]

الله مو وبښه، په دې خبره ځانونه پوه کړئ، چې څوک قرباني کول غواړي، نو ته روا نه دی چې له خپل وېښتو او نوکانو څخه څه واخلي، تر هغې وخته پورې چې خپله قرباني ذبحه کړي. ځکه رسول الله ﷺ فرمایلي:کله چې تاسې د ذوالحجې میاشت ووینئ، او تاسو کې څوک د قربانۍ اراده ولري؛ نو باید له خپل وېښتو او نوکانو څخه څه وانخلي. [۲]

او د امام مسلم په روایت کې دي: کله چې لس ورځې داخلې شوې، او څوک غواړي قرباني وکړي، نو له خپلو وېښتو او پوستکي (څرمن) څخه دې هیڅ شی نه اخلي (یعنې نه دې پرې کوي).

اې مومنانو! د اسلامي شریعت له ښکلو ځانگړتیاو څخه دا چې سختي له مینځه وړي؛ نو که یو څوک دې ته اړ شي، چې له ویښتانو، نوکانو او پوستکي څخه څه پرې کړي؛ نو هیڅ ګناه ورباندې نشته، ابن عثمین رحمه الله وایي: که څوک دې ته اړ شي چې له وېښتانو، نوکانو یا پوستکي څخه څه پرې کړي، نو هیڅ حرج ورباندې نشته؛ ـد بیلګې په دول کوم ځای یې ټپي شوي، او اړ وي، چې د هغه ځای څخه ویښتان واخلي، یا یې نوک مات شوی وي، او اذیت ورکوي، هغه پرې کړي، یا د پوستکي یو برخه د بدن څخه جلا شوي وي، او اذیت ورکوي؛ او هغه دا پرې کړي، په دې ټول شیانو کې هیڅ ګناه نشته. [۳]

اې مسلمانانو! کوم حاجي چې د قربانۍ اراده ولري، نو هغه هم د دې حکم د لاندې راځي، چې د خپل ویښتانو، نوکانو او پوستکي څخه دې څه نه پري کوي، کله یې چې عمره وکړه، باید چې ویښتان واړه کړي، که څه غواړي چې قرباني په خپل هېواد کې وکړي، بیا هم باید تقصیر وکړي، ځکه دا د عمرې له مناسکو څخه دی. دا قول د شیخ ابن باز او شیخ ابن عثیمین رحمهما الله دی. [٤]

الله مو وبښه ځان پوه کړئ، الله پاک تاسو ته یو حکم کړی، چې په پیل کې خپل ځانو بیا ملایک او په دریم پړاو کې یې تاسو اې مسلمانو که هغه انسانان وي او که پیریان وي؛ یاد کړي او فرمایلي دي:

---

(۱) تفسیر ابن کثیر، تفسیر سورة الحج: ۲۸، وهو قول شیخه ابن تیمیة کما في " مجموع فتاوى ابن تیمیة" (۲۸۷/۲۵)، وقول ابن القیم کما في "بدائع الفوائد" (۱۱۰۲/۳)، ط عالم الفوائد.

(۲) رواه مسلم (۱۹۷۷) عن أم سلمة رضي الله عنها.

(۳) "مجموع فتاوى ابن عثیمین" (۱٦۱/۲۵).

(٤) انظر: "مجموع الفتاوى" (۲۳۳/۱۷) لابن باز، و "مجموع الفتاوى" (۱٤۱/۲۵) لابن عثیمین رحمهما الله.

﴿إِنَّ اللَّهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبِيِّ ۚ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله! درود او سلام نازل کړه پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې، د هغه د راشدو خليفه گانو، تابعينو او هغه څوک چې د قيامت تر ورځې پورې د دوی د لارې پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

اې زمونږ ربه! مونږ ته په دنيا کې ښيگڼه راکړه، او په آخرت کې ښيگڼه راکړه، او د دوزخ له عذابه مو وساته.

اې د الله بندگانو! الله مونږ ته په عدل، احسان او خپلوانو ته د حق د ورکولو، او له فحشاء، منکر او ظلم څخه د منع کيدو امر کوي، نصيحت کوي، د دې لپاره چې پند ترې واخلئ؛ نو الله ډېر ياد کړئ، هغه به هم تاسو ياد کړي، د هغه د نعمتونو شکر وکړئ، هغه به يې در زيات کړي، د الله ياد تر ټولو ستر دی، او هغه څه چې تاسو يې کوئ، الله پرې ښه پوهېږي.

د عرفې د ورځې ځانگړتياوې

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله.

اې مسلمانانو! له الله پاک څخه وويرېږئ، همېشه دا احساس ولرئ چې الله مورِ وينې او زمورِ څارنه کوئ، د هغه اطاعت کوئ او سرغړونه يې مه کوئ. ځان پوه کړئ چې د الله پاک د ربوبيت له څرگندو نښو څخه دا ده چې په مخلوقاتو کې هر څه ته چې وغواړي، هغې ته يو ځانگړی تعظيم او مقام ورکوي؛ هغه که اشخاص وي، ځايونه وي، وختونه وي، او عبادات وي، دا ټول د الله په حکمت ولاړ کارونه دي، چې د دې په حکمت يوازې الله ښه پوهېږي. الله پاک فرمايي:

﴿وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ مَا يَشَآءُ وَيَخۡتَارُۗ مَا كَانَ لَهُمُ ٱلۡخِيَرَةُۚ﴾

او ستا رب هر څه چې غواړي پيدا کوي او انتخابوي، خو دوی ته دا حق نشته چې خپله خوښه وکړي.

په دې خطبه کې به د الله په توفيق سره د عرفې ورځې د تعظيم اړوند خبرې وکړو، او هغه لس ځانگړنې به بيان کړو، چې الله دې سترې ورځې ته ورکړي دي:

۱. لومړی يې دا چې عرفه هغه ورځ ده چې الله په کې دين بشپړ کړ، نعمت يې پوره کړ، له طارق بن شهاب څخه روايت دي چې يو يهودي د عمر بن الخطاب رضي الله عنه حضور ته راغی او ورته يې ويل:

اې د مؤمنانو اميره! ستاسو په کتاب (قرآن) کې داسې آيت دی چې تاسو يې لولئ، که دا آيت مورِ يهودانو ته نازل شوی وای، نو مورِ به هغه ورځ د اختر ورځ گرځولې وای. عمر رضي الله عنه ترې وپوښتل: کوم آيت؟ يهودي ورته وويل:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗا﴾

نن ورځ ما تاسو لپاره ستاسو دين مکمل کړو او پر تاسو باندې مې خپل نعمتونه تمام کړل او ما تاسو لپاره اسلام د دين په توگه خوښ کړو.

نو عمر رضي الله عنه ورته وويل: زه ښه پوهېږم چې دا آيت په کومه ورځ او په کوم ځای کې نازل شوی دی. دا آيت د جمعې په ورځ، په عرفات کې، په رسول الله ﷺ نازل شوی. [۱]

---

(۱) رواه البخاري (٤٥) ومسلم (۳۰۱۷)، واللفظ له، عن طارق بن شهاب. وللفائدة؛ محمد بن جرير الطبري په خپل «تفسيره» د دې آيت په تفسير کې د كعب الأحبار څخه روايت نقل کړي، چې هغه فرمايلي: کله له دې امت پرته په بل امت کې داسې يو آيت نازل شوی وي؛ نو د نزول ورځ به يې د اختر ورځ گرځولی وي، چې راټوليدل به ورکې، عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې کعب! کوم آيت يادوې؟ هغه وويل: (اليوم أكملت لكم دينكم)، عمر رضي الله عنه ورته وويل: زه هغه ورځ او ځای ښه پيژنم چې دا ايت ورکې نازل شو، چې د جمعې ورځ او د عرفې ورځ وه، او دا دواړه زمورِ لپاره د اختر ورځې دي.

٢. د عرفې د ورځې له ځانگړتیاوو څخه بله دا ده چې الله پاک وربانديې په قرآن کې دوه ځایه قسم کړی دی، او الله پاک خو یوازې په لویو شیانو قسم کوي، دا هماغه المشهود ورځ ده، د کومې یادونه چې الله پاک کړې ده:

﴿وَشَاهِدٍ وَمَشْهُودٍ﴾

او په ګواه یا حاضربدونکي او په هغې (ورځې) چې هغې ته حاضري کولی شي.

له ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: شاهد د جمعې ورځ ده، مشهود د عرفې ورځ ده، او موعود بیا د قیامت ورځ ده. (١)

اې د الله بندګانو! عرفه هغه طاق (وتر) ورځ ده، چې الله پرې قسم کړی، لکه څرنګه چې الله فرمایلي دي:

﴿وَٱلشَّفْعِ وَٱلْوَتْرِ﴾

او په جفت او طاق باندې.

جابر بن عبدالله رضي الله عنهما وایي، چې رسول الله ﷺ فرمایلي یې دي: د ذوالحجې د میاشتې په هغه لسو ورځو کې، د عرفې ورځ وتر (طاق) ده، او د قربانۍ ورځ شفع (جفت) ده. (٢)

٣. د عرفې ورځې د ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې د دې ورځې په روژه کیدو سره د دوه کالو ګناهونه معاف کیږي، قتاده رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د عرفې د ورځې د روژې نیولو په ثواب کې مې په الله دا امید دی، چې د راتلونکي کال، او تېر شوي کال ګناهونه پرې معاف کړي. (٣)

٤. د عرفې د ورځې د ځانګړتیاوو څخه دا ده چې دا ورځ د ذوالحجې یعنې د عزت په میاشتو کې ده، چې مخکې یعنې ذو القعده او وروسته ترې یعنې محرم د عزت میاشتې دي.

٥. د عرفې ورځې د ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې دا ورځ د جهنم څخه د خلاصون، د الهي نزدیکت او د عرفات په میدان ولاړو حاجیانو باندې د ملایکو په وړاندې ویاړ کوي، دا درې ځانګړتیاوې ټولې په یوه حدیث کې راغلي دي.

عایشه رضي الله عنها له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د عرفې له ورځې پرته بله داسې ورځ نشته چې الله پکې ډیرو بندګانو ته له اور څخه خلاصون ورکړي، الله پاک پدې ورځ خپلو بندګانو ته ډیر نږدې وي، او د ملایکو په وړاندې په خپلو بندګانو ویاړي، او فرمایي: دا خلک څه غواړي؟ (٤)

---

(١) رواه أحمد (٧٩٧٣)، وصححه محققو «المسند».

(٢) رواه أحمد (١٤٥١١)، وصححه محققو «المسند».

(٣) رواه مسلم (١١٦٢)

(٤) رواه مسلم (١٣٤٨)

همداراز عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله عزوجل د عرفې د ماښام په وخت کې پر خپلو حاجيانو وياړي، او خپلو ملايکو ته وايي: زما بندگانو ته وگورئ! دوی زما لوري ته راغلي، حال دا چې وېښتان يې گډوډ، او بدنونه يې په دوړو الوده شوي دي. (۱)

امام ابن رجب رحمه الله وايي: د عرفې ورځ د جهنم څخه د خلاصون ورځ ده، د عرفات په ميدان کې ولاړ، او له دې پرته نور هغه مسلمانان چې په خپلو هيوادونو کې وي، الله يې د جهنم څخه ازادوي، نو همدا وجه ده چې د عرفې ورځې وروسته بله ورځ بيا د ټولو مسلمانانو لپاره د اختر ورځ ده، که څوک د عرفات ميدان ته تللي وي او کنه وي تللي د ټولو لپاره د اختر ورځ ده، ځکه چې دوی ټول د عرفې د ورځې په ښښنه او جهنم څخه په خلاصون کې شريک دي. (۲)

٦. د عرفې ورځې له ځانګړتياوو څخه دا ده چې دا د دعا کولو او قبلېدو تر ټولو غوره ورځ ده، عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تر ټولو غوره دعا، د عرفې د ورځې دعا ده، او تر ټولو غوره څه چې ما او له ما پخوانيو پيغمبرانو ويلي، هغه دا دي: (لا إلـٰهَ إلَّا اللهُ وحدَه لا شريكَ له، لهُ المُلكُ، ولهُ الحمدُ، وهوَ علَى كلِّ شيءٍ قديرٌ) (۳)
نشته معبود پرته له الله، هغه يواځې دی، شريك نه لري، واک د ده دی، ټول حمدونه د ده لپاره دي، او پر هر شي قادر دی.

۷. د عرفې د ورځې د ځانګړتياوو څخه بله دا ده چې د عرفې ورځ د ذوالحجې له لسو ورځو څخه ده، کومې چې د کال تر ټولو غوره ورځې دي، لکه څنګه چې ابن عباس رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل: له دې لسو ورځو پرته داسې هيڅ ورځې نشته چې الله ته په کې کې نيک عمل ډير خوښ وي. صحابو وپوښتل: اې د الله رسوله! له جهاد څخه هم نيک عمل کول دې ورځو کې غوره دي؟ رسول الله ﷺ وفرمايل: هو، د الله په لاره کې له جهاد څخه هم غوره دي، ليکن پرته د هغه تن له عمل څخه چې خپله په خپل مال سره جهاد ته لاړ شي، او بېرته راستون نه شي. (٤)

۸. د عرفې د ورځې د ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې دا ورځ د حج له سترو ارکانو څخه ده، په همدې ورځ حاجيان په عرفات کې ودريږي، او دا وقوف د حج ستر عبادت دی، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: حج عرفه ده. (۵)

۹. د عرفې ورځې ځانګړتياوو دا هم ده چې مسلمانان د نړۍ له هر ګوټ څخه راټوليږي، او يو داسې ځانګړی عبادت ترسره کوي، چې هغه د کال په نورو ورځو، ځايونو کې نه ترسره کيږي، دا حالت د

(۱)رواه أحمد (۲/۲۲٤)، وصححه الألباني في «تخريج الترغيب والترهيب» برقم (۱۱۵۳)

(۲) «لطائف المعارف» - المجلس الثاني في يوم عرفة مع يوم النحر.

(۳) رواه الترمذي (۳۵۸۵)، وحسنه الألباني في «الصحيحة» (۱۵۰۳).

(٤) أخرجه البخاري (۹٦۹) وأحمد (۱/۳۳۸-۳۳۹)، واللفظ له.

(۵) رواه النسائي (۳۰۱٦) وغيره ، عن عبد الرحمٰن بن يعمر رضي الله عنه، وصححه الألباني.

اسلام د یووالي، د دین د عظمت، او د الله د دین د لوړوالي ښکاره نښه ده، دا یووالی، دا دعاګانې، او دا رحمتونه د شیطان د ماتې او خجالت سبب ګرځي.

اې د الله بندګانو! دا لس ځانګړتیاوې دي، چې الله (جل جلاله) د عرفې ورځې ته ورکړې دي، دا ورځ الله ته ډېره خوښه، ډېره مبارکه، او ډېره درنه ده، نو راځئ چې له الله څخه مرسته وغواړو، څو موږ ته توفیق راکړي، چې د دې ورځې د فضیلتونو څخه برخمن شو.

راځئ چې د نیکو عملونو په کولو کې یو له بله څخه مخکې شو، خپل نیت الله ته خالص کړو، او په دې خبره ځان پوه کړو چې نن ورځ د عمل ده، خو حساب نشته، لیکن سبا بیا د حساب ورځ ده، هلته بیا عمل نشته!

﴿سَابِقُوٓاْ إِلَىٰ مَغۡفِرَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ وَجَنَّةٍ عَرۡضُهَا كَعَرۡضِ ٱلسَّمَآءِ وَٱلۡأَرۡضِ أُعِدَّتۡ لِلَّذِينَ ءَامَنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦ﴾

تاسو تلوار وکړئ د الله له جانبه مغفرت ته او داسې جنت ته چې د هغه پلنوالی د اسمان او ځمکې د پلنوالي په شان دی، د هغو کسانو لپاره تیار کړی شوی دی چې په الله او د هغه په رسولانو ایمان لري.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا وأستغفر الله العظيم لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

الحمدلله على فضله وإحسانه، والشكر له على توفيقه وامتنانه، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده تعظيماً لشأنه، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، وسلم تسليماً كثيراً، أما بعد،

اې مؤمنانو ځان پوه کړئ! د عرفې د ورځې د دعا فضیلت یوازې د عرفات په میدان کې دولاړو حاجیانو لپاره نه دي، بلکې دا فضیلت د ټول امت لپاره دی، چې په هر ځای کې وي، ځکه دا فضیلت د وخت له امله دی، نه یوازې د ځای له امله، البته، هغه څوک چې په عرفات کې دي، نو هغوی د دواړو فضیلتونو څخه برخمن دي: یو د وخت فضیلت او بل د ځای فضیلت.

اې د الله بندګانو! له هغه کړنو څخه چې د عرفې په ورځ د دعا، ذکر او د الله د یاد لپاره انسان سره مرسته کوي دا ده، چې تر خپلې وس په اندازه له غرمې وروسته تر ماښامه پورې په مسجد کې پاتې شي، او خپل وخت د دعا او عبادت لپاره ځانګړی کړي.

همداراز، د عرفې په ورځ مسنون ده، چې د هر فرضي لمونځ وروسته "تکبیرات مقیده" وویل شي، دا تکبیرات بیا له حاجیانو پرته د نورو خلکو لپاره د عرفې د ورځې د سهار له لمانځه وروسته پیل کیږي، او د ذوالحجې د دیارلسمې ورځې مازیګر پورې دوام کوي.

د حاجي لپاره بیا دا تکبیرات د عرفې د ورځې د ماسپښین او مازدیګر لمونځ څخه وروسته پیلیږي، کله چې یو مسلمان له لمانځه فارغ شي؛ بیا درې ځله استغفار وایي، بیا دا دعا وایي: (اللَّهُمَّ أَنْتَ

السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ)، له دې ورسته دې دا تکبيرات پيل کړي: (الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، الله أكبر، الله أكبر ولله الحمد).

اې مؤمنانو! دا د الله له لورې يوه ستره موقع ده، چې په کال کې يوازې يو ځل راځي، راځئ چې الله ته له خپلو ځانونو څخه خير وښايو، عبادت ته ملا وتړو، د الله ذکر وکړو، دعاوو ته وخت ورکړو، کله چې يو بنده د الله لوري ته يو قدم واخلي، الله د هغه لوري ته دوه قدمه راځي، او که هغه يو ذراع رانژدې شي، الله د يو بازو په اندازه رانژدې کېږي، او که بنده د الله لورې ته پلی راشي، الله ورته په منډه راځي.

دا حديث د دې ښکارندی کوي چې الله ډېر ژر او زيات مهربانه دی، د خپل بنده د يوې کوچنۍ هڅې په بدل کې ستر فضل او خير ورکوي.

اې الله! درود او سلام نازل کړه پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ باندې، د هغه د راشدو خليفه گانو، تابعينو او هغه څوک چې د قيامت تر ورځې پورې د دوی د لارې پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! موږ په خپلو ځانونو ډېر ظلم کړي، له تا پرته بل داسې څوک نشته چې گناهونه مو بښي، د خپل لورې څخه موږ ته بښنه وکړه، رحم راباندې وکړه، ځکه ته د بښنې او رحم والا يې.

اې الله موږ د عرفې ورځې ته ورسوه، ستا د ذکر، شکر او ښه عبادت کولو توفيق راکړه.

اې زموږ ربه! موږ ته په دنيا کې ښيگڼه راکړه، او په آخرت کې ښيگڼه راکړه، او د دوزخ له عذابه مو وساته.

ستا رب لره پاکي ده چې د عزت (او غلبې) مالك دی، له هغو خبرو نه چې دوی (مشرکان) يې بيانوي، او سلام دې وي په رسولانو باندې، او ټول د کمال صفتونه خاص الله لره دي چې د عالمونو ښه پالونکی دی.

د لوی اختر خطبه - شل پندونه

الله أكبر (نه ځله)، الله أكبر كبيرًا، والحمدلله كثيرًا، وسبحان الله بكرةً وأصيلًا.

الحمدلله جل جلاله، وعظم ثناؤه، وتقدست أسماؤه، سبحانه وبحمده لاتُحصى نعماؤه، وأشهد أن لا غله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدًا عبدُه ورسوله، بعثه الله بالهدى ودين الحق، الله صل وسلم وبارك عليه، وعلى آله وصحبه وسلم تسليما كثيرا.

أما بعد: د الله څخه وويريږئ! ځكه تقوا تر ټولو غوره توښه ده، او د قيامت پر ورځ د نجات سبب دی.

١ . اې مسلمانانو! نن تاسې د الله پاک د سترو ورځو څخه په يوه ستره ورځ کې شتون لرئ، چې دا د قربانۍ يا د لوی اختر ورځ ده، دا ورځ د اسلام د سترې فريضې حج له ادا کولو وروسته راځي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله تعالى په نزد تر ټولو غوره ورځ د قربانۍ ورځ ده، بيا د "قَرّ" ورځ ده(١)، يعنې هغه ورځ ده کله چې حاجيان په منى کې مېشت وي.

د دې ورځې د فضيلت راز په نورو ورځو باندې دا هم دی، چې په دې ورځ کې د حج ډېر اعمال راجمع کړل شوې دي، لکه د جمرة العقبې ويشتل، د قربانۍ د څاروي حلالول، د لومړي تحلل لپاره د ويښتو خرول يا لنډول، افاضه (فرضي) طواف کول، د صفا او مروه ترمينځ سعي کول، له حاجيانو پرته نور خلک بيا په دې ورځ قرباني کوي، دا ټول هغه عبادتونه دي چې د لوی اختر له ورځې پرته په بله ورځ کې نه سره يوځای کيږي.

الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد

٢ . اې د الله بندګانو! د اسلامي اخترونو تر ټولو لويه ځانګړتيا دا ده، چې دا د الله له خوا د لوړو موخو لپاره مشروع شوي دي، نه لکه نور قومونه چې خپل اخترونه د نفساني غوښتنو يا د تاريخي پيښو پر اساس لمانځي، لکه د اسلامي اخترونو له موخو څخه ځينې يې دا دي، د الله د شعائرو تعظيم کول، د مؤمنانو زړونه خوشحالول، د دين اسلام آساني او نرموالى څرګندول، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د عرفې ورځ، د قربانۍ ورځ، او د تشريق ورځې زمونږ د مسلمانانو اخترونه دي، او دا د خوراک او څښاک ورځې دي. (٢)

الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد

٣ . اې مؤمنانو! په دې ستره ورځ کې تر ټولو غوره عمل چې بنده پرې الله ته نږدې کيږي، هغه قرباني کول دي، قرباني هغه سنت عمل دی چې د الله دوه خليلانو، ابراهيم عليه السلام او محمد ﷺ له خوا ترسره شوې ده.

---

(١) رواه أبو داود (١٧٦٥) عن عبد الله بن قرط رضي الله عنه، وصححه الألباني.

(٢) رواه أبو داود (٢٤١٩) عن عقبة بن عامر رضي الله عنه، وصححه الألباني.

٤ . د قربانۍ له مهمو آدابو او سنتونو څخه دا دي، چې د قرباني څاروی د قبلې لورې ته څمول شي، د الله نوم پرې یاد کړل شي، او داسې دعا ویل: اې الله! دا ستا له لورې ده، او ستا لپاره ده، اې الله! دا زما او زما له کورنۍ له لوري قرباني ده، اې الله! ته دا قرباني زما څخه قبوله کړه.
٥ . څوک چې قرباني کوي د هغې لپاره مستحب ده که وس ولري؛ نو قرباني دې خپله حلاله (ذبحه) کړي، او هغه په داسې ډول چې د ځاروي دواړه لوی رګونه (ودجین)، چې د ستونې دواړو غاړو ته دي؛ پرې شي.
٦ . که د ذبحې لپاره د خپل ځان پر ځای بل څوک وکیل ونیسي؛ نو هم روا ده، وکیل به یې به داسې وایي: اې الله! دا ستا له لورې ده، او ستا لپاره ده، اې الله! دا قرباني د فلاني (نوم به یې یادوي) له لورې ده، اې الله! دا ترې قبوله کړه.
٧ . له ذبحې وړاندې باید چاړه پټه وساتل شي، او د څاروي له نظره لرې تېره کړل شي، یو څاروی باید د نورو څارو په مخ کې ذبحه نه کړل شي، د دې خبرو رعایتول د رسول الله ﷺ د دې حدیث په بنیاد وشي، چې فرمایلي یې دي: بېشکه الله پر هر شي باندې احسان (یعنې ښه والی، نرمي، او عدل) فرض کړی دی، نو کله چې قتل کوئ، نو ښه قتل وکړئ (یعنې که شرعاً د قتل ضرورت وي ـ لکه د قصاص، حد، یا جنګي حالاتو په صورت کې ـ نو باید ژر، بېعذابه او له ظلم پرته ترسره شي)، او کله چې ذبحه کوئ، نو په ښه ډول ذبحه وکړئ (یعنې په مهربانۍ، له بېځایه عذاب ورکولو پرته، او ژر). او هر څوک دې خپله چاړه تېره کړي، او خپلې ذبیحې ته دې راحت ورکړي. (١)
٨ . د قربانۍ وخت څلور ورځې دی، د اختر ورځ، د تشریق درې ورځې (یعنې د ذوالحجې ١١، ١٢، او ١٣مه) خو تر ټولو غوره دا ده چې قرباني د اختر په ورځ وشي، ځکه دا د ذوالحجې له هغو لسو نېکو ورځو څخه یوه ده چې ځانګړی فضیلت لري.
٩ . رسول الله ﷺ دوه ښایسته، ښکرلرونکي، سپین رنګ پسونه قرباني کړې وو، او ددې خبرې وضاحت یې هم کړي دی، چې په کوم ډول څارویو قرباني نه کیږي: هغه څاروی چې یوه سترګه یې ښکاره ړنده وي، هغه څاروی چې ښکاره ناروغ وي، هغه څاروی چې په ښکاره ډول یې پښه خرابه وي یا شل وي، او هغه څاروی چې په داسې اندازه کمزوری وي چې مغز ونه لري(٢) (یعنې هډوکي یې تش وي).
١٠ . رسول الله ﷺ به د اختر ورځ د خوراک پیل د قربانۍ د خوراک څخه کاوه، او له هغې مخکې به یې خوراک نه کاوه.
١١ . اې د الله بندګانو! د رسول الله ﷺ په زمانه کې مسلمانان د قربانۍ لپاره ښه، غوښین او قیمته څاروي غوره کول، هر څومره چې قرباني قیمتي او له صفاتو پوره وي، همغومره الله ته ډېره

(١) رواه مسلم (١٩٥٥) عن شداد بن أوس رضي الله عنه.
(٢) رواه أحمد (٣٠٠/٤) وغيره، وصححه محققو (المسند).

محبوبه وي او د اخيستوونكي لپاره يې اجر هم زيات وي. ابن تيميه رحمه الله فرمايي: د قربانۍ اجر او ثواب د هغې د ارزښت له مخې حسابېږي. (١)

١٢ . اې د الله بندگانو! د قربانۍ لپاره خاص مصرف نه دی ټاكل شوی، خو د قرآن كريم په آيت كې راغلي:

﴿فَكُلُوا مِنْهَا وَأَطْعِمُوا الْقَانِعَ وَالْمُعْتَرَ﴾

نو له دغو نه خورئ او په صبر كوونكي او په بې صبره (سوالگري فقير) يې خورئ.

او د رسول الله ﷺ له سنت څخه هم دا ثابته ده. چې فرمايلي يې دي: وخورئ او ذخيره يې كړئ.(٢)

او په بل روايت كې راغلي: وخورئ، ووښئ، او ذخيره يې كړئ. (٣)

١٣ . كله چې قرباني ذبحه شي، نو هېڅ برخه يې بايد ونه پلورل شي، كه هغه غوښه وي، څرمن وي او يا بل كوم څه وي.

١٤ . كافر ته هم له قربانۍ څخه يو څه وركولی شي، كه هدف يې د اسلام لورې د نوموړي زړه نرمول، يا د دين شعائر ښكاره كول.

١٥ . قصاب ته د قربانۍ له غوښې څخه د مزدورۍ په بدل كې څه وركول روا نه دي، خو قرباني كوونكی كولای شي چې د هغه د كار په بدل كې پيسې وركړي. يعنې اجرت دې له غوښې نه، بلكې له بل مال څخه وركړي.

١٦ . اې د الله بندگانو! د دې سترې ورځې وروسته درې نورې ډېرې بابركته ورځې راځي، چې هغې ته د تشريق ورځې وايي، په دغو ورځو كې الله پاك موږ ته د ډېر ذكر كولو، امر كړی دی، چې فرمايلي يې دي:

﴿وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ﴾

په شمېرل شويو ورځو كې الله يادوئ.

نو د اختر د ورځو له مهمو اعمالو څخه يو مهم عمل دا دی چې:

مطلق تكبيرات: دا تكبيرات د تشريق په ورځو كې هر وخت ويل كېدای شي، آن د تشريق د دريمې ورځې تر لمر لوېدو پورې.

مقيد تكبيرات: دا د لمانځه وروسته ويل كېږي، د تشريق د دريمې ورځې تر مازديگر پورې ويل كيدای شي، خوښه يې كه دوه ځله يې وايي، كه درې ځله يې وايي، تكبيرات به په دې ډول سره وايي:

الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد

الله أكبر، الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد

---

(١) الفتاوى الكبرى (٤٦٨/٤).

(٢) رواه البخاري (١٧١٩) ومسلم (١٩٧٢) عن جابر بن عبد الله رضي الله عنه.

(٣) رواه مسلم (١٩٧٣) عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه.

١٧ . اې د الله بندګانو! د اختر ورځ او د تشريق درې ورځې د خوراک، څښاک او د الله د يادولو ورځې دي؛ نو په دغو ورځو کې روژه نيول روا نه دي، ځکه دا د اختر ورځې دي. رسول الله ﷺ فرمايلي: د تشريق ورځې د خوراک او څښاک ورځې دي.
او په بل روايت کې دي: چې د الله د ذکر ورځې دي. (١)
١٨ . د اختر له سترو حکمتونو څخه يو دا دی چې مسلمانان يو له سره اړيکې وپالي، تګ راتګ وکړي، زړونه سره نږدې شي، د کينې، ډار له مينځه لاړ شي، د بخل او حسد اورونه مړه شي، اسلام چې څنګه مسلمانان د اختر د لمانځه لپاره سره رايوځای کوي، کولای شي چې په حق او تقوا سره يې راټول کړي، له نعمان بن بشير رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د مؤمنانو مثال په مينه، رحم او خواخوږۍ کې د يوه بدن مثال لري، که يې يوه برخه درد ولري، ټول بدن ورسره بې خوبه او تبه ناک شي. (٢)
د اختر په ورځو کې له غوره او مستحب کارونو څخه چې بايد ترسره شي، هغه د خپلوی پالل دي، ځکه الله پر بنده فرض ګرځولې، او په ځانګړي ډول په خوښيو او غمونو کې چې صله رحمي وپالي، څوک چې خپلولي وپالي، الله به ورسره تعلق وساتي، او څوک چې خپلوي پرې کړي، الله به وسره خپل تعلق پرې کړي، له عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي، الله تعالى وفرمايل: زه رحمان يم، ما رحم (يعنې د خپلوانو ترمنځ د تعلق رشته) پيدا کړه، او د خپل نوم (رحمان) نه مې ورته برخه ورکړه؛ نو څوک چې دا رشته وساتي، زه به هم د هغه سره خپل ارتباط وساتم، او څوک چې دا رشته پرې کړي، زه به هم د هغه سره خپل تعلق پرې کړم. (٣)
نو اې د الله بندګانو! که څوک له خپلوانو، ملګرو يا ګاونډي سره په جګړه وي، بايد يو بل ته ښښنه وکړي او سوله ورسره وکړي. الله تعالى فرمايي:

﴿فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُ عَلَى اللَّهِ﴾

نو هغه څوك چې معافي وكړي او اصلاح وكړي نو د ده اجر په الله دی.

او همداراز فرمايي:

﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ﴾

بېشكه هم دا خبره ده چې مومنان خو سره وروڼه دي، نو تاسو د خپلو دواړو وروڼو په مينځ كې سوله كوئ.

---

(١) رواه مسلم (١١٤١) عن نبيشة الخير الهذلي رضي الله عنه.
(٢) رواه مسلم (٢٥٨٦) عن النعمان بن بشير رضي الله عنه.
(٣) رواه أحمد (١٩١/١) واللفظ له، وأبو داود (١٦٩٤) عن عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه، وصححه محققو (المسند) والألباني.

١٩ . اې د الله بندګانو! يو بل ته د اختر مبارکي ورکول يو سنه او روا کار دی، شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله ويلي: د اختر په ورځ د مبارکۍ ورکول، لکه د «تقبل الله منا ومنكم» يا «أحاله الله عليك» دا د ځينو صحابوو څخه نقل دي، امام احمد او نورو علماوو د دې کار رخصت ورکړی دی. (١)

٢٠ . اې د الله بندګانو! د الله د دې ستر نعمتونو په مقابل کې حرام تفريحات، ګناهونه او نافرمانۍ مه کوئ، ځکه که داسې مو وکړل، د الله قهر او عذاب به درباندې راشي.

الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد.

الله أكبر كبيرًا، والحمد لله كثيرًا، وسبحان الله بكرةً وأصيلًا.

أقول قولي هذا، واستغفر الله لي ولكم، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

الله أكبر **(اووه ځله)**، الله أكبر كبيرًا، والحمدلله كثيرًا، وسبحان الله بكرةً وأصيلاً.

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد:

٢١ . اې مؤمنو خوښندو! الله تعالى امهات المؤمنين ته په خپل کتاب کې داسې لارښوونه کړې ده:

﴿وَقَرْنَ فِي بُيُوتِكُنَّ وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ وَأَقِمْنَ الصَّلَاةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾

او تاسو په خپلو کورونو کې قرار ونيسئ او تاسو د ړومبني جاهليت د زينت څرګندونې په شان زينت مه څرګندوئ.

دغه الهي سپېڅلی امر د امهات المؤمنين لپاره دی، او د هغو ټولو مؤمنو سځو لپاره دی چې تر قيامته د دوی لاره تعقيبوي؛ نو ای خوښندو! تاسو چې الله مو خپل رب، اسلام مو خپل دين، او محمد ﷺ مو خپل نبي منلی دی، د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړئ، د انسي او جني شيطانانو له ګمراه کوونکو کارونو، فتنو، د سکلا او ډول سکاره کولو (تبرج) او نارينو سره د ګډون (اختلاط) څخه ځانونه وژغورئ، ځکه الله تعالى فرمايلي:

﴿وَلَا تَبَرَّجْنَ تَبَرُّجَ الْجَاهِلِيَّةِ الْأُولَىٰ﴾

او تاسو د ړومبني جاهليت د زينت څرګندونې په شان زينت مه څرګندوئ.

څوک چې له دې کارونو او د فتنو له زيانونو څخه ځان ژغورل غواړي؛ نو بايد خپل وخت په ګټورو کارونو کې بوخت کړي، د فسق او فجور د خلکو له پيروۍ او تقليد څخه ډډه وکړي، د فاسقانو پيروي او تقليد د زړه په خرابۍ او فساد ستر اغيزه کوي. الله تعالى فرمايي:

---

(١) مجموع الفتاوى (٢٥٣/٢٤).

﴿وَاللَّهُ يُرِيدُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْكُمْ وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا﴾

الله غواړي تاسو ته توجه وکړي (په خپل رحمت سره) او هغه کسان، چې د خواهشاتو تابع کېږي، (هغوی) غواړي چې تاسو (له حقې لارې نه) ډېر زیات کاږه شئ.

مبارک مو شه اختر! الله دې تل تاسې ته نېکمرغي، خوشالي، او سُبادي درکړي، الله دې په تاسې ته د خوښيو بارانونه وکړي، ستاسې عبادتونه دې قبول کړي، ستاسې ګناهونه دې وبښي، ستاسې زړونه دې له خيرونو ډک کړي، ستاسې امیدونه دې پوره کړي، او د نېکو کارونو توفیق دې درکړي.

نو پر رسول الله ﷺ درود او سلام ووایاست، ځکه څوک چې په رسول الله ﷺ یو درود ووایي، الله به پرې لس درودونه وایي.

اللهم صلِّ وسلِّم وبارك على عبدك ورسولك نبينا محمد، وعلى آله وصحبه أجمعين.

د محرم د میاشتې تعظیم او د عاشورې د روژې فضیلت

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِي خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٖ وَٰحِدَةٖ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِي تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

اې خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

اې مسلمانانو! له الله څخه ووېرېږئ، او دا احساس ولرئ چې هغه زمونږ د هر څه څاروونکی دی، اطاعت یې وکړئ او هېڅکله یې نافرماني مه کوئ، پوه شئ، چې د الله د ربوبیت له دلیلونو څخه دا هم ده چې ځینې وختونو ته په نورو درناوی او غوره والی ورکوي، چې له دغو غوره وختونو څخه یو هم د محرم‌الحرام میاشت ده، دا یوه ستره بَرَکتي، مبارکه او د هجري کال لومړۍ میاشت ده، د هغو څلورو د عزت له میاشتو له جملې څخه ده چې الله یې په دې مبارک آیت کې یادونه کړې ده:

﴿إِنَّ عِدَّةَ الشُّهُورِ عِنْدَ اللَّهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا فِي كِتَابِ اللَّهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ﴾

بېشکه د الله په نیز د میاشتو (معتبر) شمېر دولس میاشتې دی، د الله په کتاب کې، په هغه ورځ چې هغه پیدا کړل اسمانونه او ځمکه، له هغو نه څلور (میاشتی) د حرمت والا دي، همدغه سم (نېغ) دین دی، نو تاسو په دغو کې په خپلو ځانونو ظلم مه کوئ.

په آیت کې د ﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ﴾ څخه مراد په دغه د عزت په میاشتو کې پر خپلو ځانونو ظلم مه کوئ، دا ځکه چې په دې میاشتو کې ګناهونه د نور وختونو په پرتله ډېر سخت حیثیت لري.

عبدالله بن عباس رضي الله عنهما د ﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ﴾ په باره کې وایي: تاسې د کال په ټولو میاشتو کې ظلم مه کوې، بیا یې د ټولو میاشتو له منځه څلور میاشتې ځانګړې کړې، هغه یې د حرمت او د درناوی وړ وګرځولې، چې ګناه ورکې کول سخته بدله لري، او نیک عملونه په کې ډېر ثواب لري.

قتاده د ﴿فَلَا تَظْلِمُوا فِيهِنَّ أَنْفُسَكُمْ﴾ په باره کې وایي: په حرمت په میاشتو کې ظلم کول د نورو وختونو په پرتله لا لویه ګناه او درونده جرم دی، که څه هم ظلم په هر حالت کې بد کار دی، خو الله تعالی د خپل امر له مخې هر څه چې وغواړي، لوی یې ګرځوي.

بیا وایي: الله پاک د خپل مخلوقاتو له مینځه ځینې خلک، یا ځایونه، یا وختونه او یا کلمات غوره کړي دي، چې له ملائکو یې رسولان، له انسانانو یې پیغمبران، له خبرو یې ذکر، له ځمکو یې مسجدونه، له میاشتو یې رمضان او د حرمت میاشتې، له ورځو یې د جمعې ورځ، او له شپو یې د قدر شپه غوره کړي دي، عقلمندو ته ښایي، چې د هغه څه درناوی او تعظیم وکړي، کومو شیانو ته چې الله تعظیم ورکړی. تر دې ځایه لنډیز د تفسیر ابن کثیر پای ته ورسید.

له ابو بکره رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: کال دولس میاشتې لري، چې څلور یې د حرمت او درناوی میاشتې دي؛ چې درې یې پرله پسې دي: ذوالقعده، ذوالحجه، او محرم، او څلورمه رجَب مُضَر میاشت ده، چې د جمادی او شعبان ترمینځ ده. (١)

د محرم میاشت په محرم سره له دې امله نومول شوې، چې دې میاشت ته په درناوی او تعظیم کې تاکید شوی دی.

او رجَبُ مُضَر میاشت په دې نوم سره له دې امله نومول شوې، چې د مُضَر قبیلې به دا میاشت نه بدلوله، بلکې په خپل اصل وخت سره به یې محاسبه کوله، چې د دوی دا کار د نورو عربو په خلاف وو، نورو عربو به د جنګي حالاتو مطابق په میاشتو کې بدلون راوسته، چې دا عمل نسيء بلل کېده. نو لازمه ده، چې د دې میاشتو حرمت او درناوی وساتل شي، ځکه چې الله ورته ځانګړی مقام ورکړی دی، او ددې میاشتو له ځانګړنو څخه دا هم ده، چې په دې میاشت کې د جګړې پیلول حرام، او له ګناهونو، ظلمونو او نافرمانیو څخه ځان ساتل ډېر مهم دي.

(١) رواه البخاري (٣١٩٧)، ومسلم (١٦٧٩).

اې مسلمانانو! دا ثابته خبره ده چې د محرم په میاشت کې نفلي روژې نیول ډېر فضیلت لري، له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د رمضان نه وروسته تر ټولو غوره روژې، هغه د الله د میاشتې یعنې د محرم روژې دي. (١)

په حدیث کې د محرم د میاشتې نسبت الله ته د تعظیم او درناوی لپاره شوی دی.

اې د مومنانو ټولگیه! د الله د ربوبیت له نښو څخه دا هم ده، چې ځینې ورځو ته یې ځانگړتیا ورکړې، او په هغې ورځو کې عبادت کول، یې د نورو ورځو په پرتله غوره گرځولی، له دغو ورځو څخه یوه یې د عاشورا ورځ ده، چې د محرم د میاشتې لسمه ورځ ده، او په اسلامي کلیزه کې د کال لومړۍ میاشت ده.

د دې ورځې تعظیم یو ښکلی تاریخي لامل هم لري کله چې الله تعالی موسیٰ علیه السلام ته په بحر کې د غرقیدو څخه وژغوره، فرعون او د هغه قوم ورکې غرق شو؛ نو موسیٰ علیه السلام د شکرانې په توگه د محرم د لسمې ورځې روژه ونیوله، له هغې وروسته بیا اهل کتاب (یعنې یهود او نصارا) به هم په دا ورځ روژه کیدل، آن دا عادت د جاهلیت د زماني عربو ته هم رانقل شو، حال دا چې اهل کتاب نه و، بلکې د بوتانو بندگي به یې کوله، او قریشو به په مکې کې دا ورځ روژه نیوله.

کله چې رسول الله ﷺ مدینې منورې ته هجرت وکړ، یهود به د عاشورې په ورځ روژه کیدل؛ نو د یهودو څخه یې وپوښتل: ولې تاسې په دې ورځ روژه کیږئ؟ هغوی وویل: دا یوه لویه ورځ ده، الله په دې ورځ موسیٰ علیه السلام او د هغه قوم ته نجات ورکړو، او فرعون یې په بحر کې غرق کړو؛ نو موسیٰ علیه السلام به دا ورځ د شکرانې روژه نیوله؛ نو موږ ځکه په دې ورځ روژه کیږو.

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: موږ له تاسو څخه ډېر د موسیٰ علیه السلام د پیروی کولو ډېر وړ او حقدار یو، رسول الله ﷺ پخپله هم دا ورځ روژه ونیوله، او خپل امت ته یې هم د روژې نیولو امر وکړ. (٢)

بلکې یهودو به دا ورځ د اختر په څېر لمانځله، خپلې ښځې به یې په ښکلو لباسونه او ګاڼو سینګارول، بلکې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمایي: یهودو او نصاراوو به د دې ورځې ډېر تعظیم او درناوی کوو. (٣)

عایشه رضي الله عنها هم فرمایي: قریش به د جاهلیت په زمانه کې د عاشورې روژه نیوله، رسول الله ﷺ چې کله مدینې ته راغی هم دا ورځ به یې روژه نیوله، او صحابو یې هم په دې ورځ د روژې نیولو امر وکړ، کله چې د رمضان روژه فرض شوه، بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: که څوک غواړي د عاشورې په ورځ روژه شي؛ نو روژه دې شي، او که څوک نه غواړي چې روژه شي؛ نو پرېښودل هم روا دي. (٤)

---

(١) رواه مسلم (١١٦٣).

(٢) رواه البخاري (٢٠٠٤) ومسلم (١١٣٠)، واللفظ لمسلم.

(٣) رواه مسلم (١١٣١)، وفي الباب عن أبي موسى رضي الله عنه، رواه البخاري (٢٠٠٥).

(٤) رواه مسلم (١١٣٤).

همداراز عائشه رضي الله عنها فرمايي: په دې ورځ به کعبې ته غلاف ورکول کيده، کعبه به يې په قيمتي پرودو سره پټوله چې له دې امله به يې هم د دې ورځې تعظيم او درناوی کاوه. [١]

نو کله چې د رمضان روژه فرض شوه، رسول الله ﷺ مسلمانان خبر کړل، که څوک غواړي چې د عاشورې په ورځ روژه شي؛ نو روژه دې شي، او که څوک غواړي چې په دې ورځ روژه نه شي؛ نو نه روژه کيدلی هم شی، د دې دا معنا چې د رمضان روژو په څير فرض نه دي، بلکې نيول يې غوره دي، او که څوک روژه شي، د الله په وړاندې به يې ډېر اجر او ثواب وي.

يو سړي د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: اې د الله رسوله! ته په څه ډول روژې نيسې؟ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زه په هره مياشت کې درې ورځې روژه کيږم، بيا له رمضان څخه نيولې تر بل رمضان پورې؛ نو دا داسې ده لکه چې ټول عمر چې روژه يم، بله د عرفې روژه؛ چې زه د الله څخه اميد لرم چې د عرفې په روژې سره به الله د تير او راتلونکي کال ګناهونه وبښي، او بله د عاشورې روژه، او د الله څخه اميد لرم، چې په دې روژې سره به الله د مخکې کال ګناهونه وبښي. [٢]

نو د عاشورې د ورځې روژه نيول د مخکې کال د وړو ګناهونو کفاره ګرځي، او دا په مورِ د الله يو لويه مهرباني ده، چې د يورې ورځې د روژې په بدل کې پوره د يو کال ګناهونه بښي، او هر چې ستر يا کبيره ګناهونه دي، هغه الله پاک په ريښتنې توبې سره بښي، ځکه چې الله د سترې مهربانۍ څښتن دی.

اې مسلمانو! کله چې د عاشورې د ورځې روژه دومره ستر او لوی مقام لري؛ نو رسول الله ﷺ به د دې ورځې د روژې په نيولو ډېر حرص کولو، لکه څنګه چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي: ما هېڅکله رسول الله ﷺ نه دی ليدلی چې د عاشورې او رمضان د مياشتې له روژو پرته يې د نورو ورځو روژه کيدو ته زياته پاملرنه کړې وي. [٣]

ځينو سلفو به آن په سفر کې هم د عاشورې روژه له دې ويرې څخه نيوله، چې پاتې ترې نه شي، ابن رجب رحمه الله وايي: له سلفو څخه به ابن عباس، ابو اسحاق سبيعي، او زهري په سفر کې هم د عاشورې روژه نيوله، او بيا فرمايي[٤]: د رمضان د روژو قضايي بل وخت هم راوړی شو، خو د عاشورې قضايی نشو راوړي[٥]. امام احمد رحمه الله به په سفر کې د عاشورې ورځې روژه نيوله. تر دې ځايه د ابن رجب رحمه الله خبرې پای ته ورسيدې. [٦]

---

(١) رواه البخاري (٢٠٠٢) ومسلم (١١٢٥)، وفي الباب عن ابن عمر رضي الله عنهما، رواه البخاري (١٨٩٢) ومسلم (١١٢٦).

(٢)رواه البخاري (١٥٩٢).

(٣) رواه مسلم (١١٦٢) عن أبي قتادة رضي الله عنه.

(٤) رواه البخاري (٢٠٠٦) ومسلم (١١٣٢).

(٥)أخرجه البيهقي في «شعب الإيمان» (٣٦٧/٣)، ط دار الكتب العلمية

(٦) لطائف المعارف فيما لمواسم العام من الوظائف، ص ١١٠، تحقيق: ياسين محمد السواس، ط ٥، الناشر: دار ابن كثير- دمشق.

صحابه كرامو به خپل ماشومان د عاشورې په ورځ روژه كول، ترڅو د روژې نيولو سره عادت شي، د رُبَيِّع بنت معوذ رضي الله عنها څخه روايت دی، چې وايي: د عاشورې په سهار رسول الله ﷺ د انصارو كلو ته خبر واستولو چې: كه څوک نن ورځ روژه نه وي، باقي پاتې ورځ دې روژه شي، او چې څوک روژه وي، هغوی دې خپله روژه پوره كړي.

عائشه رضي الله عنها وايي: له دې وروسته به مونږ په دا ورځ روژه كيدو، او ماشومان به مو هم روژه كول، له وړی څخه به مو ورته لوبې جوړولې، كله به چې د ولږې امله په ژړا شول؛ نو دا لوبې به مو ورته وركړې، تر څو چې د روژه ماتې وخت به راورسيدو. (١)

اې د الله بندگانو! د عاشورا د ورځې له روژې سره د نهمې ورځې روژه نيول هم سنت دي، په دې خبره دليل د رسول الله رسول الله ﷺ دا وينا ده: كه زه چيرته راتلونكي عاشورې پورې ژوندی پاتې وم؛ نو نهمه ورځ به هم د عاشورې سره يوځای روژه نيسم(٢). خو رسول الله ﷺ وفات شو، او د راتلونكي كال عاشورې ته ونه رسېد.

اې خلكو! د نهمې ورځې د روژې حكمت دا دی چې په عباداتو كې مسلمانان د يهودو سره يو شان نه وي، ځكه يهودو به يوازې د لسمې ورځې روژه نيوله؛ نو رسول الله رسول الله ﷺ نه غوښتل چې په دې عبادت كې دې مونږ د يهودو سره مشابه شو، له دې امله يې لارښوونه وكړه، چې له لسمې سره به نهمه ورځ هم روژه نيسي، تر څو مشابهت له مينځه ختم شي، او دا د اسلامي شريعت له خصوصيتونو څخه ده چې خپل پيروان د نورو دينونو له پيروانو څخه په عباداتو كې جلا او ځانگړي كړي.

كه يو څوک پوښتنه وكړي چې: آيا يوازې د عاشورې، يعنې د محرم د لسمې ورځې روژه نيول روا دي؟ نو ځواب دا دی چې: هو، روا دي؛ خو غوره دا ده چې له هغې سره يوه ورځ مخكې، يعنې نهمه ورځ هم روژه ونيول شي، او دا رسول الله ﷺ څخه ثابت سنت دي، لكه څنگه يې چې فرمايلي دي: كه زه چيرته راتلونكي عاشورې پورې ژوندی پاتې وم؛ نو نهمه ورځ به هم د عاشورې سره يوځای روژه نيسم.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم.

دويمه خطبه

الحمدلله وحده، والصلاة والسلام على من لانبي بعده، أما بعد: **اې مسلمانانو! الله پاک شپه او ورځ د يو ستر حكمت، چې هغه عمل دي، د دې لپاره پيدا كړي دي، بلكې عبث يې نه دي پيدا كړي، الله فرمايلي دي:**

---

(١) رواه البخاري (١٩٦٠) ومسلم (١١٣٦) عن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما.

(٢) رواه مسلم (١١٣٤) عن عبد الله بن عباس رضي الله عنهما.

﴿ وَهُوَ الَّذِی جَعَلَ اللَّیْلَ وَالنَّهَارَ خِلْفَةً لِمَنْ أَرَادَ أَنْ یَذَّکَّرَ أَوْ أَرَادَ شُکُورًا﴾

او دی همماغه ذات دی چې شپه او ورځ یې یو له بل پسې راتلونکې پیدا کړي دي، د هغه چا لپاره چې اراده لري چې نصیحت واخلي یا غواړي چې شکر وباسي.

او بله ځای فرمایي:

﴿ الَّذِی خَلَقَ الْمَوْتَ وَالْحَیَاةَ لِیَبْلُوَکُمْ أَیُّکُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا وَهُوَ الْعَزِیزُ الْغَفُورُ﴾

هغه ذات چې مرګ او ژوند یې پیدا کړی دی، د دې لپاره چې تاسو وازمایي چې په تاسو کې د عمل په لحاظ کوم یو ډېر ښه دی ـ او هم دی ښه غالب، ډېر بخښونکی دی.

او امام ترمذي د ابو برزه الاسلمي رضي الله عنه څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د هیڅ بنده قدم به د قیامت په ورځ د خپل ځای څخه حرکت ونه کړي، تر څو ترې یو څو پوښتنې نه وي شوې، د عمر په اړه به ترې پوښتنه وشي، چې په څه کې دې تیر کړی دی، د علم په اړه به ترې پوښتنه وشي، چې څه دې وربانديې وکړل، د مال په اړه به ترې پوښتنه وشي، چې له کومه دې پیدا کړي وو، او په څه کې د مصرف کړي وو، او د بدن په اړه به ترې پوښتنه وشي، چې په څه کې د زوړ کړی وو.[1]

اې مؤمنانو! نن موږ په داسې ورځو کې یو چې کال له موږ سره خدای پامانی کوي، او مخې ته مو بل کال پیلیدونکی دی، خو پوښتنه دا راولاړیږي، چې موږ په تېر کال کې څه وکړل؟ او د نوي کال لپاره مو څه نیت دی؟

کلونه ډېر ژر تېریږي؛ دا کال به هم د یوې ورځې، او یا د یو ساعت په څیر تیر شي؛ راځئ چې خپلو ځانونو سره حساب وکړو، چې له وخته مو څومره ګټه ترلاسه کړي، چې آیا جنت ته نږدې او د جهنم څخه لرې شوي یو؟ څومره مو د الله په تابعداری کې وخت تیر کړی؟ څومره مو نفل لمونځونه او روژې نیولي؟ څومره مو صدقې ورکړې دي؟ څومره مو د الله ذکر کړی؟ څو ځلې مسجد ته د وخته تللي یو؟ آیا له ګناهونو، بدو کارونو، او ناروا خبرو مو ځان ساتلی دی؟ آیا خپل نظر مو له حرامو منع کړی دی؟ آیا ژبه مو له غیبت، بدو خبرو، او بېهوده وینا خالي ساتلې ده؟ آیا زړونه مو له کینې، بغض، او حسده پاک کړي دي؟ آیا له خپلو ګاونډیانو، خپلوانو او خادمانو سره مو اړیکې ښې کړي دي؟ څو ځلې مو خپلې میرمنې او لونې ته د حجاب، عفت، حیاء، د ډول ښکاره کولو، او اختلاط څخه د ځان ساتنې امر کړی دی؟

اې خلکو! د یو کال پای ته رسېدل او د بل کال پیل درې ستر مسؤولیتونه را مینځ ته کوي:

لومړی: د عمر پر اوږدوالی د الله شکر ادا کول، دویم: د تېر وخت پر خپلو اعمالو ځان سره محاسبه کول، دریم: د راتلونکي لپاره نیک مسیر او خپل ځان اصلاح کول.

---

(١) رواه الترمذي (٢٤١٧) وقال: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيح.

له عمر رضي الله عنه څخه روايت دی، چې فرمايلي يې دي: مخکې له دې چې له تاسو سره محاسبه وشي، د خپل ځان سره حساب وکړئ، او ځانونه د لوی محضر لپاره برابر کړئ؛ ځکه د قيامت په ورځ به د هغه چا حساب اسانه وي چې په دنيا کې يې د خپل ځان سره حساب کړی وي[1].

اې مسلمانانو! د مرگ له راتلو مخکې عمل، عمل، عمل او بيا هم عمل وکړئ.

- ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

او رسول الله ﷺ خپل امت ته ترغيب ورکړي چې د جمعې په ورځ په رسول الله ﷺ زيات درود ووايئ: بېشکه غوره ورځ هغه د جمعې ورځ ده، په دغه ورځ پر ما ډير درود ووايئ، ځکه ستاسې درود ما ته رارسي، اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راوليږه، او د هغه له صحابو، څلورو خليفه گانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي؛ ته ترې راضي شه.

- اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان سپک او ذليل کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه، او د خپلو موحدو بندگانو مرسته وکړه.
- اې الله مورِ په خپل هيواد کې په امن کړه، زمورِ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار يې روان کړه، او د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين عزتمن کړه، په خپل رعيت يې مهربانه کړه.
- اې الله! مورِ په تاسره پناه غواړو، چې ستا له نعمتونو څخه بې برخې نه شو، روغتيا مو په مرض بدله نه شي، ستا د ناڅاپي عضب او قهر څخه پناهي غواړو.
- اې الله! مورِ په تاسره پناهي غواړو، د برگي، ليونتوب، جذام او د هر ډول ناروغيو څخه.
- اې الله! مورِ له تا پوره خير غواړو، که هغه که اوس وخت کې وي، او که په راتلونکي وخت کې وي، او د هر ډول شر څخه پناهي غواړو، که هغه اوس وي، او که په راتلونکي وخت کې وي، که مورِ پرې پوهيږو او کنه پوهيږو.
- اې زمورِ ربه! مورِ ته په دنيا کې نېکي راکړه، او په آخرت کې هم نېکي راکړه، او د دوزخ له عذابه مو وساته.

---

(۱) رواه الترمذي بعد حديث رقم (۲٤٥۹).

د رمضان اړوند خطبې

د رمضان د میاشتې لس حکمتونه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰه إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أما بعد، فإن خير الكلام كلام الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

اې مسلمانانو! زه تاسې او خپل ځان ته د الله څخه د ویرې او تقوى وصیت کوم، او همدا د الله وصیت ټولو مخکنو او وروستنو انسانانو ته دي، الله فرمایي:

﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾

یقینًا مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

نو له الله تعالى څخه ووېرېږئ، له نافرمانۍ یې ځان وساتئ، اطاعت یې وکړئ او نافرماني یې مه کوئ، او ځان پوه کړئ چې د الله له رحمتونو څخه یو رحمت دا چې د خپلو بندګانو لپاره یې د خیر او برکت موسمونه برابر کړي دی، چې نیک عملونه وربانديې په چنده نیکیو حسابیږي، بدۍ یې بخښل کېږي، او په جنت کې وربانديې د مؤمنانو درجې لوړېږي، دا ټول د الله له حکمتونو څخه دي، ځکه الله په خپلو امرونو او تقدیر د پوره حکمت څښتن دی.

اې د الله بندګانو! د الله له حکمتونو څخه دا هم ده چې پر تاسو یې د رمضان د میاشتې روژه فرض کړې ده، چې یو بنده د سهار له راختلو تر د لمر ډوبیدو پورې د خوراک، څښاک او جماع څخه ځان وساتي.

١. الله تعالى روژه د سترو حکمتونو لپاره مشروع کړې ده[1]، چې تر ټولو لوی یې د تقوا لاسته راوړل دي. الله فرمایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾

ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ

---

(١) دا فصل په مختصر ډول د لږ تصرف سره د (الإسلام، سؤال وجواب) ویب پاڼې: http://islamqa.info/ar/٢٦٨٦٢ ، او همدارنگه د شیخ ابن عثیمین رحمه الله د نهم مجلس (مجالس شهر رمضان) څخه راخیستل شوی.

له دې مبارک آیت څخه څرگندیږي چې د روژې د مشروعیت موخه د تقوا ترلاسه کول دي، تقوا دا ده چې بنده دخپل ځان او د الله د عذاب ترمینځ وقایه او ساتوونکی وگرځوي، او هغه داسې چې د الله امرونه پر ځای کړي او له منع شویو کارونو ځان وساتي، او ځان د الله په مراقبې سره عادت کړي، هغه څه چې د یوه روژده دار زړه یې غواړي او د کولو توان یې هم لري، د الله لپاره پریږدی، چې الله په هر څه باندې خبر دی.

۲. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی چې د الله د نعمتونو شکر ویستل دي، خوراک، څښاک او جماع له سترو نعمتونو څخه دي، په روژه کې چې کله یو انسان له دې شیانو خپل ځان وساتي؛ نو ددې نعمتونو په قدر پوهه شي، ځکه نعمتونه پټ وي، کله چې ورک شي، بیا یې قدر وپیژندل شي، او دا یې بیا د الله په شکر اداء کولو مجبور کړي.

۳. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی دي چې انسان د حرامو پرېښودو ته چمتو کوي، ځکه روژه د نفس د سرکشۍ او حرص د ماتولو او له منیځه وړلو لار ده، کله چې نفس مهار شي، حق ته غاړه ږدي او له خلکو سره نرم چلند کوي؛ خو دوامداره مړښت او شهواني خوندونه انسان د غرور او سرکشۍ لور ته بیایي.

۴. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی، چې انسان سره د شهوتونو په مهارولو او کنترول کې مرسته کوي؛ ځکه نفس چې مور وي نو شهوتونه یې ډیریږي، او چې وږی شي نو له خواهشاتو څخه منع کېږي. له دې امله رسول الله ﷺ فرمایلي دي: اې د زلمیو! په تاسې کې چې څوک د نکاح کولو توان لري؛ نو هغه دې واده وکړي؛ ځکه نکاح د سترگو د ټیټ ساتلو او د عورت د ساتنې غوره وسیله ده، او که څوک یې توان نه لري؛ هغه دې روژه ونیسي، ځکه روژه د شهوت ختمونکې او ماتوونکې ده[۱].

۵. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی چې دا د بېوزلو او مسکینانو پر وړاندې د رحم او شفقت سبب ګرځي؛ ځکه کله چې روژه دار د لوږې درد وځکي، هغه کسان وریاد شي چې اکثره وخت یې همدا حالت وي، چې بیوزله او مسکینان دي، نو زړه په دغسې خلکو نرم شي، احسان، مرسته او ورسره صدقه وکړي، او په ټولنه کې یې د خواخوږۍ او همدردۍ روحیه پیاوړې شي.

٦. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی چې په روژې نیولو سره شیطان کمزوری کوي او پرې غلبه ترلاسه کوي، چې د انسان په زړه کې یې وسوسې کمېږي او ګناهونه یې کم شي، ځکه شیطان د بني آدم په بدن کې د وینې په شان ګرځي، لکه څنګه چې رسول الله ﷺ خبر ورکړی دی[۲]، د روژې له امله د شیطان لارې تنګېږي، ځواک یې کمېږي او د انسان زړه نېکو کارونو ته مایله کېږي او له ګناهونو څخه ځان ساتي.

---

(۱) دا حدیث بخاري د عبدالله بن مسعود په روایت سره په (٥٠٦٥) شمیره روایت کړي دی.

(۲) دا حدیث بخاری (۲۰۳۹) او مسلم (۲۱۷٥) شمیره د صفیه رضي الله عنها څخه روایت کړی دی.

۷. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی چې مؤمن د ډیر عبادت کولو سره عادت کوي، ځکه روژه دار عموماً ذکر، د قرآن تلاوت او لمونځ زیات کوي، او دا عادت یې د رمضان وروسته هم پاتې کېږي.

۸. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دي چې انسان له دنیا او د هغې له شهوتونو څخه بې رغبته کوي او هغه څه چې الله سره دي، مینه یې وسره زیاتوي.

۹. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دی چې په ټوله نړۍ کې د الله د عبادت څرګندونه کوي؛ ځکه ټول مسلمانان د دې میاشتې په روژه کې سره راټولېږي، حتی هغه ګناهکار چې روژه نه نیسي - العیاذ بالله - نشي کولای چې په ښکاره ډول دې روژه وخوري، بلکې حتی کافر هم د مسلمانانو په وړاندې د هغوی د درناوي له امله خپله روژه خوړل نه ښکاره کوي. بې شکه دا د اسلامي عبادتونو د عظمت څرګندونه ده.

۱۰. د روژې له حکمتونو څخه بل حکمت دا دي چې بدن ته روغتیایي ګټې لري؛ لکه د زړه د ضربانو تنظیم، د وینې څخه تیزات او زیانمن غوړي پاکول، د معدې آرامه ساتل، د یو څه وخت لپاره هاضمې سیستم ته استراحت ورکول، د چاغوالي مخنیوی، له بدن څخه د زهرجنو موادو ایستل، او د وینې د فشار او شکر کنټرول.

دا لس حکمتونه د روژې د مشروعیت له حکمتونو څخه دي. نو د الله په حکمتونو شکر دی چې داسې ښې شرعي لارښوونې یې مقررې کړې دي.

له الله تعالی څخه غوښتنه کوو چې موږ ته د رمضان د روژې توفیق راکړي په داسې ډول چې هغه پرې راضي شي، او موږ ته دې د خپل ذکر، شکر او غوره عبادت کولو توفیق راکړي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دویمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې د رسول الله ﷺ له سنتو څخه دا وو چې کله به یې نوې میاشت (هلال) ولیده، نو دا دعا به یې ویله: **اللهم أهله علينا باليُمن والإيمان، والسلامة والإسلام، ربي وربك الله**[1].

اې الله! دا نوې میاشت پر موږ د برکت، ایمان، د بدن د سلامتیا او د دین د سلامتیا سره راخرګنده کړه، زما او ستا رب الله دي.

(۱) رواه أحمد (۱٦۲/۱) من حديث طلحة بن عبيدالله رضي الله عنه، وحسنه محققو"المسند" برقم (۱۳۹۷) بشواهده.

رسول الله ﷺ به دا دعا هر ځل د نوې میاشتې په لیدلو سره ویله، که هغه به رمضان یا بله میاشت وه؛ نو مونږ ته هم پکار ده چې د رسول الله ﷺ پیروي وکړو، په ځانګړي ډول دا چې په دې دعا کې د نېکو اعمالو د کولو لپاره له الله تعالی څخه د مرستنې غوښتنه ده.

اې د الله بندګانو! کله چې الله په خپل بنده دا نعمت وکړي، چې د رمضان میاشت په خپل ژوند کې رالاندې کړي، نو باید پوه شي چې الله تعالی دا فرصت ورته بې هدفه نه دی ورکړی، بلکې دا یو ازموینه ده، تر څو څرګنده شي چې آیا بنده د دې میاشتې حقوق ادا کوي که نه؟ آیا روژه نیسي، د شپې عبادت کوي، او خپل نفس په سمه لار برابروي او که نه؟

هڅه وکړئ، هڅه وکړئ! او په عبادت کې چټکتیا او خواري وکړئ؛ ځکه دا یوازې څو د شمار ورځې دي، او بیا به رمضان تېر شي، نو د قطاع الطریق څخه ځان ساتل پکار دي، چې هغه د شهوت پرستۍ او انسي شیطانانو څخه ځان ساتل پکار دي، ځینې خلک له ستړیا پرته په رمضان کې خلک د الله د لارې څخه منع کوي، او داسې پروګرامونو او تباه کوونکي سریالونو خپروي، چې خلک له عبادته غافلوي.

سلفو صالحینو به د رمضان په میاشت کې تدریس پرېښود، تر څو ځان روژې نیولو، د شپې عبادت، د الله ذکر او د قرآن تلاوت لپاره فارغه کول؛ نو د هغه چا حال به څنګه وي چې له دغو څلورو بنسټیزو دندو څخه مخ اړوي او ځان په لوبو او بې ګټې چارو بوختوي؟

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، خلیفه ګانو، تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي د قیامت تر ورځې پورې؛ ته تر ې راضي شه.

اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه او خپل موحد بندګانو نصرت او مرسته وکړه.

اې الله! مونږ په خپل هیواد کې په امن کړه، زمونږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار یې روان کړه

اې الله! د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین عزتمن کړي او په خپل رعیت یې مهربانه کړه.

اې الله! مونږ د رمضان میاشت ته ورسوه، د روژې د نیولو او قیام توفیق راکړه، اې زما ربه! په دنیا او آخرت دواړو کې نیکې بدلې راکړې، او د اور د عذاب څه مو وژغوره.

د رمضان د مياشتې ديرش ځانگړتياوې ٢/١

إِنَّ الْحَمْدَ لِلهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلاَ مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلاَ هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلٰه إِلاَّ اللهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُه.

أما بعد، فإن خير الكلَام كلَام الله، وخير الهدي هدي مُحمد (صلى الله عليه وسلم)، وشر الأمور مُحدثاتها، وكل مُحدثة بدعة، وكل بدعة ضلَالة، وكل ضلَالة في النار.

اې مسلمانانو! زه تاسې او خپل ځان ته د الله څخه د ويرې او تقوى وصيت کوم، او همدا د الله وصيت ټولو مخکنو او وروستنو انسانانو ته دي، الله فرمايي:

﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ﴾

يقينًا مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

نو له الله تعالى څخه ووېرېږئ، له نافرمانۍ يې ځان وساتئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، پوه شئ چې الله د خپل لوی حکمت له مخې چې څه وغواړي هغه پيدا کوي او غوره کوي، نو ځينې ملايکې يې پر ځينو نورو غوره کړې دي، ځينې کتابونه يې پر ځينو نورو لوړ کړي دي، ځينې پيغمبرانو ته يې پر ځينو نورو فضيلت ورکړی دی، ځينې ځايونه يې پر ځينو نورو غوره کړي دي، او ځينې وختونه يې پر ځينو نورو لوړ کړي دي، له همدې جملې څخه د رمضان مياشت ده چې الله تعالى يې پر نورو مياشتو فضيلت ورکړی دی. دا د الله له رحمتونو څخه ده چې خپلو بندګانو ته يې د خير وختونه برابر کړي دي، داسې وختونه چې نېکۍ پکې څو چنده کېږي، ګناهونه پکې بخښل کېږي، او د مؤمنانو درجې په جنتونو ورباندې لوړېږي.

- **اې د الله بندګانو! د رمضان روژې دېرش ځانګړتياوې لري، چې ځينې يې دا دي:**

١ -دا د اسلام څلورم رکن دی. له عبدالله بن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې وايي: ما له رسول الله ﷺ څخه واورېدل چې ويې فرمايل: د اسلام بنسټ او اساس په پنځه شيانو ولاړ دی، کلمه توحيد ويل چې شهادة أن لا إلـه إلا الله، وأن محمدا عبده ورسوله، لمونځ کول، زکات ورکول، حج کول، د رمضان د مياشتې روژې نيول[1].

٢ -د روژې له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې دا عبادت له اسلام څخه مخکې شريعتونو کې هم مشروع وو، او دا د دې عبادت پر لوی مقام دلالت کوي. الله فرمايي:

---

(١) رواه البخاري (٨) ومسلم (١٦)، واللفظ له.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تَتَّقُونَ﴾

اې هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! پر تاسو باندې روژه فرض کړی شوې ده لکه چې فرض کړی شوې وه پر هغو کسانو چې له تاسو نه مخکې وو، د دې لپاره چې تاسو متقیان شئ.

٣ -د روژې له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې الله دا عبادت خپل ځان ته منسوب کړی دی، چې دا د دې عبادت د لوړ مقام څرګندونه کوي. له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: الله پاک وایي: ابن آدم هر عمل د خپل ځان د ګټې لپاره کوي، پرته له روژې څخه، ځکه روژه زما لپاره نیسي، او زه به يې بدله ورکوم.

اې د الله بندګانو! د روژې نسبت الله پاک خپل ځان ته کول؛ د دې عبادت د عزت او محبوبیت څرګندونه کوي، ځکه په دې عبادت کې اخلاص ډېر واضحه وي، ځکه چې دا د بنده او د هغه د رب ترمینځ یو راز دی، چې له الله پرته پرې بل څوک نه خبرېږي، روژه دار کولای شي په داسې ځای کې چې خلک نه وي، هغه څه وخوري یا وڅښي چې روژه پرې ماته کړي، خو نه يې کوي؛ ځکه پوهېږي چې زه داسې یو رب لرم چې په هر حالت کې پر ما خبر دی، او روژه خوړل يې ناروا کړي دي، نو د الله له وېرې او د هغه د ثواب په هیله روژه نه خوري، نو ځکه الله د ده اخلاص وستایه او د روژې ثواب يې ځان ته ځانګړی کړ.

٤ -د رمضان د روژې له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې الله تعالی د دې ثواب خپل ځان ته منسوب کړی او فرمایلي يې دي: یعنې د روژې ثواب بې شمېرې او بې حده دی، د نورو نېکو اعمالو په شان په لس چنده نه دې محدود کړي، بلکې مطلقه بدله يې بیان کړي، او دا د الله پاک په لوی عظمت دلیل دی چې هغه څومره کریم او سخاوتمند دی، ډالۍ او هدیه د ورکونکي له شان په اندازه ورکول کیږي.

٥ -د روژې له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې د صبر درې واړه ډولونه ورکې راجمع شوي دي، د الله په اطاعت صبر، له حرامو څخه په ځان ساتلو کې صبر، او د الله پر دردناکو تقدیرونو باندې صبر؛ لکه لوږه، تنده او د بدن او نفس کمزورې کیدل، په دې سره روژه دار د هغو صابرانو له ډلې ګرځي چې الله تعالی يې په اړه فرمایي:

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٍ﴾

بېشکه یواځې صبر کوونکو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره ورکاوه شي.

٦ -د روژې له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې الله تعالی د روژه دارانو لپاره په جنت کې ځانګړې دروازه برابره کړې ده چې بل څوک به تر يې نه ننوځي، له سهل بن سعد رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: په جنت کې یو دروازه ده، چې ریان ورته ویل کیږي، د قیامت په ورځ به له دغې دروازې څخه یوازې دوژه دار خلک ننوځي، نور خلک به نشي ننوتلی، وبه ویل

شي: روژه دار چيرته دي؟ هغوی راولاړ شي، له دوی پرته بل هيڅوک له دوی سره داخل نشي، او کله چې دوی داخل شي؛ دغه دروازه به بنده شي او بل هيڅ يو تن به له دې لارې داخل نشي[۱].

۷ -د روژې له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې دا له اور څخه ساتونکی سپر دی، له عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: روژه د اور څخه ساتونکې ده، لکه څنگه چې د جگړې پر مهال انسان ځان د ډال په وسيله ساتي[۲].

۸ -د رمضان له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې څوک يې د ايمان او ثواب په نيت ونيسي، مخکيني گناهونه يې بخښل کېږي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د ايمان په حالت کې د ثواب په نيت روژه ونيسي؛ نو مخکني گناهونه به يې معاف شي[۳].

همدارنگه له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ منبر ته وخوت او درې ځله يې وويل: آمين، آمين، آمين. صحابه ووپوښتل: اې د الله رسوله! ته منبر ته وختې او درې ځله دې آمين وويل!

هغه وفرمايل: جبرائيل عليه السلام راته راغی او ويې ويل: هغه څوک چې د رمضان مياشت رالاندې کړي او بښنه ورته ونشي؛ اور ته داخل شي، الله دې د خپل رحمت څخه لرې کړي؛ ته ووايه آمين، نو ما هم وويل: آمين[٤].

او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: پنځه لمونځونه، يوه جمعه تر بلې جمعې، يو رمضان تر بل رمضان پورې، د دويو ترمينځ د شوو گناهونو بښوونکي دي؛ چې کله د کبيره گناه څخه ځان ساتنه شوي وي[٥].

۹ -د رمضان د روژې له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې دا پر مسلمانانو اسانه شوې ده؛ ځکه کله چې روژه دار ووينې چې ټولنه يې شاوخوا روژه ده، نو دا کار د روژې نيول ورته اسانه کوي او عبادت ته يې هڅوي.

۱۰ -د روژې له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې الله تعالی د روژه دار دعا قبلوي، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: درې داسې دعاگانې دي چې الله يې نه رد کوي: د مور او پلار دعا، د روژه دار دعا او د مسافر دعا[٦].

---

(۱) رواه البخاري (۱۸۹٦)، ومسلم (۱۱٥۲)، واللفظ للبخاري.

(۲) رواه أحمد (۲۲/٤)، وقال محققو "المسند": إسناده صحيح على شرط مسلم.

(۳) رواه البخاري (۳۸) ومسلم (۷٦۰).

(٤) رواه أحمد (۲٤٦/۲-۲٥٤)، وابن خزيمه (۱۹۲/۳)، وأصله عند مسلم برقم (۲٥٥۱). وقال عنه الألباني في "صحيح الترغيب والترهيب" (۹۹۷): حديث حسن صحيح.

(٥) رواه مسلم (۲۳۳).

(٦) رواه البيهقي (۳٤٥/۳) عن أنس بن مالك رضي الله عنه، وخرجه الألباني في "الصحيحة" (۱۷۹۷).

او همدارنگه يې فرمايلي دي: درې داسې خلک دي چې د هغوی دعا نه در کيږي: عادل پادشاه، روژه دار چې کله روژه ماتوي او د مظلوم دعا[۱].

له الله تعالى څخه سوال کوو چې موږ ته د رمضان د روژو د نيولو توفيق په داسې ډول راکړي چې هغه پرې راضي کيږي، او سوال ترې کوو چې موږ ته د خپل ذکر، شکر او غوره عبادت کولو توفيق راکړي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

۱۱- الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او ځان پوه کړئ چې د رمضان د مياشتې له ځانګړتياوو څخه دا ده چې څوک د ايمان او د ثواب په نيت د دې مياشتې شپې په عبادت تېروي، مخکيني ګناهونه يې بخښل کېږي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د ايمان په حالت کې او د ثواب په نيت په رمضان کې قيام وکړي؛ نو مخکني ګناهونه به يې معاف شي[۲].

۱۲ -د رمضان د مياشتې له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې د شپې عبادت يې لوی ثواب لري، رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې له امام سره تر پايه پورې د تراويحو لمونځ وکړي، د يوې بشپړې شپې د عبادت ثواب ورته ليکل کېږي[۳].

۱۳ -د رمضان د مياشتې له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې پکې صدقه ورکول مستحب دي، ابن عباس رضي الله عنهما وايي: رسول الله ﷺ تر ټولو ډېر سخي انسان و، او د هغه سخاوت به په رمضان کې تر ټولو زيات و[٤].

۱۴ -د رمضان د مياشتې له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې پکې د عمرې ثواب څو چنده کېږي، له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوې انصاريه ښځې ته وفرمايل: کله چې رمضان راشي، عمره وکړه؛ ځکه په رمضان کې عمره د حج برابر ثواب لري[٥].

۱۵ -د رمضان د مياشتې له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې الله تعالى د دې مياشتې په هره شپه ځينې بندګان له اور څخه ازادوي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د رمضان د مياشتې په لومړۍ شپه باندې شيطانان او سرکشه پيريان وتړل شي،

---

(۱) رواه أحمد (۹۷٤۳) وغيره عن أبي هريرة رض] الله عنه، وقال محققو "المسند": حديث صحيح بطرقه وشواهده.

(۲) رواه البخاري (۳۷) ومسلم (۷۵۹).

(۳) رواه أحمد (۱٦/٥) وأبو داود(۱۳۷٥) والترمذي (۸۰٦) وغيرهم عن أبي هريرة رض] الله عنه مع اختلاف يسير في اللفظ, وصححه الشيخ شعيب في تحقيقه لسنن أبي داود.

(٤) روأه البخاري (۱۹۰۲).

(٥) رواه البخاري (۱۸٦۳) ومسلم (۱۲٥٦)، واللفظ له.

د جهنم دروازې وتړل شي، هيڅ يوه دروازه يې خلاصه نه پريښودل کيږي، او د جنت دورازې خلاصې کړل شي، هيڅ يوه دروازه يې بنده پاتې نه شي، يو اواز کوونکی اواز وکړي: اې د خير څخه بغاوت کوونکی راشه، اې د شر باغي بس کړه، او هر شپه الله د جهنم څخه ځينې انسانان ازادوی[1].
همدارنگه له جابر رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د رمضان په هر شپه کې د روژه ماتې په وخت کې الله ځينې انسانان د جهنم څخه ازادوی[2].
اې د الله بندگانو! دا د رمضان د مياشتې پنځلس ځانگړتياوې دي، چې مسلمان ته پکار دي چې هغه وپېژني او د خپلې روژې پر مهال يې په ياد وساتي، تر څو يې روژه د ايمان او د ثواب په نيت لا پياوړې شي، په راتلونکې خطبه کې به ـ ان شاء الله ـ د دې مياشتې پاتې پنځلس ځانگړتياوې هم بشپړې کړو.
ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.
اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راوليږه، او د هغه له صحابو، خليفه گانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي د قيامت تر ورځې پورې؛ ته ترې راضي شه.
اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه او خپل موحد بندگانو نصرت او مرسته وکړه.
اې الله! موږ په خپل هيواد کې په امن کړه، زموږ حاکمان اصلاح کړ، په سمه لار يې روان کړه.
اې الله! د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دين عزتمن کړي او په خپل رعيت يې مهربانه کړه.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمد لله رب العالمين.

(١) رواه الترمذي (٦٨٩) وابن ماجه (١٦٤٢)، وهو أيضا عند غيرهما، وحسنه الشيخ شعيب عند تحقيقه للكتاب.
(٢) رواه ابن ماجه (١٦٤٣)، وحسنه الشيخ شعيب في تحقيقه لسنن ابن ماجه.

د رمضان د مياشتې ديرش ځانگړتياوې ٢/٢

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰه إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أما بعد، فإن خير الكلام كلام الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

اې مسلمانانو! زه تاسې او خپل ځان ته د الله څخه د ويرې او تقوى وصيت کوم، او همدا د الله وصيت ټولو مخکنو او وروستنو انسانانو ته دي، الله فرمايي:

﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ﴾

يقيناً مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

نو له الله تعالى څخه ووېرېږئ، له نافرمانۍ يې ځان وساتئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، ځان په دې خبره پوه کړئ چې الله د خپل لوی حکمت له مخې چې څه وغواړي هغه پيدا کوي او غوره کوي، نو ځينې ملايکې يې پر ځينو نورو غوره کړې دي، ځينې کتابونه يې پر ځينو نورو لوړ کړي دي، ځينې پيغمبرانو ته يې پر ځينو نورو فضيلت ورکړی دی، ځينې ځايونه يې پر ځينو نورو غوره کړي دي، او ځينې وختونه يې پر ځينو نورو لوړ کړي دي، له همدې جملې څخه د رمضان مياشت ده چې الله تعالى يې پر نورو مياشتو فضيلت ورکړی دی. دا د الله له رحمتونو څخه ده چې خپلو بندګانو ته يې د خير وختونه برابر کړي دي، داسې وختونه چې نېکۍ پکې څو چنده کېږي، ګناهونه پکې بخښل کېږي، او د مؤمنانو درجې په جنتونو ورباندې لوړېږي.

اې د الله بندګانو! په تېره خطبه کې د رمضان د ځانګړتياوو يادونه وشوه، او وويل شول چې دا مياشت دېرش ځانګړتياوې لري، چې له هغو څخه مو پنځلس ځانګړتياوې بيان کړې، او په دې جمعه کې به ـ د الله په مرسته ـ پاتې پنځلس ځانګړتياوې بيانوو.

١٦-١٧. د رمضان له ځانګړتياوو څخه دوه ځانګړتياوې دا دي چې په دې مياشت کې د جنت دروازې پرانېستل کېږي او د دوزخ دروازې تړل کېږي، له ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: کله چې رمضان مياشت راشي د جنت دروازې پرانيستل شي، او د جهنم دروازې بندې کړل شي، او شيطانان په زنځيرونو وتړل شي[1].

١٨. د رمضان له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې په دې مياشت کې شيطانان تړل کېږي او په زنځيرونو کې اچول کېږي، لکه څنګه چې په پورته حديث کې راغلي دي، د شيطانانو تړل دا معنا

(١) رواه البخاري (١٨٩٩) ومسلم (١٠٧٩).

لري چې هغوی داسې ترڵ کېږي چې د نورو میاشتو په شان د انسانانو زړونو پورې لاسرسی نشي موندلای، نو شر یې کمېږي. او داسې هم نقل دي چې یوازې سرکشه او طاغي شیطانان ترڵ کیږي.
١٩. د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې په دې میاست کې د قرآن تلاوت ډیر کول مستحب دي، د سلفو صالحینو رضوان الله علیهم له طریقې څخه دا وه چې په رمضان کې به یې د قرآن ختم ته ډېره پاملرنه کوله، او دا د رسول الله ﷺ له تابعداری له امله به یې کول؛ ځکه جبرائیل علیه السلام به هر کال په رمضان کې له رسول الله ﷺ سره قرآن تکراروه.
٢٠ - په دې میاشت کې د روژه کیدو له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې روژه به د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، چې د هغې درجې لوړوې شي او ګناهونه یې وبښل شي، له عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: روژه او قرآن به د قیامت په ورځ د انسان لپاره شفاعت کوي، روژه به وایي: اې زما ربه! د ورځې مې له خوراک او شهوت څخه منع کړی وو؛ نو زما شفاعت یې په حق کې قبول کړه[١].
٢١ -د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې د روژه دار د خولې بوی د الله تعالی په نزد د مُشک له بوی څخه غوره دی, له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په لاس کې دی، د روژه دار د خولې بوی [خلوف] [٢] الله ته د مشکو له بوی څخه ډېر غوره ده[٣].
٢٢ -د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې الله تعالی روژه دار ته دوه خوشحالۍ ورکړي دي: یوه د روژه ماتې پر مهال، او بله د خپل رب سره د ملاقات پر مهال. له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د روژه دار لپاره دوه خوشالۍ دي، یوه خوشالي چې کله روژه ماته کړي، او بله چې کله د خپل رب سره مخامخ شي، او په روژه نیولو ددې خوشالي ده[٤].
٢٣ -د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې قرآن کریم په همدې میاشت کې نازل شوی دی. الله تعالی فرمایي:

﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ﴾

د رمضان میاشت هغه ده چې په هغې کې قرآن نازل کړی شوی دی.

او د قرآن نزول د همدې میاشتې په لیلة القدر کې شوی دی، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةِ ٱلۡقَدۡرِ﴾

بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

---

(١) رواه أحمد (١٧٤/٢)، وصححه الألباني في"صحيح الترغيب" (٩٨٤) و" صحيح الجامع" (٧٣٢٩).
(٢) خلوف کله چې معده د خوراک څخه خالي شي او له هغې چې کوم بد بوی راپورته هغې ته خلوف وایي.
(٣) رواه البخاري (١٩٠٤) ومسلم (١١٥١).
(٤) رواه البخاري (١٩٠٤) ومسلم (١١٥١).

او دا ډېره عظیمه شپه ده، چې قرآن پکې له لوح محفوظ څخه د دنیا اسمان ته د «بیت العزة» په نوم ځای ته نازل شو، بیا وروسته د واقعاتو له مخې په رسول الله ﷺ لږ لږ نازل شو.

لیلة القدر په دې نوم ځکه یاده شوې چې دا د ډېر لوړ قدر او مقام لرونکې شپه ده، لکه څنگه چې ویل کېږي: فلانی د لوړ مقام خاوند دی. او داسې هم رانقل شوي: چې دا شپه ځکه لیلة القدر بلل کېږي چې په دې شپه کې د راتلونکي کال تقدیر ټاکل کېږي، لکه څنگه چې الله تعالی فرمایي:

﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ﴾

په دغې (شپه) کې هر له حکمته ډك کار بیانولی (او بېلولی) شي.

ابن القیم رحمه الله ویلي: همدا نظر (چې په دې شپه کې تقدیر ټاکل کیږي) صحیح دی[١].[٢]

الله تعالی د لیلة القدر د شپې صفت کړي چې دا مبارکه شپه ده،[٣] لکه څنگه چې فرمایي:

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةٍ مُّبَٰرَكَةٍ﴾

بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

٢٤ -د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې څوک لیلة القدر د ایمان او د ثواب په نیت په عبادت تېره کړي، مخکیني ګناهونه یې بخښل کېږي. له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: څوک چې د لیلة القدر شپه د ایمان او ثواب په نیت په عبادت تیره کړي، مخکیني ګناهونه به یې وبښل شي[٤].

٢٥ -د رمضان له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې د لیلة القدر عبادت د زر میاشتو له عبادت څخه غوره دی؛ یعنې په دې شپه کې عبادت د درې اتیا کلونو څخه د زیات عبادت ثواب لري. الله تعالی فرمایي:

﴿لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾

د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده

او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: رمضان دربانديې راغی؛ دا یوه برکتي میاشت ده، په دې میاشت کې الله په تاسو روژه نیول فرض کړي دي، په دې میاشت کې د اسمان دروازې پرانیستل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي، او سرکښ شیطانان پکې په ځنځیرونو تړل کېږي. په دې میاشت کې الله یوه داسې شپه ګرځولې ده چې عبادت یې له زرو میاشتو له عبادت څخه غوره ده؛ څوک چې د هغې له خیر او برکته محروم شي، نو په رښتیا هم محروم شو[٥].

---

(١) "شفاء العليل" (١١٠/١)، ط مكتبة العبيكان - الرياض.

(٢) انظر القولين في "أحاديث الصيام"، ص ١٤٠، للشيخ عبدالله الفوزان، وهما قولان مشهوران عند المفسرين.

(٣) د الله په توفیق سره مو د لیلة القدر لس ځانگړتیاوو اړوند خطبه تیاره کړې.

(٤) رواه البخاري (١٩٠١) ومسلم (٧٥٩).

(٥) رواه النسائي (٢١٠٦) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه الألباني رحمه الله.

ابن سعدي رحمه الله وايي: دا هغه څه دي چې عقلونه او زړونه ورته حيران پاتي کيږي، ځکه الله تعالى دې امت ته داسې شپه ورکړې ده چې پکې عبادت د زر مياشتو له عبادت سره برابر، بلکې تر هغه زيات ثواب لري، چې دا د اوږد عمر لرونکي انسان له اتيا کلونو څخه ډېر عمر سره برابر دی.

٢٦ -د رمضان له ځانګړتياوو څخه دا هم ده چې د دې مياشتې په وروستيو لسو شپو کې اعتکاف کول مستحب دي. اعتکاف دا دی چې انسان د الله تعالى د عبادت لپاره په جومات کې پاتې شي، له عايشې رضي الله عنها څخه روايت دی چې وايي: رسول الله ﷺ به د رمضان په وروستيو لسو شپو کې اعتکاف کاوه، تر هغې چې الله وفات کړو، بيا د هغه مېرمنو هم له هغه وروسته اعتکاف کاوه[1].

د رسول الله ﷺ د اعتکاف سبب د ليلة القدر لټون او او پلټنه وه، له ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زه د رمضان په لومړی لسيزه کې اعتکاف ته کيناستم چې د ليلة القدر لټون وکړم، بيا مې په منځنی لسيزه کې اعتکاف وکړ، بيا وحې راته وشوه، او راته وويل شول چې دا شپه په اخري لسيزه کې ده، که تاسې کې څوک غواړي چې اعتکاف وکړي؛ نو هغه دې په اخري لسيزه کې اعتکاف وکړي[2].

له الله تعالى څخه سوال کوو چې موږ په هغه ډول چې هغه پرې راضي کيږي، د رمضان د روژو د نيولو توفيق راکړي، او سوال کوو چې موږ ته دې د خپل ذکر، شکر او غوره عبادت کولو توفيق راکړي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

٢٧. الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، او پوه شئ چې د رمضان د مياشتې له ځانګړنو څخه دا هم ده چې الله تعالى د دې مياشتې په پای کې د زکاة الفطر (سرسايه) مشروع ګرځولې ده، څو د روژه نيوونکي لپاره د "لغو" هغه ببځايه خبرو او "رفث" بدو ويناوو پاکوالی وي چې د روژې پر مهال تري پېښې شوې وي؛ او "رفث" هغه فاحش او بې حيا خبرې دي. له ابن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې ويلي يې دي: پيغمبر صلى الله عليه وسلم سرسايه فرض ګرځولې ددې ترڅو د روژه دار د بيځايه او فاحشه او بې حيا خبرو د پاکۍ سبب وګرځي، او د مسکينانو لپاره خوراک شي[3].

٢٨. د رمضان له ځانګړنو څخه دا هم ده چې الله تعالى تري وروسته د اختر ستره شعيره مشروع کړې ده. الله تعالى د مسلمانانو لپاره د دوو لويو عبادتونو تر ادا کولو وروسته دوه اخترونه مقرر

(١) رواه البخاري (٢٠٢٦) ومسلم (١١٧٢).

(٢) رواه مسلم (١١٦٧).

(٣) رواه أبو داود(١٦٠٩)، وحسنه الأرناؤوط في تحقيق"السنن".

کړي دي، چې هغه د رمضان روژه او د بيت الله حج دی، د کوچنۍ [فطر] اختر د رمضان د روژې تر بشپړېدو وروسته راځي؛ کله چې مسلمانان خپله روژه پوره کړي، الله تعالی يې له اوره ازادوي، د فطر صدقه او د اختر لمونځ د همدې ستر نعمت د شکر ادا کول دي، مسلمانان په دې ورځ سره رايوځای کيږي چې د جمعې د ورځې له رايوځای کيدو څخه هم لويه اجتماع وي، په دې سره د مسلمانانو ځواک او شوکت څرگندېږي، او په دې سترې شعيرې باندې خپل ويار ښکاره کوي، او د مسلمانانو د شمېر څرگندونه هم کوي، چې له همدې امله ټولو خلکو لپاره راوتل مستحب دي، حتی ماشومان او ښځې هم ، بلکې آن حيض لرونکې ښځې هم بايد راووځي، د مسلمانانو په دعا او بلنه شريک شي، خو د لمانځه له ځايه دې ځان لرې وساتي، په اختر کې د الله د نعمت د بشپړېدو، مياشت پای ته د رسېدو، د اختر د راتگ او د الله د رحمت د کمال له امله خوښي او خوشالي ولمانځلی شي[1].

همدارنگه الله تعالی د مسلمانانو لپاره د قربانۍ [لوی] اختر د هغوی د حج د بشپړېدو په وخت کې مشروع کړی دی، کله چې هغوی په عرفات کې وقوف وکړي، کومه چې د اور څخه د خلاصون ورځ هم ده، او په ټول کال کې داسې بله ورځ نشته چې په کې د ګناهونو بښنه او له اوره خلاصون تر دې ورځې زيات وي؛ نو الله تعالی تر هغې وروسته اختر مقرر کړی، بلکې دا تر ټولو ستر اختر دی.

٢٩. د رمضان له ځانګړنو څخه دا هم ده چې د مياشتې له ختميدو وروسته تکبير ويل مشروع دي، تکبير د رمضان د وروستۍ ورځې د لمر له لوېدو او د اختر د شپې له داخليدو سره پيل کيږي او د اختر د لمانځه تر پای پورې دوام کوي. الله تعالی فرمايي:

﴿وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾

او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لويي بيان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدايت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

يعنې د رمضان شمېر پوره کړئ (دېرش ورځې)، او د هغې له پای وروسته د الله تکبير ووايئ، او د دې عبادت د توفيق، اسانتيا او مرستې، او د مياشتې تر پای ته رسېدو پورې د رسېدو په بدل کې د هغه شکر ادا کړئ، د تکبير الفاظ داسې دي: الله أكبر، الله أكبر، لا إله إلا الله، والله أكبر، الله أكبر، ولله الحمد.

سړي وي او که ښځې دا تکبيرات به په کورونو او بازارونو کې وايي؛ سړي به يې په لوړ اواز، او ښځې که د نامحرمو نارينه وو په حضور کې وي، په ټيټ اواز سره تکبيرات وايي، له ام عطيه رضي الله عنها څخه روايت دی چې وايي: مونږ ته به امر کيده چې د اختر په ورځ (د اختر لمانځه ته) ووځو، تر دې چې پيغلې انجونې به هم له خپلو کورونو (ځانګړو کوټو)، او حيض لرونکې ښځې

(١) انظر "فتح الباري" لابن رجب، شرح حديث رقم (٤٥).

به مو هم رایستلې؛ خو هغوی به د خلکو شاته وې، د خلکو د تکبیراتو سره به یې تکبیرات ویل، او د هغوی له دعا سره به دعاوې کولې، د دغې ورځې د برکت او پاکۍ هیله به یې لرله [۱].

د اختر په لمانځه کې امام لومړی تکبیر تحریمه وایي، بیا شپږ تکبیرونه نور وایي، او کله چې دوهم رکعت ته ودرېږي د انتقال تکبیر وایي او له هغې وروسته بیا پنځه تکبیرونه نور وایي.

په اخترونو کې تکبیراتو ویل لوی حکمت لري، او هغه دا چې مسلمانانو ته د الله تعالی د عظمت او د حقوقو د تعظیم یادونه کوي، او دا واضحه کوي چې الله له هر څه لوی دی؛ هغه په خپل ذات، صفاتو او پر مسلمانانو د خپلو حقونو له اړخه لوی دی، چې له هغې حقونو څخه یې د رمضان روژه او د بیت الله حج دی، چې مسلمانان لومړی د دې عبادتونو د ادا کولو لپاره سره راجمع کیږي، او بیا د دې عبادتونو د سرته د رسولو وروسته د دواړو اخترونو د لمانځلو لپاره سره راغونډېږي، چې په دې سره یې د انسي او جني دښمنانو پر وړاندې ځواک او شوکت څرګندېږي.

۳۰. د رمضان له ځانګړنو څخه دا هم ده چې څوک د رمضان روژه ونیسي او ورپسې د شوال شپږ ورځې روژه ونیسي، نو داسې ده لکه ټول کال یې چې روژه نیولې وي؛ ځکه چې یوه نېکي لس چنده اجر لري، نو دې تن شپږ دېرش ورځې روژه شو. له ابو ایوب رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چا چې د رمضان روژې ونیولې، او له هغې وروسته یې شپږ د شوال د میاشتې روژې ونیولې؛ ګویا چې دا ټوله زمانه روژده دی[۲].

نو اې د الله بندګانو! دا د رمضان د میاشتې دېرش ځانګړنې وې، مسلمان ته ښایي چې له دې څخه خبر وي او د خپلې روژې پر مهال یې په یاد ولري، څو د ایمان او اخلاص اله امله ورسره د روژې په نیولو کې مرسته وکړي.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په یو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، خلیفه ګانو، تابعینو او له هغه چا څخه چې په نیکیو کې د دوی پیروي کوي د قیامت تر ورځې پورې؛ ته تر ې راضي شه.

اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذلیله کړه، ستا او ستا د دین دښمنان تباه کړه او خپل موحد بندګانو نصرت او مرسته وکړه.

اې الله! مور په خپل هیواد کې په امن کړه، زمور حاکمان اصلاح کړه، په سمه لار یې روان کړه.

---

(۱) رواه البخاري (۹۷۱) واللفظ له، ومسلم (۸۹۰).

(۲) رواه مسلم (۱۱٦٤) عن أبي أيوب رضي الله عنه .

اې الله! د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفیق وکړه چې ستا کتاب حاکم کړي، ستا دین عزتمن کړي او په خپل رعیت یې مهربانه کړه.

په رمضان کې د قرآن د ډېر لوستلو هڅونه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰه إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أما بعد، فإن خير الكلام كلام الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

اې مسلمانانو! زه تاسې او خپل ځان ته د الله څخه د ويرې او تقوى وصيت کوم، ځکه تقوى د آخرت د سفر لپاره غوره توښه ده. الله تعالى فرمايي:

﴿وَتَزَوَّدُواْ فَإِنَّ خَيۡرَ ٱلزَّادِ ٱلتَّقۡوَىٰۖ﴾

اوتوښه واخلئ، پس يقينًا بهترينه توښه تقوىٰ ده، اى د صفا عقل خاوندانو! له ما نه وېرېږئ.

دا د الله تعالى وصيت دى، چې د ټولو پخوانيو او راتلونکو خلکو ته يې کړى دى:

﴿وَلَقَدۡ وَصَّيۡنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَإِيَّاكُمۡ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ﴾

يقينًا مونږه هغو کسانو ته کلك حكم کړى دى چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړى شوى و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

او الله تعالى د هغو کسانو لپاره چې په تقوى کې وي جنت چمتو کړى دى:

﴿وَلَنِعۡمَ دَارُ ٱلۡمُتَّقِينَ﴾

او يقينًا ښه کور د متقيانو دى

اې د الله بندګانو! رمضان د قرآن کريم مياشت ده. الله تعالى په دې مياشت کې قرآن له "بيت العزة" څخه تر زمکې لاندې اسمان ته نازل کړ، او بيا يې برخې برخې پيغمبر صلى الله عليه وسلم ته د پېښو په مطابق نازل کړ. همدارنګه الله تعالى په دې مياشت کې نور سپېځلي کتابونه هم نازل کړي دي، لکه د واثله بن الأسقع څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د ابراهيم عليه السلام صحيفې د رمضان د مياشتې په لومړۍ شپه نازلې شوې، تورات د رمضان په شپږمه نازل شو، انجيل د رمضان په دياارلسمه ورځ نازل شوى، او قرآن کريم د رمضان په څلورويشتمه ورځ نازل شو[1].

اې مومنانو! د قرآن کريم تلاوت د رمضان په مياشت کې له سترو عبادتونو څخه دى، دا مياشت د قرآن د ډېر لوستلو لپاره ډېره مستحب ده. د سلفو صالحينو تګلاره دا وه چې په رمضان کې به يې

(١) رواه أحمد (١٠٧/٤)، وحسنه الألباني في" الصحيحة" (١٥٧٥).

قرآن څو ځله ختمولو؛ ځینو به یې په درېو شپو کې ختم کاوه، ځنیو به په څلورو، او ځینو په په ډېر لږو شپو کې هم ختم کاوه.

اې د الله بندګانو! د قرآن لوستل له غوره عبادتونو او لوړو قربتونو څخه دي، که په دښمنه شپه کې وي یا د لمانځه نه بهر، الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ يَتۡلُونَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَنفَقُواْ مِمَّا رَزَقۡنَٰهُمۡ سِرّٗا وَعَلَانِيَةٗ يَرۡجُونَ تِجَٰرَةٗ لَّن تَبُورَ ٢٩ لِيُوَفِّيَهُمۡ أُجُورَهُمۡ وَيَزِيدَهُم مِّن فَضۡلِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ غَفُورٞ شَكُورٞ ٣٠﴾

بېشکه هغه کسان چې د الله کتاب لولي او لمونځ قایموي او انفاق کوي له هغه (مال) نه چې دوی ته مونږ ورکړی دی، په پټه او په ښکاره ـ، دوی د داسې تجارت امېد لري چې له سره به هلاك نشي، د دې لپاره چې (الله) دوی ته د دوی اجرونه پوره ورکړي او دوی ته له خپله فضله زیات ورکړي، بېشکه چې دغه (الله) ډېر بخښونکی، ښه قدردان دی.

د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: څوک چې یو حرف د الله د کتاب ولولي، یوه نیکي به ورته ولیکل شي، او هر نیکي بیا په لس چنده حسابېږي، زه دا نه وایم چې (الم) یو حرف دی، بلکې الف جلا حرف دي، لام جلا او میم جلا حرف دی[1].

له ابو موسى الاشعري رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: د هغه مؤمن مثال چې قرآن لولي، لکه د اترنج میوې په څېر دی؛ ښه بوی او خوږ خوند لري. او هغه مؤمن چې قرآن نه لولي، لکه د خرما په څېر دی؛ بوی نه لري، خو خوند یې خوږ ده. او د هغه منافق چې قرآن لولي، لکه ریحانه [کشمالی] په څېر دی؛ ښه بوی لري، خو خوند یې تریخ دی. او هغه منافق چې قرآن نه لولي، لکه مرغونې په څېر دی؛ نه بوی لري او نه خوند، او تریخ هم دی[2].

د ابو هریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: حسد یوازې په دوه کارونو کې روا دی: یو کس چې الله ورته قرآن ورزده کړی وي، شپه او ورځ یې تلاوت کوي، نو یو ګاونډي یې اوري، او ووایي: کاشکې چې ما ته هم داسې علم راکړل شوی وي؛ لکه څرنګه چې ده ته ورکړل شوی، داسې عمل به مې ورباندې کولی چې دا ورباندې عمل کوي، او بل هغه کس چې الله ورته مال ورکړی وي او هغه یې د حق په لار کې مصرفوي، نو بل کس وایي: کاشکې چې د دې په څېر مال الله ما ته هم راکړی وي؛ داسې کار به مې ورسره کولو لکه څرنګه یې چې دا کوي[3].

---

(١) رواه الترمذي (٢٣١٠)، وصححه الألباني.

(٢) رواه البخاري (٥٤٢٧) ومسلم (٧٩٧).

(٣) رواه البخاري (٥٠٢٦).

د عايشې رضي الله عنها نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: د هغه کس مثال چې قرآن لولي او زده کړی يې وي؛ دا به سفره ملايکو سره وي، او د هغه کس مثال چې قرآن لولي، او سخت ورته؛ نو دده لپاره به دوه اجرونه وي[١].

د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ايا ستاسو خوښه نه ده چې کله کور ته لاړ شئ او هلته درته درې بلاربې غوښيني اوښې درکړل شي؟ مورږ ورته وويل: هو! ولې نه اې د الله رسوله! بيا يې وفرمايل: که يو څوک درې آيتونه په لمانځه کې تلاوت کړي، دا ورته د درې بلاربو غوښينو اوښو څخه غوره ده[٢].

د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسو کې څوک غواړي چې هره ورځ بطحان يا عقيق ته لاړ شی، او له هغه ځايه د ځان سره دوه غوښيني اوښې ځان سره لاولي چې نه يې ګناه کړي او نه يې صله رحمې پرې کړې وي؟ مورږ ته وويل: اې د الله پيغمبره مورږ ټول يې غواړو. بيا يې وفرمايل: که تاسې کې يو تن سهار مسجد ته ولاړ شي او هلته دوه آياتونه زده کړي او يايې ولولي د الله د کتاب نه، دا ورله غوره ده له دوه اوښانو څخه، او درې آياتونه ورله دې درې اوښانو څخه، او څلور د څلورو څخه او د آياتونو په شمير باندې اوښان[٣].

د ابو امامة الباهلي رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: قرآن لول~، ځکه چې د قيامت په ورځ به د خپلو لوستونکو لپاره شفاعت کوي[٤].

او دا ټول مهم حديثونه د قرآن کريم د تلاوت هڅونې لپاره دي، که هغه د قرآن تلاوت په رمضان کې وي او که په نورو وختونو کې وي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، اې مسلمانانو! پوه شئ، الله دې په تاسو رحم وکړي، مؤمن ته به د ډېر قرآن لوستلو او روژې نيولو له امله به د قيامت په ورځ شفاعت کوي، درجات به يې لوړوي او ګناهونه به يې معاف کوي، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: روژه او قرآن به د قيامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه به وايي: اې زما ربه! ما د خوراک او شهوت څخه د ورځې منع کړی وو؛

(١) رواه البخاري (٤٩٣٧) ومسلم (٧٩٧)، واللفظ للبخاري.

(٢) رواه مسلم (٨٠٢).

(٣) رواه مسلم (٨٠٣).

(٤) رواه مسلم (٨٠٤).

نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، او قرآن به وايي: د شپې مې د خوب کولو څخه منع کړی وو؛ نو په حق کې يې زما شفاعت قبول کړه؛ نو دا دواړه به يې شفاعت کوي[1].

اې د الله بندگانو! د الله لپاره په عمل کې کوښښ وکړئ! نيمايي مياشت تيره شوې، او د مياشتې وروستی درېيمه برخه ده. د الله له نعمتونو څخه دا هم ده چې مؤمن د دوو جهادونو ترمنځ په هڅه کې ساتي، د ورځې جهاد دا چې د روژې ساتنه کوي، او بل د شپې جهاد چې قيام (لمونځ) ورکې کوي، ځوک چې دواړه جهادونه سره راجمع کړي او په صبر سره يې پای ته ورسوي، هغه د الله تعالد په دې آيت کې د شاملیدو مستحق دی:

﴿إِنَّمَا يُوَفَّى ٱلصَّٰبِرُونَ أَجۡرَهُم بِغَيۡرِ حِسَابٖ﴾

بېشکه يواځې صبر کوونکو ته د هغوی اجر بې حسابه پوره ورکاوه شي.

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: په باندې په ورځو کې غوره ورځ د جمعې ده، په دې ورځ کې آدم عليه السلام پيدا شوې او په دې کې وفات شوي، په دې ورځ به ټول انسانان راژوندي کړل شي او په دې ورځ به ټول ژوندې مخلوقات مړه شي؛ نو په ما باندې ډېر درود ووايئ، ځکه ستاسو درود ما ته رارسيږي[2].

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولیږه، او د هغه له صحابو، خليفه ګانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي د قيامت تر ورځې پورې؛ ته ترې راضي شه.

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه، خپل موحد بندګانو مرسته وکړه، اې زمونږ هيوادونه په آمن کړه، زمونږ مشران او حاکمانو اصلاح وکړه، او په سمه لار يې روانه کړه، اې د ټولو مسلمانانو حاکمانو ته توفيق ورکړې چې ستا کتاب حاکم کړي، او ستا د پيغمبر په تابعداری باندې روان شي.

اې الله! مورږ ته په رمضان کې د نيک عمل توفيق راکړې، په تاسره د د نعمت د زوال، د مريضتيا او د ناڅاپي عذاب څخه پناه غواړو، اې زمونږ ربه! مورږ ته په دنيا او اخرت دواړو کې نيکې بدلې راکړې، او د اور د عذاب څخه مو وژغوره.

---

(١) رواه البخاري (٥٤٢٧) ومسلم (٧٩٧).

[2] رواه أحمد (٨/٤) وغيره، وصححه الألباني في «صحيح أبي داود»، ومحققو «المسند» برقم (١٦١٦٢).

د ليلة القدر لس ځانگړتياوې

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰه إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أما بعد، فإن خير الكلام كلام الله، وخير الهدي هدي محمد صلى الله عليه وسلم، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

اې مسلمانانو! زه تاسې او خپل ځان ته د الله څخه د ويرې او تقوى وصيت کوم، او همدا د الله وصيت ټولو مخکنو او وروستنو انسانانو ته دي، الله فرمايي:

﴿وَلَقَدْ وَصَّيْنَا ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَۚ﴾

يقيناً مونږه هغو کسانو ته کلك حکم کړی دی چې له تاسو مخکې ورته کتاب ورکړی شوی و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

نو له الله تعالى څخه ووېرېږئ، له نافرمانۍ يې ځان وساتئ، اطاعت يې وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او ځان پوه کړئ، او پوه شئ چې الله تعالى د خپل ستر او لوى حکمت له امله ځينې وختونو ته پر ځينو نورو وختونو غوره والى ورکړى دى؛ نو د ذوالحجې لس ورځې يې د کال پر نورو ورځو غوره کړې دي، او د عرفې ورځ يې د کال پر ټولو ورځو غوره کړې ده، او د رمضان مياشت يې پر ټولو مياشتو غوره کړې ده، او د ليلة القدر شپه يې د رمضان پر ټولو شپو غوره کړې ده. د ليلة القدر لس ځانگړنې لري چې دا دي :

<u>لومړۍ ځانگړنه:</u> دا هغه شپه ده چې الله تعالى د قرآن د نازلېدو د پيل لپاره ځانگړې کړې ده. الله تعالى فرمايي:

﴿إِنَّآ أَنزَلْنَٰهُ فِى لَيْلَةِ ٱلْقَدْرِ﴾

بېشکه مونږ دا (قرآن) د قدر په شپه کې نازل کړی دی.

په همدې شپه کې قرآن له لوح محفوظ څخه د دنيا اسمان ته «بيت العزة» ته نازل شو، بيا وروسته د پېښو او حالاتو له مخې پر رسول الله صلى الله عليه وسلم لږ لږ نازل شو.

ليلة القدر په دې نوم ځکه ياده شوې چې دا د ډېر لوړ قدر او مقام لرونکې شپه ده، لکه څنگه چې ويل کېږي: فلانى د لوړ مقام خاوند دى.

او داسې هم رانقل شوي: چې دا شپه ځکه ليلة القدر بلل کېږي چې په دې شپه کې د راتلونکي کال تقدير ټاکل کېږي، لکه څنگه چې الله تعالى فرمايي:

﴿فِيهَا يُفْرَقُ كُلُّ أَمْرٍ حَكِيمٍ﴾

په دغې (شپه) کې هر له حکمته ډك کار بیانولی (او ښلولی) شي.

ابن القیم رحمه الله ویلي: همدا نظر (چې په دې شپه کې تقدیر ټاکل کیږي) صحیح دی[١].[٢]

په دې شپه کې د راتلونکي کال تر همدې شپې پورې ټولې چارې ټاکل کیږي؛ یعنې الله تعالی ملائکو ته د هغه څه خبر ورکوي چې پېښېدونکي دي، د خپلو کارونو د ترسره کولو امر ورته کوي، په تفصیل سره ورته ټول هغه څه بیانوي چې په راتلونکي کال کې به پېښېږي، لکه د مرګ نیټې، رزق، فقر او شتمني، حاصلخیزي او وچکالي، روغتیا او ناروغي، جګړې، زلزلې او نورې پېښې[٣].

ابن عباس رضي الله عنهما ویلي: د قدر په شپه کې له «أم الکتاب»[٤] څخه ټول هغه څه لیکل کیږي چې په راتلونکي کال کې به پیښیږي؛ څوک به مري، څوک به ژوندی وي، رزق او باران به څنګه وي، آن تر دې چې د حج کوونکو نومونه هم ټاکل کیږي چې فلانی به حج کوي او فلانی به حج کوي[٥].

دوهمه ځانګړنه: په دې شپه کې ملائکې ځمکې ته راکوزېږي. الله تعالی فرمایي

﴿تَنَزَّلُ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ وَٱلرُّوحُ فِيهَا﴾

په دغه (شپه) کې (نور) ملایك او روح (جبریل) د خپل رب په حکم سره نازلېږي.

«روح» جبریل علیه السلام ته ویل کیږي. ابن کثیر رحمه الله د دې آیت په تفسیر کې وایي: په دې شپه کې د زیات برکت له امله به ملائکې ډېرې راکوزیږي، او د برکت او رحمت سره به یوځای راکوزېږي، لکه څنګه چې د قرآن د تلاوت پر مهال راکوزېږي، د ذکر حلقې ګیره اچوي، او د علم غوښتونکي لپاره د درناوي له امله خپلې وزرې غوړوي.

دریمه ځانګړنه: الله تعالی دا شپه مبارکه بللې ده. الله تعالی د قرآن د نازلېدو په اړه فرمایي:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ فِي لَيۡلَةٖ مُّبَٰرَكَةٍۚ﴾

بېشکه مونږ دا (قرآن) په مبارکه شپه کې نازل کړی دی.

څلورمه ځانګړنه: الله تعالی دا شپه تر سهاره پورې د سلامتیا شپه بللې ده؛ یعنې دا شپه د الله د زیات خیر او برکت له امله تر سهاره پورې له هر ډول شر او آفت څخه خوندي ده.

پنځمه ځانګړنه: څوک چې دا شپه په عبادت، بیا په ځانګړي ډول په لمانځه تېره کړي، په دې ایمان سره چې الله تعالی د دې شپې عبادت ته لوی اجر ټاکلی، او د ثواب په نیت یې عبادت وکړي، د هغه تېر ګناهونه به وبښل شي، لکه څرنګه چې ابو هریره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله

---

(١) "شفاء العلیل" (١١٠/١)، ط مکتبة العبیکان - الریاض.

(٢) انظر القولین في "أحادیث الصیام"، ص ١٤٠، للشیخ عبدالله الفوزان، وهما قولان مشهوران عند المفسرین.

(٣) انظر تفسیر قوله تعالی (فیها یفرق کل أمر حکیم) من سورة الدخان من " أضواء البیان" للشنقیطي رحمه الله.

(٤) مراد تري لوح محفوظ دی.

(٥) رواه ابن جریر الطبری وغیر عنه في تفسیر الآیة الکریمة، واللفظ لابن جریر.

علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي یې دي: څوک چې د قدر شپه د ایمان او د ثواب د غوښتنې په نیت په عبادت تېره کړي، د هغه تېر ګناهونه بښل کېږي[١].

شپږمه ځانګړنه: د دې شپې عبادت د زرو میاشتو له عبادت څخه غوره دی؛ یعنې تر درې اتیا کلونو زیات عبادت ته رسېږي. الله تعالی فرمایي :

﴿لَيۡلَةُ ٱلۡقَدۡرِ خَيۡرٞ مِّنۡ أَلۡفِ شَهۡرٖ﴾

د قدر شپه له زرو میاشتو نه غوره ده.

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: رمضان درباندې راغی، دا برکتي میاشت ده، الله تعالی پر تاسو په دې میاشت کې روژه فرض نیول کړې ده. په دې میاشت کې د اسمان دروازې پرانیستل کېږي، د دوزخ دروازې تړل کېږي، او سرکشه شیطانان پکې تړل کېږي. په دې میاشت کې د الله لپاره داسې یوه شپه ده چې عبادت ورکې له زرو میاشتو له عبادت څخه غوره دی؛ څوک چې د هغې له خیر څخه محروم شي، نو په رښتیا هم محروم شو[٢].

ابن سعدي رحمه الله وایي: دا هغه نعمت دی چې عقلونه ورته حیرانیږي، ځکه الله تعالی پر دې امت داسې شپه لورولې ده چې د هغې عبادت د یو انسان د اوږده عمر له عبادت څخه زیات ثواب لري.

اوومه ځانګړنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان په وروستیو لسو شپو کې داسې عبادت کاوه چې په نورو شپو کې به یې نه کاوه، ځکه د قدر شپې لټه به یې کوله، له عائشې رضی الله عنها څخه روایت چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان په آخیري لسو شپو کې په عبادت کې داسې خواري کوله، چې په نورو ورځو کې به یې هغسې نه کوله[٣].

د عائشې رضی الله عنه څخه بل روایت نقل دی چې کله به د رمضان آخیري لسیزه پیل شوه، ټوله شپه یې په عبادت تیروله، خپل کورنۍ به یې راویخه کړه، او خپل لنګ به یې کلک کړو[٤].

«**د لنګ کلکوالي**» معنا دا ځان به یې عبادت ته تیار کړو، او د عامو وختونو په پرتله به یې په دې وخت کې په عبادت کې زیات کوښښ کولو، او داسې هم چا ویلي چې مقصد یې د خپلو کوروالاو څخه لیرې والی غوره کول، او کوروالی ورسره نه کول.

اتمه ځانګړنه: رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان په وروستیو لسو شپو کې اعتکاف کاوه، ترڅو لیلة القدر رالاندې کړي، د عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د رمضان په اخیري لسیزه کې تر وفات وخته پورې اعتکاف کاوه[٥].

---

(١) رواه البخاري (١٩٠١)، ومسلم (٧٥٩).

(٢) رواه النسائي (٢١٠٦) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه الألباني رحمه الله

(٣) رواه مسلم (١١٧٥)

(٤) رواه البخاري (٢٠٢٤) ومسلم (١١٧٤)، واللفظ لمسلم.

(٥) رواه البخاري (٢٠٢٦) ومسلم (١١٧٢).

د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: ما د رمضان په لومړۍ لسيزه کې اعتکاف وکړو چې د ليلة القدر لټون وکړم، بيا مې په دويمه لسيزه کې اعتکاف وکړو چې د ليلة القدر لټون وکړم، بيا راته وحي راغله او راته وويل شول چې ليلة القدر په آخيري لسيزه کې ده، که تاسو کې څو غواړي چې اعتکاف وکړي؛ نو هغه دې په آخيري لسيزه کې اعتکاف وکړي[1].

اې د الله بندګانو !د رسول الله صلى الله عليه وسلم دا هڅه او عبادت ښيي چې هغه به په غوره وختونو کې د الله عبادت ته ځانګړې پاملرنه کوله؛ نو مسلمان ته پکار دي چې د هغه پيروي وکړي، ځکه هغه تر ټولو غوره بېلګه ده. مسلمان بايد د دې شپو او ورځو ساعتونه ضايع نه کړي، ځکه انسان نه پوهېږي، کېدای شي بيا دا وخت ترلاسه نه کړي، کله چې د مرګ ناڅاپي راتګ د خوندونو پرې کوونکی او د ټولنو بېلوونکی شي، نو بيا پښېماني هېڅ ګټه نه لري[2].

<u>نهمه ځانګړنه:</u> د قدر شپه د عفوې او مغفرت د غوښتلو لپاره ځانګړې شوې ده. له عائشې رضى الله عنها څخه روايت دی، چې هغه وفرمايل: اې د الله پيغمبره! که زه چېرې دا شپه رالاندې کړم؛ نو څه وغواړم؟ هغه ورته وفرمايل: اللهم إنك عفو تحب العفو فاعف عني[3]. اې الله! ته ډېر ښېونکی يې، ښېنه خوښوې، نو ما وښېنه.

<u>لسمه ځانګړنه:</u> د قدر شپې د عظمت له ښو څخه دا ده چې الله تعالى د هغې په اړه ځانګړې سورت نازل کړی چې د قيامت تر ورځې پورې به لوستل کېږي، په دې سورت کې د هغې د عظمت سبب، د قرآن نازلېدل، د ملائکو راکوزېدل، د عبادت اجر او د دې شپې پيل او پای بيان شوي دی، نو ټول حمد د هغه الله لپاره دی چې خپلو بندګانو ته يې د خيرونو موسمونه برابر کړي دي.

د الله تعالى څخه سوال کوو چې موږ ته د رمضان روژې داسې اداء کولو توفيق راکړي چې هغه پرې راضي کيږي، او سوال کوم چې موږ ته د ذکر، شکر او ښه عبادت کولو توفيق راکړي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم من كل ذنب فاستغفروه، إنه كان للتوابين غفورا.

دويمه خطبه

الحمد لله وكفى، وسلام على عباده الذين اصطفى، أما بعد، نو پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې الله تعالى د قدر شپه د خپل ستر حکمت له مخې پټه ساتلې ده؛ تر څو مؤمن د وروستيو لسو شپو په ټولو کې د هغې د موندلو هڅه وکړي او په دې سره يې اجر زيات شي؛ ځکه که دا شپه معلومه وای، نو انسان به يوازې د هماغې يوې شپې عبادت ته پام کاوه.

---

(١) رواه مسلم (١١٦٧)

(٢) بتصرف يسير من كلام للشيخ محمد صالح المنجد، حفظه الله، نقلته من موقعه

(٣) رواه أحمد (١٧١/٦) وغيره، وصححه محققو «المسند» (٢٣٦/٤٢)

بيا دا هم څرگنده ده چې که د قدر شپه معلومه وای، نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به د هغې د لټون لپاره ټولې لس شپې اعتکاف نه کاوه او امت ته به يې هم د هغې د لټون لارښوونه نه کوله، بلکې يوازې هماغه ټاکلې شپه به يې اعتکاف کاوه.

اې د الله بندگانو !د قدر شپه تر ډېره په طاق شپو کې راځي. له عائشې رضى الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دی: د رمضان د وروستيو لسو شپو په طاق شپو کې ليلة القدر ولټوئ[1].

اې د الله بندگانو !هغه نظر چې د نصوصو له مخې پياوړی ښکاري دا دی چې ليلة القدر له يوه کال څخه بل کال ته بدلېږي او انتقال کوي، خو له وروستيو لسو شپو څخه نه وځي.

نو مؤمن ته پکار ده چې د وروستيو لسو شپو ټول وخت په عبادت تېر کړي، او هغه خبرې چې خلک يې په ټولنيزو رسنيو او نورو ځايونو کې د ليلة القدر د ټاکلو په اړه خپروي، پرېږدي؛ ځکه دا کار د وخت ضايع کولو، سستۍ او د عمل پرېښودلو سبب ګرځي.

اې د الله بندگانو !مؤمن ته ښايي چې د مياشتې په وروستيو شپو کې د عبادت هڅه د لومړيو شپو په پرتله زياته کړي، د دوو لاملونو له امله: لومړی: د ليلة القدر د موندلو لپاره. دوهم: د رمضان مياشتې د رخصتولو لپاره چې انسان نه پوهېږي، راتلونکی کال به يې بيا ومومي که نه[2].

ځان پوه کړئ ـ الله دې په تاسو رحم وکړي - چې الله تاسو ته په يو ستر امر باندې امر کړی دی، الله فرمايلي دي:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

اې الله ته په خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلامونه راولېږه، او د هغه له صحابو، خليفه ګانو، تابعينو او له هغه چا څخه چې په نيکيو کې د دوی پيروي کوي د قيامت تر ورځې پورې؛ ته تر په راضي شه.

اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه او خپل موحد بندګانو نصرت او مرسته وکړه.

اې الله اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، شرک او مشرکان ذليله کړه، ستا او ستا د دين دښمنان تباه کړه او خپل موحد بندګانو نصرت او مرسته وکړه.

اې الله مور له تا څخه ټول خير غواړو په اوس وخت او هم په راتلونکي وخت کې که مور وربانديې پوهيږو او کنه، او د هر ډول شر څخه پناه غواړو په اوس او هم په راتلونکي وخت کې که مور وربانديې پوهيږو او کنه پوهيږو.

---

(١) رواه البخاري (٢٠١٧)

(٢) قاله ابن الجوزي رحمه الله في كتابه «التبصرة»، بتصرف

اې الله موږ له تا څخه جنت او هر هغه عمل او وینا غواړو چې موږ جنت ته ورنږدې کړي، د جهنم څخه او هر هغه عمل او وینا څخه پناهي غواړ چې موږ جهنم ته نږدې کوي.
اې الله زموږ مریضانو ته شفا ورکړه، مړه مو وبښه، او په مصیبت او تکلیف اخته ته مو عافیت ورکړه.
اې الله! زموږ لپاره زموږ دین سم او روغ کړه، هغه دین چې زموږ د ټولو چارو ساتنه ده؛ او زموږ دنیا راته سمه کړه، هغه دنیا چې پکې زموږ ژوند تېرېږي؛ او زموږ آخرت راته سم کړه، هغه آخرت چې ورگرځېدل مو ورته دي، او ژوند زموږ لپاره په هر خیر کې زیاتوالی وگرځوه، او مرگ زموږ لپاره د هر شر څخه د آرام سبب وگرځوه.
اې موږ ته په دنیا آو آخرت دواړو کې نیکي بدلې راکړې؛ او د قبر د عذاب څخه مو وژغوره.
اې د الله بندگانو! بېشکه الله د عدل، احسان او خپلوانو ته د حق ورکولو حکم کوي، او له فحشا، بدکارۍ او زیاتي څخه مو منع کوي، تاسو ته نصیحت کوي، تر څو متوجه شئ، نو د لوی الله یادونه کوئ، هغه به تاسو یاد کړي؛ او د هغه د نعمتونو شکر وباسئ، هغه به تاسو ته نور هم درکړي، او یقیناً د الله یاد تر هر څه لوی دی، او الله په هغو ټولو کارونو ښه پوهېږي چې تاسو یې کوئ.

د کوچنۍ اختر په اړه لس درسونه

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبد الله ورسوله. أما بعد: فإن أصدق الحديث كتاب الله، وخير الهدي هدي محمد ﷺ، وشر الأمور محدثاتها، وكل محدثة بدعة، وكل بدعة ضلالة، وكل ضلالة في النار.

۱ .اې د الله بندګانو! د الله تعالی څخه داسې وویریږئ لکه څنګه چې د هغه د وېرې حق دی، او د اسلام رسۍ ټینګه ونیسئ. د رمضان میاشتې د بشپړېدو پر نعمت د الله شکر وباسئ؛ ځکه دا ـ په الله قسم ـ ستر نعمت دی. ستاسو رب فرمایي:

﴿وَلِتُكۡمِلُواْ ٱلۡعِدَّةَ وَلِتُكَبِّرُواْ ٱللَّهَ عَلَىٰ مَا هَدَىٰكُمۡ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ﴾

او د دې لپاره چې تاسو شمېره پوره کړئ او د دې لپاره چې تاسو د الله لویي بیان کړئ، په دې چې هغه تاسو ته هدایت کړی دی، او د دې لپاره چې تاسو شکر وباسئ.

نو مور شمېر پوره کړ، الله مو لوی وباله، او اوس راباندې د شکر د ادا کولو عبادت پاتې دی.

۲ .اې مسلمانانو! الله رښتیا فرمایلي دي چې:

﴿أَيَّامَا مَّعۡدُودَٰتٖۚ﴾

یو څو ورځې شمېرل شوې.

څومره ژر هغه ورځې تېرې شوې او پای ته ورسېدې! ایا پرې پوهه شوی چې څنګه لاړې؟ او ایا پوهه شوی چې څنګه پای ته ورسېدې او تېرې شوې؟

۳. اې مؤمنانو! تاسو ته دې مبارک وي؛ ځکه ټوله میاشت مو روژه ونیوله، تاسو ته دې مبارک وي؛ ځکه شپې مو په عبادت تېرې کړې، او تاسو ته دې مبارک وي؛ ځکه تر پای پورې ورسېدئ؛ حال دا چې داسې خلک هم وو چې وفات شول او د دې میاشتې تر پای ونه رسېدل. نو د الله د نعمتونو شکر ادا کړئ.

۴. اې مسلمانانو! دغه خوشالي چې د اسلام د روژې د رکن په ترسره کولو په پای کې راځي چې اختر دي؛ تاسو ټولو ته دې مبارک وي، په داسې حال کې چې تاسو د الله لوی وایي یعنې تکبیرات، د هغه یووالی منئ او درناوی یې کوئ. د الله په اذن ستاسې درجات لوړ شول، ګناهونونه مو وبښل شول.

۵. اې د الله بندګانو! د الله له حکمتونو څخه دا ده چې مور ته یې د دوو سترو عبادتونو له بشپړېدو وروسته دوه اخترونه مشروع کړي دي: د فطر (کوچنۍ) اختر د روژې تر بشپړېدو وروسته، او د قربانۍ (لوی) اختر د حج د فریضې تر ادا کولو وروسته راځي. زمور اخترونه دین او عبادت دی؛ لمونځ او تکبیر دی، د نفس پاکوالی او د فطر صدقه ده، خوښي او د خپلوانو سره

اړیکه ده، ملاقاتونه او یو بل سره د مینې او محبت څرگندونه ده، د تېرو تېروتنو بښنه او د اړیکو بیا رغونه ده، او د کینو او بدگمانیو له منځه وړل دي. نو چا چې له خپلوانو یا ملگرو سره زړه بداوی یا پرېکون وي، باید د اختر ورځ د اړیکو د رغولو، بېرته نږدې کېدو او زړونو ته د خوښۍ ور اچولو فرصت وگرځوي.

٦. اې مؤمنانو! دا اخترونو دا خوښي دې تاسو ته مبارک وي، دا اخترونه د نورو خلکو د مشرکانو او گمراهانو د اخترونو په څیر نه دي، چې د هغوی اخترونه یوازې د گناه او له الله څخه د لا لرې کېدو سبب گرځي.

اې د الله بندگانو! د دې رحمتونو په راتگ خوښي وکړئ؛ ځکه الله تعالی فرمایي:

﴿قُلْ بِفَضْلِ ٱللَّهِ وَبِرَحْمَتِهِۦ فَبِذَٰلِكَ فَلْيَفْرَحُواْ﴾

ته ووایه: د الله په فضل سره او د هغه په رحمت سره، لهذا په دې سره دې دوی خوشحاله شي.

او له الله څخه د نورو نعمتونو غوښتنه وکړئ.

٧. اې مسلمانانو! په دې ورځ ځانونه سنبال کړئ، ځانونه ښکلي کړئ او خوشبویي وکاروئ، امام مالک رحمه الله ویلي: ما د اهل علمو څخه اورېدلي دي چې د اختر لپاره خوشبویي کارول او ځان ډولي کول مستحب دي[1].

٨. اې مؤمنانو! خپل کورونه او زړونه پرانیزئ، یو بل ته د رمضان د علمونو د قبلېدو دعا وکړئ، او یو بل ته مبارکي ورکړئ؛ ځکه صحابه کرامو به یو بل ته ویل: «تقبل الله منا ومنك» (الله دې زموږ او ستاسې عبادتونه قبول کړي).

٩. اې مسلمانانو! څه چې مخکې تیر شوي، یو بل ته د هغې بښنه کول له غوره عبادتونو څخه دي، او الله تعالی پرې بې حسابه اجر ورکوي، الله فرمایي:

﴿فَمَنْ عَفَا وَأَصْلَحَ فَأَجْرُهُۥ عَلَى ٱللَّهِ﴾

نو هغه څوك چې معافي وکړي او اصلاح وکړي نو د ده اجر په الله دی.

الله د اجر وعده کړې، خو اندازه یې نه ده ټاکلې، چې هغه ستر او عظیم ذات دی.

اې مؤمنانو! د نفس اصلاح او تزکیه له غوره عبادتونو څخه ده، او الله تعالی پرې د بریا وعده کړې ده، فرمایي:

﴿قَدْ أَفْلَحَ مَن زَكَّىٰهَا ۝٩ وَقَدْ خَابَ مَن دَسَّىٰهَا﴾

چې یقینًا کامیاب شو هغه څوك چې دغه (نفس) یې پاك کړ، او یقینًا نامراده شو هغه څوك چې دغه (نفس) یې په خاورو کې پټ کړ.

---

(١) شرح البخاري لابن رجب (٦٨/٦)، ط ابن الجوزي - الدمام.

اې د الله بندګانو! د اختر د خوښۍ له بشپړېدو څخه دا هم ده چې ټولنیزې اړیکې اصلاح او پیاوړې شي، او زړونه د کال په اوږدو کې له راجمع شویو کینو او بدیو څخه پاک شي. هغه چا ته دې مبارک وي چې د اختر له دې وخت څخه ګټه واخلي، او بیل شوي مېرمن او مېړه ترمنځ سوله وکړي، هغه لرې شوي زړونو ترمینځ یې مینه محبت بیا راولي، او د یوې کورنۍ د هغې د اولادونو د خوښۍ سبب وګرځي، یا یو بل ته قتل وبښي، او یا د خپلوانو ترمنځ پرېکون ختم کړي.

اې الله ستا لپاره ډېر حمدونه دي چې په موږ دې دا نعمت وکړ چې د رمضان میاشت دې په موږ راوسته، اختر دې راوستو، دا زموږ لپاره سبب وګرځوه چې ستا اطاعت وکړ، او موږ ته ستا محتب او د هغه عمل محبت راکړې چې موږ تا نږدې کوي.

أقول قولي هذا واستغفر الله لي ولكم فاستغفروه إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد:

١٠. اې د الله بندګانو! پوه شئ ـ الله دې پر تاسو رحم وکړي ـ چې ستره او ریښتینې خوښي هغه ورځ ده چې موږ له نېکو اعمالو سره د الله جل جلاله حضور ته ورسېږو. هلته به الله تعالى وفرمایي: الله تعالى به جنتیانو ته غږ وکړي، هغوی به عرض وکړي: اې زموږ ربه! حاضر یو او ستا اطاعت ته ولاړ یو. الله به وفرمایي: ایا تاسو راضي یاست؟ هغوی به ووایي: ولې به راضي نه یو، حال دا چې تا موږ ته داسې نعمتونه راکړي چې ستا له مخلوقه دې بل هېڅا ته نه دي ورکړي؟ الله به وفرمایي: زه تاسو ته له دې هم غوره نعمت درکوم. هغوی به ووایي: اې ربه! له دې هم غوره څه شی شته؟ الله به وفرمایي: زه له تاسو راضي یم، له دې وروسته به هېڅکله پر تاسو ناخوښه نه شم[1].

١١. اې مؤمنانو! رمضان د سمې لارې د خپلولو او د الله سره د اړیکو د پیاوړتیا زرین فرصت دی، داسې اړیکه چې باید تلپاتې وي؛ نو راځئ عبادت ته دوام ورکړو؛ ځکه عبادت د رمضان په پای ته رسېدو نه ختمېږي، بلکې د انسان تر مرګه دوام لري:

﴿وَٱعۡبُدۡ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأۡتِيَكَ ٱلۡيَقِينُ﴾

او د خپل رب عبادت کوه تر هغه پورې چې تا ته یقین (مرګ) راشي

او رسول الله ﷺ وفرمایل: الله تعالى ته تر ټولو خوښ عمل هغه دی چې دوام پرې وشي، که څه هم لږ وي[2].

---

(١) رواه البخاري (٦٥٤٩) ومسلم (٢٨٢٩) من حديث أبي سعيد الخدري رضي الله عنه.

(٢) رواه البخاري (٥٨٦١) عن عائشة رضي الله عنها.

اې مسلمانانو! له رمضان وروسته پر نېکو اعمالو دوام کول د توفیق او د عمل د قبلېدو نښه ده، خو که څوک عبادت یوازې د موسمونو پورې محدود کړي، دا د علم د کمښت او د توفیق د نشتوالي نښه ده، د رمضان رب، د ټولو میاشتو رب دی، له سلفو څخه له یوه کس څخه پوښتنه وشوه چې د هغه چا په اړه څه وایې چې په رمضان کې عبادت ته ډېره هڅه کوي خو له هغه وروسته یې پرېږدي؟ هغه وویل: ډېر بد خلک دي، چې الله یوازې په رمضان کې پېژني.

اې مؤمنانو! د مسلمان له غوره صفتونو څخه یو دا دی چې د «قانتینو» له ډلې وي. قنوت یعنې پر عبادت ټینګ پاتې کېدل او دوام کول دي. الله تعالی هغه کسان ستایلي چې په قنوت متصف وي، فرمایي:

﴿إِنَّ ٱلْمُسْلِمِينَ وَٱلْمُسْلِمَٰتِ وَٱلْمُؤْمِنِينَ وَٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْقَٰنِتِينَ وَٱلْقَٰنِتَٰتِ وَٱلصَّٰدِقِينَ وَٱلصَّٰدِقَٰتِ وَٱلصَّٰبِرِينَ وَٱلصَّٰبِرَٰتِ وَٱلْخَٰشِعِينَ وَٱلْخَٰشِعَٰتِ وَٱلْمُتَصَدِّقِينَ وَٱلْمُتَصَدِّقَٰتِ وَٱلصَّٰٓئِمِينَ وَٱلصَّٰٓئِمَٰتِ وَٱلْحَٰفِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَٱلْحَٰفِظَٰتِ وَٱلذَّٰكِرِينَ ٱللَّهَ كَثِيرًا وَٱلذَّٰكِرَٰتِ أَعَدَّ ٱللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾

بېشکه مسلمانان او مسلمانې او مومنان او مومنانې، او اطاعت کوونکي او اطاعت کوونکې او صادقان (رښتینې) او صادقانې او صبر کوونکي او صبر کوونکې اوعاجزي کوونکي او عاجزي کوونکې او خیرات کوونکي او خیرات کوونکې او روژه نیوونکي او روژه نیوونکې او د خپلو شرم ځایونو حفاظت کوونکي او حفاظت کوونکې او الله لره ډېر یادوونکي او یادوونکې، الله د دوی لپاره مغفرت او ډېر لوی اجر تیار کړی دی.

۱۲. اې د الله بندګانو! د رمضان له روژې وروسته د شوال شپږ ورځې روژه نیول مستحب سنت دی، او الله تعالی پر دې ستر اجر مرتب کړی دی. لکه څنګه چې د ابو ایوب رضي الله عنه په حدیث کې راغلي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: چا چې د رمضان روژه ونیوله، بیا یې ورپسې د شوال شپږ ورځې روژې ونیولې، هغه داسې دی لکه ټول کال یې چې روژه نیولې وي[1].

همدارنګه، د شوال د شپږو روژو له مهمو حکمتونو څخه یو دا دی چې د رمضان د فرضي روژو نیمګړتیاوې جبرانوي؛ ځکه روژه دار انسان له تېروتنو او ګناهونو خالي نه وي، نو نفلي روژه د همدې کمښت جبران کوي.

له دې وروسته، دا لس مهم ټکي دي چې مسلمان یې باید په کوچني اختر کې په یاد ولري، تر څو یې اختر یوازې دود او رواج نه وي، بلکې عبادت وي.

اې الله! زموږ ګناهونه او اسراف وبښه، اې الله! موږ د هغو بندګانو له ډلې وګرځوه چې له اوره دې ازاد کړي وي، اې الله! جنت ته موږ داخل کړه، او جنة الفردوس زموږ د اوسیدو ځای وګرځوه، موږ بې له حسابه او بې له عذابه جنت ته داخل کړه، اې کریمه، اې وهاب ذاته!

---

(۱) رواه مسلم (۱۱٦٤) عن أبي أيوب الأنصاري رضي الله عنه.

اې الله! موږ له اوره خلاص کړه، او موږ له خپلو ګناهونو داسې پاک کړه لکه په همدې ورځ خپلو میندو زېږولي یو، اې الله! زموږ دا غونډه په داسې حال کې سره ببله کړې چې ګناهونه مو بښل شوي وي، عملونه مو قبول شوي وي، او هڅې مو منل شوې او قدرداني شوې وي.

اې الله! زموږ دا وطن او د ټولو مسلمانانو هیوادونه په امن ډاډمن، سوکاله او هوسا کړه، اې الله! زموږ اختر د خوشالي او ژوند مو هوسا او آرامه وګرځوه، د عبادتونو او برکتونو موسمونه بیا بیا په موږ راوله، په داسې حال کې چې موږ او ټول مسلمانان په روغتیا، عافیت او امن کې یو.

اې الله! له رمضان وروسته مو هم پر نېکو عملونو ټینګ وساته، د عبادت کوونکو او فرمانبردارو له ډلې وګرځوه، اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر کورنۍ درود راولیږه.

سُبْحَانَ ربنا رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُون، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِين، الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِين.

د بيت المقدس او اقصى مسجد لس ځانگړنې

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

أما بعد: تر ټولو غوره وينا د الله كلام دى، او تر ټولو ښه لارښوونه د محمد صلى الله عليه وسلم لار او سنت دى، او تر ټولو بد كارونه هغه دي چې په دين كې نوي راايجاد شوي وي؛ په دين كې هر نوى كار بدعت دى، هر بدعت گمراهي ده، او هره گمراهي انسان د دوزخ اور ته رسوي.

اې مسلمانانو! زه تاسو او خپل ځان ته د الله څخه د تقوى غوره كولو وصيت كوم، ځكه چې دا ټولو لومړنيو او ورستنيو مخلوقاتو ته د الله له لورې وصيت دى، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ وَلَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَإِيَّاكُمْ أَنِ اتَّقُوا اللَّهَ ﴾

او يقيناً يقيناً مونږه هغو كسانو ته كلك حكم كړى دى چې له تاسو مخكې ورته كتاب وركړى شوى و او تاسو ته هم، چې له الله نه ووېرېږئ .

نو له الله تعالى څخه ووېرېږئ، د هغه له عذابه ځانونه وساتئ، اطاعت يې وكړئ او نافرماني يې مه كوئ، او ځان پوه كړئ كوم څه چې الله تعالى وغواړي د خپل بشپړ حكمت او پوهې له مخې يې پيدا او غوره كوي، نو ځينې ملايكې يې پر نورو، غوره كړې دي، ځينې كتابونه يې پر نورو غوره كړي دي، ځينې پيغمبران يې پر نورو غوره كړي دي، ځينې زمانې يې پر نورو غوره كړې دي، او ځينې ځايونه يې پر نورو غوره كړي دي.

له همدې څخه يو هم د مباركې ځمكې فضيلت دى، هغه ځمكه ده چې بيت المقدس او شاوخوا سيمې يكې شاملې دي، چې الله تعالى ورته پر نورو ځايونو د حكمت او غوره انتخاب له امله غوره والى وركړى دى.

﴿ وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ ﴾

او ستا رب پيدا كوي هغه چې وغواړي او هغه انتخاب كوي، دوى ته هېڅ اختيار نشته، الله لره پاكي ده، او هغه اوچت دى له هغه څه نه چې دوى يې (ورسره) شريكوي

د بيت المقدس معنا دا ده: هغه كور چې د شرک له نښو او مظاهرو څخه پاک ساتلى شوى دى.

اې د الله بندګانو! بيت المقدس لس ځانګړنې لري:

١ . لومړى ځانګړنه يې دا ده چې الله تعالى په قرآن كريم كې مبارک كلمه ورته كارولې ده،

﴿ سُبْحَانَ الَّذِى أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِى بَارَكْنَا حَوْلَهُ ﴾

هغه ذات لره پاكي ده چې خپل بنده يې د شپې په يوه لږه برخه كې له مسجد حرام نه مسجد اقصىٰ ته بوتلو، هغه (مسجد اقصىٰ) چې مونږ د هغه كېرچاپېره بركت اچولى دى.

او دلته له قدس څخه مراد د مسجد اقصی شاوخوا سیمې دي.

۲ . د بیت المقدس له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې الله تعالی هغه مقدسه او پاکه ځمکه بللې ده، یعنې له کفر او شرک څخه پاکه شوې ځمکه ده، دا خبره د موسی علیه السلام په ژبه داسې راغلې ده:

﴿ يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ ﴾

ای زما قومه! تاسو هغه پاکې ځمکې ته داخل شئ چې الله تاسو لپاره لیکلې ده او په خپلو شاګانو بېرته مه ګرځئ (ګڼې) نو تاوانیان به شئ

او له مقدسې ځمکې څخه مراد بیت المقدس دی.

۳ . د بیت المقدس له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې الله سبحانه وتعالی خپل پیغمبر موسی علیه السلام ته امر کړی و چې د هغه ځای له اوسېدونکو سره جهاد وکړي، هغه زورور او بتپرست عمالقه چې هلته اوسېدل، چې دا سیمه ترې ونیسي، توحید پکې خپور کړي او شرک ترې لرې کړي.

﴿ يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَى أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾

هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده یې د شپې په یوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی.

۴ . د بیت المقدس له ځانگړتیاوو څخه هغه څه دي چې رسول الله ﷺ خبر ورکړی، چې موسی علیه السلام له الله تعالی څخه غوښتنه کړې وه چې د وفات پر مهال یې د بیت المقدس ځمکې ته دومره نږدې کړي لکه د یوې ډبرې د غورځولو د فاصلې په اندازه، ترڅو هغې سیمې ته نږدې وفات شي، دا د بیت المقدس سره د هغه د مینې څرګندونه وه، د ابوهریره رضي الله عنه په حدیث کې راغلي دي: موسی علیه السلام د خپل وفات پر مهال له خپل رب څخه وغوښتل چې هغه د مقدسې ځمکې تر څنګ د یوې ډبرې د غورځولو د فاصلې په اندازه نږدې وفات کړي.

دا معلومه خبره وه چې مقدسه ځمکه د عمالقه بتپرستو زورورو خلکو تر واک لاندې وه؛ نو موسی علیه السلام نه شوای کولای چې هغې ته داخل شي او هلته وفات شي؛ نو غوښتل یې چې تر خپله وسه ورته ځان نږدې کړي.

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل: که زه هلته وای، نو تاسو ته به مې د هغه قبر درښودلی وای، چې د لارې تر څنګ د سرې شګې غونډۍ سره نږدې دی[1].

۵ . د بیت المقدس له ځانگړتیاوو څخه دا هم ده چې الله سبحانه وتعالی لمر درولی و، یعنې د هغه حرکت یې بند کړی وو، کله چې د الله پیغمبر یوشع بن نون علیه السلام غوښتل له هغو زورورو خلکو سره جګړه وکړي چې په بیت المقدس کې اوسېدل، تیاره رانږدې کېده او هغه له خپل لښکر سره د ښار دروازو ته رسېدلی و؛ نو له الله تعالی څخه یې وغوښتل چې لمر ودروي تر څو له تیارو

(۱) رواه البخاري (۱۳۳۹) ومسلم (۲۳۷۲) عن أبي هريرة رضي الله عنه، والكثيب هو الكتلة من الرمال.

مخکې ښار ته داخل شي او جگړه ترسره کړي، الله تعالى يې دعا قبوله کړه او بيت المقدس فتح شو، د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: لمر د هيڅ انسان لپاره نه دى درول شوى مگر د يوشع عليه السلام لپاره ودرول شو، کله چې هغه د بيت المقدس پر لور روان و[١].

٦ . د بيت المقدس له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې د هغه فتحه د قيامت له نښو څخه شمېرل شوې ده، د عوف بن مالک رضي الله عنه روايت دى چې زه د تبوک په غزا کې رسول الله صلى الله عليه وسلم خوا ته راغلم چې هغه د څرمنې په خيمه کې ناست وو، بيا يې وفرمايل: د قيامت نه مخکې زما شپږ نښې وشمېرئ زما وفات کيدل، بيا د بيت المقدس فتحه... [٢].

٧ . د بيت المقدس له ځانگړتياوو څخه دا ده چې دجال دې ښار ته نشى داخليداى، بلکې دې ته نږدې به ووژل شي، عيسى بن مريم عليه السلام به يې د «لُد» د دروازې سره رالاندې کړى، بيا به يې ووژنى، «لُد» بيا بيت المقدس ته نږدې يو ځاى دى.

٨ . د بيت المقدس له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې د کفر مشران او د هغوى سياستوال به په فلسطين کې خپل پاى ووينې، دجال به په فلسطين کې د عيسى عليه السلام په لاس ووژل شي، په داسې جگړه کې چې دجال به پکې د يهودو مشر وي، عيسى عليه السلام او د هغه لښکر به دجال او د هغه لښکر له منځه يوسي، همدارنگه به هغه کسان هم ووژني چې د هغه په اړه صحيح ايمان نه لري او هغه د الله رسول او بنده نه گڼي، د نصاراوو خنزير به ووژني او هغه صليب به مات کړي چې هغوى يې درناوى او عبادت کوي، دا ټولې پېښې به په فلسطين کې ترسره کېږي[٣].

٩ . د بيت المقدس له ځانگړتياوو څخه دا هم ده چې په آخيرى زمانه کې چې کله د مسلمانانو او يهودو ترمنځ د عيسى عليه السلام بن مريم عليه السلام په مشرى جگړه وشي؛ نو ونې او ډبرې به يهود افشا کوي، د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قيامت به تر هغه وخته پورې قائم نه شى ترڅو چې مسلمانان له يهودو سره جگړه ونه کړي، مسلمانان به هغوى وژني، تر دې چې يو يهودي به د ډبرې يا ونې تر شا پټ شي؛ نو ډبره يا ونه به ووايي: اې مسلمانه! اې د الله بنده! دا يهودي زما تر شا پټ دى، راشه او ويې وژنه؛ يوازې د غرقد ونه به وي چې هغه به دا اواز نه کوي؛ دا ځکه چې هغه د يهودانو له ونو څخه ده[٤].

١٠ . د بيت المقدس له سترو ځانگړتياوو څخه دا ده چې مسجد اقصى پکې موقعيت لري، دا د هغو دريو سترو او معظمو جوماتونو څخه يو دى چې د قرآن کريم او نبوي حديثونو په نصوصو ثابت

---

(١) رواه أحمد (٨٣١٥) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه محققو «المسند».

(٢) رواه البخاري (٣١٧٦).

(٣) انظر قصة نزول المسيح وقتله للدجال في «صحيح مسلم» (٢٨٩٧) عن أبي هريرة رضي الله عنه، وكذا (١٥٦) عن جابر بن عبد الله الأنصاري رضي الله عنهما، وكذا (٢٩٣٧) عن النواس بن سمعان الكلابي رضي الله عنه.

(٤) رواه البخاري (٢٩٢٦) ومسلم (٢٩٢٢)، واللفظ له.

فضیلت لري، چې دا ځای له ډیرو وجو له امله معظم ګڼل کیږي، چې تر ټولو مهم یې لس وجې دی، او هغه دا دی:

لومړی: رسول الله ﷺ د مسجد الحرام څخه مسجد اقصی ته په شپه کې بوتلل شو، چې بیا له هغه ځایه اسمانونو ته پورته کړل شو، الله تعالی فرمایلی دی:

﴿ سُبْحَانَ الَّذِی أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلًا مِنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الْأَقْصَى الَّذِی بَارَكْنَا حَوْلَهُ ﴾

هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده یې د شپې په یوه لږه برخه کې له مسجد حرام نه مسجد اقصٰی ته بوتلو، هغه (مسجد اقصٰی) چې مونږ د هغه ګېرچاپېره برکت اچولی دی.

کله چې له اسمانونو څخه بېرته راکښته کړل شو، مسجد اقصی ته راغی او بیا له هغه ځایه مکې مکرمې ته ستون شو، په دې توګه په یوه شپه کې دوه ځله د مسجد اقصی له لارې تېرېدل د هغه پر عظمت او اهمیت دلالت کوي.

دویم: د مسجد اقصی له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې رسول الله ﷺ د اسراء په شپه، له معراج څخه تر راستنېدو وروسته، د ټولو پیغمبرانو امامت وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: کله چې د لمانځه وخت شو؛ نو ما د هغوی امامت وکړ[1].

دریم: د مسجد اقصی له ځانګړتیاوو څخه دا هم ده چې الله تعالی هغه خپل پیغمبر ﷺ ته ورښکاره کړ، یعنې دومره یې ورته نږدې او څرګند کړ چې هغه لیدلای شو، دا هغه مهال وو چې مشرکانو د اسراء د پېښې په اړه د رسول الله ﷺ خبرې دروغ وګڼلې او د مسجد اقصی د نښو او ځانګړتیاوو پوښتنه یې ترې وکړه، ترڅو هغه عاجز کړي، ځکه هغوی پوهېدل چې هغه مخکې هلته نه و تللی؛ نو الله تعالی مسجد اقصی ورته ښکاره کړ او هغه ﷺ د مسجد اقصی ودانۍ او نښې نښانې هغوی ته بیانولې، د جابر بن عبدالله رضي الله عنهما روایت دی: کله چې قریشو زه دروغجن وګڼلم، زه په حجر کې ودرېدم؛ نو الله تعالی بیت المقدس راته ښکاره کړ، او ما هغوی ته د هغه نښې نښانې بیانولې، په داسې حال کې چې ما ورته کتل[2].

څلورم: د مسجد اقصی له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې دا د مسلمانانو لومړنۍ قبله وه، د براء بن عازب رضي الله عنه روایت دی: مونږ له رسول الله ﷺ سره شپاړس یا اوولس میاشتې د بیت المقدس پر لور لمونځ کاوه، بیا د کعبې شریفې پر لور وګرځول شو[3].

پنځم: د مسجد اقصی له ځانګړتیاوو څخه دا ده چې هغه له هغو جوماتونو څخه دی چې د عبادت په نیت ورته سفر کول روا دي، رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د عبادت لپاره سفر مه کوئ مګر دریو

(١) رواه مسلم (١٧٢) عن أبي هريرة رضي الله عنه.

(٢) رواه البخاري (٣٨٨٦) ومسلم (١٧٠).

(٣) رواه البخاري (٤٤٩٢) ومسلم (٥٢٥).

جوماتونو ته مسجد الحرام، مسجد اقصى او زما دې جومات (مسجد نبوى) ته سفر وكړئ[١]. يعنې د ځمكې پر مخ بل هېڅ ځاى ته يوازې د عبادت په نيت ځانگړى سفر كول روا نه دي، پرته له دې دريو جوماتونوڅخه.

شپږم: د مسجد اقصى له ځانگړتياوو څخه دا ده چې په هغه كې يو لمونځ د دوه سوه پنځوسو لمونځونو څخه غوره دى، د ابوذر رضي الله عنه روايت دى: موږ د رسول الله ﷺ په حضور كې خبرې كولې چې كوم يو غوره دى؛ د رسول الله ﷺ جومات كه بيت المقدس؟ نو رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په دې جومات كې يو لمونځ هلته له څلورو لمونځونو څخه غوره دى، او د لمانځه لپاره غوره ځاى دى، ژر به داسې وخت راشي چې د انسان لپاره به د ځمكې دومره كوچنى ټوټه، چې له هغې څخه بيت المقدس ليدل كېږي، له ټولې دنيا او د دنيا له ټولو شيانو څخه غوره وي[٢].

اې د الله بندگانو! كله چې په مسجد نبوي كې يو لمونځ د زرو لمونځونو برابر فضيلت لري، نو په مسجد اقصى كې يو لمونځ د دوه سوه پنځوسو لمونځونو برابر فضيلت لري، دا د هغې د څلورمې برخې سره برابر دى[٣].

اووم: د مسجد اقصى له ځانگړتياوو څخه دا ده چې دا په ځمكه كې دويم جومات دى چې جوړ شوى دى، د ابوذر رضي الله عنه روايت دى: ما وويل: اې د الله رسوله! په ځمكه كې تر ټولو لومړى كوم جومات جوړ شوى؟ ويې فرمايل: مسجد الحرام، ما وويل: بيا كوم؟ ويې فرمايل: مسجد اقصى، ما وويل: د دواړو ترمنځ څومره موده وه؟ ويې فرمايل: څلوېښت كاله[٤].

اتم: د مسجد اقصى له ځانگړتياوو څخه دا ده چې سليمان بن داود عليه السلام د هغه ودانۍ نوې كړه او له الله تعالى څخه يې وغوښتل چې هر هغه څوك وبښي چې پكې لمونځ كوي؛ نو الله تعالى يې دعا قبوله كړه، د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې سليمان بن داود عليه السلام بيت المقدس جوړ كړ، له الله تعالى څخه يې درې غوښتنې وكړې يوه غوښتنه يې دا وكړه چې د داسې فيصلې او پريكړې پوهه وركړې چې د هغه د حكم سره سمون ولري؛ نو الله تعالى هغه وركړ، بيا يې داسې پاچاهي وغوښته چې له هغه وروسته بل چا ته نه وي وركړل شوې، نو هغه هم وركړل شوه، او كله چې له ودانۍ څخه فارغ شو، دعا يې وكړه چې هر څوك يوازې د لمانځه په نيت دې جومات ته راشي، الله تعالى دې هغه له ګناهونو داسې پاك كړي لكه د مور له نس څخه چې نوى زېږېدلى وي[٥].

---

(١) رواه البخاري (١٩٩٥) ومسلم (٨٢٧) عن أبـي سعيد رضي الله عنه ، ورواه البخاري (١١٨٩) ومسلم (١٣٩٧) عن أبـي هريرة رضي الله عنه.

(٢) رواه الطبراني في «الأوسط» (٦٩٨٣) والحاكم في «مستدركه» (٤٥٠٩)، واللفظ للحاكم، وصححه الألباني في «تمام المنة» (ص ٢٩٤).

(٣) وأما الحديث المشهور أن الصلاة فيه بخمسمائة صلاة فضعيف، انظر «تمام المنة» للشيخ الألباني رحمه الله (ص ٢٩٢).

(٤) رواه البخاري (٣٤٢٥) ومسلم (٥٢٠)، واللفظ له.

(٥) رواه أحمد (١٧٦/٢)، والنسائي (٦٩٣) واللفظ له، عن أبي هريرة رضي الله عنه، وصححه الألباني رحمه الله.

نهم: د مسجد اقصى له ځانگړتياوو څخه دا ده چې د سليمان عليه السلام نه مخکې هم ګڼو پيغمبرانو، لکه ابراهيم او يعقوب عليهما السلام، د هغه په بيا رغونه او ودانولو کې برخه اخيستې وه.

لسم: د مسجد اقصى له ځانگړتياوو څخه دا ده چې هغه د راشد خليفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه په لاس فتح شو، د هغه د خلافت په وخت کې د مسلمانانو لښکر په ١٥ هجري کال، چې له ٦٣٦ ميلادي کال سره يې سمون درلود، د بيت المقدس کلابندي وکړه، د لښکر مشري د رسول الله ﷺ ستر صحابي ابو عبيده عامر بن الجراح رضي الله عنه کوله، له شپږو مياشتو کلابندی وروسته د عيسويانو مشر د دې شرط په بدل کې تسليمی ته حاضر شو چې د مسلمانانو خليفه عمر بن الخطاب رضي الله عنه پخپله راشي.

په ١٦ هجري کال کې خليفه عمر رضي الله عنه بيت المقدس ته سفر وکړ ترڅو د ښار کلي ترلاسه کړي او د اسلامي خاورې برخه يې اعلان کړي، چې همداسې وشول، هغه له هماغه دروازې مسجد اقصى ته داخل شو چې رسول الله ﷺ د اسراء په شپه ترې داخل شوی و، په محراب داود کې يې د جومات تحية المسجد ادا کړه او د سبا ورځې د سهار لمونځ يې له مسلمانانو سره ادا کړ، په لومړي رکعت کې يې د «ص» سورت تلاوت کړ او سجده يې وکړه، او په دويم رکعت کې يې د «بني اسرائيل» سورت ولوست، همدارنگه د عمري ټرون ليکل وشول، چې د شام د عيسويانو لپاره د عمر رضي الله عنه شرطونه پکې بيان شوي وو. په هغه کې هغه حقوق هم ذکر شوي وو چې مسلمانانو به يې هغو عيسويانو ته تضمينول چې غوښتل يې د اسلامي دولت تر سيوري لاندې په فلسطين کې ژوند وکړي. د دغو شرطونو لومړی شرط دا و چې جزيه به ورکوي، او په بدل کې به يې د اسلامي هېواد په دننه کې د اوسېدو، امنيت او عزت حق ترلاسه کوي[1].

اې د الله بندګانو! دا لس ځانگړتياوې دي چې الله تعالى بيت المقدس ته ورکړي دي، او لس ځانگړتياوې يې مسجد اقصى ته ورکړي دي، ترڅو د هغوی مقام لوړ او عظمت يې څرګند کړي، هر مسلمان ته ښايي چې دا وپېژني او خپلو اولادونو ته يې هم ور وښيي، د فلسطين مسئله يوازې مادي يا سياسي مسئله نه ده، بلکې عقيدوي مسئله ده، او په دې برخه کې بې پروايي په دين کې لويه نيمګړتيا ده، ځينو د خيروالا پاچاهانو د هغه د اشغال د ختمولو لپاره ډېرې هڅې کړې دی، په دې عصر کې د دې امت مجوسيانو، يعنې د ايران رافضيانو، هم د اشغال پای ته رسولو په طمعه دي، چې د بيت المقدس د آزادولو شعارونه پورته کوي؛ خو موخه يې دا ده چې مسجد اقصى ته ورسېږي، خپلې شرکي بيرغونه پرې ورپوي او خپل واک وربانديې ټينګ کړي؛ خو د کعبې په رب قسم، هغوی به په دې ارمان کې ناکام او ذليل پاتې شي؛ ځکه فلسطين عمر رضي الله عنه فتح کړی و او بيا صلاح الدين رحمه الله آزاد کړی و، او هغه څوک به يې بيا آزاد نه کړي چې عمر او صلاح الدين ته سپکاوی کوي.

---

(١) انظر «البداية والنهاية»، أحداث سنة ١٥ هـ.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، **اې مؤمنانو، د الله بندگانو! يهود دعوه کوي چې د مسجد اقصى حق يوازې د دوی دی، او دا دعوه په دې استناد کوي چې ګواکې هغه د حضرت سليمان عليه السلام په لاس جوړ شوی دی او دوی د هغه له نسل څخه دي، خو دا خبره له اوو لارو څخه باطله ده:**

اول: سليمان عليه السلام مسجد اقصى له سره نه دی جوړ کړی، بلکې يوازې يې هغه ودانۍ بيا ورغوله او تجديد يې کړه، اصل جوړونه تر سليمان ډېر مخکې شوې وه، ځينې علماء وايي چې دا د آدم عليه السلام له وخت څخه دی، او ځينې نور اقوال هم شته.

دويم: مسجد اقصى د سليمان عليه السلام نه مخکې هم څو پيغمبرانو بيا رغولی دی، لکه ابراهيم او يعقوب عليهما السلام، ترڅو هلته يوازې د توحيد پر بنسټ د الله عبادت وشي، نه دا چې د يهودو ځانګړی عبادتځای شي.

دريم: سليمان عليه السلام يو موحد پيغمبر و، خو يهود د خپلو انبياؤ په لاره ونه دريدل، بلکې له هغوی سره يې دښمني وکړه، تورات او انجيل يې تحريف کړل او کفر ته واوښتل؛ نو يهود د خپلو انبياؤ له لرې څخه د خپل کفر له امله جلا شول، لکه څنګه چې د نوح عليه السلام زوی له هغه جلا شو، د ابراهيم عليه السلام پلار آزر ترې جلا شو، او د محمد ﷺ تره ابو لهب ترې جلا شو، کفر د مؤمن او کافر تر منځ د ولايت اړيکه پرې کوي، له همدې امله هغه فضيلتونه چې د بني اسرائيلو لپاره وو، د يهودو لپاره پاتې نه شول، ځکه کفر هغوی له هغې برخې محروم کړل.

ځلورم: دا چې سليمان عليه السلام مسجد اقصى بيا جوړ کړ، دا هېڅکله دا معنا نه لري چې هغه د نسب له مخې د دوی ملکيت شو، هغه يوازې د عبادت لپاره ودان کړی و، او د دې لپاره نه چې د نژاد يا قوم په اساس دې څوک د هغه مالک شي، د انبياوو دعوت د نژاد پر بنسټ نه دی، بلکې د توحيد او تقوا پر بنسټ دی، د تحريف شوي يهودي دين په خلاف.

کله چې عمر رضي الله عنه بيت المقدس فتح کړ، هغه يو داسې ترون او صلح وکړه چې تر ننه پورې قائم دی، مسلمانانو هغه نه دی مات کړی او نه به يې مات کړي، د دې له مخې فلسطين د مسلمانانو تر واک لاندې دی، او سياسي او حکومتي واک يې د مسلمانانو سره دی، يهود يوازې د اوسېدو حق لري، او د جزيې په بدل کې د اسلامي واک تر سيوري لاندې ژوند کوي.

شپږم: الله تعالى په خپل کتاب کې فيصله کړې ده چې ځمکه د هغه ده او هغه يې خپلو صالحو بندګانو ته ورکوي:

﴿ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴾

او يقيناً يقيناً مونږ په زبور کې له نصيحت نه پس دا ليکلي وو چې بېشکه دغه ځمکه، د دې به زما صالح (باصلاحيته) بنده ګان وارثان کېږي

او معلومه خبره ده چې حقيقي صالحان يوازې هغه دي چې د اسلام دين تعقيبوي، يهود د پيغمبرانو دښمنان او د انبياوو قاتلان دي.

ابن عثيمين رحمه الله ويلي دي (لنډيز يې دا دی): بني اسرائيل د مقدسې ځمکې حقدار وو، دا د هغوی لپاره ليکل شوې وه، ترڅو چې هغوی مومنان وو، له دې امله نه چې هغوی بنی اسرائيل دی، بلکې دا د دې امله چې هغوی مومنان وو، هغوی د موسی عليه السلام په زمانه کې د ځمکې غوره خلک وو، الله فرمايلي دي:

﴿ وَلَقَدْ كَتَبْنَا فِي الزَّبُورِ مِنْ بَعْدِ الذِّكْرِ أَنَّ الْأَرْضَ يَرِثُهَا عِبَادِيَ الصَّالِحُونَ ﴾

او يقيناً يقيناً مونږ په زبور کې له نصيحت نه پس دا ليکلي وو چې بېشکه دغه ځمکه، د دې به زما صالح (باصلاحيته) بنده ګان وارثان کېږي

لکه څنګه چې الله تعالى بنی اسرائيلو ته د فرعون ښار او ځمکې د ميراث د ورکولو ذکر کړی، همدارنګه مسلمانان او هغه خلک چې په محمد ﷺ ايمان لری، دا به د بنی اسرائيلو وارثان وي[1].

اوم: د مساجدو عمومي سرپرستي او په ځانګړي ډول د دريو سپېڅلو جوماتونو واک يوازې د مؤمنانو حق دی، نه د کافرانو، الله فرمايلي دي:

﴿مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِينَ أَنْ يَعْمُرُوا مَسَاجِدَ اللَّهِ شَاهِدِينَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ أُولَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ وَفِي النَّارِ هُمْ خَالِدُونَ ﴿١٧﴾ إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ وَلَمْ يَخْشَ إِلَّا اللَّهَ﴾

د مشرکانو لپاره دا حق نشته چې د الله جوماتونه اباد کړي، په داسي حال کې چې په خپلو ځانونو باندې د کفر ګواهي کوونکي دي، دغه خلق (چې دي) د دوی عملونه ضايع شوي دي او دوی به په اور کې تل ترتله وي، د الله جوماتونه خو يواځې هغه څوک ابادوي چې په الله او د اخرت په ورځ يې ايمان راوړی وي او لمونځ قايموي او زکات ورکوي او نه وېرېږي غير له الله نه، نو امېد دی چې دغه کسان به له هدايت موندونکو ځنې وي.

اې د الله بندګانو! الله پاک د نصرت او بريا ژمنه کړې د هغه چا سره چې سر يې الله ته سجده وي، زړه کې يې توحيد وی، لاسونه يې په اودس کولو سره پاک وي، او په ژبه ريښتنی وي، الله پاک په خپله وعده کې صادق دی، او د خپلې وعدې خلاف نه کوي، الله فرمايلی دی:

---

(١) انظر كلامه رحمه الله في «تفسير سورة المائدة»، تفسير قوله تعالى (يا قوم ادخلوا الأرض المقدسة التي كتب الله لكم).

﴿وَعَدَ اللَّه الّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنّ لَهُمْ دِينَهُمُ الّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

الله وعده کړې د هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی دی، چې تاسو یئ او نېك عملونه یې کړي دي، چې خامخا هرومرو به دوی ته په ځمکه کې خلافت ورکوي لکه چې هغو کسانو ته یې خلافت ورکړی و چې له دوی نه مخکې وو او خامخا ضرور به دوی ته د دوی هغه دین ثابت (او قوي) وګرځوي چې هغه (الله) د دوی لپاره غوره کړی دی او خامخا ضرور به دوی ته د دوی له وېرې نه پس امن په بدل کې ورکړي، چې دوی به زما عبادت کوي او زما سره به هېڅ شی نه شریکوي، او هر څوك چې د دغو (انعامونو) نه بعد کافر شو، نو همدغه کسان فاسقان دي

پوه شئ چې الله سبحانه وتعالی تاسو ته په یو ستر کار امر کړی دی:

﴿إِنّ اللَّه وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النّبِيّ يَا أَيُّهَا الّذِينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيْهِ وَسَلِّمُوا تَسْلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل

نو اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له صحابه‌وو، خلفاوو، امامانو او نېکو تابعینو څخه راضي شه، او له هغو ټولو څخه هم راضي شه چې تر قیامته پورې په نېکي کې د هغوی پیروي کوي.

اې الله! اسلام او مسلمانان عزتمند کړه، شرک او مشرکان ذلیل کړه، د خپلو دښمنانو او د دین دښمنانو هلاکت راوړه، او خپل موحد بندګان کامیاب کړه.

اې الله! زمونږ په وطنونو کې مونږ ته امن راکړه، زمونږ مشران او د چارو واکداران اصلاح کړه، او هغوی هدایت‌یافته او هدایت کوونکي وګرځوه.

اې الله! د ټولو مسلمانانو واکمنان د دې توفیق ورکړه چې ستا کتاب نافذ کړي، ستا دین ته عزت ورکړي، او هغوی د خپلو رعیتونو لپاره رحمت وګرځوه.

اې الله! بېشکه یهودو ظلم او سرکشي کړې ده، او په ځمکه کې یې فساد زیات کړی دی. هغوی پیغمبران وژلي، د نېکو خلکو وینې یې تویې کړي، ښارونه یې نیولي او مالونه یې لوټ کړي دي؛ نو اې الله! پر هغوی عذاب، وبا او بلا مسلط کړه، د هغوی په زړونو کې وېره او وحشت واچوه، مونږ تا ته شکایت کوو، یوازې پر تا توکل کوو، او ستا پرته نه هېڅ قوت شته او نه طاقت.

اې الله! مسجد اقصی لوړ، عزتمند او محفوظ وساته، او له یهودو د هغه د سپکاوي او ناپاکۍ څخه یې وساته.

سبحان ربنا رب العزة عما یصفون، وسلام علی المرسلین، والحمدلله رب العالمین.

د خطبې موضوع: په ځمکه کې له فساد کولو څخه منع

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ریښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کې مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان یاست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د یو نفس نه پیدا کړي یئ او له هغه یې د هغه جوړه پیدا کړې ده، له دغو دواړو نه یې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له یو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ریښتیا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، یقینا هغه په لوی بریالیتوب سره کامیاب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طریقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دین کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په زړه کې وساتئ، د الله اطاعت وکړئ او نافرماني یې مه کوئ، او پوه شئ چې الله تعالی د اصلاح امر کړی او له فساد څخه یې منع کړې ده. شعیب علیه السلام خپل قوم ته وویل:

﴿إِنْ أُرِيدُ إِلَّا الْإِصْلَاحَ مَا اسْتَطَعْتُ وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

زه یواځې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس وي او زما توفیق یواځې دالله په مدد سره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هغه ته رجوع کوم.

او الله تعالی اصلاح کوونکو ته د ستر اجر وعده ورکړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ﴾

او هغه کسان چې کتاب سره ټینګ نیسي او لمونځ قایموي، بېشکه مونږ د نېکي کوونکو اجر نه ضایع کوو

همدارنګه الله تعالی وعده کړې چې هغه کلی او ښار به نه هلاکوي چې اوسېدونکي یې اصلاح او د الله د حکمونو پابند وي:

﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴾

او ستا رب له سره داسې نه دی چې کلي په ظلم سره (ناحقه) هلاك کړي، په دې حال کې چې د هغو اوسېدونکي اصلاح کوونکي (مومنان) وي

اې مسلمانانو! د اصلاح ضد فساد دی. الله تعالی له فساد او فساد کوونکو څخه کرکه کړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾

او الله وراني کوونکي نه خوښوي

او له فساد څخه یې منع کړې ده:

﴿وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾

او په ځمکه کې له حده مه تېریږئ، چې ورانی کوونکي اوسئ

او فساد کوونکو ته یې د سخت انجام خبرداری ورکړی دی:

﴿فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ﴾

نو ته وګوره د ورانکارو انجام څنګه شو؟

او الله تعالی ډېر فاسد قومونه هلاک کړي دي، د فرعون په اړه یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ﴾

بېشکه فرعون په ځمکه کې لویي راخیستې وه او د دې اوسېدونکي یې ډلې ډلې کړي وو، په دوی کې یې یوه ډله ډېره ضعیفه کوله، د دوی زامن به یې حلالول او د دوی ښځې به یې ژوندۍ پرېښودلې، بېشکه هغه له فساد کوونکو ځنې و.

الله تعالى منافقان هم فساد كوونكي بللي دي، او څرگنده كړې يې ده چې هغوى خپل فساد ته د اصلاح نوم وركوي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ۝ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ﴾

او كله چې دوى ته وويل شي چې په ځمكه كې فساد مه كوئ، دوى وايي: يقيناً همدا خبره ده چې مونږ بس اصلاح كوونكي يو، خبردار! بېشكه همدوى فساد كوونكي دي، او لېكن دوى شعور نه لري.

او الله تعالى د اصلاح كوونكو او فساد كوونكو ترمنځ څرگند توپير كړى دى:

﴿أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾

ايا مونږ به هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، په ځمكه كې د فساد كوونكو په شان وگرځوو؟ ايا مونږ به متقيان د فاجرانو (بدكارانو) په شان وگرځوو؟

اې مؤمنانو! فساد د عقيدې، عبادت، اخلاقو او معاملو په ټولو برخو كې راځي.

په عقيده كې د فساد له ډولونو څخه دا ده چې له الله پرته په بل چا پورې زړه تړل، په غير الله قسم خوړل، او د الله د شريعت پر ځاى نورو قوانينو ته رجوع كول.

په عبادت كې د فساد له ډولونو څخه دا ده چې د سهار لمونځ په قصدي ډول د لمر له راختلو وروسته كول، او الله ته د بدعتونو او نوو رامنځته شويو كارونو په وسيله ځان نږدې كول، لكه د ميلاد نمانځل.

په اخلاقياتو كې د فساد له ډولونوڅخه دا ده چې بې پردگي، د كار په ځايونو كې د نارينه‌وو او ښځو اختلاط، د ژبې په آفتونو اخته كېدل، او د موسيقۍ او سندرو اورېدل شامل دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زما په امت كې به داسې خلك پيدا شي چې زنا، وريښم، شراب او د موسيقۍ آلات به حلال گڼي[1].

په معاملاتو كې د فساد له ډولونو څخه يو هم د سود معامله ده. الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو سود مه خورئ چې څو چنده دوه گونه كړى شوى وي او له الله نه وېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو كامياب شئ

او رسول الله ﷺ د سود خوړونكي باندې لعنت ويلى دى: الله تعالى د سود خور، سود وركوونكي، د سود ليكونكي او د هغه پر شاهدانو لعنت كړى دى. او بيا يې وفرمايل: دوى ټول په لعنت كې يو

(١) رواه البخاري (٥٥٩٠) من حديث أبي مالك الأشعري رضي الله عنه.

شان دي؛ ځکه چې ټول د دې ګناه په ترسره کولو کې یو له بل سره مرسته کوي. او «مُوکِل» هغه څوک دی چې سود ورکوي.

په معاملاتو کې له فساد له ډولونو چې ډېر خپور دی، هغه د رشوت تعامل دی، د رشوت بڼه دا ده چې یو کس بل کس ته مال ورکړي ترڅو هغه څه ترلاسه کړي چې حق یې نه وي، یا پر خپلې ذمه لازم حق ساقط کړي.

د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی: رسول الله ﷺ پر رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي لعنت ویلی دی[1].

راشي هغه څوک دی چې رشوت ورکوي، او مرتشي هغه څوک دی چې رشوت اخلي.

په احادیثو کې رشوت ته د «غلول» نوم هم ورکړل شوی دی، عبدالله بن بریده رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه څوک چې موږ په یوه دنده وګومارو او د هغې په بدل کې معاش ورکړو، نو له هغه وروسته چې هر څه واخلي، هغه خیانت او غلول دي[2].

د حدیث معنا دا ده: څوک چې په یوه دنده مقرر شي او د هغې په بدل کې معاش اخلي؛ نو د هغه لپاره روا نه ده چې د خپلې دندې له امله له چا څخه اضافي مال یا ډالۍ واخلي، که یې واخلي؛ نو دا غلول او خیانت دی، غلول د غنیمت په مال او د مسلمانانو د بیت المال په شتمنۍ کې خیانت ته ویل کېږي.

دا حدیث په دې خبره دلیل دی چې هر دولتي یا خصوصي کارکوونکی چې له خپلې اداري څخه معاش اخلي، د ورکړل شوې دندې له امله د چا مال یا ډالۍ نه شي منلی، که یې ومنله؛ نو دا غلول او خیانت دی.

باید دې خبرې ته هم پام وشي چې د رشوت نوم بدلول د هغه حقیقت نه بدلوي، که څوک رشوت واخلي او ورته د ډالۍ، تحفې یا انعام نوم ورکړي، بیا هم په حقیقت کې رشوت اخیستونکی دی؛ ځکه اعتبار حقایقو له دی، بلکې نومونو او اصطلاحاتو له اعتبار نه شته.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

(١) رواه أحمد (٦٥٣٢) وغيره من حديث عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما، وقوّى سنده محققو «المسند».

(٢) رواه أبو داود (٢٩٤٣) من حديث بريدة بن الحصيب رضي الله عنه، وصححه الألباني في «صحيح أبي داود».

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، رسول الله ﷺ يو سړی چې ابن اللُّتبيه نومېده، د بني سليم له قبيلې څخه د زکات د راټولولو لپاره وګومارە، کله چې هغه له خپلې دندې فارغ شو، بيرته راوګرځيد؛ نو ويې ويل: اې د الله رسوله! دا مال ستاسو لپاره دی، او دا نور ماته د ډالۍ په توګه راکړل شوي دي. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ولې دې د خپل پلار او مور په کور نه کښېناستې، ترڅو دې ليدلې دې وای چې آيا خلک درته ډالۍ درکوي او کنه؟

بيا رسول الله ﷺ له مازديگر لمانځه وروسته ودرېد، تشهد يې ووايه، د الله تعالى ستاينه يې وکړه لکه څنګه چې د هغه له شان سره ښايي، او بيا يې وفرمايل: اما بعد! څه حال دی د هغه مامور چې مورِ يې په يوه دنده ګومارو، بيا راځي او وايي: دا ستاسو مال دی او دا ماته ډالۍ راکړل شوې ده؟ ولې هغه د خپل پلار او مور په کور کې نه کښېناستو، ترڅو وګوري چې خلک ورته ډالۍ ورکوي که نه؟ قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح يې په لاس کې دی! له تاسو څخه چې هر څوک له دې مالونو څخه په ناحقه څه واخلي، د قيامت په ورځ به يې پر خپلې غاړې بار راوړي، که اوښ وي، نو د اوښ غږ به کوي؛ که غوا وي، نو د غوا غږ به کوي؛ او که پسه وي، نو د پسه غږ به کوي. ما خپل پيغام در ورساوه.

ابو حميد رضي الله عنه وايي: بيا رسول الله ﷺ خپل لاسونه دومره پورته کړل چې مورِ يې د تخرګونو سپينوالی ليدلای شو[1].

ې د الله بندګانو! پر غوره مخلوق، د بشريت تر ټولو پاک انسان، محمد بن عبدالله ﷺ درود او سلام ووايئ؛ کوم چې د حوض کوثر څښتن او د شفاعت خاوند دی، ځکه الله تعالى تاسو ته د دې امر کړی دی:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

ای الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود، سلام، برکت او زيات فضل نازل کړه؛ کوم چې د روښانه مخ او د ځلانده تندي څښتن دی.

اې الله! د څلورو خلفاوو؛ ابو بکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم څخه راضي شه، او د هغه د ټولو صحابه‌وو، تابعينو او هغو کسانو څخه هم راضي شه چې تر قيامته يې په نيکۍ کې تابعداري کوي، او مورِ هم د هغوی سره د خپل عفوې، فضل، کرم او احسان په سيوري کې شامل کړه، اې ډير رحم کوونکيه ذاته!

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، او شرک او مشرکان ذليل او مات کړه.

---

(١) رواه البخاري (٦٦٣٦) من حديث أبي حميد الساعدي رضي الله عنه.

اې الله! د خپل دين، خپل کتاب، د خپل پيغمبر د سنتو او د خپلو مؤمنو بندګانو مرسته وکړه.
اې الله! د مسلمانانو غمونه لرې کړه، د ځپل شوو ستونزې آسانې کړه، د پوروړو پورونه ادا کړه، او په خپل رحمت سره زموږ ناروغان او د ټولو مسلمانانو ناروغان روغ کړه، اې مهربانه ذاته!
اې الله! زموږ نفسونو کې تقوى راولې، پاک يې کړه؛ ځکه ته تر ټولو غوره پاکوونکى يې، ته يې ساتونکى او مالک يې.
اې الله! زموږ په وطنونو کې امن او ډاډ راولې، زموږ مشران او د چارو واکداران اصلاح کړه، او زموږ واکمني د هغو کسانو په لاس کې ورکړه چې له تا وېرېږي، او ستا رضا تعقيبوي، اې د مخلوقاتو ربه!
اې الله! د ټولو مسلمانانو واکمنانو ته توفيق ورکړه چې ستا کتاب نافذ کړي، ستا دين ته عزت ورکړي، او هغوى د خپلو رعيتونو لپاره رحمت وګرځوه.

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

وصلى الله على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه وسلم تسلميا كثيرا

په ځمکه کې له فساد څخه منع

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کې مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوۍ له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په زړه کې وساتئ، د الله اطاعت وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او پوه شئ چې الله تعالی د اصلاح امر کړی او له فساد څخه يې منع کړې ده. شعيب عليه السلام خپل قوم ته وويل:

﴿إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَـٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا تَوۡفِيقِىٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ﴾

زه یواځې اصلاح کول غواړم، څومره چې زما وس وي او زما توفیق یواځې دالله په مدد سره دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او خاص هغه ته رجوع کوم.

او الله تعالی اصلاح کوونکو ته د ستر اجر وعده ورکړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿وَالَّذِينَ يُمَسِّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ إِنَّا لَا نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ﴾

او هغه کسان چې کتاب سره ټینګ نیسي او لمونځ قایموي، بېشکه مونږ د نېکي کوونکو اجر نه ضایع کوو

همدارنګه الله تعالی وعده کړې چې هغه کلی او ښار به نه هلاکوي چې اوسېدونکي یې اصلاح او د الله د حکمونو پابند وي:

﴿وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهْلِكَ الْقُرَىٰ بِظُلْمٍ وَأَهْلُهَا مُصْلِحُونَ﴾

او ستا رب له سره داسې نه دی چې کلي په ظلم سره (ناحقه) هلاك کړي، په دې حال کې چې د هغو اوسېدونکي اصلاح کوونکي (مومنان) وي

اې مسلمانانو! د اصلاح ضد فساد دی. الله تعالی له فساد او فساد کوونکو څخه کرکه کړې ده او فرمایلي یې دي:

﴿وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾

او الله وراني کوونکي نه خوښوي

او له فساد څخه یې منع کړې ده:

﴿وَلَا تَعْثَوْا فِي الْأَرْضِ مُفْسِدِينَ﴾

او په ځمکه کې له حده مه تېریږئ، چې ورانی کوونکي اوسئ

او فساد کوونکو ته یې د سخت انجام خبرداری ورکړی دی:

﴿فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ﴾

نو ته وګوره د ورانکارو انجام څنګه شو؟

او الله تعالی ډېر فاسد قومونه هلاک کړي دي، د فرعون په اړه یې فرمایلي دي:

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ ۚ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ﴾

بېشکه فرعون په ځمکه کې لویي راخیستې وه او د دې اوسېدونکي یې ډلې ډلې کړي وو، په دوی کې یې یوه ډله ډېره ضعیفه کوله، د دوی زامن به یې حلالول او د دوی ښځې به یې ژوندۍ پرېښودلې، بېشکه هغه له فساد کوونکو ځنې و.

الله تعالى منافقان هم فساد كوونكي بللي دي، او څرگنده كړې يې ده چې هغوى خپل فساد ته د اصلاح نوم وركوي:

﴿وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ قَالُوا إِنَّمَا نَحْنُ مُصْلِحُونَ ۝ أَلَا إِنَّهُمْ هُمُ الْمُفْسِدُونَ وَلَٰكِن لَّا يَشْعُرُونَ﴾

او كله چې دوى ته وويل شي چې په ځمكه كې فساد مه كوئ، دوى وايي: يقيناً همدا خبره ده چې مونږ بس اصلاح كوونكي يو، خبردار! بېشكه همدوى فساد كوونكي دي، او لېكن دوى شعور نه لري.

او الله تعالى د اصلاح كوونكو او فساد كوونكو ترمنځ څرگند توپير كړى دى:

﴿أَمْ نَجْعَلُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ كَالْمُفْسِدِينَ فِي الْأَرْضِ أَمْ نَجْعَلُ الْمُتَّقِينَ كَالْفُجَّارِ﴾

ايا مونږ به هغه كسان چې ايمان يې راوړى دى او نېك عملونه يې كړي دي، په ځمكه كې د فساد كوونكو په شان وگرځوو؟ ايا مونږ به متقيان د فاجرانو (بدكارانو) په شان وگرځوو؟

اې مؤمنانو! فساد د عقيدې، عبادت، اخلاقو او معاملو په ټولو برخو كې راځي.

په عقيده كې د فساد له ډولونو څخه دا ده چې له الله پرته په بل چا پورې زړه تړل، په غير الله قسم خوړل، او د الله د شريعت پر ځاى نورو قوانينو ته رجوع كول.

په عبادت كې د فساد له ډولونو څخه دا ده چې د سهار لمونځ په قصدي ډول د لمر له راختلو وروسته كول، او الله ته د بدعتونو او نوو رامنځته شويو كارونو په وسيله ځان نږدې كول، لكه د ميلاد نمانځل.

په اخلاقياتو كې د فساد له ډولونوڅخه دا ده چې بې پردگي، د كار په ځايونو كې د نارينه‌وو او ښځو اختلاط، د ژبې په آفتونو اخته كېدل، او د موسيقۍ او سندرو اورېدل شامل دي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي: زما په امت كې به داسې خلك پيدا شي چې زنا، وريښم، شراب او د موسيقۍ آلات به حلال گڼي[1].

په معاملاتو كې د فساد له ډولونو څخه يو هم د سود معامله ده. الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا الرِّبَا أَضْعَافًا مُّضَاعَفَةً وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾

اى هغو كسانو چې ايمان يې راوړى دى! تاسو سود مه خورئ چې څو چنده دوه گونه كړى شوى وي او له الله نه وېرېږئ، د دې لپاره چې تاسو كامياب شئ

او رسول الله ﷺ د سود خوړونكي باندې لعنت ويلى دى: الله تعالى د سود خور، سود وركوونكي، د سود ليكونكي او د هغه پر شاهدانو لعنت كړى دى. او بيا يې وفرمايل: دوى ټول په لعنت كې يو

(١) رواه البخاري (٥٥٩٠) من حديث أبي مالك الأشعري رضي الله عنه.

شان دي؛ ځکه چې ټول د دې ګناه په ترسره کولو کې یو له بل سره مرسته کوي. او «مُوکِل» هغه څوک دی چې سود ورکوي.

په معاملاتو کې له فساد له ډولونو چې ډېر خپور دی، هغه د رشوت تعامل دی، د رشوت بڼه دا ده چې یو کس بل کس ته مال ورکړي ترڅو هغه څه ترلاسه کړي چې حق یې نه وي، یا پر خپلې ذمه لازم حق ساقط کړي.

د عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما څخه روایت دی: رسول الله ﷺ پر رشوت ورکوونکي او رشوت اخیستونکي لعنت ویلی دی[1].

راشي هغه څوک دی چې رشوت ورکوي، او مرتشي هغه څوک دی چې رشوت اخلي.

په احادیثو کې رشوت ته د «غلول» نوم هم ورکړل شوی دی، عبدالله بن بریده رضی الله عنه د خپل پلار څخه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هر هغه څوک چې موږ په یوه دنده وګومارو او د هغې په بدل کې معاش ورکړو، نو له هغه وروسته چې هر څه واخلي، هغه خیانت او غلول دي[2].

د حدیث معنا دا ده: څوک چې په یوه دنده مقرر شي او د هغې په بدل کې معاش اخلي؛ نو د هغه لپاره روا نه ده چې د خپلې دندې له امله له چا څخه اضافي مال یا ډالۍ واخلي، که یې واخلي؛ نو دا غلول او خیانت دی، غلول د غنیمت په مال او د مسلمانانو د بیت المال په شتمنۍ کې خیانت ته ویل کېږي.

دا حدیث په دې خبره دلیل دی چې هر دولتي یا خصوصي کارکوونکی چې له خپلې اداري څخه معاش اخلي، د ورکړل شوې دندې له امله د چا مال یا ډالۍ نه شي منلی، که یې ومنله؛ نو دا غلول او خیانت دی.

باید دې خبرې ته هم پام وشي چې د رشوت نوم بدلول د هغه حقیقت نه بدلوي، که څوک رشوت واخلي او ورته د ډالۍ، تحفې یا انعام نوم ورکړي، بیا هم په حقیقت کې رشوت اخیستونکی دی؛ ځکه اعتبار حقایقو له دی، بلکې نومونو او اصطلاحاتو له اعتبار نه شته.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دویمه خطبه

(١) رواه أحمد (٦٥٣٢) وغيره من حديث عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما، وقوّى سنده محققو «المسند».

(٢) رواه أبو داود (٢٩٤٣) من حديث بريدة بن الحصيب رضي الله عنه، وصححه الألباني في «صحيح أبي داود».

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، رسول الله ﷺ يو سړی چې ابن اللُّتبيه نومېده، د بني سليم له قبيلې څخه د زکات د راټولولو لپاره وګومارە، کله چې هغه له خپلې دندې فارغ شو، بيرته راوګرځيد؛ نو ويې ويل: اې د الله رسوله! دا مال ستاسو لپاره دی، او دا نور ماته د ډالۍ په توګه راکړل شوي دي. نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: ولې دې د خپل پلار او مور په کور نه کښېناستې، ترڅو دې ليدلې دې وای چې آيا خلک درته ډالۍ درکوي او کنه؟

بيا رسول الله ﷺ له مازديگر لمانځه وروسته ودرېد، تشهد يې ووايه، د الله تعالى ستاينه يې وکړه لکه څنګه چې د هغه له شان سره ښايي، او بيا يې وفرمايل: اما بعد! څه حال دی د هغه مامور چې مورږ يې په يوه دنده ګومارو، بيا راځي او وايي: دا ستاسو مال دی او دا ماته ډالۍ راکړل شوې ده؟ ولې هغه د خپل پلار او مور په کور کې نه کښېناستو، ترڅو وګوري چې خلک ورته ډالۍ ورکوي که نه؟ قسم په هغه ذات چې د محمد ﷺ روح يې په لاس کې دی! له تاسو څخه چې هر څوک له دې مالونو څخه په ناحقه څه واخلي، د قيامت په ورځ به يې پر خپلې غاړې بار راوړي، که اوښ وي، نو د اوښ غږ به کوي؛ که غوا وي، نو د غوا غږ به کوي؛ او که پسه وي، نو د پسه غږ به کوي. ما خپل پيغام در ورساوه.

ابو حميد رضي الله عنه وايي: بيا رسول الله ﷺ خپل لاسونه دومره پورته کړل چې مورږ يې د تخرګونو سپينوالی ليدلای شو[1].

ې د الله بندګانو! پر غوره مخلوق، د بشريت تر ټولو پاک انسان، محمد بن عبدالله ﷺ درود او سلام ووايئ؛ کوم چې د حوض کوثر څښتن او د شفاعت خاوند دی، ځکه الله تعالى تاسو ته د دې امر کړی دی:

﴿ إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾

بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي ـ، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وايئ او سلام وايئ، سلام ويل.

ای الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود، سلام، برکت او زيات فضل نازل کړه؛ کوم چې د روښانه مخ او د ځلانده تندي څښتن دی.

اې الله! د څلورو خلفاوو؛ ابو بکر، عمر، عثمان او علي رضي الله عنهم څخه راضي شه، او د هغه د ټولو صحابه‌وو، تابعينو او هغو کسانو څخه هم راضي شه چې تر قيامته يې په نيکۍ کې تابعداري کوي، او مورږ هم د هغوی سره د خپل عفوې، فضل، کرم او احسان په سيوري کې شامل کړه، اې ډير رحم کوونکيه ذاته!

اې الله! اسلام او مسلمانانو ته عزت ورکړه، او شرک او مشرکان ذليل او مات کړه.

---

(١) رواه البخاري (٦٦٣٦) من حديث أبي حميد الساعدي رضي الله عنه.

اې الله! د خپل دين، خپل کتاب، د خپل پيغمبر د سنتو او د خپلو مؤمنو بندګانو مرسته وکړه.
اې الله! د مسلمانانو غمونه لرې کړه، د ځپل شوو ستونزې آسانې کړه، د پوروړو پورونه ادا کړه، او په خپل رحمت سره زمونږ ناروغان او د ټولو مسلمانانو ناروغان روغ کړه، اې مهربانه ذاته!
اې الله! زمونږ نفسونو کې تقوى راولې، پاک يې کړه؛ ځکه ته تر ټولو غوره پاکوونکى يې، ته يې ساتونکى او مالک يې.
اې الله! زمونږ په وطنونو کې امن او ډاډ راولې، زمونږ مشران او د چارو واکداران اصلاح کړه، او زمونږ واکمني د هغو کسانو په لاس کې ورکړه چې له تا وېرېږي، او ستا رضا تعقيبوي، اې د مخلوقاتو ربه!
اې الله! د ټولو مسلمانانو واکمنانو ته توفيق ورکړه چې ستا کتاب نافذ کړي، ستا دين ته عزت ورکړي، او هغوى د خپلو رعيتونو لپاره رحمت وګرځوه.

﴿رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ﴾

وصلى الله على نبينا محمد، وعلى آله وصحبه وسلم تسلميا كثيرا

کورونا - رنځ او علاج

إن الحمدلله، نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لاشريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِۦ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسۡلِمُونَ﴾

اې مومنانو! له الله څخه په ريښتني ډول و وېرېږئ، ځانونه په داسي حالت کي مرګ ته وسپارئ، چې تاسي مسلمانان ياست.

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّاسُ ٱتَّقُواْ رَبَّكُمُ ٱلَّذِى خَلَقَكُم مِّن نَّفۡسٍ وَٰحِدَةٍ وَخَلَقَ مِنۡهَا زَوۡجَهَا وَبَثَّ مِنۡهُمَا رِجَالٗا كَثِيرٗا وَنِسَآءٗۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِى تَسَآءَلُونَ بِهِۦ وَٱلۡأَرۡحَامَۚ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلَيۡكُمۡ رَقِيبٗا ﴾

ای خلکو! له خپل رب نه ووېرېږئ کوم چې تاسي د يو نفس نه پيدا کړي يئ او له هغه يې د هغه جوړه پيدا کړې ده، له دغو دواړو نه يې په ځمکه کې ډېر سړي او ښځې خپاره کړل، الله څخه ووېرېږئ چې تاسو له يو بل نه د هغه په نامه سره سوال کوئ او د خپلوی له پرېکولو نه ووېرېږئ، بېشکه الله ستاسو ښه ساتونکی دی.

﴿ يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَقُولُواْ قَوۡلٗا سَدِيدٗا ٧٠ يُصۡلِحۡ لَكُمۡ أَعۡمَـٰلَكُمۡ وَيَغۡفِرۡ لَكُمۡ ذُنُوبَكُمۡۗ وَمَن يُطِعِ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥ فَقَدۡ فَازَ فَوۡزًا عَظِيمًا ﴾

اې مومنانو! له الله څخه و وېرېږئ، پخه، محکمه او ريښتيا خبره کوئ، هغه به ستاسي کارونه سم کړي، ګناهونه به مو در وبخښي، او چا چې د الله او د هغه د رسول اطاعت وکړو، يقينا هغه په لوی بريالیتوب سره کامياب شو.

أما بعد:

تر ټولو غوره خبره د الله کتاب، او تر ټولو ښه طريقه د رسول الله ﷺ سنت دی، او تر ټولو بد او ناوړه عملونه په دين کې نوي او له ځانه جوړ شوی کارونه دي، هر بدعت ګمراهی ده، او هره ګمراهي څوک د دوزخ اور ته ننباسي.

اې مسلمانانو! له الله تعالی څخه ووېرېږئ، په هر کار کې د هغه څارنه او مراقبت په زړه کې وساتئ، د الله اطاعت وکړئ او نافرماني يې مه کوئ، او پوه شئ چې الله انسان ته کوم خير او شر، خوشالي او تکليف مقدر کړی وي؛ هغه د حکمت څخه خالی نه وي، له دغو حکمتونو څخه يو دا دی چې د الله په اطاعت، او د ګناه په پرېښودلو کې د انسان د صبر امتحان اخلي، او همدارنګه يې

صبر امتحانوی چې کله ورباندې کمی راولي که هغه په نفسونو کې وي، میوو کې وي، او یا مالونو کې وي، الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَنَبْلُوكُمْ بِالشَّرِّ وَالْخَيْرِ فِتْنَةً وَإِلَيْنَا تُرْجَعُونَ﴾

هر یو نفس د مرګ (مزه) څکونکی دی، او مونږ تاسو په شر او خیر سره ازمایو، ازمایل، او تاسو به خاص مونږ ته راوستلی شئ

یعنې مونږ تاسو د شتمنۍ او بېوزلۍ، عزت او ذلت، ژوند او مرګ، روغتیا او ناروغۍ، وبا او عافیت په وسیله ازمایو، ترڅو څرګنده شي چې څوک غوره عمل کوي، توبه وباسي او الله ته رجوع کوي، او څوک په خپلو ګناهونو ټینګ پاتې کېږي او د الله له مقصد څخه غافله دي.

اې مؤمنانو! ښکاره ده چې د دې زمانې له سترو آفتونو څخه یو هم د کورونا وبا وه، دا هغه وبا وه چې د خلکو ډېر کارونه یې وځنډول، د ډېرو خلکو مړینو سبب شوه او مالي او بشري زیانونه یې رامنځته کړل؛ نو هر هوښیار مسلمان ته ښایي چې له دې پېښې عبرت واخلي، د دې وبا راتګ هېڅکله بې‌حکمته او بې‌موخې نه و، بلکې الله تعالی دا د یوه ستر حکمت لپاره مقدره کړې وه، د کوم حکمت یادونه چې په قرآن کریم کې څو ځله شوی دی، چې هغه په ګناهونو او نافرمانیو کې د خلکو ډوبېدل دي.

الله تعالی انسانانو ته د خپلو اعمالو یوه نمونه سزا په همدې دنیا کې ور وڅکله، چې د هغه اعمالو څخه راوګرځي چې د فساد سبب شوي وي، او خپل حالت سم او کارونه برابر کړي، الله پاک فرمایلي دي:

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾

په وچه او لونده (بر او بحر) کې فساد خور شو، په سبب د هغو (عملونو) چې د خلقو لاسونو کړي دي، د دې لپاره چې هغه (الله) په دوی ځینې برخه (د سزا) د هغو عملونو وڅکوي چې دوی کړي دي، د دې لپاره چې دوی راواپس شي.

﴿وَمَا أَصَابَكُمْ مِنْ مُصِيبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ أَيْدِيكُمْ وَيَعْفُو عَنْ كَثِيرٍ﴾

او تاسو ته چې څه مصیبت هم رسي، نو په سبب د هغو کارونو چې ستاسو لاسونو کړي دي ـ او ډېر (ګناهونه) معاف کوي

نو د دې عمومي آفت راتګ د همدې فسق او نافرمانۍ له امله و، څرنګه چې دا خبره په چا پټه نه ده، بلکې ټولو ته ښکاره ده، د رسنیو فساد پراخه شوی دی، آن د رمضان په میاشت کې د سندور، ډمګرۍ په دین او دیندارو پسې د ملنډو اوازونه پورته کېږي، سودي تعامل د خلکو په مینځ کې

عادی کار گرځېدلې څوک ورته د فساد په نظر نه گورې، په بازارونو او کاري ځایونو کې بې‌پردگي، د نارینوو او ښځو اختلاط او په ښځو کې د حجاب بې پروایي په عروج ده، او همدارنگه د تنگو او سینگار شوو عبایو اغوستل چې خلک په فتنه کې اخته کوي؛ عام شوي دي. همدارنگه د لمانځه څخه غفلت، له جوماتونو لرېوالی او په پېر او پلور کې دومره بوختېدل چې لمونځونه پاتې شي، دا داسې موضوع ده چې بیان یې پای نه لري؛ نو له دې ټولو وروسته، آیا د عمومي آفت راتگ د تعجب خبره ده؟

اې د الله بندگانو! د ناروغیو او وباوو په راتلو سره دا حکمت هم وي چې د بنده زړه تل له الله سره ترلی پاتې شي، او په هره شي چې کوم نعمتونه، شتمني او سوکالي چې ورسره دي، ټول د الله له لورې رزق دی، او الله کولی شي په هره شېبه کې یې بدل کړي؛ نو بنده باید د الله پر حکم ټینگ پاتې شي او له گناهونو ځان وساتي، ترڅو نعمتونه ترې وانخستل شي؛ ځکه نعمتونه چې شکر یې وشي، پاتې کېږي، او چې ناشکري یې وشي، له منځه ځي.

د ناروغیو او وباوو د تقدیر له حکمتونو څخه یو حکمت دا هم دی چې د غفلت او گناه په لاره تلونکو ته یاداشت شي، ترڅو خپل رب ته راوگرځي، توبه وباسي او په وره شي چې یو څارونکی رب لري چې د گناه حساب ورسره کوي او سزا ورکوي

﴿وَبَلَوْنَاهُمْ بِالْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾

او مونږ دوی په نعمتونو او تکلیفونوسره وازمایل، د دې لپاره چې دوی راوگرځي (الله ته)

﴿فَلَوْلَا إِذْ جَاءَهُمْ بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا﴾

نو کله چې دوی ته زمونږ عذاب راغی، دوی ولې عاجزي ونه کړه

د دې وبا د راتگ له حکمتونو څخه دا هم ده چې د ځینو گناهکارانو د زړونو سختوالی څرگند شي، ځکه چې هغوی په خپلو گناهونو باندې همیشوالی کوي، او شیطان ورته گناهونه ښکلي ښکاره کوي، او داسې گمان کوي چې کوم کارونه کوم دا حق دی، او د دوی دغه کارونه د کایناتو په فساد او د آفتونو په راتگ کې هېڅ اغېز نه لري.

الله دویو ته مهلت ورکوي، نعمتونه وربانديې پراخه کوي، او په غفلت او گناه کې پرېږدي؛ تر دې چې بیا یې ناڅابه راونیسی.

﴿سَنَسْتَدْرِجُهُمْ مِنْ حَيْثُ لَا يَعْلَمُونَ ۝ وَأُمْلِي لَهُمْ ۚ إِنَّ كَيْدِي مَتِينٌ﴾

ژر به مونږ دوی په استدراج کې واچوو (ورو به یې ورو راونیسو) له هغه ځایه چې دوی به نه پوهېږي، او زه دوی ته مهلت ورکوم ـ، بېشکه زما حیله (چل) مضبوط (او محکم) دی.

﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ۖ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ﴾

نو کله چې دوی هغه شی هېر کړ په څه سره چې دوی ته نصیحت شوی و، بیا نو مونږ په دوی باندې د هر شي دروازې پرانستلې تر دې چې دوی لویي وکړه، په سبب د هغه څه چې دوی ته ورکړی شوي وو (، نو) مونږه دوی ناڅاپه ونیول، نو ناګهانه دوی ناامېده شول.

﴿وَلَقَدْ أَخَذْنَاهُم بِالْعَذَابِ فَمَا اسْتَكَانُوا لِرَبِّهِمْ وَمَا يَتَضَرَّعُونَ ۝ حَتَّىٰ إِذَا فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا ذَا عَذَابٍ شَدِيدٍ إِذَا هُم فِيهِ مُبْلِسُونَ﴾

او یقینًا یقینًا مونږ دوی په عذاب سره ونیول، نو (بیا هم) دوی نه خپل رب ته غاړه کېښوده او نه یې تضرع او زاري وکړه، تر دې چې کله مونږ په دوی باندې د ډېر سخت عذاب والا دروازه پرانستله ناڅاپه دوی په هغه کې نا امېده وو.

یعنې هغوی د الله له رحمت څخه ناهیلي او مایوسه کېږي.

د ناروغیو او وباګانو د تقدیر له حکمتونو څخه دا هم ده چې الله تعالی د هغو کسانو لپاره لوی اجر او ثواب مقرر کړی چې په داسې حالتونو کې صبر وکړي، د ثواب نیت ولري، د الله په فیصلې راضي شی او بېصبري ونه کړي. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: د مؤمن حالت ډېر د تعجب وړ دی، ځکه د هغه هر حالت د خیر دی، او دا ځانګړتیا یوازې د مؤمن لپاره ده، که خوشالي او نعمت ورته ورسېږي، او په هغې شکر وباسي؛ نو دا یې په ګټه دی، او که تکلیف او ستونزه ورته ورسېږي، او صبر ورباندې وکړي، نو دا هم یې په ګټه وي[1].

او له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: پر مؤمن سړي او مؤمنې ښځې به تل په ځان، اولاد او مال کې ازمویني او تکلیفونه راځي، تر دې چې له الله تعالی سره داسې ووینې چې هېڅ ګناه به پرې پاتې نه وی[2].

د دې وبا د تقدیر له حکمتونو څخه یو دا هم دی چې د انسانانو کمزوري او بېوسي ښکاره شي، دا هغه ملتونه دي چې د پرمختګ، تمدن، ټکنالوژی، کشفیاتو او اختراعاتو په ډګرونو کې لوړو مرتبو ته رسېدلي وو، خو د دې کوچنۍ وبا پر وړاندې حیران، سرګردان او عاجز ودرېدل، ډیرو هېوادونو به ویل: له مونږ څخه به کوم هیواد ډېر قوی او ځواکمن وي؟ خو ناڅاپه همدې وبا د هغوی غرور مات کړ، او دومره یې په خپلو ستونزو اخته کړل چې د نورو له کارونو بېپروا شول، الله تعالی رښتیا فرمایلي دي:

---

(١) رواه مسلم (٢٩٩٩).

(٢) رواه التِّرْمِذِيُّ (٢٣٩٩) واللفظ له، وَقالَ: (حديثٌ حسنٌ صحِيح)، وأحمد (٧٨٥٩)، وانظر «السلسلة الصحيحة» (٢٢٨٠).

﴿وَلَا يَزَالُ الَّذِينَ كَفَرُوا تُصِيبُهُم بِمَا صَنَعُوا قَارِعَةٌ أَوْ تَحُلُّ قَرِيبًا مِّن دَارِهِمْ حَتَّىٰ يَأْتِيَ وَعْدُ اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾

همېشه به دوی ته د خپلو کړو عملونو په سبب زړه ټکوونکی (عذاب) رسېږي، يا به د دوی کورونو ته نژدې راکوزېږي، تر هغه پورې چې د الله وعده راشي، بېشکه الله د وعدې خلاف نه کوي.

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿فَكُلًّا أَخَذْنَا بِذَنبِهِ ۖ فَمِنْهُم مَّنْ أَرْسَلْنَا عَلَيْهِ حَاصِبًا وَمِنْهُم مَّنْ أَخَذَتْهُ الصَّيْحَةُ وَمِنْهُم مَّنْ خَسَفْنَا بِهِ الْأَرْضَ وَمِنْهُم مَّنْ أَغْرَقْنَا ۚ وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيَظْلِمَهُمْ وَلَٰكِن كَانُوا أَنفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ﴾

نو (په دوی کې) هر يو مونږ په خپلې ګناه سره ونيوه، نو په دوی کې ځينې هغه دي چې مونږ پرې کانې وښتونکی باد راخوشې کړ او ځينې په دوی کې هغه دي چې دوی سختې چغې ونيول او ځينې په دوی کې هغه دي چې مونږ هغوی په ځمکه کې ننه ايستل او ځينې په دوی کې هغه دي چې مونږ (په اوبو کې) غرق کړل او الله له سره داسې نه و چې په دوی يې ظلم کړی وی او لېکن دوی په خپلو ځانونو (پخپله) ظلم کاوه.

او بل ځای فرمايي:

﴿وَكَمْ أَهْلَكْنَا مِن قَرْيَةٍ بَطِرَتْ مَعِيشَتَهَا﴾

او مونږ څومره ډېر کلي هلاك کړي دي چې په خپل معيشت کې يې سرکشي کړې وه.

اې مسلمانانو! د حيرانتيا خبره دا ده چې ځينې خلک هغه وبا چې پر امت راغلې ده، يوازې مادي اسبابو ته منسوبوي؛ لکه د وقايوي تدابيرو کمزوري، د ناروغۍ په پيل کې د هغې د مخنيوي نشتوالی، او ورته نور ظاهري اسباب چې هغه کسان يې تکراروي چې په تقدير سم ، ايمان نه لري، بېشکه دا يو نيمګړی مادي نظر دی او د علم او ايمان د کمزورۍ نښه ده، يوازې الله تعالى د دې وبا راتګ مقدر کړی، او يوازې هماغه ذات د هغې د لرې کولو واک لري، ايا هغوی د الله تعالى دا وينا نه ده اوريدلی:

﴿أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ۝ أَوَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ۝ أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ﴾

ايا د کليو اوسېدونکي له دې نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ عذاب د شپې راشي، په داسې حال کې چې دوی ويده وي، ايا د کليو اوسېدونکي له دې نه بې غمه شوي دي چې په دوی باندې زمونږ عذاب په څاښت کې راشي، په داسې حال کې چې دوی لوبې کوي، ايا نو دوی د الله له مکر (پټ تدبير) نه بې وېرې دي، پس د الله له مکر نه يواځې تاوانې خلق بې وېرې کېږي.

او الله تعالى فرمايلي دي:

﴿قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ﴾

ته (دوی ته) ووایه: هم هغه قادر دی په دې خبره باندې چې تاسو باندې ستاسو له پاسه نه عذاب راولېږي، یا ستاسو د پښو له لاندې طرف نه، یا تاسو د ډلو ډلو په جوړولو سره ګډوډ کړي او په ځینو باندې د ځینو نورو (د) جنګ (مزه) وڅکي، ته وګوره مونږه ایتونه څنګه قسما قسم بیانوو، د دې لپاره چې دوی پوه شي

د دې وبا له حکمتونو څخه یو دا هم دی چې هغه لوی مصلحت هم راښکاره شي چې چا ته الله وغواړی هغه ته الله ددې وبا څخه نجات ورکړي، چې د مسلمانو واکمنانو اطاعت کوي، پر یووالي او د صفونو پر اتحاد ټینګار کوي، او د رعیت او مشر ترمنځ د همغږۍ ساتنه کوي، په کورونو کې پاتې کیدل، ګرځبندیز مراعاتول، احتیاطي تدابیر نیول، وقایوي لارښوونو ته غاړه ایښودل او روغتیایي سپارښتنو ته پاملرنه کول د دې سبب شول چې ډېر خلک د ناروغۍ له اخته کېدو وژغورل شي.

نو اې د الله بندګانو! له الله څخه ووېرېږئ، په پټه او ښکاره یې د امر د منولو څارنه کوئ، او له غفلته او په ګناهونو کې له دوام کولو څخه ځانونه وساتئ، الله تعالى فرمایلي دي:

﴿وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا فِي أَنفُسِكُمْ فَاحْذَرُوهُ﴾

او په شئ چې یقینًا الله په هغه څه پوهېږي چې ستاسو په نفسونو کې دي، نو له هغه (الله) نه وېرېږئ، او په شئ چې یقینًا الله ډېر بخښونکی، ډېر تحمل کوونکی دی

هغه ذات چې زمونږ شاوخوا خلک یې په وبا اخته کړل، پر دې هم قادر دی چې مونږ پرې اخته کړي؛ نو پر تاسو لازمه ده چې له ټولو ګناهونو او نافرمانیو څخه رښتینې توبه وباسئ؛ ځکه همدا توبه د دې عمومي آفت څخه د خلاصون کلی ده.

لکه څنګه چې عمر رضي الله عنه د «عام الرمادة» د وچکالۍ پر مهال وکړل، کله چې خلک له قحطۍ سره مخ شول، هغوی یې د باران د دعا لپاره راوایستل او ویې ویل: اې الله! هېڅ آفت نه راکوزېږي مګر د ګناه له امله، او هېڅ آفت نه لرې کېږي مګر د توبې په وسیله، دا زمونږ لاسونه دي چې د خپلو ګناهونو اقرار درته کوي، او دا زمونږ تندي دي چې ستا لوري ته د توبې او رجوع لپاره ټیټېږي.

بارك الله لي ولكم في القرآن العظيم، ونفعني وإياكم بما فيه من الآيات والذكر الحكيم، أقول قولي هذا، وأستغفر الله لي ولكم فاستغفروه، إنه هو الغفور الرحيم

دويمه خطبه

الحمد لله وحده، والصلاة والسلام على من لا نبي بعده، أما بعد، اې مسلمانانو! د كورونا وبا او نورو شرونو او آفتونو څخه د ځان ژغورنې لپاره، شپږ اسباب دي:

لومړی: پر الله تعالى توكل كول دي، او هغه دا چې زړه يوازې پر الله پورې تړلی وي، سره له دې چې انسان د ظاهري اسبابو له لارې د ځان ساتنې هڅه هم كوي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾

او هغه څوك چې په الله باندې توكل وكړي، نو همدى د ده لپاره بس (او كافى) دى.

دوهم: دا باور چې د دې بلا يا بل هر ضرر راتگ او له هغې څخه نجات يوازې د الله په تقدير پورې تړلی دى، كه انسان ټول ظاهري او معنوي اسباب هم وكاروي، خو الله پرې مصيبت مقدر كړى وي؛ نو هغه به پرې راځي، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَإِن يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ ۖ وَإِن يَمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾

او كه الله تا ته تكليف درورسوي، نو د هغه (تكليف) لرې كوونكى له هغه نه سِوا بل هيڅوك نشته او كه هغه تا ته خير درورسوي، نو هغه په هر شي باندې ښه قادر دى

دريم: ډير عبادت كول، الله تعالى فرمايلي دي:

﴿أَلَيْسَ اللَّهُ بِكَافٍ عَبْدَهُ﴾

ايا الله خپل بنده ته ښه كافي كېدونكى نه دى

په دې آيت كې الله تعالى د بنده لپاره د خپل كفايت شرط د بندگۍ سره تړلی دى؛ نو څوك چې زيات عبادت كوي، هغه د الله د ځانگړې ساتنې او كفايت مستحق گرځي.

څلورم: پر نبي كريم ﷺ زيات درود ويل د الله تعالى له لوري د حفاظت له اسبابو څخه دي، دليل يې دا دى چې كله كعب رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته وويل چې زه به پر تاسو ډېر درود وايم او خپل ډېر وخت به همدې ته وقف كړم، نو رسول الله ﷺ وفرمايل: نو غمونه به دې لرې شي او گناهونه به دې وبښل شي[1].

پنځم: د ورځې په پيل كې څلور ركعته (دوه دوه) د څابت لمونځ كول د الله تعالى د كفايت له اسبابو څخه دي، الله تعالى په قدسي حديث كې فرمايلي دي: اې د آدم زويه! د ورځې په پيل كې زما لپاره څلور ركعته ادا كړه، زه به د ورځې تر پای ستا كفايت او ساتنه وكړم[2]. يعنې زه به تا د هغې ورځې له آفتونو، پېښو او زيانونو څخه وساتم.

---

(١) رواه الترمذي (٢٤٠٧)، وحسنه الألباني.

(٢) رواه الترمذي (٤٧٥) عن أبي الدرداء وأبي ذر رضي الله عنهما، وصححه الألباني.

شپږم: او د الله تعالى د حفاظت له تر ټولو مهمو اسبابو څخه د سهار او ماښام اذکارو، دعاوو او اورادو پابندي ده، چې له هغو څخه دا دي:

د سهار او ماښام په وخت کې د «سورة الإخلاص» او «المعوذتين» دري دري ځله تلاوت کول هم د مسلمان د ساتنې له مهمو اذکارو څخه دي، ددې خبرې دليل دا حديث دى چې رسول الله ﷺ عبدالله بن خبيب بن عدي رضي الله عنه ته وفرمايل: ووايه: قل هو الله احد او معوذتين سهار او ماښام درې درې ځله ووايه، دا به تا ته د هر څه کفايت وکړي او تا به وساتي[١].

او له هغو دعاوو څخه چې عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روايت کړي، دا دي چې رسول الله ﷺ به د ماښام او سهار پر وخت دا دعا هېڅکله نه پرېښوده: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ العَافِيَةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ العَفْوَ وَالعَافِيَةَ فِي دِينِي وَدُنْيَايَ وَأَهْلِي وَمَالِي، اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَاتِي، وَآمِنْ رَوْعَاتِي، اللَّهُمَّ احْفَظْنِي مِنْ بَيْنِ يَدَيَّ وَمِنْ خَلْفِي، وَعَنْ يَمِينِي وَعَنْ شِمَالِي وَمِنْ فَوْقِي، وَأَعُوذُ بِعَظَمَتِكَ أَنْ أُغْتَالَ مِنْ تَحْتِي»[٢].

او د ماښام له اذکارو څخه دا هم ده چې د بقرې سورت وروستي دوه آيتونه ولوستل شي، ځکه رسول الله ﷺ فرمايلي دي: څوک چې د شپې د بقرې سورت وروستي دوه آيتونه ولولي، نو دا ورته کفايت کوي (يعنې د هر شر او آفت څخه يې ساتي) [٣].

او له هغو اذکارو څخه چې انسان له کوره د وتلو پر مهال ساتي، دا دعا ده، له انس رضي الله عنه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل: «بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ» بيا ددې دعا ويونکې ته وويل شي: هدايت دې درته وشى، کفايت دې وشي، او ساتنه دې دې وشي، شيطان تري لرې شي، يو شيطان بيا بل ته ووايى: ته څنګه د داسې انسان سره مقابله کوې چې هدايت ورته شوى، کفايت يې شوى او ساتل شوى دى؟ [٤]

او له اذکارو څخه يو بل مهم ذکر دا دى چې انسان تل له الله څخه عافيت وغواړي. ابو بکر صديق رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: له الله څخه بخښنه او عافيت وغواړئ، ځکه له يقين وروسته د عافيت په څير هېڅ داسې غوره نعمت نه دى ورکړل شوى[٥]. او رسول الله ﷺ به په قنوت کې ويل: او ما هم د هغو کسانو له ډلې وګرځوه چې ته ورته عافيت او سلامتيا

---

(١) رواه أبو داود (٥٠٨٢) وغيره، وصححه الألباني.

(٢) رواه أبو داود (٥٠٧٤)، وابن ماجه (٣٨٧١)، وصححه الألباني.

(٣) رواه البخاري (٤٠٠٨) ومسلم (٨٠٧) من حديث أبي مسعود الأنصاري رضي الله عنه.

(٤) رواه أبو داود (٥٩٥)، وحسنه الشيخ شعيب الأرناؤوط في التعليق على «سنن أبي داود».

(٥) رواه أبو داود (٣٨٤٩) وغيره، وحسنه الشيخ شعيب الأرناؤوط في التعليق على «سنن أبي داود».

ورپه برخه کوې[١]. او دا دعا يې هم کوله: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ»[٢].

او له هغو اذکارو څخه چې د ناروغيو څخه د پناه غوښتنې په اړه دي، دا حديث دی. انس رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ به ويل: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الْبَرَصِ وَالْجُنُونِ وَالْجُذَامِ وَمِنْ سَيِّئِ الأَسْقَامِ»[٣].

اې الله! زه له تا څخه د برص، ليونتوب، جذام او له ټولو بدو ناروغيو څخه پناه غواړم.

او جذام هغه ناروغي ده چې د انسان د بدن غړي زيانمنوي او ورو ورو ټول بدن فاسدوي.

د شرونو څخه د ساتنې په اړه دا اذکار او دعاوې ډېرې زياتې دي، چې په د اذکارو په کتابونو کې ليکل شوي دي؛ لکه د ابن تيميه «الكلم الطيب»، د نووي «الأذكار» او د قحطاني «حصن المسلم» او نور ورته کتابونه شته دی.

سبحانَ خـــالقِ كورونا ومُرســلِه ... على العبادِ يُريهم كيفَ هم ضُعَفــا
فيروسُ ليـــس يُرى بالعين من صِغَرٍ ... لكن بأكثرِ سكانِ الدُّنا عَصَفــا
كم اقتصـــادٍ هوى من بعدِ رفعتِه ... وكمْ حِراكٍ على ذي الأرضِ قد وقفا
وعطّلَ الناسَ عن سعيٍ وعن سفــرٍ ... رهنَ البيوتِ كفُصّ لازم الصَّدفــا
(أنْ لا مِساسَ) شعارُ الناس من قَلَقٍ ... كلٌ يحاذرُ مِنْ لَمْسٍ له تلفــا
كم أمةٍ أصبحت في عيشها شَظَفــاً ... كانت تَبَخْتَرُ في نَعمائها تَرَفــا
حتى الحبيبانِ عَن بُعْــدٍ سلامُهما ... مِثْلُ الشحيحِ زوى الكفينِ والكتفـا
سبحانَ خالقِ كورونا ومُرســلِه ... مُخوّفاً خَلْقَهُ مِنْ بأسِهِ أَسَفــا
لعلهم أن يُفيقوا بعد غَفْلَتِهــم ... ويخلعوا الكبر والطغيان والأَنَفــا
لعلهم أن يَحُسُّوا نعمــةً كُفِرتْ ... كمْ مِنْ نعيمٍ نُسِيْ مِن طُوْلِ ما أُلِفــا
لعلنا أن نرى حِلْمَ الكريمِ بنــا ... فلو يشاء بِنا في لحظةٍ خَسَفــا
يا ربِّ عجّلْ بِيُسرٍ بعد ما عَسُرت ... وافرُجْ علينا فشهرُ الصومِ قد أزِفــا[٤]

پاک دی هغه ذات چې کورونا يې پيدا کړه او بندګانو ته يې ولېږله، ترڅو هغوی ته وښيي چې دوی څومره کمزوري دي.

داسې واړه ويروس چې په سترګو نه ليدل کېږي، خو د نړۍ له ډېرو خلکو سره يې سختې ستونزې او تباهۍ رامنځته کړې.

څومره اقتصادونه له لوړوالي وروسته راوغورځېدل، او څومره خوځښتونه په دې ځمکه کې ودرېدل.

---

(١) رواه أحمد (١٩٩/١)، وصححه محققو «المسند» برقم (١٧١٨).

(٢) رواه مسلم (٢٧٣٦) عن عبد الله بن عمر رضي الله عنه.

(٣) رواه أحمد (١٩٢/٣)، وقال محققو «المسند»: إسناده صحيح على شرط مسلم.

(٤) هذه الأبيات من نظم د. علي بن يحي الـحدَّادي، جزاه الله خيرا.

خلک يې له کار او سفره بند کړل، او هغوی يې په کورونو کې داسې بند کړل لکه مروارید چې په صدف کې بند وي.
«أن لا مساس» د خلکو شعار شو د وېرې له امله، هر څوک له لمس کولو څخه ځان ساتي چې ضرر به ورته ورسېږي.
څومره قومونه چې په ژوند کې په سختۍ اخته شول، هغه قومونه چې مخکې په نعمتونو کې مغرور ګرځېدل.
حتی مینه‌وال د لرې څخه سلامونه کوي، لکه بخیل انسان چې خپل لاسونه او اوږې راټولې کړي وي.
پاک دی هغه ذات چې کورونا يې پیدا کړه او ولېږله، ترڅو خپل بندګان د خپل عذاب له وېرې څخه خبر او متأثر کړي.
ښايي هغوی له خپل غفلت وروسته بیدار شي، او تکبر، ظلم او سرکشي پرېږدي.
ښايي هغوی د هغه نعمت قدر وکړي چې ناشکري يې شوې وه؛ ډېر نعمتونه د اوږدې عادت له امله هېر شوي وو.
ښايي مور د الله د حلم او مهربانۍ نندارە وکړو، که وغواړي نو په يوه شېبه کې مور له منځه وړلای شي.
ای ربه! له سختۍ وروسته آسانتیا راولېږه، او پر مور رحمت وکړه، ځکه د روژې میاشت رانژدې شوې ده.
اې د الله بندګانو! دا وبا د انسانانو لپاره خطرناکه ده، او په چټکۍ سره خپرېږي؛ نو مؤمن ته پکار ده چې الله تعالی ته ډېر دعا وکړي او د سلامتۍ غوښتنه تري وکړي، ځکه ژوند لوی نعمت دی، او الله تعالی خپل بندګان د هغوی په نفسونو امین کړي دي.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي: او بېشکه ستا نفس پر تا حق لري (یعنې باید يې ساتنه وکړې او ضرر ته يې مه پرېږده).
بیا پوه شئ—الله دې پر تاسو رحم وکړي—چې الله سبحانه وتعالی تاسو ته یو ډېر لوی امر کړی دی، لکه څنګه چې فرمایي:
﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا﴾
بېشکه الله او د هغه ملایك په نبي درود وایي ـ، ای هغو کسانو چې ایمان يې راوړی دی! تاسو په دغه (نبي) باندې درود وایئ او سلام وایئ، سلام ویل.
او رسول الله ﷺ فرمایلي دي: بېشکه ستاسو له غوره ورځو څخه د جمعې ورځ ده؛ په همدې ورځ آدم علیه السلام پیدا شو، په همدې ورځ وفات شو، په همدې ورځ به پکې دویمه دویمه شپیلۍ وهل کېږي، او په همدې ورځ به لومړی شپیلۍ وهل کیږي؛ نو پر ما ډېر درود وایاست، ځکه ستاسو درودونه پر ما پیش کیږی.

اې الله! پر خپل بنده او رسول محمد ﷺ درود او سلام نازل کړه، او د هغه له اصحابو، راشدینو خلفاوو څخه راضي شه، او له تابعینو او هغو کسانو څخه هم راضي شه چې تر قیامت پورې یې په نیکۍ پیروي کړې وي.

اې الله! هر بلا چې راښکته شوې، د ګناه له امله ده، او هره بلا چې لېرې کېږي، د توبې له امله ده، دا زمونږ لاسونه تا ته د ګناهونو سره پورته دي، او زمونږ تندي تا ته د توبې سره ټیټ دي، اې الله! له مونږ څخه وبا لرې کړه، مونږ مسلمانان یو.

اې الله! له مونږ څخه وبا لرې کړه، مونږ مسلمانان یو.

اې الله! له مونږ څخه وبا لرې کړه، مونږ مسلمانان یو.

اې الله! څوک چې په دې وبا کې له مسلمانانو څخه وفات شي، ته پرې رحم وکړه؛ او څوک چې ناروغ شي، ته ورته اجر او عافیت دواړه ورجمع کړه.

اې الله! مونږ رمضان ته ورسوه، مونږ رمضان ته وروسوه، مونږ رمضان وروسوه.

ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار.

سبحان ربنا رب العزة عما يصفون، وسلام على المرسلين، والحمدلله رب العالمين.

فهرس

موضوع: د الله په وجود ایمان لرل..... ٤
د الله په ربوبیت ایمان لرل..... ١٢
د الله په یوازې والي ایمان لرل..... ١٨
د الله په نومونو او صفتونو ایمان لرل..... ٢٦
په ملایکو ایمان لرل..... ٣٥
په اسماني کتابونو ایمان لرل..... ٤٦
په پېغمبرانو د ایمان لرلو غوښتنې ١/١..... ٥٤
په پېغمبرانو د ایمان لرلو غوښتنې ٢/٢..... ٦١
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/١..... ٦٩
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٢..... ٧٦
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٣..... ٨٢
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٤..... ٨٩
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٥..... ٩٩
په آخرت د ایمان لوازمات – برخه ٨/٦..... ١٠٨
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٧..... ١١٥
د آخرت په ورځ د ایمان غوښتنې – برخه ٨/٨..... ١٢٢
د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د حقوقو اړوند خطبې..... ١٣٠
د شهادة ان محمد رسول الله د تحقق شرطونه، او د هغې نواقض..... ١٣٠
په پیغمبر ﷺ باندې د ایمان لرلو، تقاضا او غوښتنې..... ١٣٦
د پیغمبر ﷺ د ستر مقام لرلو لس دلیلونه..... ١٤٦
د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو ستر حق د هغه اطاعت دی..... ١٥١

د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو دا چې له نافرمانۍ یې ځان وساتل شي.....١٥٧
د صحابو درناوی د اهل سنت و الجماعت د عقیدې یو بنسټ دی.....١٧٠
د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو د هغه د میرمنو درناوی دی.....١٧٧
د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه یو د هغه د خاندان درناوی دی.....١٨٢
د پیغمبر ﷺ له حقونو څخه په هغې باندې درود او سلام ویل دي.....١٨٦
په پیغمبر ﷺ د درودو ویلو فایدې او ګټې.....١٩٠
په نبوي هجرت کې شپاړس درسونه.....١٩٥
د اسلام نواقض.....٢٠٣
لومړی ناقض: د الله سره شریک جوړول.....٢٠٣
دویم ناقض: څوک چې مشرکان کافر نه ګڼي، یا د هغوی په کفر کې شک کوي، او یا یې تګلاره سمه ګڼي.....٢١٣
دریم ناقض: څوک چې دا عقیده ولري چې د رسـول ﷺ له لارې پرته بله لاره تر هغه غوره ده، هغه په دې سره کافر شو؛ او څوک چې دا باور ولري چې د الله له حکم څخه د بل چا حکم غوره دی؛ لکه هغه کسـان چې د طاغوتونو او بشرـي قوانینو حکم ته د الله پر حکم ترجیح ورکوي؛ نو دا هم په دې باور سره کافر شو.....٢٢٢
څلورم ناقض: د الله د دین سره بغض لرل.....٢٢٨
پنځم ناقض: په دین اسلام پورې ملنډې (مسخرې) کول.....٢٣٤
شپږم ناقض: سحر (جادو) کول.....٢٤١
اوم ناقض: کهانت.....٢٤٨
اتم ناقض: د مسلمانانو پر وړاندې د کافرانو ملاتړ او مرسته.....٢٥٧
نهم ناقض: د اسلامي شریعت څخه د وتلو د جواز عقیده لرل.....٢٦١
لسم ناقض: د الله د دین څخه مخ اړول نه یې زده کول، او نه پرې عمل کول.....٢٦٩
د اسلامي شریعت د ځانګړتیاو اړوند خطبې.....٢٧٦
د اسلامي شریعت ځانګړنې (١-٥).....٢٧٦

د اسلامي شريعت ځانگړنې (٦-١٠)..... ٢٨٢
د اسلامي شريعت ځانگړنې (١١-١٥)..... ٢٨٨
د اسلامي شريعت ځانگړنې (١٦-٢٠)..... ٢٩٣
د اسلامي شريعت ځانگړنې (٢١-٢٥)..... ٢٩٩
د اسلامي شريعت ځانگړنې (٢٦-٣٢)..... ٣٠٤
د اسلامي شريعت ځانگړنې (٣٣-٣٨)..... ٣٠٩
د اسلامي شريعت ځانگړنې (٣٩-٤٢)..... ٣١٤
د جمعې ورځې ځانگړي صفتونه او فضيلتونه..... ٣١٩
د جمعې د لمانځه ځانگړتياوې او فضيلتونه..... ٣٢٥
د لمانځه اهميت..... ٣٣١
د جماعت لمانځه ته د حاضريدو پر وجوب لس دليلونه، او د تجارت او نورو بوختياوو له امله تري د غفلت او ځان مشغولولو حرمت..... ٣٣٦
لمانځه ته د وخته د ورتگ فضيلت..... ٣٤٢
د ذي الحجې د لومړۍ لسو ورځو فضيلت او ځانگړتياوې..... ٣٤٦
د عرفې د ورځې ځانگړتياوې..... ٣٥٣
د لوی اختر خطبه – شل پندونه..... ٣٥٨
د محرم د مياشتې تعظيم او د عاشورې د روژې فضيلت..... ٣٦٤
د رمضان اړوند خطبې..... ٣٧١
د رمضان د مياشتې لس حکمتونه..... ٣٧١
د رمضان د مياشتې ديرش ځانگړتياوې ٢/١..... ٣٧٥
د رمضان د مياشتې ديرش ځانگړتياوې ٢/٢..... ٣٨٠
په رمضان کې د قرآن د ډېر لوستلو هڅونه..... ٣٨٧
د ليلة القدر لس ځانگړتياوې..... ٣٩١

د کوچني اختر په اړه لس درسونه.....٣٩٧
د بيت المقدس او اقصى مسجد لس ځانگړنې.....٤٠٢
په ځمکه کې له فساد څخه منع.....٤١٧
کورونا – رنځ او علاج.....٤٢٣
فهرس.....٤٣٤